شخصیت څنګه وده کوی

مولفه

هیلن چاکمز

مترجم

م، عبدالخالق واسعی

۱۳۴۰

د پښتوټولنې د خپرونې نمبر: (۱۵۹)

شخصيت څنګه وده کوي

مؤلفه:

هيلن چاکتر

عربي مترجمين:

احمد زکي محمد   داؤد حلمي اليسد

پښتو مترجم:

م، عبدالخالق واسعي

د چاپ شمير (۱۰۰۰)

نيټه (ثور)

پښتو ټولنه

دپښتو ګونګی وینا

دا کتاب چه د پښتو ټولنې دفاضل مشر ښاغلی الفت له خوا انتخاب شوی او دده په اشاره ترجمه شوی دی پر لاندینو درو مطالبو مشتمل دی:

اول : داچه دسړي دا یقین شي چه دنورو ګړو دی خوښ دی او د ده د اوضاعو څخه رضامند دی .

دوهم : داچه سړی د دې شعور وکړي چه دې په خپلو اعمالو او مقاصدو کښې کامیاب دی .

دریم : دسړي په دې سره شعور دی چه دې دخپلو شاو خوا کسانو سره لکه ملګری او خپلوان او وطنوالو سره جوړ دی او توافق ورسره لری .

د کتاب مؤلفه چه دعلم النفس له سترو او پیاوړو استادانو څخه ده او په امریکائی نړۍ کښې دزیات شهرت مېرمن ده پورته درې مطالب په ساده ډول دژوندانه پداسې مثالو سره توضیح کوی چه هغه دهر سړی په روځنی ژوند کښې لیدل کیږي. لنډه داچه کتاب دموضوع او افادې او دبیان دطرز د نقطهٔ نظر درو سرو له حیثه ډېر مهم او دومره خوږ او په زړه پورې جوړ شوی دی چه او ستائی دهرې سویئې سړی ته دنوی زلمی څخه بیاد (۸۰) کالو تر بوډه پورې ضروری بلکه خوندور ښکاری.

په آخر کښې دپښتو ټولنې دمحترم مشر فاضل الفت څخه دده دحسن انتخاب تشکر او تمجید دیوه پښتانه په حیث کوم چه ددې مهم اثر په ترجمه سره ئې دپښتو ژبې د ثقافت پر سلسله یوه خوږه او خوندوره حلقه زیاته کړه .

(م ، عبدالخالق واسعی)

د مؤلف وینا

دځو کالو څخه، ما په زړو ځنی ژوند کښی د شخصیت د تطور او تغیر او د سلوک او گذارې د پراله او ښتلو او الیشدلو په موضوع کښی یو څه لیکلی وه. دا لیکنی دیوه واړه غوندې کتاب په شکل خپرې شوې او زما مقصد دا ؤ چه د ثانوی ښوونځیو هلو کانو او نجونو ته په اجتماعی او وجدانی ؤ نفسی مظاهر و او نخښو کښی مرسته ور کړی، او وروی ته دا واضحه کړې چه ددوې اتجاهات د خپلو ځانونو وخواته، او غیر له خپلو ځانونو څخه د نورو وخواته څنگه تکوین شوی دی. یعنی چه دوی په دې و پوهیږی چه ددوی فکر او اندېښنه د ځان په باب کښی څنگه ده، خپل ځان ته په څه نظر گوری، او نورو ته ئې افکار څه ډول او احساسات ئې نسبت ودوی ته څه شان دی ؟

زما د پاره د ډېری خوشحالتیا اسباب دا ؤ چه دې کتاب چه ما د « څنگه به خپل ځانونه پیژ نو » نوم پر ایښی ؤ ډېر رواج و موند، او د زد کړیانو د دغی ډلې له خوا خور اسخته مخه ورته راوشوه، خورائې په ذوق ؤ شوق ولوست، هغه شی چه زه ئی خورا ډېره خوشحاله کړم دا خبره وه چه زه پدې پوه شوم چه دې کتاب ددوې د ژوند په ښه کولو کښی په کور په مدرسه، په ټولنه او جامعه کښی برخه اخیستی ده او ددوی حالت ئې نور هم مسعود کړیدی.

زما د خوشحالې دا سبا بو څخه دا هم ؤ چه کتاب د هلو کانو او نجونو څخه نور لوستونکې ور جذب کړه، لبز مده ورو سته ئې موضوعاتو دومره لږی اهمیت و موند چه غیر له زد کړیانو او د مکتب د هلو کانو او نجونو څخه ئې نور و پوهو او پخوا افرادو مطالعې ته هڅه و کړه او تر هغو ځوانانو او پېغلانو چه کتاب خاص د هغو د پاره لیکل شوی ؤ دوې ډېره مخه ور ته راو کړه.

کتاب د پوښتنو او سوالو یو سېل پر جوش راؤ ست چه مقصد ځنی دا ؤ چه په موضوع کښې دوی ته نور معلومات ور حاصل او معرفت ئې د کتاب په موضوع کښې زیات شی نو زه مجبوره شوم چه خپله لنډه او مختصره موضوع پراخه او مفصله کړم، نو مې د کتاب لیکنه سر د سره اوږده او په تفصیلی ډول را او ښلوله او نور نوی افکار مې پر زیات کړه

لکه په هغو ابحاثو چه مې هم استشهاد کړېدي چه نوی پیدا شوی دی. او د موضوع معالجه دومره اوږده شوه چه یوازې دیوه معین عمر دپاره نه ده انحصار شوې بلکه د هلك ؤ نجلۍ ځوان ؤ پیغلې، او هر عمر او سن د کسانو دپاره مساعد دی اوس به ته ددې اوږدې معالجې او تفصیل نتیجه چه دغه ده تاته دروړاندې کیږي و وینې. زه نه شم کولای چه دا هم په هغه نامه و بولم یا عیناً هغه زوړ نوم پر کښېږدم، ځکه چه ددې څخه بل کتاب تشکیل شو. سره لدې چه د قصې موضوع تغیر ندې خوړلی بلکه صرف اوږد شوې او تفصیل ئې موندلې دی، لکه زما چه عقیده ده چه اهمیت او خوندئې زیات شویدی مګر دی بیا هم هغه د «څنګه به خپل ځانونه وپېژنو» کتاب دی.

ددې دپاره چه د کتاب دپاره یو داسې عنوان او نوم غوره کړم چه هم معنی ولری او هم داسې مختصر وی چه په هر هغو موضوعاتو دلالت وکړی چه په کتاب کښې معالجه شویدې. نو چه هر څه فکر مې وکړ ځان ته به مې وویل چه دا خو د شخصیتونو د نشوونما او ودې د کیفیت قصه ده.

په آخر کښې مې د ځانه اوسنی عنوان ووند «شخصیت څنګه بشپړ کېدای شي» نو ته که بچه مرده ئې که زلمی ئې او که زوړ ئې یا بالغ شی ئې خوستا شخصیت چه یو «کلي وحدت» دی او ستا نوم پر یادیږي، ستاد زېږېد وله ورځې څخه بیا تر مرګه پورې په نشوونما کښې دی. او په هره هفته ؤ میاشت او کال کښې تر هغو څو ژوندی ئې له ډېرو جهاتو او د متفرقو ناحیو څخه په تغیر او تطور کښې دی.

دا کتاب ستا د ډېرو هغو پوښتنو په جوابو نو کښې مرسته د رسره کوي چه هغه پوښتنې د ډېرو داسې چارو څخه پرده پورته کوي چه ته ئې خبر ېد لوته خورا اړوال او زړه دې ډېر په مشغول دی. دا کتاب د خلقو په هغو اجتماعي تعلقاتو او روابطو کښې بحث کوي چه د دوی ترمیانځ موجود دی، او په هغه وجداني سلوك کښې ژغیږي چه دوی ئې یو له بله سره کوي. دا کتاب ستا او ستا د ملګرو او اشنایانو، ستا له خپلوانو او د ټولو خلقو څخه در ته ژغیږي چه دد وې په کار او عمل،

په مکتب او مدرسه، په کور او په کاله، او په غونډه او په مجلس، او په هغه حال کښې چه یوازې دی ؤ ځان وی څه حالت او کیفیت وی، علاوه پردې تولو زموږ افکار زموږ احساسات او مشاعر زموږ جهد ؤ کوشش زموږ هیلې ؤ امېدونه در ته بیانه وی.
دا کتاب د هغو نخښو او آثارو په رڼا کښې چه ستا د تېر شوی عمره څخه تو له ده او تاته غونډ او پراته دی په تا کښې ز غیبزی او له تا څخه خبری کوی، او د هغو وسایلو په برابرولو او تنظیم کښې مرسته در سره کوی چه ستا د سعادت برخه په ډېرېزی او کامیابی دی په زیاتیبزی.


که څه هم دا معلومه ده چه ستا د پخوانیو تجربو او هغو حوادثو څخه چه پر تا درغلې دی روښانه قسمت او ښه چانس لاس در څخه اخیستی دی مگر داسی یوشی نسته چه د هغه څخه دی یو اثر پاته وی او ستاد شقاوت او بد مرغی سبب دی وگرزی. مگر ته دې ته محتاج او اړ ئې چه د هغه رول فهم و کړی چه ته غواړی د خپل نن روځې د شخصیت د پاره ئې ولوبوی، یعنی هغه شخصیت چه ته یې د نن روځې د پاره ټاکې باید لا رئی ځان ته معلومه کړې.

ته د دغه خبری فهم ته اړئې د دې د پاره چه ته د دې قدرت پیدا کړی چه د خپلې نشو نما په دوره کښې ځان ته تغیر او تطور ور کړی، په صبا او آینده روځ کښې و هغو امیدونو او مقاصدو ته چه زموږ تولو ور ته هڅه ده ځان ور نزدې کړی، او هغو هدفونو ته چه موږ ئې پخپل ژوند کښې لاس ته راوستل نا ممکن نه گڼو.
ستا شخصیت نشو نما او وده کړېده او څو ته ژوندی ئې همدغسې په وده کښې دی. او د دې نشو نما مخ پر یوه داسی لار او خوا برابره ول چه اساس ئې فهم او عقل وی یو کار دی چه تینگ عزم او کلکه اراده غواړې.

نو که په دغه سره موفق سوې د سعادت برخه به دې زیاته او خوښی و خوشحالې به دې ډېره شی، او د نورو سعادت او خوښی به درسره ډېره کړې. او په دغه سره هغه قلبی اطمینان او نفسی خاطر جمعی ته رسیږې چه هلته نو داویل کېدای شی

چه د کوښښ او زحمت ثمره او نتیجه واخیستل شوه او خپل مرام او مقصد ته ورسیدم، او دهغې خوشحالۍ او خوښۍ احساس او شعور کوی چه وروسته تر یوه کامیاب او موفق زیار او زحمت سړی ته ورحاصلیږی. او همدغه رنګه به ته له خپله ځانه شخه ډیر خوشحاله او راضي شې او ځان به ډیر در باندې ګران شی لکه غیر له ځانه د نورو محبت به هم درپکښې زیات او ستا مینه به په نورو کښې زیاته شی. نو ستا شخصیت به هغه وقت و ده کړي وی چه ته د دغو آمالو او امید و نو شخه واقعی حقایق جوړ کړي

ینایر ۱۹٤۹ (هلین شا کتر)



د کتاب محتویات

لمړۍ برخه

ستا معامله د ځان او د نورو خلقو سره

دوهمه برخه

شخصیات له ډېرو او متعددو جهتونو څخه سره مختلف دي

دریمه برخه

خلق د یوې ریښې څخه را پیدا شویدي

څلورمه برخه

د خلقو خوشحالول او ته زموږ هڅه یو اجتماعي حاجت او ضرورت دی

پنځمه برخه

کامیابي ته زموږ هڅه یو بل اجتماعي ضرورت دی

کامیابۍ ته هڅه یولوی اجتماعي ضرورت دی - کامیابي دزړه راحت حاصلوي - کامیابۍ ته ضرورت کله کله یولاشعوري ضرورت وي - بهترشي چه موږ ئې پرځای کوو هغه دی چه موږ خوشحاله کړي - کامیابي سړي ته پرځان اعتماد ورحاصلوي -

شپږمه برخه

سره له مأیو سیته تجانس ته زموږ هڅه - دریم اجتماعي حاجت دی

زموږ ولی دا خوښه ده چه دنورو سره دی سم یو - څه ډول زموږ تجانس (دنور وسره برابری) خوښه ده - زموږ دزیاتر ودا اراده ده چه دولی سره دی برابر اوممائل یو - مخالفت - داهمیشه زموږ دلاسه نه وی پوره چه دنورو څخه مخالفت وکړو

اوومه برخه

جنسی حاجتونه نورو ضرورتونو لره متضمن دی

دحقایقو څخه پرده پورته کول - د افکار ووده - انفعالات غالباً په انفعالی رنگونو رنگ وی - جنسی افکار طبیعی افکاردی - دلته هم فردی فرقونه سته - په اجتماعی سلوک کښې انفعالی اړخونه - شعور کله وی کله نه وی - دجنس سره دحقایقوا واتجاهاتو مراعات

اتمه برخه

کله کله موږ دخپلو احتیاجاتو په پوره ولو کښې نا کامه کیږو

زموږ دحاجاتو دپوره ولو په لار کښې وقوف - دذاتی عوا ملو او سببو نوا غیزه - د محیطي عوا ملو اغیزه - دمتعارضو دوافعو اغیزه - ددې موانعو سره به څنگه معارضه کوو؟

نهمه برخه

هغه وقت چه موږ دخپلو اجتماعی حاجتونو په مړولو کښی نا کام شو زیاتره موږ
داضطراب احساس کوو-ایا ستاوده پوره ده - سلوک ی نمونی څه ډول وجود مومی-
دسلوک په فهم کښی خطا- شخصیت یوه ماضی او گذشته لری - د سلوک تفسیر.

لسمه برخه

شعوری اولا شعوری

په هغه وقت کښی چه موږ ته داند یښنو او تیر وشوووقتو دفکر په واسطه پریشا نی
او اضطراب را پیښ شی - ځنی شیان موږ سم د ستی راپه زړه کوو - ځینو حقایقو ته
زموږ ذاکره نه وررسیږی اوژر نه راپه زړه کیږی - کله کله غم او خواپوتی د حفقان
او نا کامی د سبب شی - غم هرو مرود نا کامی حتمی سبب نه وی - غم کله کله
دبد بختی او فلاکت سبب وی - تفهم پر تکیف مرسته ور کوی

یوولسمه برخه

دمشکلا تو پر انیحل یاد مشکلا تو څخه تېښته

خوا پوتگی نا کامی را ولی-خوشحالی نا کامی سپکه وی - په هغه وقت کښی چه موږ
دحاجاتو موړتیا نه را ولو -دمشکلاتو سره دمخامخ کېدلو معنی نشاط ده - کله کله
نشاط پیښ شوی مشکل رفع کوی -

دوولسمه برخه

پداسی صو رت له مشکلا تو څخه تېښته چه حقیقت مسخه کړی

لاشعوری کو ښښ دنا کامی د دلیری کولو لپاره - نیکی کول څه شی دی ؟ - نیکی
کول دتصر فاتو تینگار را ولی - نیکی کول دنا کامی څخه دځان ساتلو په لار کښی
مقاومه کول دی - اسقاط دموقف دحقایقو تجاهل دی - دخپلو دوستانو په تنقید کښی
هو ښیار او سه .

دېرلسمه برخه

دحقیقت څخه دتېښتې په لار کښې دفاع

په هغه وخت کښې چه ته متردد شې – اند ښېنو ته ور تښتېدل – ته خوند ور خیالات تفکرات کله کوي که یه؟ – دویښې احلام سړی دهدف درسېدلو څخه را گرزوي – دویښې احلام دمرام عوض وي او دهغه پر ځای درېږي – آیا ستا احلام قیمت لري؟ په پرون پورې ځړېدل – دنن سره مخامختیا – نوي روحي نوي دودونه او طرزونه ښوا یې

څوارلسمه برخه

عنو دانه دفاع

ته تند طبیعت ئې؟ – مباهات او تهریج – دسلطې ښور ځول – متجاوز ښځ مرستې ته هم اړ دي.

پنځلسمه برخه

په هغه وقت کښې چه ناروغي د یوه زحمت څخه دخلاصېدلو سبب وي دردونه او بدني تکالیف کله کله دراحت سبب وي – هغه دسردرد چه نارضائي پکښې پټه وي – کله کله ناروغي د دې سبب شي چه سړی له یوه تکلیفه څخه فارغ يږي – دنا کامۍ خوف څه ډول دتکلیف سبب دی – دناوړ وحالا تو څخه ځان ژغورل – ناروغي دمسئولیتهٔ څخه دخلاصېدلو سبب دی – دخپلو دردونو فهم و کړه –

شپاړسمه برخه

دیږ ي موقعو نه – ښکاره او پټ ئې

د یوي وسیلي استخدام دبلي مانع کېږد لای نشي – ځني طریقي او اسالیب او زدتأریخ لري – گله کله تأریخ یو دقصه وي چه پرهرچا راچاپېره شوي وي – څنگه پخواني او تېر شوي حوادث په موجوده گذاره او سلوك کښې اغېزه کوي – بدبختي او غم یو مقصد تر سره کوي – پېرته قصه دسره را شروع کول – یوازې ته نه ئې.

اوامه برخه

کامیاب ژوند یوازې اجتماعي ژوند دی

دتو لني شخصه وده کېدل ـ انسان په څه ډول خپل ځان دیوازېتوب دپاره یوسرحد مقرر روی ـ ځان سړی ته په نظر ناقص او بې کفا یته ور تلل اجتماعي تعلقات په تعویق کښې اچوی ـ شعور بالنقص ځانته خپل تاریخ اری ـ داجتماعي تعلقاتو ټینګول.

اتلسمه برخه

دژوند لوبه

لوبغاړی او لوبه ـ ستا لوبی خوښې دي او داغواړی چه لوبی وکړی ؟ ـ ته په قوانینو پوه ئې ؟ ـ ته دژوند شخصه خوانداخلی اوژوند درته خوند وردی ؟ ـ تاته سبب معلوم دی ؟ ـ دلوبوښه کولو ته ارادهو کړه ـ په هروقت کښې لوبی : اوس ، راتلونکی هفته ، راتلونکی کال .



لمړی برخه

دځانه سره دسړی معامله اودنور وسره ګذاره

ستاژوندای لوستنکی دتعلیم اوزدکړی یو ځنځیراو یوه پرله پسی او یو په بل پوري متصله سلسله ده ، ته از موینې او تجربی حاصلوې ، او حقایق راجمع کوې اودژوند او حیات علم زده کوې . او له هغی روځی څخه چه ته په ښه ډول په بد پوهیدلی ئی ، او تا د خپل زړه اندېښنو ته غوږ نیولی یا څه چه دی په زړه کښی درګرځیدلی او اوارو پیدا ی دی دی ، کتابونه لولې چه معلومات دی پراخ اوزیات شی او فکر دی تقویه ومومی ، څو چه و دغه عمر ته چه اوس ته ورته رارسیدلې ئی راورسیدلې ستا په بکس کښی به د معلوماتو او معارفو یو دخوراهمه پانګه پر ته وی اودهر ډول اومختلفو موضوعاتو په باب کښی معلومات لری ، مګر دا پوښتنه دې کمه پلا دځانه

څخه کړې ده چه دځان په باب کښی څومره معلومات لرې ؟

دخپل ځان غم خوری ، او شخصیت ته اهمیت ور کول :

په دې کښی څه شک نشته چه موږ هر یو ځان ته اهتمام او اهمیت ور کوو ، او دخپل شعور ادراک کوو ، او په خپل سلوک او طرز رفتار او ګذارې اعتنا کوو مګر زیاتره چه دا قصد او اراده و کړو چه دځانه څخه پوښتنه و کړو ، اودخپلو مشاعرو او احساساتو تفسیرو کاندوحیرت را پېښ شی او متحیر شو ، لکه موږ چه زیاتره اوقات دخپلو ځانو څخه خوښ او راضی نه یو . په موږ کښی به داسی سړی نه وی چه دائی نه وی خوښه او دې ته ئی هڅه او شوق نه کیږی چه دیوه باکفایته شخصیت خښتن دی وی اولوړه مرتبه دی ولری . رشتیا داده چه موږ ته زیاتره دخپلو ځانو په باب کښی څه معلومات نه دي حاصل او که معلومات ولرو هغه به هم خورالږ او جزوي شانته وی . پداسی حال کښی چه ستا خپل ځان اوخپل نفس او شخصیت ستاد بحث او څیړنی موضوع دی چه ته باید ډیر اهمیت ور کړې او څیړ نه پکښی و کړی مګر بیاهم ستا غم خوری پدې باب

کښې ترهر بل موضوع لبز ده او څه اهمیت نه ور کوي ، دا بیخي ډېره عجبه ده!
مګر حقیقت هم لري او رشتیا همده !

دنورو خلقو پباب کښې زموږ عدم اهمیت همدغسې شانته دی لکه زموږ د خپلو ځانو په باب کښې ، یعنی لکه وزچه دځان پباب کښې فکر نه کړي چه څه رنګ او څه ډول شخصیت لرو دنورو پباب کښې مو هم دا فکر نه کړي اونه مو ددوی شخصیت تحلیل کړ یدی

مثلاً موږ یواجتماعی ژوند د نورو سره د کورنۍ دیوه غړي په حیث کړو یاپه بوده مکتب کښې دیوه شاګردپه نامه یا په یوه اداره کښې دیوه مأمور په توګه ژوند کوو خو موږ په هر صورت چه وي له خلقو څخه ګوښه او ځانته ژوند نشو کولای، موږ په اور ګاډو کښې سپریږو په موټرانو کښې کښېنو، اودنورو هر ډول نقلیه وسایلو څخه استفاده کوو ، دغه رنګه سینماؤ ته ځو، تیاترو او صحنو ته تګ راتګ کوو سپو رتي مسابقات په عمومي ډلو اوجمهورو کښې ننداره کو و ، مګر سره لدې ټولو اودومره ګډون اوقسم قسم تماسونو چه موږ ئې له خلقو سره لرو بیاهم زیاتره زموږ معلومات دخلقو په باب کښې دو مره لبز دی چه د دې امکان نه را کوی چه دارا معلومه شي او پوه شو چه هر سړی او هر فرد وایې پخپله خاصه طریقه او طرز خبری یانوری چارې کوی او تصرفات اجرا کوی . اوروپه مرفته دخلقو پباب کښې پدې حیث چه دوي یو لبله سره جلا او متباین ؤ مختلف شخصیات دی موږ ته څه ډېر شی نه دی معلوم اومعلومات مو با لکل جزوی دي ، که موږ پدې باب کښې معلومات درلود لای او پدې موضوع کښې مومعرفت حاصل وای،له خلقو سره به مو معامله اسانه وای تراوسني حالت به ډېر موفق او کامیاب واې .

شخصیت اواو دخلقو سره د ګنداري فن :

که څه هم زموږ زیاتره اوقات له خلقو سره تیریږي مګر بیاهم زموږ څخه زیاتره کسان داسې شعور کوي چه دوي له هغې ټولنې او جمعیته څخه چه پکښې اوسي ځانته او ګوښې ؤ جلا دی که څه هم دوی دهغې ټولنې یوه ټو ټه ا و برخه دی .

او دهمدغه جهته چه په حقیقت کښې موږ له خلقو څخه ګوښې او ځانته نه یو مګر بیاهم زیاتره موږ ته ځان یوازی او منفرد د په خیال نه راځي په موږ کښې یو اضطراب اونا خوښې غوندې پیدا کوی ، او ډېر ځله موږ خواهش کوو اودا موږ ډېره غواړی چه په اسانی او بی تکلیفه په خلقو کښې خلط او مندمج شو مګر موږ دا حس کوو چه دلته یو شی شته چه موږ په دغه وحدت او تنهائی کښې محبوس وي .

دا یو داسې احساس دی چه بری پر ممکن دی او سړی غلبه پر موند لای شی ، ځکه داځه زور نه غواړی چه سړی دشخصیت هغه عوامل متغیر کاندی چه هغه زموږ اودنور وترمیانځ داجتماعی تعلقاتو او دودونو دسمون اواصلاح ترمیانځ حایل وی یعنی دا ډېره ګرانه نده چه سړی خپل شخصیت ته تغیر ور کړی او ځان داسی وګرزوی چه دنورو پر مزاج برابر شی اودهر چاسره تعلق اورابطه وکړای شی . دا ډېره اسانه ده چه سړی خپل زړه پاک او نیت په دې اراده سم کړی چه د نورو سره ښه علایق ولري او د هر چا دسترګو تور اوډ زړه سروی ، دا په دې صورت کېدای شی چه انسان د خپل اجتماعی سلوک په علت پسی تل ترتله په لاینقطع اودائمی ډول تتبع وکړی او دا ورمعلومه او ځان ته کشف کړی چه دی ولې او د کوم سبب او علت په اثر ددغه مخصوص مزاج او طبیعت څښتن دی او ولی دې په اجتماعی سلوک کښې پر دغه یوه اومعینه ؤمعلومه لارروان دی او په هغه سبب کښې فکرو کړی چه دی ئی دې ځای ته را رسولی دی ، اوهم هغه علل ولټوی چه نورئی دې ته آماده کړه چه دوی هغو حالاتو ته ورسیږي چه وررسېدلی دی ، لنډه داچه انسان ته لازمه ده چه دفرد دودی او نشوونما او تطور لاروپېژنی چه فرد به په څه ډول خپل **شخصیت** ته تطور او تغیرور کوی ، اودا انسان ته ضرورده چه د غه شخصیات یعنی افراد په عملی مظاهرو کښې وپېژنی .

دشخصیت د نشوونما قصه خورا یوه عجیبه قصه او غریبه حادثه ده ، داقصه دفرد د **شخصیت** داسرار وڅخه یوه لویه برخه او هغه برخه سړی ته کشف او په لاس ور کوی

چه د مخه او ښخوانه وي ور معلومه، لکه د تفکیر اسلوبونه او د شخصي سلوک اشکال او مظاهر چه هم کشفوي چه وروسته تر کشفولو ئې مخ پر یوه داسې خوا متوجه کول ممکن شي چه تر ښخواني حالت ښه وي، او په خلقو کښې سړی د اجتماعي علاقاتو په محیط کښې د قبولیت او محبوبیت له حیثه ډېر کامیاب او گرزوي.

انسان لره د ځان پېژندنه خو رالوی اهمیت لري، او داچه غیر له ځانه بل و پېژني د ځان تر پېژندنه لا ډېر ور له مهمه ده، هر څونه چه د سړي علم د خپل شخصیت په اسرارو زیاتیږي، او ادراک ئې موفق ئې د نورو د ممیزاتو او اسالیبو په معرفت کښې وسعت پیدا کړي د خلقو سره به په تعامل او سلوک او اجتماعي تعلقاتو کښې په هغه اندازه ډېر موفق او کامیاب وي. که څه هم خلق سره جلا او هر یو ځانته دیوه بیان او علیحده مزاج څښتنان دي او یوه عامه او مطرده قاعده چه تطبیق ئې ممکن وي یا ئې ددې د پاره متابعت وشي چه د خلقو سره په موفق ډول تعامل او گذاره ئې نتیجه وي په لاس کښې نشته. صرف خبره داده چه هر څومره چه موږ ته د خلقو د اخلاقو اطوارو او نفسیاتو په شا و خوا کښې صحیح معلومات عموماً ډېر او وافر حاصل شي په هغه اندازه به زموږ تعامل او گذاره له دوي سره اسانتره او موفقیت او کامیابي به موږ ته زیاته وي.

د هر سړي د شخصیت وده او تطور او تغیر د ده د ژوند په ترڅ کښې حاصلیږي، او د وه داسې شخصیتونه چه د هره حیثه دې دوی سره ورته وي او پوره مشابهت دې سره و لري نه دې موجود او نه امکان لري، ځنې کسان په اعتماد نفس کښې تر نورو لوړ وي، ځنې افراد تر نورو نیکمرغه او خوشبخته وي بعضې بیا په معاشرت او گذاره کښې تر نورو ښه وي، څوک بیا په جاذبیت کښې تر نورو علاوه وي د غسې هم نور په نورو کښې درواخله. خو د وپه معرفته زموږ مقصد له سلوک څخه دغه د خلقو سره ظاهري سلوک دی او بل شی مو مراد نه دي، او د دوی د سلوک په بواعثو او هغو طریقو او اسلوبونو کښې ډېر تدقیق نکوو چه د دوی د هغو متابعت کوي مگر بیا هم غواړو د دوي د اخلاقي شذوذ او غیر نورمال اطوارو او اوضاعو واضح درک او معرفت د کړو او دروسته تر درک او معرفت ئې یا وغندو یا ئې و ستایو.

شخصیتونه ځانته ځانته نمونې دي :

دخلقو په هره مجموعه او ټولنې کښې به ته یو یا ډیر داسې کسان وموموې چه هغه یا هغوی به د نورو
خپلو ملګرو سره یو رنګه او پریوه نواخت نه وي مثلاً : یوه نجلۍ چه د ځانه سره ئې
ساعت تېروي ، او د خپلو نورو ولزهمو نجونو سره ددوی په اجتماعي نشاط کښې تر درس
او تعلیم وروسته یا وروسته د کار او عمل تر ساعت د تفریح په وخت کښې نه شریکه کېږي او
برخه نه ور سره اخلی ، یا یو زلمې چه خو راسر کښ او په خپل قوت مغرور
او د خپلو ملګرو بدځنی راځی او ځنی بیرېږي ، یا یوه نجلۍ چه غیرله خپله ځانه
شخه بله یوه په آرنه ورځی او فقط د خپل کفایت او لیاقت او تجربی او قابلیت
خبری اوو یناوی کوی تر دې اندازې چه په همدغه واسطه نورې د دې سیالانې نجونی
ددې له مجلس او مرکې شخه ځان ساتی او ګډون نه ورسره کوی یا یو زلمې چه
په ظرافت او خوش طبعی ئې شهرت موندلی وی ده ته خپل ظرافت په نظر نه
ورځی په داسې حال کښې چه نور ئې د ظرافته شخه خواپوته او په تکلیف وي .
همدغسې په هره مجموعه او ټولنه کښې داسې افراد پیدا کېږي چه خپلو ملګرو ته
محبوب وی خو بیا هم بعضی نور داسې خوږ نه یا بد عادتونه لري چه هغه د چا نه وی
خوښ بلکه په خپله دده د نږدې اشنا یا نور هم بدځنی کیږي ، نو دوی وائی : پلانی
ډېر سبک روحه دی مګر طبیعت ئې تند او عصبی دی ؛ یا پلانۍ خو را ظریفه او
خوش طبیعته ده خو چه ئې کوی که ئې د ځان او خپل کور صفت ډېر نه کولای سره لدې
چه داهر چا ته معلومه ده چه ددې کور یو عادی او متوسط کور دی ؛ یا دا چه وویل شی
چه پلانۍ ډېره د شدید حساسیت مېرمنه شوې ده !!!

بیا نو و خپل ځان ته وګوره ممکنه ده چه ته د نورو سره په ګذاره او سلوک کښې
موفق ئې ، او ډېر اشنایان دي ولري مګر ساعت ؤ ګړی به خفه او خواپوته ئې چه
نور و ته چانس او هر ډول ظروف ؤ وختونه میسر یږی ، او پدغه فکر کښې شپې ؤ ورځې
در باندې تېرېږي او تل په دغه سودا او اندېښنه کښې ئې چه وقت او زمان مساعده نه
راسره کوی او زمانه زما پر زړه او اراده رفتار نکوی مثلا : ته چه ځان دیوه مجلس
د عضویت دپاره کاندید کړی په مقابل کښې ستا حریف په مطلق اکثریت چه

هیڅ په خیال کښی نه‌در ګرزی کامیاب‌اوموفق شي؛ کله کله تاته یو فکر او نظر په دروږاندې سی چه په ظاهره ډېره ښکلی اومعقوله ښکاري مګرته نشی کولای چه په خپلوملګروئې ومنلای‌شی‌اودوی‌په قانع کړی؛ یاداچه مثلاتادڅانه‌سره‌سنجولی‌وی چه ته به کم یوه دعوت او میټنګ ته وربلل کیږې مګرترتا لاس واوړی بل‌یوه ته دعوت ور کړی. دد ې ټولودپاره باید علت پیدا سی‌چه ولی‌داسی کیږی!! ددې علت بایدمعلوم‌سی‌چه ته‌ولې‌خپلو آمالو ته نه‌رسیږی ؟ او کمه‌شی‌دې‌چه‌ته ئې معیوب کړی اوغندلی ئی او په همدغه‌اثرستادتعلقاتودفضاصفائی له‌خلقوسره‌مکدره کوی؟ او بیا کوم شی دې چۀ څنی‌محبوب‌القلوب‌او مقبول‌شخصیات‌دې‌ته و ګماری‌چه په منفردوعاداتو په‌خلقو کښی‌ژوند کوی ،او په‌اخر کښی که څه‌هم آخرنده‌ی کوم سبب‌اوعلت دی‌چه څنی کسان‌له‌بعضونورو‌خپلوسیالانوڅخه‌په‌دوانه‌اختلاف‌سره‌مختلف‌وی‌چه‌دخلقوسره ئی نه‌لګیږی‌او ګډون ؤاختلاطنشی‌ورسره کولای ؟

دا په‌رښتیاسره ډېره عجبه ده چه څنی کسان داسی‌سلوک‌له خلقو سره کوی چه ددوستۍ او اشنایی په لار کښی په مشکلاتو اخته وی ، اودهمدغومشکلاتو په واسطه په خپلو افعالواواعمالو کښی‌ددوی موفقیت او کامیابی سخته‌او ګرانه‌وی ښه‌سلوک او دخلقو سره‌حسن ګزاره‌یوفن اومهارت بلل کیږی :

دابه‌ستاپه‌خیال کښی نه‌وی در ګرزېدلی چه دخلقو سره سلوك او ګذاره یوفن او مهارت دی لکه دفټبال او دپیانوز دکړه چه څانته فن او مهارت دی اوبی له زد کړی‌څخه نه کیږی ؟

داخو معلومه ده چه اول شی چه په سپورټی اعمالو او نور و فنی‌مهارتو کښی احتیاج ور ته پیښ دی بعضی اساسی‌معلومات‌دی ، او وروسته نو بیا ډېر مشق او تمرین دی .

او د الکه یوه عامه قاعده غوندې ده چه هرڅومره چه زموږ توجه یوه

کار ته ډېره او مشقو تمرین مو پکښې اوږد او دائمي وي تذوق او کامیابي
مو زیاتیږي .
او ځکه چه زموږ تعلقات او معامله له خلقو سره یوه د نشاط او خوند د معامله
ده یعنی موږ حظ ځنې اخلو او ډیر اهمیت راته اري مګر بیاهم موږ دده مسئلې
مربوط معلومات لږ اخلو او لږ توجه ورته کوو ، زموږ ترتیبات او کوم
قوانین چه موږ یې لرو صرف کور کورانه دي او یوه صحیحه طریقه مو نده ورته
ترسیم کړې او نه مو د فکر او منطق او تعقل له لاري پدې حیاتي او اجتماعي
موضوع کښې اقدام کړیدی .
داپټه او مخفي نده چه علم او ترتیب د هر فن د مهارت دوه مهم او اولي ارکان دي
او پدې کښې شک نشته چه تا چه اول وار د تېنس لوبه ولیده ستا هغه او مینه
دې ته پیدا شوه چه ددې لوبې اصول او لا او تر هر څه د مخه در معلوم شي
او وروسته بیا دغو ندو سکې مشق او تمرین ته لاس ورته کړي شو چه لوبه زده کړې
او ددې نوعی سپورټ یو کامیاب او موفق لوبغاړی در څخه جوړ شي .
او ته اې نجلۍ ! ښائي چه په اوله پلا کښې چه ددې هوادر ولاړه شوه چه ځان
ته یو دغاړې پشمي دستمال واوبې او لاس ورته کړی اول به دی دستنې
« کرشنل » په ګوتو کښې نیو لو ته په دقت فکر کړی وی چه څه ډول یې په ګوتو
کښې باید و نیسې وروسته دی نو بیا دا زده کړه چه څنګه باید حرکت ورکړی چه
د بافت غوټې او حلقې جوړې او یو له بله ئې سره واچوي ، بیا دې نو په کار پیل وکړ
شو دې لاس پکښې صاف شو او په آخر کښې دې درجې ته ورسېدې چه خپلو لاسو
او ستنو ته به دې نه کتل مګر لاسونه ؤستنې به ښوریدل او د بافت کار به کېده او
دستمال واو دل شو ؛ دغسې د پیانو یا د موسیقۍ زده کړه هم پر بافت قیاس کړه چه په اوله
وهله کښې چه دې د ساز ندګانو په ډله کښې شروع په وکړه لمړی دې د موسیقۍ د قوانینو
په زده کړه کښې سعی وکړه بیادی نو وروسته د هغې آلې په وهلو شروع وکړه ،
او بیادې د هغې موسیقۍ آلې پر استعمال دوام وکړ یو وار دوه واره درې واره بلکه

دغسې پر له پسې دې په څو څو پلا مستعمله کړه شو په آخر کښې دې د موسیقۍ د دستې د اعضاؤ په
ضمن کښې پروهلو او استعمال پوره قدرت در حاصل شو . په هره خوا کښې چه موږ
وزنېږو و که سپورټي لوبې وي که موسیقي ، که فن وي که تمثیل یا د مهارتونو نور
انواع وي خو موږ ته دا معلومه ده چه په هره اندازه چه زموږ علم او معلومات
زیاتیږي او مشق و تمرین مو ډېرېږي په هغه اندازه به موږ په هغه فن کښې مهارت
مومو او کامیاب به یو مګر بیا هم خلق د دغو مهارتونو او فنونو په شوق او شغف در اودنه
کښې مساوي او یو رنګه ندي ؛ او د ارشتیا او حقیقت هم لري ځکه چه تمایلات مختلف دي
او یو سړی له بل څخه پدې باب کښې تفاوت لري ، مګر پدې کښې بیا هم شک نشته چه
داسې هیڅ یو سړی نشته چه دې ته دې هڅه نه وي چه د خلقو سره دې د خپلو اجتماعي
او موفقو روابطو او تعلقاتو دودې او نشوونما د موندلو په باب کښې د تجربې او مهارت
حاصلول نه غواړي یا دې اهمیت نه ور کوي .

د خلقو سره ګذاره او معامله یو نوع نشاط او د طبیعت اراستګي او خوشحالي ده
چه هر سړی ئې غواړي او د هر فرد مطلوب او د زړه خواهش دی خو اساس ئې پر فکر او
دقت ولاړ دی یعنې په فکر او په یوه منطق پورې ارتباط لري ؛ دا کار دې ته ضرورت
لري چه اصول ئې سړی ته ور معلوم شي او مشق و تمرین ئې وشي او داسې ئې ممارست
وشي لکه د ټینس ، د سپورټ یا د موسیقي د فن . ځنې کسان زیاتره د دغو اساسونو څخه
د بعضو اهمال وکړي نو د اجتماعي تعلقاتو په انکشاف او نشو و نما کښې نا کام شي .
مګر بیا هم که ته وغواړې چه د دې مهارت کسب وکړې کېدای شي ، خو د دې
خبرې خواهشمندان خورا ډېر دي . مګر دا خبره هم شته چه د اهتمام په خاوندانو
کښې چه دې موضوع ته اهمیت ور کوي فرق او تفاوت شته او یو له بله مختلف دي لکه
داچه ، هم یو حقیقت دی چه دې مقصد ته سړی فقط یوازې پدې سره نه ور رسیږي
چه د کفایت څښتن وي او ور ته اسانه وي که څه هم میل او هڅه ډېره ورته ولري .

په عمومي ډول د خلقو مطالعه کول :

دلته ځنې حقایق شته چه پر خلقو باندې په عمومي ډول پوره تطبیق کېدای شي

او د دغو حقایقو پوهنه او پېژندنه موږته زموږ په روځنیو آزموینو کښې چه زموږ دژوند حصه او جزدی فایده کوی، او د دغو حقایقو معرفت موږته ددې موقع را کوی چه دخپلو ځانو فهم او معرفت په مخصوص ډول راحاصل شی، اودې کتاب موضوع هم دغه حقایق دی نوچه هروخت تاته د معرفت او پوهنی وه لیز برخه پدغه موضوع کښې درغونده شوه په تمرین ئې شروع و کړه او ستخدام ته ئې لاس ورته کړه او تجربه ئې کړه داسې لکه داتن دزده کو لو دپاره چه اول قدم ایږدې، یالکه آ ببازی چه واردواره نوی زده کوی. نو بې کښې څه شک نشته چه مشق او تمرین خو ژر خپله ثمره ور کوی او نتیجه ښندې او ستا مهارت د ځان په پېژندنه او پدغه لار کښې کامیابې ژر ر او لې دغسې دی دخلقو په تعامل اوسلوك کښې هم تقویه کوی.

دا پانې - اې لوستو نکې! تاته دیوه فرد یا په بل عبارت د یوه شخصیت په حیث متوجهې دې، او مقصد پکښې دادی چه ستاسره پدې کښې مرسته و کړی چه په خپل ژوندانه کښې د ی د سعادت برخه لویه، او په اجتماعی ژوند کښې دې کامیابې زیاته وې. او د بحثو او څېړ نو نتایج په ډېروعلومو کښې لکه داجتماع، داحیاؤ (ژوو) د علم النفس په علومو کښې موږته دډېرو مفید واو گټورو بیانوځ خیری په لاس را کړی دې چه موږ ئې په روځنی ژوند کښې په قیمت اواهمیت قایل یو. او ددې نتایجو تطبیق په مدرسه او په کور او په کاله کښې پدې ډول بایدوشی چه فنی اصطلاحات په یوه خاص قالب کښې نوی کړه شی اود کارخانی دازموینو نتیجی دروځنی نشاط پر رنگو نو باندی وشی.

نو اوس ددې کتاب څخه غرض دادی چه: تاته دشخصیت دودی او تظور قصه، اوددغو معلوماتو داستخدام په لار کښې مرسته درسره و کړی نو به ته خپل ځان ښه وپېژنې، اودبل یوه په پېژندنه کښې به دی فهم او فکر زیات شی. نو به په همدغه واسطه پخپل ژوند کښې د ډېر مهارت او کامیابې څښتن ئې. ځکه چه ستا شخصیت روځ په روځ نشونما کوی اودزېږېدو دورځې څخه بیاتر هر گه پورې په

وده کښي دی اودا دهر چاله لاسه پوره ده چه ددې ودې سره مرسته وکړی او دا نشو نما پوره او متکا مله وي .

لمړی خپل ځان وپېژنه :

پخپل فکر کښي چه د ځانه سره ئې وهی او پخپلو شخصی او خصوصی مشکلاتو کښي امېن او اما نتګار او سه حقا یقو ته لکه دوي چه دي هغسی ور وړا ندې کېږه او د پښخوانیو ناکامیو اندېښنو ته چه که ستاپه زړه کښي تر او سه پاته وي مه تسلیمېږه او مه ئې در په زړه کوه ، او هغه ارمانونه چه ستاپه زړه کښي د پښخوانیو ناکامیو څخه د کوم قصد د نه حاصلېد لو یاد یوه پروګرام د نا کامېد لو له امله موجود وي هم در په یاد وه او زړه مه په خوره ، د اشیان په خلقو کښي باب او رواج دي اودهر چا په زړه کښي ارمانونه شته ، یوازې په نړۍ کښي ته نه ئې چه ناکامه شوې او ارمانونه دی په زړه کښي پاته او زړه دی د ارمانو نو ډک دي بلکه په موږ کښي هر یوه ناکامی ګانی لیدلې او ارمانونه مو ختلی پاته یو . د اخه پېغور نه دی چه موږ نا کام یو او ناکامي چه له هره قسمه وی فرق نکوی : که د یوې ریاضی مسئلې په حل ، یاد شوری دانتخابا تو په لار ، یا د یوه پروګرام د عملی کولو په شاؤ خوا کښي یا په بل موضوع کښي وی څه اهمیت نلری - خو اهمیت دالری - چه هر وخت ناکامی درپېښه شی او په کمه تجربه کښي که په کوم درس او علمی مسئله پوري مربوط وي او که په اجتماع یا په کوم عمل او کار پوري اړه ولري ته ناکام شې ته به دې ته ملا تړې چه د ناکامۍ په اسبابو ځان پوه کړی او ځان ته هغه اسباب معلوم کړې چه کوم کوم شیان وه چه هغه ستا د ناکامۍ اسباب ګرزېدلی دی. که ته داو نکړی ، او خپل همت د وظیفی ادا ته اړم نکړای شې په هر حال کښي چه ته ئې که د مکتب او مدرسی شاګرد ، او که په جامعه کښي یو فرد او که موظف ؤ مامور ئې نو بې شکه او شبهې مقصر او ګرم ئې .

دا معلومه او ښکاره ده چه په موږ کښي تقریباً پر هر یوه بعضی تر خی تجربې ور غلی دي ، مګر کوم چه د اطمینان وړ دی هغه دا دی چه زیاتره خلق د داسی تجربو

پمقابل کښې کامیاب شویدې او هر وخت چه دو همه پلاورسره مخامخ شوی وی په مهارت ئې بری پرموندلی دی ، نوپدې کښې شخړه او بحث نشته چه ته کولای شی چه دازده کړی چه ته په څه صورت دډېر مهارت ښښتن اوسی او بیانو د مهارت دډېر والی په واسطه پخپلو مشکلاتو کښې چه ورسره مخامخ کیږی که علمی وې که انتخابی یا وظیفوی وی یاد هغې اجتماع په چارو کښې وی چه ته په هغه کښې ژوند کوی ډېر کامیاب او بشپړه موفقیت ولرې .

مگر پدې کښې هم دبحث او خبری ځای نشته چه که ته غواړې چه کامیاب ئې باید کوښښ او جدیت وکړی او پخپلو ټولو اقداماتو او اراداتو کښې زحمت ته ځان ورکړی ، دا یو حقیقت دی چه هیڅ شك نشته پکښې او ستاد هرې ارادې اوعزم دلاری مشعل او ډیوه بلل کیږی . نو که ته هغه زلمی ته چه په ټینس کښې داسې مهارت ولری لکه یو ماهر دټینس لوبغاړی ، یا یوه پیغله چه دلاسی او دنی بافت ئی داسی ښکاری لکه دیوې ماهری اودونکی چه په خپل بافت کښې پوره موفقه وی دا به ته حتما درك کړی او یقین به دی شی چه دې کسانو ټولو اول په اول اساسی او دخپل فن او عمل ضروری معلوماتو ته پوره توجه کړی او په جدی ډول ئی حاصل کړی او وروسته ئی نو ممارست او مشق و تکرار ته ملاتړلې ده د کامیابۍ دغه حالت ته فقط دپوهې او تمرین په واسطه را رسیدلی دی .

نو ته هم په کړوند کښې کامیابی غواړی، او داچه خپل ځان په رښتیا او حقیقت سره وپېژنی ، او د نورو خلقو دخوښۍ مورد و اوسې او پردوی گران یې او پرتا راټول شی ، لار ئی فقط همداده چه دخلقو سره د گذاری او معاملې د فن اساسی قواعدو ته توجه وکړې ، او پر تمرین او ممارست ئې تل تر تله دوام ورکړې . دا دی تاته درمعلومه وی چه شخصیت پدائمی تطور کښې دی ، او مرز ته دا اسانه نه ده چه هر وخت موږ ته وغواړی یائی لازمه وبولو خپلو ځانو ته تغیر ورکړو .

ستا شخصیت په ذن او په صبا کښې :

ته خپل شخصیت ته دسهار ، او دماښام ترمیانځ تغیر نشی ورکولای ، پرتا کلو نه

کلونه تېر شوي دي شو دغه حال ته رارسېدلي او اوس پر دغه او سني حالت باندې چه نن روح ئې موجود ئې . نو تاته که ته غواړې چه خپل شخصيت ته تغيرور کړې او تعديل پکښې راولې صبر او حوصله لازمه ده .

د دې شخه زما مقصد داندې چه دا کار يعنې ځان ته تغير ورکول کلونه کلونه غواړي ددي مقصد دپاره دا لازمه ده چه ته خپل دې هدف ته د رسېدلو دپاره چه خپل شخصيت ته تغير ور کړې بايد د منطقي او محدودو قدمو نو تتبع وکړې .

د دې د پاره چه ته خپل مقصد ته ورسېږې ته بايد . اول په اول انساني طبيعت په عمومي شکل وپېژنې او يو مهم برخه ئې درمعلومه شي ،

دوهم : دا چه د خپل ځان يوه ژوره او عميقه مطالعه پدې حيث وکړې چه ته يو شخصيت ئې او ځانته خاص مقومات او شخصي خصوصيات لرې ، او خپلې توجه ته يوازې پر هغو شيانو انحصار مه ور کوه چه د هغو تغير په شخصيت کښې لازم وي او يا پر هغو باندې چه هغه يوازې د ښه کولو او تحسين قابل وي بلکه ته بايد د خپل شخصيت د هغو اطرافو او جوانبو معرفت ته هم توجه وکړې چه هغه تاته دژوند انه د جګړې په ډګر کښې نورز يات مقبوليت او ډېره کاميابي در حاصله کړې .

دريم : دا چه تاته صبر او سره سينه او دوام لازم دي ، او بل دا چه ته به د خپل ځان د هر هر عزم او اقدام په مقابل کښې چه د تغير په باب کښې ئې کوي ديو ه ناقد او اعتراض کونکي په حيث ولاړ ئې او هر تغير چه پخپل شخصيت کښې راوستل غواړې په ناقدانه نظر ورته ګورې او مفيدؤ مضر به ئې ځان ته معلوموې ځکه چه دا يو عملي تمرين دي او عملي تمرين يو ضروري او لازمي شي دي .

ددې کتاب لوست او مطالعه به ستاسره پر لمړي او دوهم قدم چه ته ئې د ځان د پېژندلو او د بل د شخصيت د فهم او معلومولو په لار کښې اخلې مرسته وکړې مګر دريم قدم پر دغو دوو قدمونو موقوف دي ، او تر هغو چه د مخني دو ه قدمونه سم نه واخيستل شي په دريم قدم کښې هيڅ کاميابي نده ممکنه ، نو لمړي او دوهم قدم ستاد فکر د پوخوالي او ستا د خپل ځان سره د امانت او امين والي معيار

او مقیاس دی ، او ددریم قدم د کامیابۍ اندازهٔ ستا د اخلاص او مثابرت ؤ دوام په معیار تاکل کیږي یعنی په هره اندازه چه تاپه اول او دوهم قدم کښی اخلاص او دوام څرګند کړی وی په هغه اندازه به‌دی دریم‌قدم‌هم کامیاب وی .

دمخه ددې کتاب دمطالعې تردوام دادرې نقاط په ټینګار سره و پېژنه :

(۱) عام او هرډول‌مختلف شخصیات په‌عمومی ډول تردرس او مطالعه لاندی ونیسه او پوره‌ئی‌درس‌وکړه.

(۲) خپل‌ځان په داسی حیث مطالعه او درس کړه لکه یو شخصیت چه ډېر او ځانته جلا خصوصیات او مقومات لري .

(۳) پخپل ځان کښی پدائمی ډول تغیر ونه راوله ، هغه تغیر ونه چه ته ئی لازم او ضرور بولې او ددې مشق او تمرین څخه هیڅ کله غافل مه او سه او کمه ای مه پکښی کوه .

دریم قدم کله کله‌تردرو سره ؤ قدمو نوسخت او ګران‌وی، او کله کله ډېره موده وغواړی‌مګرنتیجه ئی یوه داسی نتیجه‌وی چه خوشحالې‌راو ډونکی او نیکی رسوونکی‌وې یعنی خوشالتیاوی او ښېګڼې ځنی حاصلیږ ی .



دوهمه برخه

ستا به کله ځان ته نه وي فکر شوی او دا به دې خیال ته نه وې ورګرزېدلی چه دخپل ځان شخصه پوښتنه و کړې چه تا به هیڅ وخت داسې سړی نه وی لیدلی چه په هره خوا کښې تا ته ورته وی او په هر شه کښې کټ مټ تا غوندې وي ؟

که څه هم انسانان په ظاهري او ښکاره صفاتو کښې تر ډېره یو رنګه او سره مشابه دي مګر دا یو واضح او ثابت حقیقت دی چه دوه تنه په یوه خوی او بوی او په هر شي کښې یو شان ته نه پیدا کېږي . خو بیا هم په موږ کښې هر یو بدن لري چه پر هغه باندې ویښتان شنه دي ، دوې پښې لري دوه لیچه ، جلا ښه لري چه په هغه سره ابله شخه جلا کېږي ، لکه هر یو چه پر حرکت او خبرو او وینا قدرت لري ، دغسې سترګې غوږونه او دلمس حاسه لري ، سر بېره پر دې هر یو اساسي احتیاجات لري چه دهغو د پوره کولو او راضي کولو لپاره کار کېږي او زیار ایستل کېږي .

لکه هغو او صافو کښې چه پوره واضح او په ظاهره نه ښکاري هم یو شان ته او مشترک دي , لکه د یوه کار پر کولو ، او تنظیم باندې قدرت درلودل ، او دخلقو سره راشه درشه ته اهمیت ورکول او دخوشحالۍ شعور . نو که موږ غواړو چه پر یو چا حکم و کړو چه دې څنګه سړی او دڅه ډول شخصیت څښتن دي موږ باید اول په اول دده دغه صفات داعتبار محل و ګرزؤ ، او مخصوصه پاملرنه ور تو جه ور ته و کړو ، ځکه چه دغه اوصاف دخلقو دراشه درشه او ګډون ؤ ګذارې په معامله کښې خورا لوی اهمیت لري دا خصوصیات او غیر لدې نور په خلقو کښې په متفاوتو درجاتو موجود وي تر دې اندازې چه دوه کسه په هره خوا کښې یو رنګه او سره ورته نه موندل کېږي .

دخلقو تر میانځ دتفاوت اندازه :

فرض به کړو چه موږ یو له ممیزه ځوا هر واو نخښو شخه لکه جګوالی مثلا تر بحث لاندې نیسو او غواړو و مطالعه ئې کړو ممکنه ده ته هغه روح در په یاد کړي

چه ته په اوله او امر یې پلا کښې د مدرسې په میدان کښې ودرېږي چه د بدني روزنې معلم تعلیم درکړي، معلم شاګردانو ته امر کړي چه پر قد برابر سره ودرېږي نوجګان د صف په یوه سر، او ټیټ قده شاګردان د صف بل سرته ودرېږي سره دلې چه میانه قده شاګردان چه اکثریت هم دوی دي په صف کښې ولاړ دي یو و بل ته سره ګوري او هر یو د خپل قد برابرۍ د پاره په صف کښې ځای لټوي شو هر یو پر خپل مناسب ځای په صف کښې ودرېږي، او تر هغو شو دوی خپل ځای و نه په شو پلا بدل او الیش نه کړه صف برابرې و نه شوه، د دې سبب داؤ چه دوی د جګوالي فرق او تفاوت را ایستل چه پدوی کښې موجود ؤ یوا سانه کار نه دی.

اوس به موږ دیو بل ممیزي ملاحظه، هم و کړو چه هغه به چټکی او د حرکت سرعت فرض کړو. او دا به د پنسل قلم په واسطه تجربه او واز موږ یو پدې صورت چه د پنسل کړپې به پر لوحه باندې چه دیوې ډلې کسانو د خوا شحه په یوه معینه موده کښې اجرا کیږي تر شمیر لاندې و نیسو، ددې تجربې شخه چه پر یوه ګډه او مختلطه ټولګې اجرا شوه دا معلومه شوه چه په دوی کښې خورا لږ کسانو په بېړه چابک دستی امتیاز موندلی، او په مقابل کښې ئې خورا لږ کسان په بېره سستی او کاهلی ممتاز دي، پداسې حال کښې چه نور پاته کسان په چابک دستی کښې یو و بل ته سره نږدې او په یوه درجه کښې دي. نو د شورلسم کال د ټولګې د یوه شمېر شاګردانو د قلم متوسط کړپې په نیمه دقیقه کښې (۸۰) ته ورسېده او هغه شمېر چه د نیمو شاګردانو له خوا ثبت شود (۷۱ ، ۸۷) تر مابین ؤ پداسې حال کښې چه شلرمه برخه شاګردان په چابک دستی ممتاز شوه ځکه چه د کړپې شمار ئې تر (۸۷) زیات شو نو پاته شلرمه برخه شاګردان کاهاله وخنل ځکه چه دوی کړپې تر (۷۱) کم ثبت شو. دغه ډول موږ ګورو چه د ټولګې د افرادو د پاته برخې زیاتره کسان سره ورته دي، او نور پاته په خپل مابین کښې ډېر تفاوت سره لري.

کله به دې دیوې ډلې د افرادو دور ښتنو په رنګ کښې ذکر نه وی کړی؟ ته خپل شاؤ خوا خلقو ته و ګوره که په مدرسه کښې ئې که په مکتب کښې ئې که په مجلس کښې ئې. او که

نږدې ګوري نو دیوې کورنۍ اعضا ؤته چه غونډه او یوځای سره ناست وي او دهغوی پرمخ سره را ګرځېدلې وي (بالخاصه که دوی بیا اروپائي وي) د اېزو کسانو وریښتان ژیړ ښکارېږي زرغونې وي او دهغوی په مقابل کښې به بیا بل ابزي وي چه تورې وریښتان به ئې وي، او دټولې هغې زیاتره و کسانو وریښتان به سره وي. او دسرو ور ویښتانو ترمیانځ د رنګ فرق چه اکثریت هم ددوی دی موږ ته ګران دی چه داووایو چه دچا وریښتان په سوروالي کښې داسې سره او دچا هغې داسې دي، ځکه چه په دوی کښې دوه سرونه دوره ویښتانو په رنګ کښې یوشانته او مشابه نه پیدا کیږي هرشي او هر صفت چه دوږ راواخلو که جګوالوه وي که دتندې پلیتې، که چټکې او چابکدستي وي که کوم بل بدني او جسمي صفت وي او موږ ئې دافرادو په یوه داسې مجموعه او ټولې کښې راواخلو او پلټنې وئې ګورو چه په هغه کښې چین او چپه نه وي شوي یو داسې ابزي به ښکښې ولیدل شي چه که هغه ابزی دوې برخې فرض کړو دیوې برخې افراد به په ځینو خاصو صفاتو کښې سره مشترك وي او په مقابل کښې به ئې هغه بله برخه په نورو خاصو صفاتو کښې ترخپل میانځ ارتباط سره لري، او په دې ضمن کښې به دهلې دېرې او زیاتره افراد په مابین او وسط کښې واقع وي یعنې دېره برخه به داسې ښکښېږي او وزې چه نه به دې برخې نه به هغې برخې ته ورته وي بلکه دوی به په خپل میانځ کښې شباهت سره لري او دېر به سره ورته وي اختلاف چه سره لري هغه به خو را جزوي او لږ شانته وي.

د خلقو جلاوالی د دوې د شخصیتونو ترمیانځ تمیز راولي:

که څه هم کله کله دهغه جزوي جلاوالي او اختلاف داهمیت پوښتنه چه دوریښتانو په رنګ، یاپه چټکۍ، یاپه جګوالي کښې دځو کسانو ترمیانځ موجودوي کیږي. مکرر شتیا او حقیقت خودادی چه دا اختلاف او جلا والي ذاتاً او پخپله دوی ته څه قیمت نلري، بلکه قیمت ئې په دې ځای کښې دی چه دوې دافرادو ترمیانځ اختلاف او جلاوالي ښکاره کوي، او داثابته وي چه داسې یو سړی به نه شي پیداچه دبل

یوه سره په تو لوښیانو کښې یو رنګه وي، او په هره خوا کښې سره ور تاوی تر دې
اندازې چه غبرګولي لا هم وي. اوس به موږ یو بل داسې صفت وڅیړو چه
د ور ښېتا نو تر رنګ یا تر ځګوا له په وضاحت کښې کم وي، یا ئې په مقایسه کښې
د پنسل تر کرښې پې تعقید ډېر وي، مثلاً ستوماني به را واخلو:
په تېره هغه کښې چه ته د خپل ملګري سره په یوه او ږده تفریح د باندې تللی وې
ته هم په هغسې اساني او چټکۍ ستړی او د ستوماني احساس د ی ؤ کړ لکه ستا
ملګري چه کړی و؟ ته هم هغو نه ډېر عمر فټبال کولای شې لکه ستا ملګري چه ئې کولای
شي بې له دې چه ستوماني ؤزحمت د رباندې د ر شي؟ په بشري طبیعت کښې ستا څه
فکر دی؟ پر تا د هیجان او قهر ؤ غضب نښې (پداسې حال کښې چه نور ستا اطرافیان
د سړې سینې خاوندان او د نرم طبیعت څښتنان وي) ښکاره کیږي؟ په صنف کښې
د یوه ګران او مشکل درس په در کولو کښې ستا تو له ښوونکي د صبر او سړې سینې
څخه کار اخلي او په ارامۍ او نرمۍ د د رس تشریح درته کوي؟ تا فکر کړی او کله چه
د خپلوانو کورو ته ورغلي ئې ملتفت شوی ئې چه بعضې مندې بې صبره او سینې تنګې
تنګي وي پداسې حال کښې چه بعضې نوري بیا خورا خوشاله او بشاشه او تندۍ ئې ورین وي؟
د فکر او عمل په استقلال کښې ته څه وائې او په دې باب کښې دې فکر او نظریه څه ده؟
د خپلو وظایفو او اعمالو د پاره د پروګرام ترتیبول او تر یوه سرر شته او مقررا تو
لاندې د هغو اجرا کول پر تا سخت او ګران لویږي او چه غیر له تا بل څوک ستا د ژوند
د چارو اداره او تنظیم پر اوږه واخلي په خوشا لیږې؟ او که ښائی چه ستا خپلوان
او د کاله اعضا ستا څخه لاس واخلي تا او ستا د ژوند اداره سره پرېږدي ته به خوشحاله،
او ته به په ځان پوه شې چه تر دوی د خپل ژوند په چارو
ښه پوهېږې؟ په همدغه صورت خلق یو له بله تفاوت سره لري او یو له بله سره متباین
او جلا دي، هر سړی ځانته د هر موقع او هر فرصت د پاره په علیحده طرز او اسلوب ځان
مکلیف کوي او د هر طرف او حالات د پاره جلا جلا ملابسات او بله بله بڼه په ځان

اغوندی ، او په هر موضوع کښې ئې د تفکیر طریقه سره بېله او جلاوي. یوازی ته نه ئې چې د ځان د فردیت احساس او شعور کړی بلکه پلرونه ، استادان ، مامورین ، ستا ګاونډیان ، ستا ورونړه ستا خوندی دا ټول له هر یو ځانته جلا د فردیت شعور او احساس کوی او هر یو ددې شعور او احساس خاوندان دی ، او ځکه چه هر انسان فقط ځان ته ور ته او خپل ځان ته شویدی نو دغه رنګه هر انسان له نورو خلقو څخه مخالف او جلا دی.

د شخصیت ممیزات:

دا کتاب په خصوصی ډول په هغو ذاتی اختلافاتو کښې بحث او څېړنه کوی چه په مزاج او شخصیت او د خلقو سره په راشه درشه او معامله کښې د توافق او موافقې په قدرت اړه لري . لکه په عینی حال کښې چه کتاب په هغو وسایلو کښې هم بحث او څېړنه کوی چه د فردی ممیزاتو تحسین په راځي. نو منطقی نتیجه ددې داده چه موږ به ژر دا قدرت وموموچه ځانونه په ښه تو ګه او پوره ډول وپېژنو ، او بیا دا چه هغه وسایل و پېژنو او را معلوم شی چه هغه زموږ سره د ځان پر تحسین د بعضی داسی خصایصو او خویونو د نشوؤنما په واسطه مرسته کوی چه هغه د هر چا مرغوب او د خلقو خوښ وی او رضا مندی ځنی ښکاره کوی . او د هغو خویونو او عاداتو احصائیه او میدان ته راایستل چه هغه دیو بد او ناخوښ ؤ مبغوض شعور د پیدا کولو سبب په خلقو کښې نسبت فرد ته ګرزی.

دا کار موږ په یو څو کرښو کښې نشو کولاې ، دا یوه اوږ ده مګر خوږه او په زړه پورې قصه ده ، او په هغه موقع کښې ئې بیا خوږ والی نور هم پسی ډېر شی چه سړی ئې په دقت و اولي او په ژوره کتنه ئې مطالعه کړی او دا ور معلومه شی چه د قصې تفصیلات ستا د تجربو او افکارو او احساساتو هینداره او داتو له رو ښا نه پکښې څرګندیږی ، او هر وخت چه ته هغه مثالونه چه تا ته په مخه پکښې درځی او ته ئې ګورې نو ته چه ته ئې لولې ور اضافه کوې پکښې و مومې ستا معرفت او معلومات د مختلفو

شخصیاتو ددوی او نشونما ښاب کښي واضح، او د خپل شخصیت د فهم او د پېژندلو اقتدار او قوه دی زیاته شي. نو ددې د پاره چه موږ د خپلو ځانو د پېژندلو حقیقت ته ورسیږو پر موږ لازمه ده چه موږ هغو اسبابو ته ځیر او متوجه شو کوم چه زموږ او زموږ د دوستانو او پېژندویو ترمینځ د تباین او اختلاف سبب ګرزي.

وراثت د شخصیت په وده کښي لکه عامل ژوندی دی :

د شخصیت د اختلافاتو اساس دوو مهمو عواملو ته تکیه کوي چه هغه دواړه اساسي عوامل دی : - لمړی دا چه په موروثي صفاتو کښي د دوو تنو ترمینځ پوره او بشپړه تماثل نه شي راتلای او هیڅ ممکن ندی دوهم دا چه هغه محیط چه یو سړی پکښي لوی شوی وی له هغه بله محیطه سره ئي چه هغه بل پکښي لوی شوی وی پوره او په ټولو معنی و مماثلت امکان نلري.

کله کله ویل کیږي چه د یوې کورنۍ اولاده په وراثي متماثلو صفاتو کښي سره شریك وي. مګر د صفاتو وراثت یوازي د مور او پلار څخه نه وي. او تاته به ښه باب کښي دا کافي وي چه ځان او ورور او خپلې خور او د خپلو اشنایانو کورنیو ته فکر ور واچوې نو به ددې اشکال مثالونه چه وراثي صفات اولادې ته یوازي د مور و پلار له خوا نه ور پاتې کیږي په لاس درشي.

کله کله په دوو ورونو کښي د یوه ښکلی او مناسب قد، او بدن ئي د پلار غوندې ډك وي مګر زړځ وریښتان او شنې سترګې ئي بیا ور ته شوی وي. کله بیا هغه بل ورور هم جګ او پنډ وي مګر سترګې او وریښتان ئي لکه د پلار تور وي بلکه غیر ګولیان لا یو و بل ته ورته وي سره شوي : د «زمری او تورپیکه» صرف د وریښتانو رنګ او د مخ کاسه سر دور ته ده (زمری) جګ او بدن ئي پنډ دی نه نا جوړه کیږي مګر خور ئي نره کیږي او هره ګړی د سړي هوا او یخني څخه پر له پسې زکام او ور پېښیږي او په اساني مرضونه ور پورې کیږي. په بله کورنۍ کښي دوه ورونه دي یو ورور پر بل یو کال مشر دی لمړی ئي مرام او کهاله، سوړ فکره د نشاط څخه ئي برخه لږ، او ملګري و

دوستان ئې کم او د ژوند سره بې علاقې دي، مګر هغه بل د نشاط او زړاکت ښځینې
شوړ نده او چالاك او مغز ئې بېدار او هره روح نوی نوی فکرونه را باسې آشنایان ئې ډېر
او ژوند ئې تازه دي. که څه هم دلته ډېر عوامل شته چه د داسې نخښو غوندې په تخليق کښې
مؤثر دي مګر بيا هم موږ ته دا نده ممکنه چه لدې څخه ځان بې خبره کړو چه پدغه
مثال کښې دد وې دوو عصبي او غددي جهازونه چه له مورۀ پلار څخه ور پاته شوي
دي سره مختلف او ځانته ځانته دي. او بعضې مزاجی صفات او طبیعي اخلاق په تنظيم کښې
بعضې فطري عضوي خصائصو ته خاضع دي.

پدې موږ ته وله پوهېږو او خبريو چه سړی د مور ۀ پلار د نطفې څخه پيدا کېږي
او پر ده هغه نخښې او خصوصيات ښکاره او پکښې موجود وي چه اصول ئې د دغو دوو نطفو
د اتحاد او يو والي څخه استمداد او مرسته اخلي - لکه دا چه هم موږ ته معلومه د چه يوازې
جينات د هغو صفاتو او خصايصو چه په هغه سره د يوه ژوندي موجود د يو ختيا په وخت کښې
امتياز راځي پټ امانت ځايونه دي. نو صحيحه دا ده چه د هر شي څخه هغسې شي زېږي لکه
دي چه وی، مګر غبر ګوليان دواړه سره يو رنګه خپل مورۀ پلار ته نه وي شوي. نو په
هم دغه اساس او بنا پر دغه دا صحيحه معلومېږي چه موږ وو ايو چه د هر شي څخه چه شي
زېږي څه نه څه ورته ورته شوی وي.

دوراثت مسئله يوه پېچلې موضوع ده، او دا نده لازمه چه موږ پدې ځاې کښې د هغه
په نازکو او دقيقو مسائلو کښې بحث وکړو، مګر بيا هم دلته دو يلو
وړ يوه خبره شته هغه دا چه وراثت د شخص مميزاتو په تحديد کښې له هري نوعې
څخه اساسي عامل دی. او ددې د پاره چه موږ د خپل ځان فهم يادبل يوۀ فهم و کړو
ددې څخه موږ ته هيڅ چاره نشته چه د هر فرد وراثت چه دی د هغه څخه را جلا
شويدی بايد زموږ په اعتبار کښې داخل وي او اهميت ور کړه شي، ځکه چه دلته
په ماليونونو او تر شمار زيات قسم قسم او مختلف تشکلات د مميزاتو او نخښو څخه
موجود دي، او که څه هم دا لازمه او حتمي ده چه د اولادونو او مورۀ پلار تر ميانځ

یو مشا بهت موجود او ښکاره وي ، مګر بیا هم چه موږ اولاد و نه او پلار و نه سره و ګورو همیشه فرقونه موجود وي ، لکه ددوو ورونو ترمیا نځ چه عادتاً کلي فرقونه پیدا کیږي .

دمحیط اهمیت دشخصیت په وده کښي :

خو په هر صورت دا یوه واضحه مسئله ده چه وراثت یوله هغو وواساسي عواملو شخه دي چه فردي اختلافات ښیي او تفسیر ئي کوي ، ښائي ستاسو ز موږ داخبره په یاد وي چه په هغه وخت کښي چه موږ دخلقو داختلاف په سبب خوله پو رې کړه چه ولي خلق بولا بله سره بېل دي موږ وویل چه دیوه وراثته شخه دوه کسه په یوه ډول صفاتو نه موندله کیږي . یا لکه پا یوه محیط کښي چه په یوه رنګ صفاتو دوه کسه نه پیدا کیږي .

دا هیڅ عجبه نده که ته ددو همي رأ ئي تر دېلو په عیني همغه قوت سره و کړې کوم چه په هغه قوت سره تالمړی رأیه تر دید کړېده ، ځکه چه کله ته دي خبري ته تمایل او هڅه کوي چه که دلته دوه هلکان اود واړه سره ورو نه وي دوا ړه لکه دوه تنه چه په یوه کور کښي او سي لوی شي او دواړه یوه مکتب ته ولاړ شي ، نو بیا کښي هیڅ شک نشته چه د وي دواړه به یوه محیط کښي ژوند کوي . مګر موږ باید دوو نور وورونو ته چه یو (۲۰) کلن او بل ئي (٦) کلن وي و ګورو . دادواړه ورونه په یوه کور کښي د مور د غېږي شخه ولاړ او په همغه کور کښي لوی ، او په هغه کور کښي عمرونه پر تېر شوه اودد واړو ابتدائي او بیاثانوي مکتب یوؤ ، نو دوي دوه چه حالات هم د غه ډول دي په محیط کښي پوره سره ورته او متشابه دي . مګر حقیقت دادی چه ددوی دواړو ترمیانځ محیطي فرقونه موجود دي ، لیږ ی وروړ د پلار و مور اول زوې دی او تر دوهم زوی ئي (٤) کاله مخه زیږ ولی دې نو ددو هم په زیږ یدلو دې مشراولوی وروړ شودې باید ځینی مسئولیتونه پر اوږه او عهده واخلي ځکه چه پرده مشر دي ، او س دده سره د مور او پلار په مینه او محبت کښي دده کشر وروړ شریک شو ، او په عین وخت کښي

د ځینو امتیازاتو څخه برخه اخلي مګر کچنی او کشر ورور خو د مور ؤ پلار او اولاد
او دهٔ له کورنۍ کچنی نه ؤ او پرده هیڅ کله هم داسې وخت نه دی راغلي بلکه
دي همیشه د مشر ورور تر لاس لاندې ؤ کله به ئې ناز اوه کله به ئې ترانه، کله
به ئې در حم زغ پر کاوه کله به ئې قهر ورته کاوه، او د هر موقع سره به ئې پر هغه
موقع برابر پېش آمد ور سره کاوه.

د دې اختلاف او تباین دپاره ځینې نور عوامل هم موجود وه چه تباین او
اختلاف ئې ایجا داوه، مثلاً لوی ورور چه (۱٦) کلن شو مدرسه ده ته
یوه داسې نوې تجربه شوه چه تردې دوړاندې او پخوائې هیڅ علاقه او شناخت نه
ور سره درلود، سره له دې چه کشر چه مدرسې ته ور داخل شو ده ته یو فکر او
هغو خبرو څخه ور پیدا کېږي چه ورور ئې د مکتب او مدرسې له خوا څخه ورته
کړې دي، بنا ئې چه ده ته دې فرصت او موقع مونده شوې وې چه یووار ؤ دوه ئې
مدرسه او مکتب لیدلی وي، نو مدرسه اوس کشر ته داسې نوی شی نه دي لکه
مشر ته چه وه، او هغه سهم او وا همه چه پر مشر ورور ئې د مدرسې او مکتب څخه
اوېدلې وه پر کشر ورور و نه اوېده.

دالا هم وه چه د دوی یوا کاچه په کور کښې ور سره ؤ او کچنی ډېر پر ګران ؤ
هرې خواته به ئې ورسره بیوه او تر مشر ورور به ئې ده ته ډېر شیان له بازاره څخه
راوړه چه دا هم بې شکه او شبهې یو له هغو شیانو څخه کېدای شي چه د مشر ورور
په زړه کښې دی دده کینه پیدا کړې وه.

پدې کښې څه شک نشته چه دا عوامل د دؤ ورونو په اجتماعي محیط کښې د فرق نود پیدا کوا
دپاره کار کوی او مؤثر واقع کېږي داسې بېره د عمر پر تفاوت او اختلاف او د دوي
د مر کز تر اختلاف چه د کورنۍ په اعضاؤ کښې ئې لري، او دا تو له خورا مهم عوامل دي
دا ځکه چه زموږ مقصد له محیطه څخه یوازې کورنۍ چه ژوند او نشو و نما پکښې
کوي، بلکه زموږ مقصد دیوې واحدې کورنۍ او فامیل اعضاء او هغه دوستان او
خپلوان هم دي چه سهار ؤ ماښام ناسته پاسته او تګ راتګ سره لري دغه رنګه

هغه کسان هم چه په لوبو یا ددوی په رخصتیو او ذهنو دوی ژوند په اطرافو کښې ګډ وي
او تماس ورسره لري . نو د محیط دائره تر کوراو باغونو ، یا بازار یا هغه ښار چه
یو فرد پکښې پیدا کیږي او پکښې اوسیږي پراخه او وسیع ده.

په محیط کښې یو پوره شدېد مؤثرات شته:

اجتماعي محیط خورا لوی او ستر اهمیت لري ، او ځکه چه اجتماعي محیط پدې
جهت چه د فرد په شخصي اختلافاتو کښې یې اغېزه ډېر او زیات مؤثر دی نو ئې تر مادي
محیط اهمیت ډېر دی. دا نه ده اسانه چه موږ د اجتماعي محیط فهم وکړو او رمزونه و
اسرار ئې کشف او څرګند کړو ، ځکه خلق همیشه په حرکت ، او عمل او په خبرو
اترو کښې دي او هر څه چه وکړي یا کوم کار او وظیفه چه سرته ورسوي خبري
او بحثونه ځني کوي نو په هم دغه جهت موږ د اجتماعي محیط حقیقت ځکه چه په هم دغه نوعه
خبرو او ځان ستاینو کښې پټ وي نشو معلومولای. او هم موږ ته نده ممکنه چه اجتماعي
محیط فقط پر هغو کسانو منحصر و بولو چه هغه کسان چه ژوند پکښې کوي لکه پلرونه
نیکه ګانه ، اکاګان ، ماماګان ، دوستان او خپلوان بلکه محیط پر هغو موضوعاتو هم
مشتمل دی چه دغه کسان خبري پکښې کوي او هغه کارونه چه دوی انجاموي او هغه
طریقي او طرزونه چه دوی پر هغو طرزو او طریقو کارونه او خبري کوي ، د کوراو محیط
دد غو مشرانو د ژوند تلقي طرز چه دوی ژوندته په کومه سترګه ګوري او ددې موقف
نسبت و ژوند ته د نوو کچنیانو په موقف او توجیه او د دوی پر نفسیاتو اثر او اغېزه کوي
کله کله پرمور یو اولاد خورا ګران وي تر اندازه زیاتې نازوي او پدې باب کښې
اسراف کوي تر دې اندازې چه او پ شي او دغو یو تر ښوو وزي لائې هم ناز پر هغه حال
پاته وي ، داقسم روزنه هم د هلک د اجتماعي محیط جزء بلل کیږي او د هلک پر ژوند
خپل خاص اثر او اغېزه لري تر دې اندازې چه د هلکیني تر مرحله واوړي لائې هم
اثر او اغېزه پر معلومه وي ډېر او یان او غږان شته چه د حقیقي سړیتوب او رښتنیه
مړانې نخښې نه پر معلومیږي ،

بعضې اوقات پلار دخپلو او یو اولاد وسره خورا زیږ وضعیت لري او په شدت او تندې معامله ورسره کوي ، په سزاوار کولو کښې ئې اسراف کوي ، خورا لږ به ئې ستائي یا به رحم او خواخوږي ورسره ښکاره کوي ، دا معامله او عادت دهلکانو د اجتماعي محیط جزء و گرزي او پدغه جهت ددوی محیط دوړوو ورونو له محیط څخه چه مور او پلار ئې نازوي او پر گران وي بېل دی . اختلاف او تباین وموې او دا یو داسې محیط و گرزوې چه اویانو نه وي لیدلی ، داسې ښه شی چه په مور او پلار کښې یوه دوو لونو څخه دیوې د کچنوالي او طفولیت په زمانه کښې نا روغه شي او دبلې لور دطفولیت او کچنوالی په زمانه کښې را پورته او شفا وموې ، نو پدې کښې هیڅ شک نشته چه ددغه مور یا پلار اثر پر دغو دوو لونو سره مختلف او ځانته دی ، او لدې حالته څخه دا راوزی چه سخه احساسات او د گذاری طرز چه د دغو دوو نجونو څخه په یوه کښې تنکوین موې د هغې بلې له هغې څخه په هر جهت او تولو معنی و اختلاف لري ، ځکه چه ددوی دوو اجتماعي محیط کټ مټ سره یو شانته نه وو او پدغه جهت نو پدوی کښې یو رنگه او متشابه و میزاتو او نخښو وده ونکړه که کله کله موږ ځنې کسان و ینو چه یوې کورنۍ ته نه وي منسوب مگر داسې ښکاره ږي لکه دیوې کورنۍ چه وي او په یوه واحد محیط کښې چه روزل شوي وي .

ددې مثال هغه دوې ښکلې پېغلانې دي چه دواړه په یوه عمارت کښې اوسي او په یوه مدرسه کښې تعلیم کوي ددواړو پلرونه لایق او ماهر کار گران دي او دواړه یوه نوعه کار کوي ، دوی دواړه تقریباً دیوه عمر او سره همزولې دي او سپورټ و اتڼ هم ددواړو ښه زده او پکښې اوله درجه دي ، نود دوی چه حالت همداوې پوره سره ورته او یو رنگه سره معلومېږي مگر پدوې کښې یوه د ښاور وورونو مشر د خورده او دڅو کالو را په هسته ددوی مسئولیت ددې پر غاړه دی ، سر د لدې چه هغه بله یو وروروارې چه دا (٨) کاله تر کشره ده او داهمیشه د مور او پلار او رورد خوا نازول کېږي ، نو اوس موږ ته دانده گرانه چه دا معلومه کړو چه پد غو دو و

په فلانو کښې کمه یوه مسئولیت نه تقدیرور کوي ، او کمه یوه په دوي دوو کښې مرستې
ته هڅه لري او د کار ورور ګار ذکر ورسره دي
مونږ څنګه دغه حالات ته چه پر یو را ورسیدلو :

موږ چه په حیث د یوه شخص بلل کېږو ، او دغه فردي شخصیت چه اوس مو پر هغه یو مرجع او سبب یې هغه قوتونه او عوامل دي چه موږ ئې احاطه کړي یو او پر موږ راګرځېدلي دي داپر موږ چاپیر او محیط د یوې ناحې او یوه جهته موروثې صفات او د پلار او نیکه اخلاق و عادات او دودونه و مراسم او له بلې ناحې او په بل حیثیت هغه رنګ، رنګ، تجربې او ازموینې دي چه موږ کسب او حاصلې کړېدي او دا تجربې او مکتسبات هغه شیان دي چه زموږ پر ژوندئې خورا شدیده او واضحه اغېزه کړې او قسم قسم حالات او موقفونه ئې زموږ د پاره ایجاد کړي دي چه موږ په دغو توله حالاتو او موافقو کښې اشتراک کړېدی او دهغو اجزاوو . لکه هغه متبادل تعاملات چه زموږ او د خلقو تر میانځ موجود او هغه چه په موږ کښې ئې د لمړي هلکینې او د طفولیت له ابتداء څخه اثر کړیدی په کښې شامل دي

موږ په دغو دوو عواملو کښې چه موروثې او محیطي عوامل دي نشوو ویلای چه کم یو په اهمیت او اثرو اغېزه کښې زیات دی . مګر دا اټکل ممکنه ده چه په تنیکه ووایو چه د فرد د فهم د پاره د دواړو مراعات لازمي او یو حتمي ضرورت دی نو وراثت په قطعي ډول خپل خصوص اثر په جسم او بدن او په رنګ او بڼه کښې لري ، لکه په هغو فرقونو کښې چه د استجابت په سرعت ، او په بدني قوت او په احتمال پورې مربوط وي چه دا هم د ذهني وظایفو په تنمیه کښې یو ښکاره عامل دي ، او دا هر یو په هر فرد کښې په بېله بېله اندازه موجود وي او په اوردو کښې فرق سره لري دخل لري او موثر دي . هروخت چه موږ وغواړو د طبیعت تقاضاوې د خجالت او شرمندګۍ اجابات او نور مزاجي خصائص چه هغه د کورنۍ په محیط کښې د اجتماعي روابطو او علاقاتو نتیجه دي وسپړو نو موږ ته حتمي او لازمي ده چه محیط ته مراجعه وکړو او دا شیان له هغه ځایه څخه معلوم کړو . موږ به د محیط اثر او اغېزه د دې د پاره هم مطالعه کړو

چه په هغو اسبابو پوه او خبر شو چه پر هغو باندې د معاشرت او ژوند ښېګڼه
او پرامن او طمانیت شعور او پر ځان اعتماد ولاړ دی ، او یا به ددې دپاره محیط ته مراجعه
کو وچه په هغو اسبابو پوه او خبر شو چه دهغو په واسطه د مسؤلیته شخصه ځان
ژغوري هغه اسباب چه غالباً به هغه اوی کسان چه تجربې ئې د نفس داعتماد او
دتزکیې په نضج او پوخوالي کښې ناکام شوي وي په متصف نه وي . لکه د محیط په
هغو شیانو کښې چه هم بحث نو وچه د هغو له کبله د نجونو او هلکانو او ښځو ؤ سړو تر
میانځ په تفاهمه کښې مشکلات او صعوبات موجود وي نو شخصیتونه په تجربو او از
میښتو سره وده کوی ، مګر دا وده همیشه صالحه نه وي .
که ته یوه شیبه پخپل ځان کښې فکر وکړی . ممکنه ده چه تا ته دې دخپلو سترګو
د رنګ د توروالي او د وښتانو د رنګو له والي تفسیر مجسم شي . ته به دغو دواړو
کښې خپلې مور ته شوې ئې ، دغه رنګه تا د ورورمخ پلار ته شوی او وز ددې ،
پداسې حال کښې ستا ګردی او ټکی مخ ستا نانه شویدی د غه رنګه دا هم موږ ته
ممکنه ده چه د بدني صفاتو او هغو صفاتو ګڼه چه په یوه نسل کښې ښکاره کېږي او
په بل وروسته نسل کښې پټ کېږي پسې ور واخلو .
ګله ګله دا یو قسم امتزاج او ګډون په نواو رنګونو او ونو ؤ قدونو کښې
موجود وي تر دې اندازې چه ګله موږ د هر یوه رګه جلا جلا پسې
ور واخلو په کورنۍ کښې به د دوو درو کسو څخه تر ده دغه هغه شي را شروع شوی وي .
نو بدن او د مخ بڼه او د بدن ممیزات دوراثت اثر دی ، او دوراثت اثار زښته ډېر دی .
ګله ګله یا ګرانه او سخته ښکاري چه ته دې دخپل پر وسوالي داثر تتبع او اقتضاو کړې
مګر . دهغو تجربو په اړه کښې به چه پر تا خپل عمر کښې راغلې دي پر داسې موقعو نو
پوهېښت شوی ئې چه دخپل تفکیر او سلوک اسلوبونه دې اړولي او کیف دې ور بدل کړی وي
دشخصیت دتشکیل دپاره یوه تجربه قطعاً کفایت نه کوی ، بلکه مکرری تجربې او پرله
پسې ازموینې چه موږ وکړو په موږ کښې یو معلوم او معین انفعالي رنګ پرېږدی ، که څه
هم نه خپلو تجربو او ازموینو په تاثیر نه پوهېږي مګر بیا هم دده شخصیت تشکیل ځنې مومي

اې په رتا ئر ګېږي، مګر داتشکل په‌اسانی سره پرځای نه پاتې کېږي او نه‌قرار نیسی لکه‌داسی چه‌هم کېږی چه‌تغیروخوری بلکه‌تر تشکل وروسته لاهم‌ داپیدې ډول چه وروسته‌تر هغه‌چه‌تاته دادر معلومه‌شی چه‌ستاد شخصیت نخښی اوعلامت وده اونشوؤ نما کړېده او دادهغو تجربو په واسطه چه‌تا دخپل‌ژوندپه روځو کښې‌حاصلی کړیدی مګر بیاهم‌ته‌پردې‌قادر ئی‌چه‌محدودئی کړې‌یائی‌تشکیل‌راو ګرزوی،یاځینی‌هغه‌صفات چه‌ستانه‌وی خوښ ورشخه لیری کړې ،داپیدې ډول چه دخپل‌استجابت اسلوبونو‌ته تغیرور کړی لنډه‌داچه تاته‌داممکنه‌نه‌قالب ته‌تغیرور کړی ځکه چه هغه دومره کلك ندی چه تغیراوتبدیل‌دی‌قبول‌نکړای شی.

خلاصه داچه‌شخصیتونه په‌ډیرو شیانو اوله‌مختلفو ناحیو شخه‌سره‌متباین اوجلا دی او ته‌بعضو ناحیوته تغیرور کولای. بلکه که وغواړې پرمخ ځان‌ځنی‌خلاصولای شی. مګرتره‌تو اومهمه داده‌چه‌ته‌په عمومی ډول دشخصیاتود کهنه‌او حقیقت شخه ډ پر شه وپېژنی، اودشخصیاتو تطور وپېژنی،ځکه شخصیات وده‌اوتطور کوی،او د تطور او نشوؤ نمافهم اوپېژندنه‌ئی‌بو ممکن شی‌دی.

دریم فصل

خلق د یوې مخکې ښځه راشنه شو یدی

موږ د مخه و ویل چه زموږ شخصیتونه د هغو ازمویښتو او تجربو څخه سره ورغلي او تشکیل شوي دي چه زموږ په ژوند کښې پر موږ راغلي دي. او ځکه چه دا تجربې او ازمویښتې سره جلا او متفاوتې دي، نو په اوس موږ څنګه د مشابهت او وجوهات او نقاط چه موږ ته دخلقو په یوه مجموعه کښې را معلومېږي بیانه وو او تفسیر کوو بې. مثلاً څنګه پېښېږي چه ددې ډېرو خلقو دپو لیسي درامو مطالعه خوښه وي، یا څنګه پهلوانی او بو دخلقو لوئی ډلې په حیرت او تعجب ځانته ګوته په غاښ درولي، یا څه ډول ځینو فلمونو خوراګڼ عموم او جمهور ور جذب کړی وي؟

ښکاره خبره ده چه دلته سره د اختلاف او تباین د وجوهاتو چه ددوی ترمیانځ موجود دي ځنې مشترک صفات شته. حقیقت دادی چه دخلقو او افرادو ترمیانځ د مشابهت ډېر اساسي وجوهات شته. او هیڅ شک نشته چه د دغو وجوهاتو په طبیعت خبرېدل او علم پر را اتلال سړي ته دخلقو پر شخصیاتو باندې په فهم کښې مرسته او معاونت ور کوي.

د انسان دژوندانه ضرورتونه:

دا نه ځنې حقیقي او اساسي احتیاجات چه انسان په ژوند کښې هیڅ چاره نه ځنې لري موجود دي، موږ درک کوو چه دژوند دپاره هوا، غذا ته محتاج یو، لکه دهغې هوا تنظیم ته چه ځانونه چه ورته عرض وُ محتاج یو چه نه به د تنفس دپاره ډېر د سړه یا تود دوي، او داهم را معلومه ده چه د ستومانۍ دپاره چه د کار او عمله څخه را پېښېږي راحت او آرام لازم دی، او انسان ته د حیوي طاقت درا ګرزولو دپاره خوب ضروري دی. دا فیسیولوژي یا عضوي احتیاجات چه تر سره کول او مړه ول ئې د ژوند د پاته کېد او او بقا دپاره ډېر مهم دي زه و نېزدور ځنې نشاط په ډېرو خواؤ کښې حاکمیت لري.

دلته ځنې نور احتیاجات شته چه د مخنیو اساسي عضوي احتیاجاتو څخه پیدا کېږي که څه هم په بهه کښې ځنې متغایر او جلا دي. مثلاً وزې ډوډۍ او خوړو

نه ضرورت لري مګر د دوړي د پیدا کولو لارې قسم قسم دي، کله د ماهیانو په نیولو او کله د مرغانو په دام دوړي حاصله کړي، کله د دوړي د خرڅېدلو یوه نږدې ځای ته ورتلل ځني رائي نیسي، کوم وخت چه چا ره پر و دربېږي غلا ئي کړي، ستومانه راحت نه اخلي، مګر د آرام او هوسائي طریقې هم ځانته او مختلفې او خوراکي طریقې لري. کله پر شنو او زرغونو وښو باندې په یوه باغ او بڼ کښي ځان واچوي، یاد کوم بحر اوو یالې پر غاړه پر ریګو و غزېږي یا پخپل اطاق کښي پر یوه پاسته کوچ یا پر خپله بستره اوږ داو ږدور ته واوړي.

هغه احتیاجات چه هو سا ژوند پر موقوف دي:

عضوي حاجات چه ذا تاسړي پخپله په متأثر کېږي او اغېزه پر کوي په هغه پسې کوښښ کوي، او بعضي نور داسي اوضاع ور سره لا زمېږي چه هغه غیر له پخپله د هغه سړي شخصه په نورو خلقو پورې تعلق او ارتباط پیدا کوي.

خواړه یو لازمي او حتمي ضرورت دی مګر ټولنه د دوړي او خوړو غلا روا او حلاله نه ګڼي، خوب یو مباح اساسي حاجت دی مګر څوك دا اجازه چا ته نه ور کوي چه د راحت او خوب د پاره به د هر چا کور ته ورننوزي او راحت به پکښي کوي، په بل عبارت ټولنې بعضي مقررات وضع کړي وي چه د هغو مخالفت نشه نه بلل کېږي په موږ کښي هر یو هغه سلوك خوښه وي چه د ټولنې خوښ او په راضي وي، دا الدې جهته چه هغو عضوي او جسمي حاجات چه موږ ئې وړاندې بیان وکې په ځینو داسي انساني هسکو او مهمو حاجتونو پورې اتصال او ارتباط پیدا کوي چه هغه موږ اجتماعي حاجات بولو، او که موږ «نفسي اجتماعي» نوم پر کښېږدو ناز کې به ئې ډېره وي.

انسانان په اساسي عضوي اجتماعي احتیاجاتو کښي ټولو له سره شریك دي او داحاجات د ټولو هغې سره یوشي دي، او دوي ټوله د دغو حاجاتو تر سره کولو او پوره کولو ته مجبور دي، او ځکه چه موږ په یوه سرژ وند نکوو بلکه د خلقو

په‌تولنه کښې غړی او اعضایو نو به دخلقو دحقوقو او ارام وراحت احترام کوو ا
دا احترام راباندی لازم دی چه موږ ددوی مینه اوخوشحالی ورضامندی حاص
کړو . دا لدې جهته چه د خلقو مینه او رضامندی زموږ دمهمو اجتماعی حاجا
څخه دی . نو که دبدن ژوند دعضوی حاجاتو په‌پوره ولو او پوره کولو کښې دی
نود انسان دژوند سعادت داجتماعي حاجاتو په پوره کولو کښې دې نوموږ باید دد
اجتماعي حاجات په‌حقیقت او ماهیت کښې څیړنه او بحثو کړو، گوندی هغسې
شمېر دی ولری لکه عضوی احتیاجات: خواړه، او به، هوا، راحت چه موږ
کړه، ممکنه ده چه‌سمدستي دې موږ داجتماعي حاجاتو تمیز اودهریوه جلا کو
دلاسه ونه‌شي، مگر بیاهم داخورا ډېر اهمیت لري پدې توگه چه موږئی وپېژنو
او ځانته‌ئی ددې دپاره ښه شانته معلومه کړو چه‌وروسته‌ئی حاصل کړو اودخپلو
ځانو دپاره یوموفق او کامیاب سعادت په‌ژوند کښې لاس‌ته‌راولو . لکه موږ چه
عضوی حاجات بې لدې چه داهمیت په‌حساب او حیث ئی ترتیب اودرجاتو ته‌اشاره
وکړو غواړو چه‌اجتماعي مهم‌حاجات هم‌بې‌ترتیبه وښیو او نوموئې یاد کړو .
موږ زیاتره خوړو او بو ، او هوا ته ضرورت لرو او که په دغو کښې یو کم شي
دکموالی په‌عوض کښې ئی دبل حاجت ډېرښت ممکن ندی ، موږدبشر دافرادو په
حیث دغه‌رنگه دې‌ته‌هم‌ضرورت‌لرو چه نور مو ومنی او په موږ اعتراف وکړی
اودابه بیا ډېرښه وي که‌دااعتراف یوداسی اعتراف وی چه موږ راضی اوخوشحال
کړی . دغه رنگه په خپلو ټولو اعمالو کښې چه‌موږ په مصروف
یواو سر د ست موږ د کامیابی او نجاح شعور کوو ، لکه دې‌ته چه محتاج
یو چه پدې شعور کوو چه موږ د خپلو معاشرینو څخه مخالف نه یو
اولکه دوی موږهم دغسی او د دوی غوندې موږ ونددی او په نورهرڅه کښې سره
یورنگه یو ، او موږ تریوې اندازې‌پورې د ژوند او گذارې اودتفکیر او دسلوك
په لار کښې ورسره‌متفق او یو شانته یو . داټول هغه حاجات ددې دپاره چه موږدځانو
دپاره د یوه سنجېده‌ژوند تکفل وکړو ډېر اوړ اهمیت لري ، که څه هم ددې

حاجاتو په حاصلولو کښې ناکامې زموږ په اصلي ژوند او ذاتاً پر حیات څه اثر نه اچوي مګر داخو کوي چه زموږ د علاقه بندۍ او دلچسپۍ پر شعور چه نسبت ژوند ته ئې لرو اثر اچوي او زموږ خوښې له حیاته څخه څه نه څه لږ یا په ځینو حالاتو کښې ډېره راخراوه وي، او هره نیمګړتیا چه په دې وه کښې د دغو حاجاتو راشي ځای ئې د بل حاجت په ډېرولو نه ډکېږي، لکه د هوا یا اوبو د ږوالی چه زموږ هغه نیمګړتیا نشي راپوره کولای چه موږ ته په راحت کښې راپېښه وي. اجتماعي حاجات غیر له موږ څخه پر نورو خلقو موقوف دي ځکه چه موږ ته پېدا دي چه د نورو سره اتصال او تماس ولرو ممکن نه دي، بالعکس د عضوي احتیاجاتو تر سره کول که موږ په یوه سر او یوازې ژوند وکړو هم امکان لري. د اجتماعي احتیاجاتو اهمیت هلته ښکاره کېږي چه موږ دارا په زړه کړو چه موږ روځی له خلقو څخه لیري او ګوښه نه تېرو و بلکه پخپلو کورنیو او دوستانو، خپلوانو او پېژندویو کښې ئې تېرو و.

ه‍ـ نـ ـه حـاجـات چه زیاتره ئې بد تأویل کېږي:

دلته یو بل انساني حاجت او ضرورت شته چه هغه خپل مخصوص اهمیت د شخصیت په نشوو نما او توازن کښې لري، دا یو حاجت دی چه د دوو عضوي او اجتماعي ناحیو اجتماع سره راولی او دواړه سره یو ځای کوي دا حاجت جنسي حاجت دی او غالباً د اجتماعي او عضوي احتیاجاتو نیمګړتیا و نقص دی چه زیاتره د قلبي اضطراب او نارضا والی شعور او احساس نشئت ځنې کوي. د غه رنګه د جنسي ژوند نخښې او مظاهر هم د غسې دي چه د دوی د عدم فهم او د دوي د حقیقت د نابوهۍ په اثر ډېري بد بختۍ او شقاوتونه د خلقو په برخه شوي دي. جنسي حاجت یوې فیزیولوجي وظیفې ته تکیه کړېده مګر بیا هم د دې حاجت مړه ول او تر سره کول ژوند د اساسي مقوماتو څخه نه دی. جنسي وظیفه اساساً پر غدي نشاط متمرکزه ده مګر زموږ ثقافت د جنسي احتیاج د واقع او اجابت زموږ د اجتماعي حاجاتو په مړه ولو او په اشباع پورې مربوط کړېدی. که څه هم

پلمې کښې شک نشته چه د جنسي نشاط او قوت صادرونکي معين او معلوم مرغړي او غدود دي ، مګر بيا هم دا مرغړي زموږ د جنسي سلوک په بخامخ کولو کښې داثر ښندن نه دي ، ځکه نفسي او فيزيولوجي عوامل پر دې توجيه کښې لويه مداخله لري ، لکه د اجتماعي عادات او تقليد ونه چه هم پدې مسئله کښې مهمه برخه لري . داڅه نادره او عجيبه نده چه د لوزي د احساس په سبب زموږ معده سره کښيږي او په نتيجه کښې بدن ته يو عمومي سستوالي او کمواکي ور پيښه شي او د بې طاقتۍ او نا آرامۍ شعور کوي ، لکه په غددي جهاز او مشين کښې چه د هر يو نوعه اضطراب څخه هم دغسې يو عمومي کمواکي او دنا قرارۍ شعور پيدا کيږي مګر دلته يوه خبره شته چه سړی بايد ور ته ملتفت شي هغه داده چه هغه کمواکي چه د لوزي څخه پيداشي ذاتاً پخپله له هغې څخه مستقيماً نه نتيجه کيږي چه سړي ته دي د ډوډۍ د لټولو او موندلو ور څرګنده او دی دې دغه حاجت په تر سره کړي او خپله کمواکي دې په سپکه کړي ، همدغه ډول د جنسي خواهش څخه پيښه شوې کمواکي هم مستقيماً د هغه سلوک او لارې چه په جنسي سره مشهوره ده او په نوعه نوعه طريقو او قسم قسم اسلوبونو سره څرګنديږي نشي سبب کيداي . د ډوډۍ او خوړو لاس ته راوړل او جوړول ئې د هغې لارې نمانيدګي کوي چه هغه زده شوي او کسب ئې شوي وي ، او هغه طرز ئې چه د همدغه مقصد دپاره ئې تتبع کيږي پر ثقافت او پر هغه عصر موقوف دی چه انسان ژوند پکښې کوي . دا به ستا په خوا او خاطر کښې درګرزيدلې وي چه جنسي طريقه هم د زد کړې شي ده او اسلوبونه ئې د ثقافت او عصر پر روح موقوف دي چه سړي ته هغه دواړه ور معلوم وي او اطلاع پر ولري .

د امريکا د بر اعظم ارغونيو او سپيدونکو دخو ډوله حاصلو او تهيه کولو کښې خانته قوانين او طريقې در اودې چه هغه زموږ له دغو طريقو څخه چه اوس په موږ کښې رواج دي با لکل جلا او ځانته دي . دوي به د خوراک دپاره د ماهيانو يا مرغانو يا نورو دښتي او بياباني حيوانانو ښکار کاوه او د هغو غوښې به ئې ساتلې ، مګر اوسني امريکائي

انسانان هوټلونو یا د ښوشیانو مار کېټونو ته ورځي، او خپل خواړه او غذائي مواد در انیولو له پاره تهیه کوي، او د ساتلو د پاره ئې د یخچالو د ماشینونو څخه کار اخلي په هم هغو کښې ئې یخ او ساړه ساتي ارغونیو د انسان او بشر په حیث غذا او خوارك ته احتیاج در اوداو موږ غوندې ئې د نس او ګېډې ضرورت رفع کاوه او د همدغه ضرورت لپاره ئې د خپلې زمانې او هم هغه عصر له ایجابه سره سم چه دوی ژوند پکښې کاوه مناسب فارمولونه او قوانین را ایستلي وه . همدغسې موږ بیا ځانته خپل اجتماعي فارمولونه لرو چه زموږ په محیط کښې رواج دي .

د جنسي اشتها مسئله هم څومره مخالفت نلري، هغه هم د غذا او خوراك غوندې ځانته مخصوص خواهشات او غوښتنې لري چه د خواهشاتو پر ځای کول ئې پر اجتماعي تقلیدونو موقوف دي، او هغه داسې طریقې او اسلوبونه دي چه د داسې فارمولونو نمایندګي کوي چه کسب او زده کړه غواړي او د ټولنې وُ جامعې سره تماس او د جامعې د رضا او خوښې وُ خوشحالۍ احساسات پکښې ضروري او لازمي دي . ځنې اوقات د جنسي خواهش او اشتهاد پر ځای کولو په لار کښې داسې مشکلات پېښ شي چه هغو په مقابل کښې انسان حیران وي څه وکړي او څه کیف ځان تېر کړي، مګر که موږ پېدې پوه شو چه دا عادي او فطري وُ طبیعي انفعالات دي بری به پر ومومو ، او پر زیاتره د غه نوعه انفعالاتو به غلبه وموندلای شو. او ددې خبرې تر ټولو مفید تحلیل همدادی چه جنسي ضرورت دوه دوافعه لري چه یو عضوي دی او بل اجتماعي ، او په بله معنی پر دوه اساسه ولاړ دی یو فیزیولوجي او په عین حال کښې وجداني هم دی .

ددې خواهش په برخه ولو او ترسره کولو کښې هغه لار چه تتبع ئې کېږي او خلق تګ پر کوي په اجتماعي تأثراتو متأسره ده، یعنې تر هغو څو د عمومي عرف او رائجې اصطلاح او دود سره تصادم ونکړي نو هره لار چه وي مقبوله او کامیابه ده،

مثلاً هغه طریقې او دودونه چه اجتماع ئې د جنسي مسائلو په باب کښې د جګړې او شور شرولو په وخت کښې مباح او جائز بولي د آرامۍ او قرار والي په ورځو کښې

قطعاً اجازه نه ور کوي ، او دا خو ښکاره او واضحه خبره ده چه د ښځو او نارینه ؤ ګډون چه په علمي او عرفاني مؤسسو، او د غم ؤ د ښادۍ په مجالسو او د بحر پر غاړو چه زموږ په او سني عصر او زمانه کښې په موږ کښې باب او رواج دی او کار ؤ چه زموږ پلرو او نیکه ګانو نه خوښو له او ښه ئې نه ګڼلی راتلله. نو په عمومي صورت دا ویل په کار دي چه د زلمیانو (که نروي که ښځه) طبیعي سلوک د جنسي دوافعو په باب کښې داسي صورتونه او اشکال لري چه هغه د کورنۍ او محیطي دودونو او تقالیدو په تغیر پر اړه اوړي او تغیر خوري جنسي مسئله په هیڅ وخت کښې او هیچا ته نوې او عجیبه ؤ غریبه نده دا نسبت هر چا ته ثابته ماته ، او ستاد و ستانو ته یو واقع حقیقت دي لکه په تیرو پېړو کښې چه ؤ. او سختي ؤ اشکال ئې دادي چه د وز ئې د عضوي ناحئې پر فهم قدرت نه لرو، او نه ئې سیکولوژي (روحي) او اجتماعي مدلول را معلوم وي ، نو چه د همدغو اړخونو څخه ئې موږ فهم نه کړای شو هیڅ کله قهر او غضب نه ګڼلی پیدا کېږي.

دا اسانه ده چه نرؤ ښځه دواړه خپل ځان په یوه صحیح او سالم کیف مکیف کړي ، او دا دیوه سالم ذاتي تکیف لپاره ضروري او لازمي دی ، او دې تکیف ته د رسېدلو لار ژوره او غامضه یا حیرت آوره نده ، او ددې کتاب په وروستیو اوراو تلونکو ګڼو کښې چه ته کوم شي لولې هغه به د همدغي مسئلې «تکیف» په باب کښې وي.

د سړي حاجات ده په سلوک کښې څه اثر واقع کېږي:

د خلقو سلوک تر ډېره حده پورې د هغو ارادو او عزمونو څخه تشکل مومي چه د هغو په واسطه دوی خپل اجتماعي حاجات تر سره کوي او پوره وي ئې ، په بله معنی موږ کولای شو چه ووایو: اجتماعي احتیاجات د انساني سلوک دوافع دي ، یعنې څو انسان ته ضرورت ور پېښ نشي تر هغو وهغه کار ته نه ور دمخه کېږي او اقدام نه ور ته کوي. او دا داسي هم نده چه په یوه چا پورې منحصره وي او په بل چا پورې نه وي ، بلکه ټول انسانان او بشر د خپلو فاره و او اسلوبونو متابعت په خپل سلوک کښې کوي چه هغه ارادې او عزمونه دي چه د اجتماعي ضرورتونو د پوره ولو د پاره دي . او دا ښکاره ده چه

موږ د خپلو خصایصو، یا صفاتو، یا انفعالي میزاتو د څرګندولو په اندازه کښې چه په خپل سلوک کښې را سره لازم دي یو له بله سره مختلف او متفاوت یو، د غه رنګه دا موږ په فوري ډول درک کولای شو چه خلق ټول په متفاوتو درجو سره د همدغو قواؤ په ذریعه چه دوی د انساني سلوک پر لار بیایي ورپورې وهونکي او مدفوع دي. دا په ښکاره لیدل کیږي چه ځني کسان تر نورو نسوار او ډوډۍ ډېره خوري، ځني بیا تر نورو هوسا ګلوۍ او راحت ته ډېر ضرورت لري، د غسې په اجتماعي حاجاتو کښې هم افراد سره متفاوت دي، بعضي کسان د نورو خوشالۍ او رضامندۍ ته ډېر اهمیت ورکوي او په دې خوا کښې سخت کوښښ کوي چه نور خلق ځني خوښ او راضي وي، په داسې حال کښې چه ځني نور بیا دې مسئلې ته څه اهمیت نه ورکوي او د نورو فکر او رایې ته د ځان په باب کښې څه قیمت نه ایږدي، ځني کسان په دې ډېر خفه کیږي چه ځان د نورو څخه په جامه یا په خبرو یا په اخلاقو یا په تصرفاتو کښې مخالف او شاذ په نظر ورشي په داسې حال کښې چه نور خلق په ژوند کښې غیر دده د لارې څخه پر بله لار روان وي په لباس، په وانه ود، په تفکیر او عمل کښې ئې سیاست غیر دده د سیاست څخه علیحده او بل شان ته وي. ځني کسان د بل جنس (ښځو) د مجلس او صحبت سره شدیده مینه لري او ډېر اهمیت ورکوي تل داغواړي چه د دوی تر نظر ښه او مرغوب ورشي او خورا لویه کامیابي ئې بولي، په داسې حال کښې چه غیر له ده نور به ئې له ګڼون او اختلاط څخه خوند اخلي مګر د ژوند د سعادت د پاره به ئې ضروري نه بولي.

په دې کښې څه شك نشته چه موږ ټوله دې ته چه خلق را څخه خوشحاله او راضي، او کامیابۍ ته رسېدلي او ترتیب او انسجام مو پر ځای وي متحد دوافع ورپورې وهي مګر دا باید زموږ حتماً په یاد او د زړه څخه مو نه وي وتلي چه موږ د دې خواهشاتو په تر سره کولو کښې سره مختلف یو، نو موږ ټوله د خپل اجتماعي ثقافت په حکم لباسونه اغوندو مګر بیا هم هغه لباسونه چه په بازارو او لارو او مجالسو کښې ئې وینو چه نورو اغوستي وي خوښېږي او سره له دې چه موږ د ځان په باب کښې د خلقو

په نظر یه او عقیده ډېر ویښتلی او اهمیت ور کوونکی کسان و ینو چه د خلقو له خوا یو خورا بېکاره تنقید ته ډېر زورور کوی او خورا بد پر لګېږي سره له دې چه ډېر کسان بیا داسی وی چه په تنقید هیڅ خوا نه بدوی ، او داسی ئې له ځانه شخه ښنلی لکه بته چه دا وبو شخه را ووزي او او به د ځانه شخه وښنلی او هیڅ اثر ئې نشی پر پاته .

د بشری حاجاتو سره مواجه کېدل ه معنی ځان مکیف کول:

په هر صورت موږ په انسانی سلوك کښې د عمومی دوافعو په خواله کووا او فرمان ئې ورو . او ز موږ نشاط غیر له دې چه زموږ د حاجاتو د تر سر کو لو د پاره وسیله او واسطه ده بل شی نه ورته ویل کېږي مهمه زموږ دا همیت اندازه نده چه موږ ئی د دغو حاجاتو په تر سره کولو او مړه وولو کښې لرو بلکه اهمیت دالري چه موږ تر هرې اندازې چه وی که لږوی یا ډېر دا کوښښ کووچه خپل حاجتونه ماړه کړو.

په بله معنی په هغه وخت کښې چه موږ اراده وکړو چه دخپلو عضوی او اجتماعی حاجاتو په خوله و کړوو ینو چه زموږ د ژوند قوام او اساس نشاط دی او نشاط بخپل وار همیشه د تکییف متضمن دی ؛ او د انبکاره مسئله ده چه ژوند او حیات غیر له دې چه د تکییف د کوښښو نو یوه سلسله د چاد و ږ ئې تا د پر ځای کو لو د پاره په شدت زحمت باسو بل هیڅ شی ندې او تردې اندازې مونږ کوښښ پکښې کووچه په ژوند کښې د رضا احساس و کړو او دخپل ژوند شخه خوښ او راضی شو، اودغه د تکییف کوښښ دی چه زمونږ سره په یوه صورت او نامعلومی لاری سره د شخصیت په وده او نشو نما کښې مرسته کوی .

کله کله تاته درپه زړه شی چه ستا په کوچنیو الی کښې به تا په مختلفو مناسباتو او تقریبو نو دخجالت او قلق ؤ نا آرامیتا او باطنې اضطراب شعور کاوه . دا یوازی ته نه یی چه دا خبری در بساندې درغلی یا ورو سته تردې در باندې درځی، بلکه موږ تو لو ته داسی تصادفات را پېښ شوې دی . که ته د نورو خلقو یا دخپل مورؤ پلار شخه مثلاً

پوښتنه وکړی ممکنه ده چه هغو ته دې هم داسې تقریبونه او موقف ور په یاد او پرزیږه وروګرزی چه ښه نې رانیسی او خاطره ئې خوږه نه وی .

پدې باب کښې ټول خلق سره برابر او یو شانته دې - که اوی دی که کوچنی که نروې که ښځه - دقلق او اضطراب تصادفات پر راغلی دی . نوسړی ته دا ضرورت نشسته چه د یو حیرت په واسطه چه ور پېښ شی یا که یو تکلیف و مومې قلق او اضطراب ور پېښ شی ځکه چه یوازې ته نه ئې چه دا موقف در باندې راغلی یا راځی بلکه موږ ټول بشر او انسانان یو او معصوم نه یو هر و مرو به ساعت وګرځی له دغه قسمه شخه ازمېښتونه را کېږی ، پر موږ لازمه ده چه تکییف ته د ظروفو او ملابساتو په اساس ملاونه تړو ، او ژر دې چه موږ ته به د تکییف معین رنګونه را معلوم شی چه زموږ د شخصیت د نخښو او علاماتو شخه ګرزی ، معین استجابات خپل مخصوص اسباب لری په را تلونکو مخونو کښې به ته د دغو عللو او سببونو شخه په بعضو هغو چه زموږ ټولو پر ژوند تطبیق کېږی پوه شی ، او د هغه شخه یو نوعه سلوک نتیجه کېدای شی چه د یوه د اسې تکییف د ایجاد د پاره کار کوی چه په مختلفو مواقعو کښې عرض وجود کوې .

ستادې دا عقیده نه وی چه ته په هر یوه رېړا و کوښښ کښې چه ته ئې په مختلفو ظروفو کښې د تکییف د موجودولو د پاره کوی یوازې او فردئې لکه په نا کامۍ کښې چه هم یو ازې ته نه ئې چه د خپلو خوا هشاتو او حاجاتو د مړه ولو په مقابل کښې نا کام شوی ئې ، خلق ټول په خپل روځنی ژوند کښې د خپل تکییف د پاره په مجادله او تنازع کښې دی ، ځکه چه ژوند عبارت له تکییف شخه دی ، او چه تکییف معدوم شی حیات اوژ وند معدوم دی .

شوک چه په ژوند کښې کامیاب اوژ وندئې مرتب اود سیالانو سرا و په حیات کښې خوښ او خرم وی ددې معنی دا نده چه ده ددې د پاره چه دغی کامیابۍ او تفوق او خوشحالۍ ته چه ور رسیدلی دی دلاس ته راوستلو د پاره په یوه سلسله او شمېر تکییف کښې ئې زیار او زحمت ندی ایستلی ، شوک چه خوښ خوشحاله ښکاری او هیڅ

او اضطراب د تکلیف په به پرده چه کوی نه‌ور دامعنی کله هیڅ نه‌لري په‌دنیا کښې غم
یازحمت او تشویش دقایق ته وی ورغلی خلق اصلاً تول په باطنی او غیر مرئی ډول
خورا قوی دوافعو ور پورې وهلی او مدفوع دی ، نشاط ته ئې ور پورې وهی ،
د تکییف دعملیې پرپول خلق تېرېدونکی دی ، او داعملیه په همدې صفت سره چه
دائمی او کوشانه ده موصوفه ده او نسبت موږ ټولو ته یو واقعی او رښتنی حقیقت دی .
مااوتا ، آشنایانو ، دوستانو اقرباو ، پلرو ، استادانو ، مأمور ینو ته . او زموږ دفردی
اختلافاتو ترشا په موږ کښې دمشابهت او یووبل ته‌ نور ته‌والی ډېر وجوهات موجود دی .



شلرم فصل

کامیابي ته هغه چه خلق دی را شخه خوشحاله شي یو داجتماعي حاجاتو دي شخه دی اوس باید موږ داجتماعي حاجاتو شخه چه موږ په تېر فصل کښې تر څېړنې لاندې نیوای و د په اول او لمړنی حاجت کښې وږغېږو: دالمړی حاجت زموږ ضرورت او احتیاج دی دخلقو رضااوخوشحالی ته چه دوي ز موږ شخه راضي وي داخیال دی، نکېږی چه دهغه ترتیب معنی چه موږ په هغه سره ددغو حاجاتو معالجه، بیان او تفسیر کوو دانه ده چه یو تر بل مهم دی.

د خلقو رضا دنفس راحت دی

فکر وکه چه کوم وخت چه دخپلې یوې مشکلې مسئلې په حل کښې دیوې کامیابي طریقې شخه کاروا خلې او پلار دی شاباسی در کړی څومره خوشالېږې؟ اوس نو داگړی دهغه حالته سره موازنه او پرتله کړه چه پلار دې ستا شخه خفه وي. او دادر په زړه کړه چه په هغه روح چه د صحنهٔ تمثیل د مکتب معلم په هغه پروګرام کښې چه تاخپل پارټ ښه پکښې تمثیل او په قابلیت او مهارت لوبولی وی تاوستایی او شاباسی در کړي، بداسې حال کښې چه ته په یو بل تقریب تر شاباته شوی او فوقیت دې نه ؤموندلې، یا هغه گړی در په زړه کړه چه تا په نن روح کښې یوه نوې جامه را نیولې او ستا ددوستانو له خوا استادلوړ ذوق او ښه انتخاب اه کبله ته وستایل شی او بیا نو دغه گړی مقایسه دهغه موقع سره وکړه چه په هغه کښې ستا بدبیع ذوق ځان نه وی څر گند کړی او چانه ئی ستایلې.

په هغه وخت کښې چه یو اداري رئیس خپلو مأمور ینو ته چه خپله وظیفه ئې په ښه توگه اجرا کړې وی آفرین او تحسین ور کړی، دغه مأمور او تر لاس لاندې سړی پدې پوهشی چه دده خدمت او زحمت بېځایه ندی تللی او ضایع شوی ندی، او که د تر لاس لاندې مأمور زحمت او خدمت وصداقت په تقدیر او اعتراف سره مقابله نشي

بالعکس ئې په زړه کښې دخفقان او ناخوښۍ شعور پیدا کېږي .

دا یو ثابت او واقع ؤ موجود حقیقت دی ، او ټول افراد په کښې یو رنګه دي د هر کار او عمل څښتن چه وي : که کاتب وي که کارګر که د کور میرمن وي که د مکتب شاګرد بلکه که کچنی هلك وي لا هم په آفرین او تحسین خوشحالېږي او ښه شعور په کښې پیدا کېږي .

دغه رنګه د کار نوعه هم څه فرق نه پکښې لري که د روڼنیو مرتبو او یك نواخته چارو څخه وي ، او که د موټر په اصلاح یا د یوه قسم ډوډۍ په تهیه کولو او پخولو پورې اړه لري ، او که د درس په حفظ یاد کوم شي په خر څولو پورې ارتباط ولري . لکه دا چه یو حقیقت دی چه ټوله خلق د هر عمر چه وي که لویان وي که کچنی که زاړه وي که ځلمي یو شانته پکښې شامل او شریك دي .

اجتماعي رضامندي له سړي څخه د انسان په نشاط کښې له هره حیثه اثر کوي موږ یوازې د موږ پلار یا خپلو استادانو یا اداري او غیر اداري مشرانو په تقدیر او اعتراف غوښه نه اخلو او خوشحالي نه په کوو ، بلکه د ټولو خلقو په اعتراف او تقدیر خوشحالېږو ، او د هغو خلقو اعتراف ته چه زموږ سره په مناسباتو او تقریباتو کښې ګډون کوي هم سخته هڅه او شوق لرو ،

څه فرق نکوي که دا کسان زموږ د سپورټ رفقاء یا د تجارتي معاملاتو ملګري او که زموږ د لباس او کالو د ذوق او د حسن انتخاب په اندازه کښې را سره ږغیږي . خو دا یوه ثابته مسئله ده چه ستا د ما حول او محشورو کسانو اهمیت چه تا ته نې در کړی ستا د خوشحالۍ سبب ګرزي او د دوی وجداني اشتراك ستا سره تا ته ښکمرغه کوي ، او زیاتره ستا اطرافي او در سره محشور و کسانو فکر او رأی ستا په باب د نورو غیر اطرافي افرادو تر رأیه تا ته ډېر اهمیت لري .

او خورا لږ پېښیږي چه ته دې ملتفت شوی او د دغه هوس او خوشحالۍ په حاصلولو کښې دې فکر کړی وي چه تا ته د خلقو د خوشحالتیا د حاصلولو څخه در پېښیږي . او

ډېر نادر به ته دد غه تفکیر څخه پداسی کلماتو سره تعبیر و کړی چه په هغو سره ئې تحدید و شی مگر ته اراده و کړه چه هغه موقفونه او موقعونه در په زړه کړی چه په هغو کښې ته دخپلو اطرافیانو او ماحول په اعجاب او خوښولو کامیاب او موفق شوی ئې ، او هغه مواقف چه په هغو کښې ته دد وی دستاینی او توجه مورد نه ئې واقع شوی ، ته به پدې پوه شی او دا به درته څرگنده شی چه په هغه وخت کښې چه ستاله عمل او کار څخه خلق راضی شوی وی، تا ته د ښه مرغۍ او سعادت شعور در حاصل شوی پداسی حال کښې چه تنقید او غند نه دی دد وی له خوا په برخه شوې وی د طبیعت دخرابۍ او اضطراب شعور دی کړیدی .

او په هغو اعمالو کښې چه د فټبال تر لوبه او ترښه ایسېدلو او شیك لباس ئې اهمیت ډېر وی دخلقو فکر او ددوی رضا او خوښی ستا په تصرفاتو او اعمالو کښی مهم اولوی اثر او اغېزه لری . مثلا که ته د خپل یوه همکار ښه پیش آمد و کړی ، یادهغی مرستی په مقابل کښې چه تا پر ون دیوه بېوزلی سړی سره کړی وی ، یا دخپلو همکارانو سره ددوی په عملی وظیفه کښی مرسته و کړی داټوله هغه اعمال او مناسبات دی چه که ستا څخه خلق په خوشحاله شی او د تقدیر موجب دی و گرزی ستا ډېره ښه په کېږی او خورا ډېر په خوشحالېږی. پدې کښی هیڅ شك نشته چه زموږ داعمالو په مقابل کښی دخلقو اعتراف او تقدیر و تمجید زموږ د کامیابۍ او ډېرمخ تگ سبب گرزی ، او داد یادولو وړده چه بعضی کسان د خلقو تمجید او اعتراف ته په دومره ډېر اهمیت قایل وی چه نور بیا هغو نه وی ، او لکه افراد چه په خصوصیاتو او صفاتو کښی سره بېل او هر یو ځانته دی همدغسی د نورو دستاینی او صفت دخوښ والی په اندازه کښې هم سره متباین او جلا دی دچاد خلقو ستاینه دځان دپاره خوښه ، او دچا ډېره خوښه او چا بیا بیخی ایمان پرراوړی وی .

که څه هم موږ د امنواوا قرار کوو چه سړی باید د خلقوله نقطهٔ نظره څخه خپلو چاروا وښو خویونوته ونه گوری ، او فقط د خلقو حسن تلقی او حسن نظر

دخپلو اعمالو او خپلو اخلاقو دلیل و نه بولی او یوازی په همدغه کفایت و نکړی خو بیا هم صراحت او امانت دواړه ددې تقاضا کوی چه موږ به بدې اعتراف کوو چه دخلقو صفت او ستاینه زموږ د پاره ، او ددوی مبالغه او تقدیر موږ ته دهغو اعمالو او چارو په باب کښې چه موږئی کړو و موږ ته خوشحالی را حاصلوی او په سعادت او نیکمرغی کښې مو غرقوی .

دخلقو په رضا مندی پسې ځغله مشکلات پیدا کوی:

د ډېر خلق داسې شته چه دنورو پر حسن ظن ئې ایمان راوړی او خورا پر حریص وی ، دائې خوښه وی چه دنورو خلقو له خوا دی ددوی تقدیر کېږي ، تر دې اندازې چه تر هغو نه څه وائی او نه څه کوی څو ئې دا په خاطر کښې ورو نه گرزی چه بدې خبره یادې کار به خلق ښه را ته و وائی او تقدیر به ئې وکی او که دا امید و نلری نه څه وائی او نه څه کوی بلکه دوی تر هغو څو دخپلو ملگرو څخه دا یقین و نلری چه ستاینه او قدر به مې وکړی هم نه څه وائی او نه څه کوی ، دا نوعه خلق او دا صنف افراد صرف دخلقو پر رأیه دځان په باب کښې اعتماد کوی او دخلقو رضامندی ته گوری او فقط پر همدغه ئې اعتماد وی خپل هر کار او گفتار ته په همدغه عینکه کښې گوری ، نو که په یو کار کښې مترد دوی چه آیا خلق به ښه راته و وائی که نه دهغه کاره څخه که څه هم ښه وی ډډه کوی . دا کسان زیاتره بلکه اکثر دیوی معقولی او صحیحی رائی دا ظهاره څخه چه په ۱۰۰/۱۰۰ به معقوله هم وی ځکه صرف نظر کوی چه دخلقو ستاینه او اعتراف ئی دهغی په مورد کښې په ۱۰۰ / ۱۰۰ زړه ته نه لوېږي . او دا هغه افراطی حرص دی چه دخلقو دستاینی په باب کښې دوی ته ورپېښ دی او دډېر تأسف ځای هم دی .

ددې دمثالو څخه یو مثال هغه شاگرده ده چه په ثانوی مکتب کښې درس وائی او بدې چه کالی ئی دخپل صنف دنجونو څخه په طرز او اندام کښې مخالف وی ډېره متأثره او چه کوم وخت دې ته مجبوره شی چه په همدغو کالو کښې چه ددوی دکالو څخه مخالف وی ددوی په جمیعت کښې ځان ښکاره او څرگند کړی خورا زړه ماتې او خاطرئی ستومانه او طبیعت ئې خراب وی . نو دا پر ځان دومره

زور نشي کولای چه پر دغه کار اقدام و کړي، او فقط په همدغه قدرئی ځان ته ړاند ور کاوه چه که څه هم په کالو کښې ددوی څخه مخالفه ده خو نوره ددوی غوندې معلومیږي.

نردي لا دامهمه ده چه دا کاړیمي هغه شاگرد چه په بدو اعمالو او کر غیړنو چارو کښې ئې د خپلو همصنفیانو متابعت کاوه او پدې هم پوره پوهېده چه دا متابعت دده دذوق او وجدان او دا کاړیمي دقوانینو څخه مخالف دی او پخپله زړه کښې پدې قانع دی چه دی دخپل دی رفتار او سلو که څخه ندی راضي، مگر ځکه چه دی پر خپل ځان اعتماد نلري ددی څخه بېر ېدی چه د ټولنی درا یې څخه مخالفت و کړي او ددوی سره ملگری و نکړي، نودی همیشه دخپلو همصنفیانو په بد اخلا قیو کښې ځکه متابعت کوی چه ددی څخه بېریږي که ئی دی متابعت و نکړي دوی به ور ته پور ته شي او تحقیر به ئی کوي او استهزاء به په کوي، او دخپلې ډلې څخه به ئی و باسي، په دغه ډول دد وی په ډله ورسره کښېوتلی ؤ چه خپل حیثیت محافظه کړي.

ددی مسئلی دمثالو څخه هغه سړی دی چه سیاسی افکار او نظریات ئی دخپلو ملگرو څخه چه په هغه حزب او ډله کښې چه دوی هغه ته منسوب بلل کیږي یا دنورو ملگرو او رفقاؤ څخه چه په حزب کښې نه وی ورسره داخل خو ناسته ؤولا ړه ورسره لری متضاد او مخالف وی نو دی صرف ددی جهته چه پر ځان اعتماد نلري خپل افکار او اراء ځکه نشي ښکاره کولای چه ملگری به ور څخه خفه او ددوی د رضا مندی څخه به محروم شي، ځکه نودی په خوله وی او تنقید نکوی.

دا بوه ځر گنده او واضحه خبره چه دا ډیره بده خبره ده او ښه نه بلل کیږي که په کالو که په اعمالو او افعالو او که په افکارو او اراؤ کښې وی، موږ ته هیڅ نده لازمه چه په هر کار او گفتار کښې د نورو خلقو موافقې ته متوجه او ځیر اوسو، یا مو په خپلو افکارو او اعمالو کښې تل دا فکر وی چه ځان له فکری او فعلی او عملی استقلا له څخه ایري وساتو، ځکه چه دا نوعه سلوك ددی دلیل دی چه دا نو عه سړی یا فرد یا افراد باخه ندی او پر ځان اعتماد نلري. او که موږ دچاسره په رایه کښې مخا لفت

پيدا کو نوښه داده چه خبره په داسې صورت ورسره و شېړو او پداسې پېرايه کښې سوالونه ځنې وکړو چه قهر اوغضب نه وي پکښې ښکاره او په سړه سينه ورسره وزغيږو.

په هغه موقع کښې چه رضااوقبول و نه مومو:

دغه رنګه داهم ښه نده چه موږ دده مخه ويلې شوي وضعيت شخه مخالف او بالعکس همېشه دمخالفت اومعارضې پرده ګر ولاړ اودهر چادرائې او نظر ئې مقابل اوددوی دافکارو شخه تجاهل کوو. داهغه چا کار دی چه داطوارو اواخلاقو په غرابت اوشذوذئې امتياز موندلی وي دخپلې ډلې دافکارو اونظرياتو سره په لوړ آواز او صريحه لهجه مخالفت ئې عادت وي ، يادهغه چاعادت اوخاصه ده چه پدې مبدأ اوقاعده او عقيده وي چه: «مخالفت کوه نو به مشهور شې» نودی دنورو اقتراحات او افکار نه مني اوهرڅوك چه يوه رأيه ښکاره کړي دی ئې حتماً اوهرو مرو دهغه مبدأ له کبله مخالفت کوي اومقابل ئې دريږي او پر خپله رأيه ټينګ وي بلکه دطرف په رأيه تنقيد کوي يو سړی چه دهرچادرائې مخالف دريږي او پخپله رأيه متفر دوي دده مقصد داندی چه ده پخپله رأيه تشبث کړی او يا ددې جهته پر خپله رأيه ټينګ دی چه دارأيه ديوه مستحکم اعتقاد اومنطقي فکر په اساس ده ته ښکاره شوې ده بلکه خبره داده چه دده ددې تشبث شخه فقط دځان ښکاره کول او شخصي تظاهر مقصد دی نه بل شی. داځکه چه دده دا زړه ته نه لوېږي چه نور دده شخصيت ته اهميت ور کوي يائې په شخصيت اعتراف وکړي نو دی په ډېر حرص کوښښ کوي چه دخلکو فکر او توجه ځان ته متوجه کړي دا ددې دپاره چه ده ته تردې چه ده ته خولا داهميت په سترګه ونه ګوري داپراسانه وي چه داعتراض او تنقيد مورد واقع شي.

اوداډېره عجبه ده چه خلق په هغه اندازه چه دځان دپاره دخلقو درضامندۍ پرحاصلولو مين اوحريص دي په هغه اندازه دغه رضامندی دخپلې رتبې دښکاره کولو او اظهار په لار کې ښندي اوپدې کښې ئې صرفوي چه ددوی حقيقي حالت او سويه له خلقو شخه پټه اوپوښيده وي ،ځکه چه پر انسان باندې تردې بله سخته او دتأثر مسئله نشته چه

خلق ئی په آرنه راوړی او په یوه لوړه سویه او رتبه نه ورته قا یلیږی یائی سطحه کښته گڼی.

زیاتره کسان چه څوک ئی نه پیژنی او اهمیت نه ور کوی بحث او مناظری ته ئی میل او هڅه ځکه ډیره وی چه خلق ور ته ملتفت شی.، که څه هم دخلکو بدځنی راشی او ددوی دمنفوریت سبب شی علاوه پردی چه داډول تصرفات شاذاو نادر ندی پر فکر ئی فهم گران او سخت کار نه دی، او په کوچنیو هلکانو کښی لاهم ددی قسمه تصرفات لیدل کیږی، مثلاً یو کوچنی چه ضدی او مدعا گروی او مور ئی په یوه کار ځنی اړه او مصروفه وی او دده له مراعاته څخه ډیر عمر غفلت او ځنډو کی نو دی د مور یوشی واخلی او ځنی پټ ئی کړی، دی دا کار ددې دپاره کوی چه خپل مقصد او غرض په حاصل کی او مور ئی واخلی- دی دا کار کوی او دومره ئی په جدیت کوی چه که سزا پرور کړه شی لائی هم کوی.

سړی په هیڅ شی دومره نه متأثر کیږی لکه پدې چه دچا ورته فکر نه وی او په آرای دنه راوړی.

دادافع «عادت» دسخت دلیل او د «تندی‌ـ» ترشا چه دوا ړو کله کله د مراهقو هلکانو او نجونو په عاداتو کښی ځان معلوموی پراته وی. او دغه رنگه دادافع دهغی پیغلی دسلوك تفسیر دی چه ډیری خبری کوی یا دخپلو همزولو سره چه دشپی په مجالسو کی ور سره ناسته او شپه رونه وی په زوره او په کټکی خاندی، ددی نوعی دسلوك دافع غالباً دغه هڅه وی چه ځان ته دخلقو نظر ور واړوی، که څه هم دی دا په قصد نکوی.

ځکه نو موږ باید زموږ درغباتو او تمایلاتو دمعنی په تفسیر او تشریح کی ډیر وسعت او ښه احاطه پرو کړو په زیاته بیا خپل دارغبت چه موږ ئی دخلقو درضامندی د جلبولو دپاره لرو په ښه ډول ځان ته معلوم کړو چه دهغه په ذریعه دخلقو نظر او التفات ځان ته راواړوو داوسعت پر ټولو خلقو تطبیق کیدلای شی او زموږ دسلوك زیادتره برخو تفسیر کوی کوم چه کله کله موږ ته حیرت ځنی راپیښ شی او ورته هك پك شو او تعلیل ئی نشو کولای

چه داولي او علت او سبب ئې څه دی ؟ لکه داچه زموږ دملګرو ، آشنايانو ، پېژندويو کسانو دسلوك دزياترو برخو تفسير او توضيح هغه برخې چه پټې او زموږ څخه په پرده کښې وي او مرام او هدف او غرض له هغه څخه واضح نه وي هم راته ګوي .

زياتره خلق په دغه تطرف که پدې مقصدوي چه دخلقو رضا حاصله کړي او که دوي دپاره وي چه ددوي التفات ځان ته ور جلب کړي نشي کاميابېدای ، بلکه په موږ کښې زياترو ته دا اهميت اري چه دخلقو حسن ظن دی ورته موجود وي نو خپل سلوك او وضعيت ترممکنې اندازې پورې دنورو دهغو تلقياتو او موقفو نو سره چه ده ته ئې لري برابر وي ، او په ځان هغه کيف اغوندي چه دهغه کيف په اثر ددوي رضا او دنظر جلب حاصل کړي . موږ تل ددې څخه ځان ژغورو چه يوه داسې لارغوره او خوښه کړو چه تنقيد او دخلقو عدم رضاته موعرضه کړي ، موږ دخلقو پررضامندۍ او پردې چه اعتراض او تنقيد رانه دي ونکړي دومره مين يو چه که مو په دې لار کښې عزت نفس او شان خراب شي يا که مو دافکارو او نظرياتو دفاع ته نقص پيښ شي لاهم ورته حاضر يو او په همدغه درانه قيمت ئې لاهم را نيسو .

په هر صورت او هرڅه چه وي ، خو خبره داده چه په موږ کښې هريو داغواړي چه ديوي رتبې او درجې څښتن دی وي داسې رتبه چه نور ئې هم معنی او وده ته په هغه رتبه اعتراف کوي ، او په دې خوشحاليږو چه دغه رتبه دی درضاځای وي يعنې په هره سويه او اندازه چه خلق ده ته قايل وي خو علاوه پر هغه دی ځنې راضي او خوښ هم وي ، مګر کله داسې هم کيږي چه زموږ تردې چه خلق په موږ نا خبره او پر سويه او سطحه موعلم و نه اري دا خوښه وي چه راڅخه راضي څه چه راته په قهردي وي او منظوردي ورته واقع يو خو اهميت دی را کوي او په يوه رتبه او سويه دی راته قايل وي .

رضا چه چاته حاصله شي دهغه دخوشحالتيا دپاره لو سبب ګرزي .

هغه وخت چه ددې اجتماعي حاجت ترشا پټ او غلی قوت تا ته در معلوم شو او درك دی وکړ نو به دخلقو سره په تعامل کښې دهغه استخدام وکړای شې او کار به ځنې واخستلای شې د اقوت به تاته حتماً پردې باندې مرسته او معاونت درکړي چه ته دخلقو سره خپل تعلقات او ارتباطات ښه کړې او ستا او ددوي ترمينځ ښه روابط موجود وي .

مثلاً که اوقات او ظروف ددې ایجاب وکی چه موږ دیو چا پر کار او عمل تنقید او اعتراض وکړو نو موږ باید په دغه موقع کښې دخپلو پلرو او استادانو او روزونکو او مربی افرادو پر لار روان شو او ددی موقف په معالجه کښې په دوی پسې اقتداء وکړو، دوی د کوچنیانو او وړو سره ددوی دهغو کارونو په بیان شروع کوی چه هغه ددوی په اعمالو کښې ښه وی مثلاً ورته وائی: «ته خو ښه هلك ئې هغه روځ دی څنگه زما په خوله وکړه چه مادر ته ویل مخ پرې منځه پری دی منځه» یا له دغه قسمه څخه نور ښه کارونه چه دوی کړی وی ټول ه وریاد او ور وستائی ور وسته تر دی نو تنقید پر و کړی نو بد نه پر و لگیږی او درونډ نه پر واقع کیږی بدئی نه په راځی بلکه کلمه کلهٔ ئی نتیجه داوی چه د عمل سو ښه لوړه شی او هر کار او عمل ئی معقول او منطقی او داسی په زړه پوری وی چه د تنقید او اعتراض نقطه نه پکښې ایدله کیږی په همدغه ډول لیاقت او لیاقت او مهارت یوازی دعماب دښه سیر سبب نشی بلکه په عین حال کښې ستا او دهغه چاتر میانځ چه ته ور ته زغیږی یو ښه شعور او نیك نیت پیداشی.

یو له هغو مثالو څخه چه زموږ پر دغه مدعا او مقصد دلالت کوی دادی چه یو رئیس خپل تر لاس لاندی مأمور ته داسی ووائی: «ته په دغه طرز مکتوبونه لیکې؟ دا به دوهمه پلا یې لیکې! ماهیڅ تصور نه کاوه چه تـه تـردی اندازی بې باکه ئې» دا دهغه تر خه او تند تنقید طرز او نوعه ده چه یو رئیس ئې پر خپل تر لاس لا ندی مأمور کوی.

مگر د مأمور به خو مره زړه ښه او خوشحالـه وی که رئیس خپل طرز او اسلوب ته په دی ډول تغیر ور کړی او ووائی: «بعضی مکتوبونه چه ماسهار و کتل سره لدی چه ستا ډیر وقت نه ؤ پری صرف شوی ډیر ښه وه مگر ځنی نورئی لکه دا مکتوب باید ښه و لیکل شی» پدې کښې هیڅ شك نشته چه ماتحت په تنقید په ورین تندی او پراخه سینه قبول بلکه خپل رئیس ته به یو ښه عقیده پیدا کړی، او تر آخری درجې پوری به وظیفه دده د نظریې سره سمه اجرا او هر کار به دده پر زړه برابر کوی.

یو بل مثال چه زیاتره په هغو هوټلو نو کښې چه د خلقو ازدحام وی او مزدوران ئې په کار

نه رسیږي او ځنې کوي ډېر لیدل کیږي دا دي : چه یو ظلمي د خپلي یوي آشنائي پیغلي سره راشي او غواړي دا پخپله مړانه او پخپلو ازمویښو چه په ژوند کښي ئې کړيدي خبره کړي، نودي د هوټل پر خادم سترګي راغړي کړي هغه خوار نور هم پسي وار خطاشي دی ئې نور هم پسي وترټي او لا ئې پسي تهدید کړي مګر که ددوی صبر او سینه وکړي او د قهر او بدو یلو او ښکنځلو څخه ځان وژغوري او تیزي او ترخي او ستوغي خبري ورته و نکړي ددوي دوستاني به څومره خوشحاله او په څه اندازه به ئې ددوي صبر او تحمل او سړه سینه خوښه شوي وای او د هوټل خادمان چه د کار د فشار څخه فارغ شوي وای د دوی د صبر او دا چه د کار د فشار قدر ئې وکي ددوي پر خدمت به ئې مخ راګرزولی وای او ددوي د زړه سره سم به ئې ددوي خدمت کړي وای ځکه چه خادم خو هم لکه دوي دغسي یو انسان دی نو ته باید فکر وکړي او په سمه ورسره وژغیږي او دائره پر تنګه نکړي ، نو به ستا خدمت په ډېر اخلاص څنګه چه ستا زړه غواړي هغسي وکړي .

چه کشره خور دي د مطالعي دپاره یو کتاب چه ته به کور کښي ناست ئې او د باندي نه وزي در کړي نو ددي په عوض کښي چه ددي بد استقبال وکړي او ورته ووائې دا کتاب تا یوه پلا مطالعه کړيدي ، یا دا چه قصه ئې خوند نه در کوي، ښه استقبال ئې وکړي او ډېري ئې ږدي چه دا شعور وکړي او دا سي ورته وبریښوي چه ته ددي د کوښښ تقدیر کوي چه دا ئې ستا د بیکاري د ورځي د ښه تیریدلو دپاره کړي ، ځکه چه دا خو غیر ستا د خوشحاله کولو او دا چه ته ددي تقدیر وکړي بل غرض او مقصد نلري ، او دا یو حاجت دی چه دې ته ورپیښ دی او شعور به کوي نو ته ددي د حاجت په تر سره کولو او مړ واو کښي مرسته ورسره وکړه .

دا هغه موقفونه دي چه هره ورځ پېښیږي او زموږ د روځني ژوند په دو دو نو او مناسباتو کښي تکرارېږي او په روح کښي په څو واره ورسره مواجه کېږو .

دا د فاکولتي استاد چه کلونه ئې تیر کړي او اوس کنفرانس ور کوي او تر کنفرانس وروسته ئې دا خوښه ده چه د شاګرده څخه واوري : «ډېر ښکلي کنفرانس وو رښتیا هم دا ده

چه پوره استفاده می ځنی و کړه، داملاحظه غوره مالی او تملق نه بلل کېږی بلکه ددې خبری اعتراف دی چه استاد هم موږ غوندې يو بشر دی زموږ په ښه خبره خوشحالېږی .

چه موږ ددې يو د خوراك شی چه ستا خوښ وی در پوخ کړی وی او خاص ستا دپاره ئې پوخ کړی وی ، نو ته ولی ددې د پوخ کړی شی تعريف او ستاينه نکوې ، په دې کښې شك نشته چه دی ته دا معلومه ده چه دغه خواړه ستا خوښ دی ځکه چه ته ئې په خوند خوری، مګر سر بيره پر دې بيا هم ددی دا خوښه ده چه ستا څخه يوه د تحسين خبره واوروی او ددی تقدير و کړی ، او يو کوچنی چه په زينو کښې په تلو اردر و خيژی او يو شی چه تا ځنې غوښتی وی در ئې وړی په دې خوشحالېږی چه ستا پر شوندانو يوه د خوشحالی مسا و وينې او پر اوږه ئې په مينه او محبت و ټکوې او ورته ووائی : «دا خو عيناً هغه شی دی چه ما غوښت ځنګه ښه زوی می ئی شاباش» نو هيڅ دغسی يوه موقع چه څوك پکښې خوشحاله کولای شې د لاسه مه باسه او دغسی ساده او اسانه وسايل چه ستا د روابطو پر تحسين او ښه کولو د نورو سره مساعده او مرسته کوی بايد پکښې استخدام او مستعمل کړې يو له هغو شيانو څخه چه فايده ئې تا ته در ګرزی داده چه کوم وضعيت چه نور په خوشحالېږی بايد ستا له طرفه وشی - او له نورو څخه به ئې نه سپموې ، نو به ته بيا د ځان دپاره ددوی د خوا څخه د هغه وضعيت يو په څو او اضعاف او مضاعف ووينې .



پنځم فصل

رضا ته هڅه یو بل اجتماعي حاجت دی:

زموږ اجتماعي حاجت دی خبرې ته چه د خلقو په رضامندی او د دوی په تقدیر او اعتراف دی موفق یو زموږ د دی اجتماعي حاجت سره چه موږ ئی کامیابۍ او موفقیت ته لرو ارتباط او خورا ټینګ ارتباط لري نو چه موږ یوه کامیابي په نصیب او په یوه کار کښې موفق شو د خلقو رضامندی ته ډیر ور نژدې یو او داشی موږ ته ډیر اهمیت لري او قدر په ستر ګه ورته ګورو. موږ ته په خپلو اعمالو کښې د کامیابۍ د شعور احتیاج یوازې د اجتماعي مواقفو د نقطهٔ نظره ځخه ندی بلکه کله کله پیښیږي چه یوازې موږ په خپله په انفرادي حالت خپلو مرامونو او مقاصدو ته د رسیدلو او کامیابۍ هڅه کوو. په دې موفق کښې علاوه پر اجتماعي جنبه انفرادي او ذاتي جنبه هم موجوده ده.

کامیابۍ ته هڅه خورا لوی اجتماعي حاجت دی:

ممکنه ده تا به خپلې هڅې ته چه ته ئی کامیابۍ ته لري په ډېر ستر ګه نه وی کتلي چه دا یو داسې لوی او مهم اجتماعي او حیاتي حاجت دی لکه خوراک او اوبو او هوا ته چه ضرورت موجود او ژوند پر ولاړ دی حقیقت همدا دی چه دا حاجت خورا لوی اهمیت لري او دا نده ګرانه چه موږ ئی درو ښیو او دا اهمیت و تاته په صحیحه توګه در معقول شي:

د دغه مقصد د پاره ته ځان و پوښته: ستا د فټبال بازی خوښه ده که د ټېنس؟ ستا د ریاضی د سوالاتو حل خوښ دی که د کتابو او وسایلو د کنفرانسو مقالاتو لیکل؟ ستا سینما ته تګ خوښ دی که د لامبو مشق یا ګرځیدل یوازې او که د ملګرو سره؟ که ستا تر ټېنس فټبال خوښ وی نو ته حتماً ټېنس تر فټبال ښه کولای شی، او که دی د ریاضی سوالات پر لیکلو خوښ وی نو غالباً ته په حساب کښې تر لیکنه ښه ئی او په حساب کښې تر دې چه په قلم د خپلو افکارو ځخه تعبیر و کړی ډېر مهارت لری، او که د هغو کسانو ځخه ئی چه په یوازې شي ئې کار او عمل خوښ وی نو دا دی لوی دلیل دی

چه ته دځانه‌سره په کار او معامله کښې‌تردی‌چه دنورو سره‌دی کار اومعامله‌وی
ډېر موفق ئې نو اوس دامعلومه شوه‌چه زموږ هغه‌شی‌خوښ‌دی‌چه‌هغه‌ښه کولای‌شو
اوزموږ‌ددې خبری‌معنی‌چه‌زموږ‌په کار کښې کامیابی خوږه‌ده‌همدغه‌ده چه دایسو
خواهش اومیل دی شوموږ ژوندی یوراسره دی اونه‌راڅخه جلا کېږي.

کامیابی دنفس خوشالی جلبوی:

همدغه سبب‌دی چه کوچنی هلك‌خپل ډولکی ته‌کوی او دربی ته‌ئې خو شحالی
کوی، سره‌لدی چه کوم شی‌ته چه‌تردې ئې پوهیدل گران اوسخت‌وی اهمیت نه
ور کوی‌لکه خنده آور او مسخره آمېز عکسونه ،ځکه هلك پدې پوهېږي چه
دډولك په‌وهلو کښې دی کامیاب دی‌نوئې دا-و بولـو په وخت کښې دخو شحالی
شعور کوی ، مگر دمسخره عکسونو فهم نشی کولای نو سعادت او خوشحالی
نه ور ته‌راجلبوی .

ممکنه‌ده چه کومه پیغله‌چه دکلچو ترجوړولو ئې داخوښه وی‌چه خپل کېس
پخپله‌روغ کی سر اورمزئې همدغه دی ،داځکه چه‌دا کالی ښه‌روغوی ، او دی ته
دامعلومه شوېده چه پدغه کار کښې دا کامیابه اوخپله خوشحالی حاصلولای شی
او که دکلچو جوړولو ته لاس‌ور ته کړی دکامیابۍ مخ‌نشی پکښې لیدلای.ددی
سبب‌چه ته‌خپل رئیس ته زاری کوی چه دشرکت په مرکز کښې دی‌تا پرېږدی
اودفابریکی‌ددباندی چارو پرنگرانی دی‌تانه مقرره وی‌همدغه شی‌دی چه‌غالباً ستا
موفقیت تاته ددفتر په‌چارو اودشرکت داداری اومرکزی اعمالوپه شق کښې ثابت
شویدی او ته‌په حسابی‌امورو کښې ځکه چه ډېرعمر دی‌پکښې تېر کړی دی ښه ئې،
که‌څه‌هم تادشرکت دمالونو په گرزولو اوخرڅولو کښې هم ډېر عمر تېر کړی او
ډېر کاردی پکښې کړیدی مگرسر بېره پرهغه زحمت‌او کوښښ چه تا کړیدی بیا
هم‌ته نه‌ئې‌موفق‌شوی‌چه کوم مهم موفقیت پدې‌لار کښې ومومې،او غیرله یوڅولږو
کسانوڅخه چه دشرکت مالونه ئې ستاڅخه غوښتی وی دو مره مهم تعداد مطالبه
کوونکی‌دی‌ندی موندلی چه ددغه نتیجه‌داشوه چه‌ته‌اوس پدغه کار کښې نشاط

ځان ته نه وینی او خپل د دفتر کار دی د شرکت په مرکزی اداره کښی د ځان د پاره
پرزیات و باله.

همدغه د موفقیت شعور دی چه موږ ته د تیاترو او صحنو د رضا کارانو د چارو په
کامیابانه ډول د اجرا اسرار او رمز راښیی، او د اراته څرگنده وی چه د تیاتر او صحنی
اداره چه د کار کونکو او ممثلینو د پاره اعلان وکی څنگه هر سړی د خپل ذوق
او تمایل سره برابر خپل کار پکښی وټاکی، هر څوک د ځان د پاره هغه وظیفه خوښه
کی چه ځپله کامیابی پکښی وینی، او هغه رول لوبوی چه ادبولای شی مثلاً څوک
چه د پروپاگند او اعلان په کار کښی ځان موفق بولی هغه د پروپاگند په څانگه
کښی کار کوی، څوک چه په ایکټ او تمثیل کښی ښه وی هغه په هغه کی کامیابی
ومومی، خلاصه دا چه د رضا کارو د اعلان په وقت کښی هر څوک خپل شوق ته ورځی
او د خپل مهارت او لیاقت تتبع کوی، یا په بل عبارت موږ ته وله هغو چارو ته هڅه کوو
چه په ځان مو باور وی چه هغه کار په ښه توگه کولای او په کامیابانه ډول ئی سرته
رسولای شو، او داسی ئی سرته رسولای شو چه آفرین او تحسین پکښی اخیستلای
او د تقدیر وړ ګر زیدلای شو.

کله کله کامیابی ته هغه لاشعوری حاجت وی:

موږ نشو کولای چه همیشه او په دایمی ډول بردی دلیل و وایو چه:
موږ ولی یوه نوعه نشاطته پر بله نوعه ترجیح ورکوو او پر زیات ئی بولو لکه
موږ چه تل دا فکر نه کوو چه ولی د یوه اختراع شوی کار سره معارضه کوو او د هغه
پرځای بل وړاندی کوو. هغه شی چه د دی سلوک ترشا پټ پروت دی هغه زموږ هغه هڅه
چه موږ ئی په هغه چارو کی ا روچه موږ ئی کوو او په مصروف یو او داد هر یوه خیال
وی چه هغه کار باید د ځان د پاره خوښ کړی چه موفقیت او کامیابی پکښی حاصلولای
شی. او که څه هم موږ زیاتره خپلی چاری سم د هغه پروگرامه سره نه اجرا کوو
چه غرض او هدف لاس ته ئی راځی، مگر بیاهم د ځینو لاشعوری عواملو په زور موږ
غرض او هدف خواته ور شکول کیږو: مثلاً دوه ملگری دی د جمعی د ورځی

درخصتیه د تېرولو د پاره د خپل یوه بل ملګري کور ته چه په کلي کښې اوسي ورغله دوی دروسرو په ښار کښې په شوواره سره لیدلي او یو ځای شوي دي مګر په کلي کښې ئې دغه اول وار دی چه سره یو ځای کیږي، دوی چه ورور سیدل سمدستي د کور څښتن د ماهیانو د ښکار اقتراح وکړه چه: ځو به د ماهیانو ښکار ته! مګر به دوو مېلمنو کښې یوه وویل: زما د ټینس بازي خوښه ده، هغه بل وویل چه دده د ګلف لوبه خوښه ده حقیقت هم دادی چه په دغو ۳ کښې هر یو لکه په نورو کښې چه هم خبره دغسې ده ځانته متعدد خوښ شیان لري، او د هر یوه په خپل زړه کښې د خوښو شیانو سره مینه او علاقه موجوده ده چه ساعت او وقت په تېر کړي مګر پېښه داشوه چه د کور به ښکار ښه زده دی او ډېره عمره شخه چه د دوی د دوو د شخه یو د ټینس په لوبه او هغه بل به ګلف کې مهارت درلود په اخته ؤ د دوی د مخنی اقتراحات د ساعت تېرولو په باب کښې چه یو نوعه نشاط د ځان د پاره وټاکي په هغو شیانو کې منحصره ده چه په هغو کې د دوی شخه هر یوه په یوه کې مهارت درلود او لوئی کامیابیه ته پکښې رسیدلای شوای پدوی کې یو د هم دا فکر قطعاً نه درلود چه په خپل مهارت نورو ته افتخار و کړي او په وه ویاړی مګر داوو چه هر یوه د خپل پټ درفع شخه تعبیر او ترجماني و کړه خو اصلي حقیقت دادی چه ځکه چه د کامیابی مېنې او خوښوالي موږ ته وله او هر یو د ځان کړي اوله د غه جهته موږ د هغه کار او عمل ته هڅه کوو چه هغه تر نورو کاروښه کولای شوا ودا هغه شی دی چه د سړی نفس ته ډېره خوښي او خوشحالي ورپېښه وي.

دوی پیغلانی دی چه په خپل کور کې ئې د خپلو همزولو او دوستانو د باره د شپې مجلس جوړ کړی و یوی وویل د شپې د ساعت تېریه د پاره رقص ښه دی بلې چه په بدن بنده اودرنه وه د ځینو لوبو اقتراح و کړه چه په ارامه او ناسته شپه په تېریږي او خومره آسانه ده چه ته هغه سببونه درک کړې چه د دغو دوو اقتراح ګانو تر شا پټ پراته دي.

هره چاره او عمل چه موږ په ښه ډول پای ته ورسو و

د هغه ښخه خوند اخلو:

داشه عجبه نده چه زموږ دی ترهرشی داخوښه وی چه هر کار او عمل چه موږ کوو په ښه ډول دی و کړو په دغه سره موږ خپله یوه لاشعوری مینه او خوا او هڅه سړه وو چه موږ ئې په خپلو حاجاتو کښې دیوه حاجت وخواته لرو چه هغه حاجت نو کامیابی ده ته به د تحصیل او د مکتب د شاگردی په وقت کې دیوه موضوع په لیکلو نه ئې مکلف شوی؟ ممکنه ده ته به دا په زړه کولای شې چه لکه د ښځو اغوندی او په عادی ډول به کتابخانی ته ورغلی اوورو سته د عنوانونو تر کتنه چه دی هر کتاب او مرجع په نظر مساعد او د خپلی تا کلی اوور سپارل شوی موضوع د پاره مفید بللی وی هغه راخیستی وی خو چه لوستی دی وی په ناشناخته لغاتو ډک وی او عبارتاو تشریحات ئې گران اوستاتر فهم علمی سویې پورته وی په دغه حالت کښې نو تا څه کړی وی ؟ زیاتره دا گمان کیږی چه تا به د دغه گران اوستا تر فهم لوړ هر څه ښخه صرف نظر کړی وی.

موږ که په مدرسه کښې یو که تر مدرسه د باندی د فنی اصطلاحاتو ښخه ډک کتاب چه زموږ د عرفانی دائری او چو کاټه ښخه وتلی او زموږ تر معلوماتو لوړ وی و یل او لوستل ئې خوند نه را کوی او نه حظ ځنې اخلو او هر څه کوښښ چه موږ و کړو چه ځان په وپوهوو هغه به بې فائدی وی نو موږ ته به خپله نا کامی ښه را معلومه شی په دغسی موقعو نو کښې موږ حتماً بل کتاب ته مراجعه کوو چه د ومره گران اصطلاحات و نه لری او تشریحات ئې په آسانه ژبه او زموږ د فهم سره برابر او زموږ د رضا زیات باعث وی ځکه هغه شی چه موږ ئې غواړو مرسته پر را کوی او دده په واسطه زموږ خپلی کامیابۍ ته ژر لاس وررسیږی تاته به کوم وقت چانه وی و یلی چه قلف راخلاص که ممکنه ده چه ته دی پدی کارو کښې ښه ئې او د سختو قلفانو پرخلاصولو دی پوره قدرت و لری بلکه کله کله د دقیقو او نازکو آلاتو او ادواتو په استعمال چه خپل کار دیوه متخصص اوفنی سړی به څیر به مهارت اجرا کړی بوخوند

اولذت در حاصل شی مگر اوس په دی پلا کښی یو نوی حالت در پیښ شی دا یو نوی قلف دی چه تاتر اوسه ندی لیدلی هر څه چه ته پرو گرزی شاوخوا ور ته و گوری پوی خوا و بلی خواته ئی وا ړوی هیڅ درك ئی نه در معلومیږی او په آخر کی دی خلق ور ته تنگ شو او قهر درغی او خوا پوته شوی نو په دی کی څه شك نشته چه په دی نا کامه تجربه کی تا هیڅ خوند و نه موند یو وو ړه هلك تا ندی لیدلی چه دری پلوی په یوه برقی گاړه چه دده وړور بازی په کوی ځان هیوی او هر څه چه و کی پر لار ئی نشی رهی کولای نو چه دقطار پیچیده او گران جوړاب او خپلی نا کامی ته و گوری چه هر څه ئی و کړه وی ئه ځغلولای شوای نو دی باید اوس څه و کی؟ غالباً داده چه دی زیاتی خپل ځان ستړی نکړی پر انسان دا ډیره گرانه تمامیږی چه خپله نا کامی احساس کړی دی باید اور گاړه پریږدی بلکه وی غور څوی او خپله لار په خوله ور کړی پدی کی هیڅ شك نشته چه دغه کوچنی به په خپله هغه گاړی چه د لرگو څخه جوړه شوی ده په ډیره اسانی سره روانه کړی او ښه به ئی ساعت په تیر شی.

کامیابی سړی ته پر ځان باندی داعتماد په باب کښی مرسته ور کوی:

هر سړی کامیابیږ ته هغه کوی نو د رضا او خوشحالیږ شعور کوم چه موږ ته یوه مرام او هدف ته رسیدلو په آخر کی را حاصلیږی په رشتیا یو خوندور شعور دی هدف او مرام چه هر راز وی که په آسانه سړی ور رسیږی او که په زحمت که لوی مرام وی که کوچنی خو ور رسیدل مرام ته همیشه د رضا او خوشحالی شعور په انسان کښی پیدا کوی د علماؤ او پوهانو دائمی او پرله پسی څیړنو ته به دی چه دوی ئې پخپلو علمی تجربه ځایونو کی کوی کښه تعجب نه وی کړی چه په کلو کالو څیړنی او ازموینی یوه په بله پسی کوی، او په یوه لبز ساتنه تغیر زړه تجربه دوهمه پلا بیا هم اجرا کړی، دا پاتو نکی او باعث خورا وزده زمانه او غیر منقطع زحمتونه پخپلو ستومانه کوونکو افکارو کښی تېر کړی نو کوم شی دی چه دی ئې ور ته مجبور کړی او په زمانو زمانوئې ملا ور ته تړلې اوور ته درولې ئی دی

کوم شی چه دی ئی دې اوږده زحمت او د کلو کلو سترړیا او دماغی ستومانۍ ته مجبور کړیدی دادی چه که دی کامیاب او موفق شی د رضا او خوشحالۍ شعور به وکړی نو هر قدم چه دی د موفقیت خواته وړاخلی دده عزم او اراده دې ته قوی او تېره کړی چه دی د خپل زحمت او رېړو کوښښ ته، مخ دده د مطلوب هدف پر لور دوام ور کړی.

تا ته تعجب نه در پېښیږی چه د هغه وخت او زمانې په اندازه کښې فکرو کړی چه د بوه اوی کار د پاره لازم وی لکه د یوه لوی پول، یا د یوې خور الوئی او عمومی لاری جوړول یا د یوه تونل ایستل؛ د هغه عمل او کار اندازې ته تعجب نکوی چه د یوې مجسمې تراشل یا د یوه موسیقی آهنګ او او زیاد یوې قصی د تألیف او لیکلو د پاره به کار او لازم وی.

د هر هغه کار او عمل تمامول زیار او زحمت غواړی چه هغه په دوام او صبر او سره سینه او تحمل پوری اړه لری، او هغه سبب چه د هغه د پاره یو بوه او عالم یا یو فنان او هنرمند یا یو کارګر خپل کار ته جوړ بدلی او دوام ئی ور کړی وی (او ته ئی پسې پرېږدی) د روی چه دده د کار انتهائی او د پای جائزه - د موفقیت او کامیابۍ جائزه - خورا لوړ او اوی قیمت لری - زموږ د نورو چارو او اعمالو هم دغه حال دی.

که غواړو و کورودان کړو یا که د تینس لوبه کوو مقصد او غایه مو په فکر کښی وی چه موږ به کور کی وا و سېږو او غونډسکه غائې او هدف ته ورسوو، هغه خوند او لذت چه د کوم کار او چاری سره په هغه وخت کښې ملګری دی چه تمام او پای ته ورسیږی د هم دغه خوند او لذت ترشا زموږ د کار تمامولو او خاتمه ورکولو عزم او اراده پرته ده، که دغه خوند او لذت نه وی موږ نه کار ته لاس ور ته کولای شو او نه د هغه د اتمام او اختتام اراده او عزم را پکښې پیدا کیږی د هغه کار پای ته رسول چه موږ شروع کړی وی د هغه ضرورت او حاجت شخه تعبیر کوی چه موږ قوله د هغه شعور د کوچنی والی څخه یاد ژوند په قوا او دورو کی کوو. او کامیابی هر وار وموږ ته د رضا او خوشحالۍ شعور را جلبوی، او په دې باب کی چه موږ د خلقو په رضا کی زموږ څخه موفقیت و مومو مرسته را سره کوی

اوزموږ دشخصیت په نشو نما کی ددې لاری څخه اثراو اغېزه کوی چه ز موږ در ضا شعور زموږ دمطابعو په موفقیت کی موږته راحاصلیږی یادخلقودلوی ګټلو له لاری چه موږ ته په ښه سترګه ګوری په لاس راځی موږ ځګوی . داشعور ونه قوله دنفس اعتماد جوړ وی او دخلقو سره رابطه او دقولنی سره دعلاقې موند لود اسانه ولو په لار کی پوره کار کو ی .



شپږم فصل

زموږ داهغه چه دخلقو سره دی یورنګه یو - دریم اجتماعی حاجت دی دلته یودریم اجتماعی حاجت سته چه بیان ئی دمخه وشو چه هغه تر یوې اندازې پوری دهغو دووعوا ملو سره چه موږ وشپړله چه هغه دنوروودرضا دجا صلو او هغه او بل پخپلو تولوا عمالو کې د کامیابۍ هغه ده تعلق او ارتباط لری دادریم اجتماعی حاجت په دې کی ښکاره کیږی چه موږ تجانس ته هغه کوو یاپه بل عبارت داچه موږ هریو په دې ته هڅه کو و چه دنور و سره دی یورنګه یو او داسی دی یولکه زموږ په ماحول او اطرافو کی خلق چه دی ، د دې هڅی مقصد سره له هغه قوته چه لری ئی داندی چه هغه انفرادی او شخصی فرقونه زایل او له میانځه واخلی چه هغه حقیقی او واقعی حقایق دی اوله هغو څخه تخلیه هیڅ ممکنه نه ده که ئی څه هم موږ اراده و کړو . لکه دافرقونه چه په افرادو کې ددی هڅی په مورد کی موجود دی هم ددې قابل ندی چه زړه دی په مشغول یادی اضطراب ځنی پیښ شی او دومره داهمیت وړندی مګر هغه وقت چه دتطرف اندازې ته ورسیږی.

موږ ولی تجانس ته هڅه کوو :

که موږ دانسان دتجانس په میل او هڅه چه خپلو ګډو ون و الاؤ ته ئی لری اعتراف و کړواو دا هڅه په انسان کښی تسلیم کړو موږ ته به مر سته پر دې را کړی چه دخپل سلوك او دنورو دسلوك فهم و کړواو په و پوهیږ و لکه دتقلید او عادا تو پر فهم او پو هه چه به هم مر سته را سره و کړی . تا ته معلو مه ده چه نجونی ولی په هرموسم کښی خپل وریښتان په جلاجلا ډول ترتیبوی ؟ په یو ه موسم کښی ئې اوږې خواته ږمو نځوی ، او په بل وقت کښی ئی کښته را ږ مونځ کړ ی ، یو وقت ئی او ږ ده بل وقت ئی لنډ کړی او دغسی هم نور اقسا م . تا ته معلو مه ده چه زلمیان ولی یودبله په لباس کښی مشابهت سره کوی ؟ کله یو راز

کله بل راز لباسونه اغو ندی‌او که ئې وانه غو ندی‌نو به ئې دموددسره برابرلباس نه‌وی اغو ستی.

دلباسونودبدلولو علمبرداران چه‌اوز دې جامې جارو وهی ټولی ښځی جامې اوزدې کړی ، او چه دلنډو اعلان و کړی ټولی لنډې جامې شروع شی .

دزاړه کال جامې تغیرو خوری لنډې یا اوږدی شی ترهغوشودوخت او موسم دموده سره یورنگه او تطبیق وموږی ، او که‌تطبیق و رسره ونه‌موږی‌نو به ددوی جامې دموده څخه وتلی‌او دواړه څخه به‌مخالفی وی .

ممکنه ده چه موږددی هڅی په شاو خوا کی چه د تجانس په مورد کښی خورا عامه او خپره شوې‌ده ډیر مثالونه تېر کړو . داچه څه چه نور خلق کوی موږهم هغسی و کړو لکه‌دنوی راقص قدمونه ، یا په خبرو کښی‌نوی کلمات او لغات یانوی شوقونه‌لکه‌دتحفه تحفه شیانواودپوستې‌دټکټانو ټولول‌او ساتل‌داددی خبری‌چه موږ همېشه دې‌ته‌حاجت لروچه‌فردی تکیف حاصل کړو و یوبل د لیل دی‌ا و داد دې دپاره چه موږ خپل اجتماعی حاجتونه‌ترسره اوماړه کړو.

نوپدې کښی څه‌شک نشته‌چه که‌زموږ یوازی‌دزاړه‌رقص‌قدمونه‌زده‌وی‌اودرقص‌مجلس‌او حلقې ته ورننوزو ډیر به‌دتکلیف‌سره مخامخ شو ،یا که دبحر پرغاړه‌ننن روځ ځان داستحمام په‌هغوپخوانیو جامو کښی‌ورښکاره کړوچه‌۳۰ کاله‌تراوس پخواراواج‌ؤ ې یا که په نوو مجالسو اوعصری‌محافلو کښی‌به‌بعضوزړو عادا توچه‌زمانی له ماڅخه و ړی وی لکه مخ پوټی مثلا ،وبازار اویادښځویوځای سره ناسته ولاړه او گډون مراعات‌ونه کړوموږ به پډ ډیرو مشکلا تواخته او سخت به په اصطراب کښی یو، موږ همېشه غواړوچه‌داجتما عی خپاره‌اورواج عرف سره‌او زه پراوزه ولاړ سو، هغه چه نورئی کوی‌موږئې‌هم و کوځکه.چه‌دا زموږ به نفس کښی‌راحت‌اوخوښی اور ضا پاڅوی .

تجانس به څنگه حاصلوو ؟ :

دانسان د روځنی‌ژوند په‌سلو ک کښی دې ټولو مثالو و ز ته بشری دائمی هڅه

تصویر کړه چه دهغی په ایجاب هر سړی غواړی چه دی دی داسی وی لکه د ده نور ملگری او گډون وال . د تجانس دا دافع په هر فرد کښی تر دې عمیق او ژور وی چه یوازی دی د کالو یا رقص یاد شوقونو په تشو ظواهرو غاړه و باسی بلکه تجانس دغه رنگه زموږ په اجتماعی سلوک کښی چه زموږ د ژوند هر روح پکښی شامله ده ښکاره او څرگند دی .

ستا په یاد دی چه ته کوچنی وې او پلار ته نه پرېښوولې چه د خپلو ملگرو او همزولو سره چه هغه یو چیری تله ولاړ شې او ملگری د رسره و کړې تا ته څومره په هغه وخت کښی ځان سپک او خوار و بیسیده ځکه چه ددوی څخه مخالف ښکاره شوې ځان ستا په یاد دی چه ته په مدرسه کښی وې او لوېو شاگردانو ته ځینی امتیازات ورکول کېده او تا غوندی کوچنی شاگردان به ځنی محروم وه ته به څنگه په غم اخته وې ستا او ستاد ملگرو به څنگه هوا کېده چه ته داسی وای لکه لوی شاگردان .
دلته بې شکه ډېر او تر دغو بالا همیته مثالونه موجود دی چه د تجانس پر هغه او پردې شعور دلالت کوی چه موږ دی داسی یو لکه نور .
دلته یو وخت یوه زمانه وه چه زموږ اجتماع د دوو جنسو گډون حرام باله تر دې اندازې چه د علم په ځایونو او مکتبونو کښی لا هم ، یا دا چه یوه پېغله یوازی بازار ته راووزی په دې کښی شک نشته چه دا به ډېره عجیبه وی که نن روح موږ د اور سره تر مدرسې پوری ددې دپاره ملگری وکی چه د بل جنس دافرادو د گډون څخه ئې وساتی په پخوانی عرف کښی د بدن د ځینو ځایو څخه خبری د ادب څخه منافی او اړی بلل کېدې او کوچنیانو ته ئې په دې حق اعتراف نه کاوه چه دوی په دوی په دی حقایقو خبر شی چه څنگه او د کومه ځایه څخه راغلی دی ؟

زیاتره پلرونه او استادان او مدرسین لا اوس هم په دې کښی شک من او متردد دی چه په جنسی مسائلو کښی د خبرو او زغېدلو فکر په یوه اندازه پراخ او ارت او د حریت په اوفق کښی قبول کړی . سره له دې چه په دې چارو کښی بصیرت موندل بد کار

نه‌بلل کېږي ، او داچه حقايق سره نيمي‌وي‌نيمه برخه سړي ته ور معلومه وي او نيمه‌ئې نه وي‌ور معلومه څخه اهميت نلري مگر موږ لا تراوسه هم‌ور ته په‌دوه زړه او مترددیو .ستاادراک اوشعور په‌دې چه‌دهغه‌سړي له‌مخه‌چه‌پر تا تنقيدونه او اعتراضونه کوي او ته نه ئې خوښ ته دراحت احساس نکوې ددې قصې يو بل فصل بلل کېږي او په دغه‌حالت کښې ته‌ددې‌درک کوې چه ستاد انساني حاجتونو څخه يو حاجت ندی موړ شوی نو ته بايد دې ته اراده وکړې چه داځان‌ته معلومه کړې چه‌ته‌ولی دراحت شعور نکوې .

پر موږ داسې اوقات خوراډېر راځي چه دداسې کسانو په‌ډله او مجلس کښېنو زو چه زموږ څخه بېل او متخالف‌وي اوداسې نوي لکه موږ نوموږ ډېر په تکليف‌شو اويو شديد حساسيت راپيښ‌شي‌ددې اسبابو پېژندنه چه‌دغسې شعور ته دعوت ور کوي روح‌په‌روح ډېر ډېرزي ، ځکه چه‌دهغو پېژندنه زموږ داجتماعي ژوند دسعادت اوددې دپاره چه‌دروځني ژوندو څخه خوندواخلو بهترين مرستيال دی.

دېره‌ړغه څخه اوس دتعليم او تدريس طريقې تبديل شوې او تغير يې خوړلی دی داسې لکه لباس او جامه چه‌دپخوا څخه اوښتې ده يالکه نور شوقونه چه بدل‌شويدي. که‌اوسني زاميان او پېغلاني داشعورو کړي چه‌ددوی معلومات دجنسي مسائلو په‌شاؤخوا کښې چه‌داجتماعي ثقافت يوه مهمه برخه‌ده ناقص او نيمگړي دي نودا پردې دلالت کوي چه ددوی حاجات دداسې حقايقو معرفت او پېژندنې ته‌ضرورت لري چه ددوی څخه‌ددوی استادانو او پلرو پټ کړي وو ، او حقيقت‌دادی چه زموږ داولادونو دجنسي معلوماتو داناقص او نيمگړي تلقينات خورا يو پراخ او عام تغير ته‌ضرورت لري چه‌دعصر سره‌سم او برابر شي اوداواضحه او ښکاره ده چه‌دننني‌ورځي مکتبونه او مدرسې ددې تغير په اهميت پوهېدلي دي او په‌داسې .کتابو مجهزي شويدي چه ټولو خلقو ته ددغو معلوماتو دتکميل دپاره‌دوقت او عصري ايجاب سره‌سم مرسته‌ور کوي .

زیاتره خلق د هغو کسانو سره مشابهت غواړي چه ګټون ور سره لري:

خلق د هر عمر چه وي د قافلې سره ئې ملګري خوښه ده، یعنې دا چه د نورو غوندې وي موږ وینو چه کوچنیان په هغه وخت کښې چه په دوی شادر په زوره پراوزو کیږي احتیاج کوي، دا ددې جهته چه نور هلکان چه د دوی سره په ګټون کښې دي شادر نه پراوزو کوي دغه رنګه د پېغلانو په حالت کښې هم دا شی معلومیږي، دوی د کور خبري په کور کښې پریږدي مګر ددې دپاره چه د خپلو همزولو او همصنفیانو پېغلانو سره پردو ډیر بانډي هغسې خبري و کړای شي لکه دوی چه ئې کوي د ځانه د خپلو مسافرتو نو قصې یادونور و داسې چاروشخه روایات جوړ کړي چه پردوي په خپل ژوند کښې راغلي وي بنائي چه ځینې نجونې چه سګریټ کاږي یا شراب، سره لدې چه په خوله کښې خوندنه ور کوي چېنې سبب ئې همدغه د تجانس او تشابه شعور وي چه دوی ددې تحمل نشي کولای چه څوك د دوی په باب کښې ووائي چه د خپل ماحول شخه مخالفي دي د تجانس دافع په خلقو کښې - لکه نور دو افع - د افرادو د اختلاف په درجه سره مختلف دي یعنې لکه افراد چه یو له بله په اختلاف کښې درجه سره لري، دغه رنګه د تجانس شخه هم په افرادو کښې مختلفه او درجات ئې متفاوت دي ، هره خاصه او ممیزه چه په افرادو کښې پیدا کیږي درجات ئې سره بېل او متخالف دي لکه د تطرف (تعجب او غرابت) په درجه کښې چه هم مخالف یکښې پیدا کیږي، نو داهیڅ عجبه نده چه دیو سړي دي دډوډۍ اشتهاخوراډېره او قوي وي مګر بل دي بیادو مره اشتهاونه لري لږ خورك دي کوي که څه هم ډېر کسان او اکثریت د خورك د مقدار او اندازې په باب کښې تقریباً سره یو رنګه دي ، دغسې موږ ته تعجب نه راپېښیږي چه پښه او چاغ سړي چالاك او چابکدسته ووینو په داسې حال کښې چه وچ کلك او د ځانه سپك سړي به سوړ او کهاله وي، که څه هم زیاتره کسان په چالاکي او د حرکاتو د سرعت په درجه کښې سره نژدې وي.

نو اوس داڅه عجبه نده چه یو سړي پخپلو اجتماعي معاملاتو کښې پر یوه داسې لار ولاړ شي چه هغه د هغې ډلې د زیاترو افراد و د لارې شخه چه دی د هغې ډلې څخه بلل کیږي مخالفه وي ، نو د انسانانو زیاتره سلوك په وسعت ستایل کیږي یعنې به زیاتره شیانو کښې

دوی دوسعت طرفدار وی او یو طرف د دوی په سلوك کښې نه وی، مګر ځینی بیاداسی پکښې پیدا کېږی چه د تطرف انتهائی اندازی ته رسېدلی وی او که څه هم په موږ کښې لویه برخه خلق د اغواړی چه د خپلی جامعې یا هغی ډلی د افرادو سره دی مشابه وی چه یو له افرادو څخه ئې پخپله دی بلال کېږی خو بیا هم موږ بعضی کسان - چه خورالږ دی - داسی هم موندلای شو چه په دې فخر کوی چه دوی له نورو څخه مخالف او جلا دی، لکه لږ قدر چه داسی کسان هم شته چه په خلاصه خوله ځانو نه ځکه بد مرغه بولی او د بد مرغی شعور کوی چه دائې دلاسه نده پوره چه هر څه چه نور کوی دوی هم هغسی و کی او په ټولو کارو او شیانو کښې د نورو سره سم او مشابه وی.

هغه کسان چه په اوضاع او سلوك کښې تطرف والری د ژوند د مقتضیا تو سره غالباً د توافق او رضا موندلو په باب کښې سختی او اشکال نه حس کوی او له خلقو څخه ښکاره او واضح اختلاف که په رایه کښې وی که په زویت او مظهر کښې وی ډېر لږ به د حسن تکیف د پاره وی بلکه غالباً د معین او معلوم سړی د حاجت د پر ځای کولو د پاره وی او د دغه سړی مواقف او ظروف د دغه اختلاف د پاره د ده تکیف تنظیم کوی.

کله کله داد هو ښیاری څخه وی چه ته مخالفت و کړې:

زیاتره دستاینی او صفت په موقع کښې لدې قسمه عبارات ته اورې «د دې د پاره چه مخالفت و کړې جرأت او شجاعت یې در لود» «یا ده شجاعت د ده د آراو د شجاعته څخه مرسته اخلی». دا خبری چه ته واورې نو د ځانه څخه پوښتنه کوې: آیا کله کله دا معقوله نه ده چه موږ ځان د نورو څخه جلا او مخالف و ساتو؟ دا طبیعی ده چه د دې پوښتنی جواب موږ په (هو) سره و وایو او مهمه خبره داده چه موږ هغه اوقات و پېژنو چه د دې د پاره مناسب وی چه سړی دی د نورو څخه مخالف او منفرد وی؛ ځکه د مخه کېدل په هر میدان او ډګر کښې شجاعت او تجربه غواړی او پر همدغو دوو توقف لری. او هم پر هغه خیال مو قوف دی چه د دغو تجربو الهام ور ته کوی. آیا اول سړی چه دریال او بېړی فکر ور پیداشو، یاد موټر او الو تکی اختراع ته متوجه شوه د خپلو معاصر ینو له خوا په تمسخر او بې اهمیتی سره ندی مقابله شوی؟ نو که د دغو مخترعینو

شخصه هر یو د رأیې په شجاعت او پر خپله عقیده په ټینګار نه وای موصوف او س به د نړۍ دمواصلات او مناقلاتو شکل او طریقه داوسنی حاله شخه ډېره مخالفه وای او دغه اوسنی سرعت او امنیت به چه نن روح یو مثلې خبره ده نه ؤ پکښې موجود .

دا یوه اسانه خبره نه ده چه موږ د بشری طبیعت داساسی او فطری تمایلاتو شخه ځان ناګمانه واچوو او تجاهل ځنی و کړو ، او که موږ غواړو چه د نور و شخه مخالفت و کړو د الازمه ده چه موږ خپل موټ په شجاعت قوی کړو ، او د امو باید په ټینګه عقیده وی چه موږ پر حق او پر سمه لار یو داهغه وخت چه موږ پر ځینو داسی آراؤ تمسک کړ ی وی چه د نورو آراؤ شخه مخالفی وی . په دغه وخت کښې زموږ تمسك په خپلو آراؤ ډېر فائده مند او ګټور وی .

که «لوییس پاستور» د خپلو هغو نظریاتو او آراؤ اظهار چه د ده د عصر درواجی آراؤ سره ئې تعارض درلود نه وای کړی شه به پیښه شوې وای ! معلومه ده چه علوم به وروسته پاته او دوړاندی تګ سر به ئې نه وای را پورته کړی او انسا نیت تر هغو دامراضو له لاسه شخه په زګېروی کیؤ تر هغو شو پاستور ئې پخپلو تجربو هغه ریښه چه تر هغه وخته نه وه معلومه کشف کړه ، او که «مادام کوری» په خپلو هغو آراؤ تشبث نه وای کړی او هغوار اؤ ته ئې مراجعه نه وای کړې چه ددې د آراؤ سره ئې معارضه درلوده موږ به پر هغه پخوانی حال و روسته پاته وای او هغه زحمتونه به مو ګـا للای .

داعلماء او پو هان یوازی معارضه کوونکی نه وه بلکه کوښښ ئې کاوه چه دخپل طاقت په اندازه هغه حقایق چه دوی ئې په عدم تغیر او تبدیل قانع شوی وه اثبات ته ورسوی ځکه چه هغو پر علمی دلایلو او ازمو ینو تکیه او استناد درلود او د دې دوو شخصیتونو غوندی په کسانو کښې یوازی مخالفت دستاینی وړ ندی بلـکه دا لازمه ده چه په دوی کښې مخالفت د تطرف ځداو اندازې ته ورسېږي .

داشر ګنده او بدیهی ده چه زموږ لو یه برخه خلق داسی نه دی لکه مادام کوری او پاستور ، بلکه لو یه بر خه پخپلو چا رو او تصر فاتو کښې د انسانی پټ تمایل په تقاضا

چه د نورو سره د تجانس خواته ئې لري روان دي دا ځکه چه لا هغه میزات چه د عدم تجانس او تفر د ایجاب کوي په موږ کښې ندي موجود او هغه شیان چه په هغو سره کوري یا پاستور یا د دوي غوندي نورو بارزو شخصیتونو امتیاز موندلی دی موږ ندرو او ندي را کړه شوي، ددې معنی دانده چه موږ تو له سره یو رنګه او تمایل سره لرو بلکه د خلقو ترمیانځ فرقونه اختلافات او توپیرونه تل موجو ددی که څه هم تل واضح او ښکاره فرقونه نه وي.

مخالفت یو اسانه کار ندی:


پر موږ داسې اوقات راځي چه زموږ په هغه وخت کښې د خوشحالۍ او نشاط یو معین او معلوم رنګ نه وي خوښ او ځان نه په مصروفوو، ځکه چه هغه رنګ ته څوک اهمیت نه ور کوي او نه ئې خوښوي، موږ به شاید د خپله ځانه سره داسې ځینې طریقې او اسلوبونه لرو چه نه به غواړو بل څوک په خبر شي او اطلاع پر و مومي ځکه چه نور خلق به په هغو کښې زموږ څخه مخالف او پر بله لار به وي. ستا به دا یادیږي چه په کوچنیوالی به ته ترنورو ملګرو او همزولو وساعت د مخه په ځای ننوتلې او د خوب ځای ته به تلې، او دا کار به دې ددوي په پټه کاوه او دوي به دې په ځان نه خبرول، دا ددې جهة نه وو چه دوي ته ستا د خوب او ځای ننوتلو ساعت نسې معلوم یا دې خبري دوي ته کوم اهمیت درلود. مګر دا ؤ چه ستا دا خوښه وه او دا دې ښه بلله چه دوي ستا په دغه عادت پوه نشي او نه وي ور معلوم هغه روح ستا په یادده چه. ستا همصنفیان کوم کلي ته په میله او تفریح تله او ته خپل پلار نه ور سره پرې ښوولې؟ په سبا چه ددوي سره یو ځای شوې پلمه دې ور ته و کړه چه زما پخپله تګ زړه نه غوښت یا دا چه کور ته میلمانه راغله مجبور شوم چه کور پاته شم.

ممکنه ده چه ستا په دغو دوو عذرو کښې به یو رشتیا ؤ مګر په دې کښې څه شک نشته چه تا دا مناسبه و بلله چه په دغو اسبابو کښې په یوه سبب سره ځان د هغه مخالفت د خجالته څخه وژغورې چه تا ته در پېښ سوی ؤ یا دا چه دوي ته دا نسې ور معلومه چه ته ددوي سره

په تنګ کښې د خپل سر او خپل اختیار نه وي، کله پېښه شي چه ته پر ځان تکلیف وکړې چه د صحنې او سینما د تنګ دپاره د خپلو ملګرو سره ټکټ رانیسې سره له دې چه بودجه دې تقاضا نکوي، مګر صرف د دې دپاره چه ستا دلاس تنګ والی دوی ته ور معلوم نشي ته دا کار و کړې، کله کله پېښه شي چه دشپې په ښوونځیو کښې د دې دپاره ته ځان شامل کړې چه هغه وروسته والی جبره کړې چه تا ته په درسو کښې در پېښه وي، نو ته دا وضعیت ځکه بې ساتې چه رفقا به دې ځکه توهین کوي چه ته د دوی څخه مخالف یې چه تر وخت خارج او علاوه دې ځان دپاره په اضافي موقع کښې تکلیف ته اوږه ورکړې په دې چه نور ملګري دې هیڅ پدې فکر کښې ندي او بلعکس کله کله ته یو کار کوې مګر زړه دې نه غواړي فقط د دې دپاره یې کوې چه په عرف او اصطلاح کښې باب او رواج وي او که یې ته ونه کړې د نورو څخه به مخالف او په ګوته به یکښې راوتلی یې، د هغو اعمالو د سموالي او صحت پر اندازه حکم کول چه موږ یې د دې دپاره کوو چه د نورو سره موتجانس راشي، یا د هغې ډلې د تمایلاتو متابعت چه زموږ په شاوخوا کښې ده دا مواړه پرڅېړو او بې شمېره مناسباتو او تقریبو نو موقوف دی چه هر یو د هغو څخه جلا جلا باید وڅېړل شي او سړی یې باید ځان ته معلوم کړي. موږ ته ضروري ده چه په دې پوه شو او درک یې وکړو چه هغه هڅه او میل چه موږ د نورو سره تشابه ته ور دفع کوي هغه دافع دی چه د هغه ترشا زموږ او زموږ د دوستانو د ډېر سلوک برخه پرته ده او دا تا ته د هغو قوانینو بغض او یا د هغو تعلیماتو څخه د نفرت او بدراتلو علت درښئي چه ته یې د نورو څخه ګوښه او جلا کړی یې او د هغه تر شا څه رنګه ستا تر ددپه دې کښې چه ته اظهار یا عدم اظهار د فکر په هغه طریقه سره چه ستا دوستان او پېژندوی یې کوي باید و کړې او که یې ونه کړې.

خو په هر صورت زموږ مخې ته یوازې دا مشکل ندی پروت چه زموږ په اجتماعی خاجتونو کښې چه موږ د یوه حاجت د پر ځای کولو دپاره دافعه قوه هغې خواته

ور گرزاووودافعه قوي متابعت ددغه متابعت اودافعه قوي دور گرزولو دصحیحی اندازي تثبیت اوتعین و کړو او دا معلومه کړو چه ددغه حاجت په هر ځای کولو کښې باید موږ چه څه اندازه په دافعه قوي پسې ولاړ شو اومتابعت ئې و کړو ، بلکه کوم شی چه پدې باب کښې موږ ته مهم دی هغه دادی چه موږ باید ددغو حاجاتو دوجوددرک و کړو چه داحاجات موجوددی اوسته اودادرک و کړو چه کوم دانسانی سلوک تفسیر چه پردغو حاجاتو بنااو ترتیب مومی یعنی موږ ته ددې موضوع درک هم مهم دی چه دانسان دپاره ددغو حاجتونو دپوره کو لوپه لار کښې دسلوک اوطرز حیات مخصوص اسلوبونه او خاص وضعیتو نه ایجا دمومی چه موږ باید دهغو درک هم و کړو ، ځکه چه زیاتره زموږ دسلوک مسئول او زموږ ددوستانو اوخپلوانو او پلرو دسلوک مسئول تر ډېرې اندازې پورې زموږ اجتماعی حاجتونه دی . او په همدغو کښې موږ دهلکانو ، اوبالغانو دافعالوا وهغو چارو دتفسیر جوب چه دوی ئې کوی موږ ئې موندلای شودادې جهته چه موږ ټوله یو شانته بشری شخصیات او یو رنگه انسانان یواو دافعه قوامو سره متشابه اویوو بل ته سره ورته دی .



اوم فصل

په‌جنسي ضرور تو کښې نور حاجتونه‌سته :

زموږ په‌انساني حاجتو کښې چه هر حاجت ته سړی و ګوري‌داويلای‌شي چه دخلقو سره د ګذارې د ګرانوالی او مشکلوالی اساسي سبب هغه‌انساني حاجت دی داموږ دمخه و ويل چه جنسي عوامل زياتره زموږ د نورو احتياجاتو سره ګډاو مخلوط وی او داځکه چه جنسي دوافع زياتره‌اوقات عضوي او اجتماعي دافعو قواؤ لره متضمن وی يعنی زموږ په‌جنسي دوافعو کښې دعضوی او اجتماعي دافعوقواؤاغېزه اواثرموجود دی مثلا هرسړی‌ياسخی ښځه په‌جنسي معاملاتو کښې يودبل‌شکل او رنګ اودنياؤ دولت‌ته نظر کوی پرسړی‌دښځی دعضوی‌اواجتماعي قواؤددافع اثر لوېږی او پر ښځه د سړی ، زموږ په‌حاجاتو کښې‌کوم چه په جنسي خوا پوری تعلق لری زياتره د شخصي تکليف مشکلات له همدوی څخه پيدا کېږی ، يعنی سړی نه پوهېږی چه پداسي مواردو کښې ځان په کومه ښه کړی اوپه کوم رنګ او کيف ځان ته تکييف ور کړی ، ولی د جنسي دوافعو په حقيقت خورا لږ سړی پوهېدلای شي او هرڅه چه سړی ورته ځيرشی‌او فکرو نظرور واچوی چه حقيقت ئې سړی ځان ته معلوم کړی نشي ممکنه کېدای او دانه وويل شي چه ددې دوافعو حقيقت څه شي اود کومه را پيدا شوی دی ؟ لکه داچه هم څرګنده اوښکاره شوې ده چه که ئې کوم څوک په حقيقت پوه شوی هم وی خوددې دافع مخه يوې سمی او سالمی خواته نشي متوجه کېدلای .

موږ بايدحقايق لڅ کړو :

دا کتاب دا فرادواجتماعی اړ يواو حاجاتو ته خاصه توجه لری او په مخصوص ډول ئې څېړی ، اودعضوی عوا ملوچه په نورو کتابو کښې مفصل بيان شوی دی دلته موږ فقط ياد ونه کوو . ځکه چه‌دجنسي تطور جسماني او بدني نخښې ستا په ذهن کښې‌واضحی‌ندی نود ابه ښه وی چه ته يو کتاب چه په‌دې موضوع کښې تاته

نوی اوتازه معلومات در حاصل کړی مطالعه کړي .

څو ک و څو ک و ائی چه د د ر س هغه طر یقه چه مسخره آمېز ه نـوم ئې « دژوند طریقه » ده ا وس تبد یل شوې او تغیرئې خوړلی دی ، او ممکنه د ه چه ستامعلومات دی له جنسی حیثه زاړه اوداسی فرسوده شوی وی چه تر پښودی لاندی اوپای مال شوی دې وې ، تردې اندازې چه بعضی شیان چه تا ته در معلوم د ی او پېژنې ئې دغموض اوخفا په پرده کښې دی وی اودرته لڅ د ی نه وی ، مګر دلته ډ ېر داسی مراجع سته چه معلمین ، طبیبان ،دینی پوهان ، اود عمو می کتابخانو موظفین ستا را هنمائی کولای اودر ښوو لای ئې شی .

ایا ته چه په مکتب کښې شا ګردوې یو کتاب چه نوم ئې(   )

اود کتور کارل شو بنور تالیف دی تالوستی دی ؟ دایو کتاب دی چه لو ستونکی ته په هر عمر کښی فائد ه لری ، که دی نه وی لوستی وې لوله اوورور اوخورا ونور ملګری اودوستان دی چه غواړی معلومات ئې ډېر شی دد غه کتاب د لو ستلو او مطالعې توصیه ورته و کړه ، ددوی آرزو دغه رنګه په(   ) کښې هم لاس ته ورځی ، په دې باب کښې نور کتابونه دثانوی مدارسو د کتابخانو د کتابداراتو اومدبرانو څخه محفوظ پراته دی چه ددغه عمر دزلمیانو او پېغلانو دپاره ډېره مراجعه ورته کېږی دا معلومه ده چه په کتـابخانو کښې دهرعمـر دخلقو دپـاره کـتابـونه مـوجـود دی چه هر څوك ئې مطالعه کړی او حقایق ځان ته رو ښانه ، او د جنسی نشو و نما او دتطور علم دځان دپاره ورڅخه مکمل اوپوره کاند ی . . . .

او که کتابخانو ته نشې وررسېدای اودادی خوښه وی چه هغه اسا سی حقا یق چه دژو نداودنشوونما په باب کښی نن روځ په ډېرو مدارسو کښی پرو ګرامونه پرمشتمل دی او ستا څخه پا ته دی حاصل کړې نو دلته ځینی نور نشرات او کتابونه سته چه دخورا جزوی قیمت په مقابل کښی دمکتوب په ذریعه لاس ته در تلا ی شی مثلاً :

ته کولای شي چه لاندیني مفید کتاب چه نوم ئې

understanding Sen اودا یوه ضمیمه ده چه Science Research Associates, 2285 SouthWabush Avenue, Chicago, Illinois

نشر اوخپره کړ یده.

دغه رنګه ممکنه ده چه درسالواونشراتو هغه لست اوفهرست لاس ته دروستلی اومطالعه کړای شي چه

New-yokk city office of the Public affairs commitee, 22 eust, 38th street.

راباسي

ددې کتابو څخه دهر کتاب قیمت تر ۷ ، ۸ ، ۹ مصری قرشو نو زیات ندی .

ددې کتابو څخه مثلاً یواثردیوه واړه کتاب په شکل Building your marriage

اودادهغو کسانو دپاره دی چه نوی واده ته آماده وي ، بل کتاب د Building your marriage

په عنوان دی اودادهغو اتجاهاتو څخه بحث کوی چه په ځوانو و کلو کښې ئې تغیر لازم دی . Since mother was girl

اوس نودد ې دپاره مجال نشو پاته چه په کومو پوښتنواوسوالونو کښې د هری نوعی چه وی چه ته په حیرت ورته ولاړ ئې اوجواب ئې نشی ور کولای دهغو پوره اومعقول جواب ور کړ ې اوهیڅ خبط او ګډوډوالی دې هم نشی درپېښ او که جنسی مسایل تاته حیرت درپېښ او زړه دی په مشغول شی ، نودا ممکنه ده چه ته په همد غه باب کښې پوره معلومات حاصل او ډېرې خطا وی او اشتباهات چه په د ې باب کښې تاته درپیښې شوی دی اصلاح کړې .

په موږ کښې ډېر کسان لو ئیږي اوغټیږ ی اوورسره ورسره غلط اوخطا افکار چه دده په فکرمسلم اومنلی قضایا ورغلی وی وده اونشوونما کوی ، کله کله موږ دیوچا څخه یوشی واروونوورته وجوړ ېږو اوپربله خوائې را اړه وواوتأویل ئې کوو ،

او حقیقت او صواب ددې تقاضا کوي چه باید حقایق وڅېړل شي او د موضوع په باب کښې اساسي معلومات لاس ته را وړل شي ، ځکه چه بنسټ او اساس چه بنا او تعمیر باید پروشي هم هغه وی ، هغه چه زموږ د حیات دپاره د حقایقو یوه بشپړه او مکمله برخه ځني جوړ ېږي .

د کرازنه والی احساس :

انساني ضرور تونه او حاجات ټوله که عضوي وي مړه ول ئې ددې دپاره چه موږ ژوندي پاته شو مناسب او باید دی ، او که اجتماعی وی هم ئې مړه ول ددې دپاره ضروري دی چه یو خوږ ژوندو کړو ، او که جنسي وي د دې دپاره ئې باید ماړه او ترسره ئې کړو چه په جنسي حاجت کښې د و اړه حاجتونه چه اجتماعي او عضوي دی موجود دی - دا ټوله حاجتونه غیر له دې چه د نشاط و لو رې ته دافع او ور پورې وهونکي قواوي بل شی نه و رته ویل کېږي ، دا قوا ددې پرځای چه پرازی سړی هڅه ور ته کوي او مجرد او تش فکر پکښې کوي انسان کار او عمل ته ور شرمه کوي ، اود اموږ ټولو ته معلومه ده چه په موږ کښې چه د حاجتونو شخه یو حاجت هر یو چه وي ویښ شي فرق نه کوي که ئې نشاط شعوري وي که غیرشعوري موږ د یو قسم کراز نه ده والی احساس کوو ، او دا احساس او شعور زموږ ارام او راحت او اطمینان را و یجاړ کړي نوموږ ددې ته اماده کوي چه دد غه کراز نه والي شخه یو شه یا پرمخ ځان فارغ کړو . تر دغه وروسته موږ بېرته ارام او خاطر جمع شو او زړه مو بې پښتیه شي ، یعني چه زموږ د حاجتونو شخه یو حاجت موږ شي نو کرازنه والی راشخه ولاړ شي - دا خبره د ټولو بشري حاجتونو په باب کښې صادقه ده .

خوب دستړ یا هلاکیت بیائی ، د کار خلاصېدل په کامیابۍ سره هغه هلاکیت هیسته کوي چه هغه د یوه مرام د لاس ته راوستلو دپاره سړی ته ور پېښ وي ، خو خبره یوه ده حاجت چه د هري نوعی شخه وی که عضوي وی که اجتماعی .

مگر دجنسی هلاکیت او کړاؤ ندوالی په باب کښې خبره څنګه ده او څه باید وویل شی ؟ پر هغه باندی غلبه همېشه نه وی اسانه. کله کله ته سینماته د خپلی اشنائې سره ئې، اوددې دڅنګه سره په تیاره کښې کښېنې یو لاس دی پرراګرزولی او بل لاس ئې ستا په لاس کښې وی نو دیوه خوازه او خونده ورشعور احساس کوې او تاته دد معلومه سی چه داتاته حاضره او اجابت دی کوی دا یو محبوب شعور دی، مګر که دغسی نورهم پسی ور نژدې سې او دغه وضعیت ته دوام پسی ورکېددې شعور پرځای به یوشعور ودرېږی چه هغه ته له دخوشحالی او سرور شعور نه وی، او په دغه وخت کښې به ته په دې وپوهېږې چه ستا حالت او موقف ته له درضاموقف ندی او دخپل دغه موقف څخه ته پوره نه ئې راضی، ځکه ته چه خپل وضعیت ته ددوام جرئت هم نلرې، بلکه ممکنه ده چه تاته دی دتأسف شعور چه ولی دی وضعیت ته تر دې اندازې دوام ورکی هم در پېښ شی. نو اجتماعی تنظیمات او قوانین خپل قیوداو حدوداو قروغونه لری او هغه تاته داحرامه او ناروابولی چه د دې هلاکیته څخه ځان فارغ کړې نو به دغسی مضطرب او کړاؤ نده پاته ئې.

ځکه نوموږ ته ښه داده چه دداسی شعور سره تر آخره نشوروان چه په آخر کښې زموږ دپاره دهغه څخه اضطراب او دطبعیت پریشانی را حاصله شی.

داسی کیفیت او حالت په هغه وخت کښې چه یوزلمی او پېغله یوله بله سره نژدې شی پېښېږی یا یوه تجربه ده چه په دوی دوو کښې یوه خوشحالی او سرورژوندی کوی مګر دغه رنګه یو اضطراب او پریشانی هم پاتوی چه دهغې څخه هلاکیت پیداسی داځکه چه عرف مخ ته ودرېږی، او زړه ته دو دونه او رسم او رواج درو ګرزی. دپېغلا نو سلوک او رفتار په داسی غوندی مواقفو کښې سره مخالف وی. مثلا یوه پېغله چه خپل اشناته ئې مچه ور کړه ځان ګنهګار بولی او شرمېږی چه دخپل یوه حق څخه ئې دمچی په ذریعه استفاده و کړه، بله پېغله بیاځان لیری ساتی

سره لدې چه ټو کی او ټکالی او مچی ئې خوښی وی ، بلکه بیاده چه په هیڅ ډول دې شیانو ته نده آماده او د دغه خپل جمود او خموده شخه په اضطراب کښی ده.
نو په دغو حالاتو کښی به سړی شه کوی او یو صحیح موقف چه سړی ئې باید غو ره کړی کوم یو دی ؟

داسی غوندی سوال پرزړه باندی یو په بل پسی سړی ته ور گرزی مثلاً یو زلمی د خپلی آشنائی پېغلی سره وروسته د ماښام تر مجلس ددې تر کوره پوری ملگری کوی چه داخپل کور ته ور سوی، نو داد ځانه شخه سوال او پوښتنه کوی چه آیا ده ته اجازه ور کی چه ددې شخه مچه واخلی؟ آیادی ددې شخه دغه هیله لری؟ ایاددې ز لمی دا گمان کوی چه که دا منع و کړی دی به ئې محافظه کاره و بولی . ځو ان د ځانه شخه پوښتنه کوی چه د پېغلی نه که دی د مچی غوښتلو په باب کښی ډېری زاری او جگړه ور ته و نکړی ددې به دا گمان شی چه دی لا تر اوسه یو کوچنی هلک او اوم او شرمنا که دی ؟ په همدغه ډول د ماښام مچه په اسرار و کی نغښتې او پېچلې ده موز ته اضطراب او شاقسمه رمزو نه او اشارات راته پکښی موجود دی نو د ځانه سره په یو پوښتنو کښی یوه مچه یعنی شه ؟ هر شی غیرله مچی شخه شه معنی ؟ دا ټوله شیان که مچه وی که نور شه غیرله دې چه یو دوستانه او د مینی التفات دی بله کومه معنی لری ؟ او که موز له یوه داسی شی سره تړی چه موز ته ئې حقیقت ندی معلوم .

نو که موز د مینی د کوم یوه شعور په اظهار تسلیم و کړو ، نو د دغه شعور د اظهار مقبول حد کوم دی او پر کوم حد باید ودرول شی؟ داهغه پوښتنی او سوالونه دی چه همېشه هلا کیت پکښی پېچلی دی فرق نه لری که د قلق او اضطر اب د شعور خبره وی ځکه چه انسان کله په گنه ککړ شی ، او که شعور په هغه خوند سره وی چه د انسان سر بېره پردې چه خوند اخسیتل ئې د لاسه ځنی پوره وی مگر پر یوه معین حد ئې ودروی . او که شعور په هغه اضطراب وی چه هغه د استجابت له عجزه شخه پیښ وی که شه هم د هغه بل طرف جاذبیت موجود هم وی .

دا تجاهاتو تطور : (داند ېښنو بدلونه)

دا هلا کیت او کراز ندوالی له هره قسمه چه وی ـ چه موږ ئې دمخه اقسام وویل دزیاتر وزلمیا نو او پېغلا نو دپاره داضطراب دپیدا کېدلو مصدر گرزی فرق نلری که ددوی فکر مشکلې ته وی او که نه وی یعنی که دوی په پوه وی که نه وی پوه او که ئې دحل او فصل لار ور معلومه وی او که نه وی ور معلومه. زیاتره دانسان دعجز فکر او شعور هغه وخت نور هم سخت او مشکل سی چه داپریشان کوونکی اعتقاد ور پېښ شی چه په دې لومه کی راتلل زموږ سره نه دی منا سب نو هلا کیت نو ر هم پسی شد ید او اضطراب نور هم زیات شی دا ددې جهته نه وی چه موږ اراده لرو یا موهوا کېږی چه نوره مغازله او مینه و کړو بلکه ددې جهته وی چه موږ ځان په دغه تجربه کښی دغه موقف یادغی اتجا ته راورساوه او ځان مو په دې حال ککړ کړ .

داتر ډېره حده پوری دهغی مشکلی سره مشابهت لری کومه چه یوه نجلۍ ور سره مخامخ شی داسی نجلۍ چه مخ ئې دټپلو ډ ک وی ، نو ددې حقیقی مشکله ددې دمخ په منظره کښی نه ده بلکه ددې په هغه موقف کښی ده چه دا موقف دمخ په واسطه دې ته ور پېښ شویدی . او یا هغه زلمی چه په ونه ټیټ وی ، نو ده حقیقی مشکل دونی ټیټوالی نه دی بلکه دده موقف اودده ځان او دغه حالت ته نظر دی .

زیاتره اند ېښنې دژوند په لمړیو روځو کښی شروع کوی او انسان ته ور پېښېږی ، جنسی اند ېښنې هم دغسی دی او په لمړیو کلو او په داسی اوقاتو کښی دا نسان پرزړه پیدا شی چه دخوف او خجالت روابط هم ور سره جوړه او مو جودوی . د کو چنیا نو هغه سلوک چه دجنسی ناحیې سره رابطه ولری که څه هم خورا لیری رابطه وی په سزا او تهدید سره مقابله کېږی ، دهلکانو هغه پوښتنې چه پر جنسی اساسو نو نه وی بنا بلکه صرف د ځان د خبرولو او دمعرفت دحاصلو لو دپاره وی دمور او پلار او مشرانو له خوا په کبرار او کښته ز ع او دنفرت او قهر په ډول مقابله کېږی نو دهمدغه وضعیته څخه سوء تفاهم او حیرت پیدا او نشئت مومی ددې څخه هلک ته دا عقیده پیداشي چه په جنسي اعضاؤ پوری مربوط مسایل دممنوعاتو او بد وخبرو څخه گڼل

کېږي ، او دافکر په ټول عمر کښي ذده سره ملګري وي نوئې راتلونکي او په مخ کښي ژوند وروران کي . هغه اندېښنې او اتجاهات چه انسان ئې له ځانه سره اخلي دانده لازمه چه دهغو اسباب به ئې په زړه وي یا به ئې ددوافعو او بو اعثو فهم کوي بلکه دغه اندېښنې دوام و کی او بې له هغو شخه روانی او د انسان سره وی .

او سړي ته دیوه تصادف په ډول دیوه مناسبت او تقریب په اثر وروپېښي شي څو هغه تقریب او مناسبت زوړ بلکه پرمخ هېر او محوه شي او دوی پاته وی . ددې تفسیر او تفصیل دادی چه د بدن او جسم ځیني ځایونه او اجزا د مېنلو په وخت کښي تر نورو اجزاؤ په حساسیت کښي زیات وی . نو هلک صرف د تصادف په ډول په هغه وخت کښي چه په شونډو انو بازي کوي او ګوتي په وهي دخوند او لذت احساس کوي او په آخر کي ګوتي د شونډو انو شخه هیسته کی او دا یو دشرم او خجالت مسئله نه بولي ، مګر که د تصادف په ډول هلک داسي یو ځای وموزي چه دهغه حساسیت د پروړلکه دده تناسلي اعضاء ځکه چه خوندور کوي نو دوام پسي ور کوي او موښلو او ګره ولو ته ئې وجوړېږي په دغه وخت کښي مشران او لویان په تریو تندي او په قهر او شدت دی منع کی نو دهلک دسوء تفاهم او حیرت باعث و ګرزي او دده داخیال شي چه هر څه خبري او ابحاث کوم چه په تناسلي اعضاؤ پوري اړه لري ممنوع او دشرم شیان دی باید سړی ځان ځني وساتي ، او داشعور او فکر دده په ټول عمر کښي موجود وي نوئې د آینده ژوند سالم تکلیف ور خراب او ویجاړ کړي . زیاتره هغه افکار او اتجاهات چه سړی ئې اخلي دې ته ضرورت نلري او نه د دې استلزام کوي چه سړی دی د دوی اسباب ور په زړه کړي چه دافکر او اتجاه ده ته د کومه ور پېښ سو او نه دې ته ضرورت وی چه د دغه فکر او اتجاه د دافع فهم او درک دې و کړ ی چه کوم شی وو چه د ی ئې د ې فکر ته ور دفع او جذب کړ . بلکه دافکر او اتجاه په یوه عارضي او تصادفي ډول په یوه آني او ژر تېر ېدونکي صورت ده ته دیوې زمانې مناسبت او تقریب په اثر ور حاصل شي ور وسته نو مناسبت او تقریب زائل شي او فکر د ده سره

پا ته شي د دې پوره تفسير او بيان دادی چه د بدن د ځينو اجزاؤ حساسيت د ميلو پر وخت تر ځينو نورو اجزاؤ ډېر وی . هلک ته په تصادف او لاشعوری ډول دا معلومه شي چه شونډ انو ته ګوتې ور وړل او د شو نډانو مبتل خوند کوی ، څو ګوتې ور وړی او وې مبنی بيائې بير ته په لاشعوری ډول ځنې هيسته کړی او په دې ډول ډېر او اوراهيسته کولو کی دی نه شرم کوی او نه د کوم خجالت احساس کوی مګر که تصادف خپل رول ولوبوی (وهلک يو ځای چه حساسيت ئې د جسم تر نورو ځايو ډېر دی لکه تناسلی اعضاء و مبنی نو د خوند شعور ، او د لذت احساس و کی نو دوام ور کړی او پسې مبز ی ئې نو مشران ا د مور او پلار ئې قهر ور ته و کړی او په شدت سره ئې منع کی دی همدغه سلو ک ته دوام پسې ور کی او د هلا کيت (توترو) هغه شعور پکښ معکوس سی کوم چه د ئې د کوچنيوالی را هيسته مخ و هغه خو اته کړی وی هغه دا چه دا قسم کارونه بد دی او سړی بايد ځان ځنې وساتی ، نو د ده ناز ک او خو ند پخوانی حر کات تبديل و مومی او د هغو پر ځای قهر او شدت چه دی نه ميل ور ته لری او نه د ده مقصد وی ځای و مومی حس ئې کوی او پر لار ئې ځی او اجابت ئې کوی ، په همدغه تو ګه هلک خپله توجه د موضوع خواته راو ګرزوی او په تناسلی اعضاؤ کی په دې معنی تفکر شروع کړی چه دا يو ممنو عه او کو رغ منطقه ا و لير ی والی ځنې لازم دی ، او دا ور معلومه شي چه دې کار ته هر ډول نژدېکت د ده د تهديد او مقهوريت سبب ګر ځی .

اتجاهات (افکار) په خجالت اميزه رنګ رنګېږی :

دا معلومه ده کوم وخت چه هلک په خپلو ګوتو ساعت تيری کوی او تناسلی اعضاؤ ته ئې ور وړی يائې په موزی د دې څخه د ده مقصد فقط همداوی چه بدنی لـذ ت ته دوام ور کړی او د خو ند او مزې احساس نور هم پسې و کړی خو لويان او د ده هغه مشر ان چه خپل مخصوص افکار او اتجاهات د هلك پر مسلک او عادت تطبيقو ی د ده دا په ګوتو او تناسلی اعضاؤ لوبی کول يو خسران آوره عمل او بد مرغه کار بو لی نفرت ځنې کوی او دی ځنی را ګر زوی .

داسې غوندې وقايع چه د جنسي معنی څخه خالي وي ددې سبب وګرزي چه هلک اوي شي او په فکر کښې ئې داوې چه د جنسي اعضاؤ سره چه هر شی او هره خبره ارتباط اري هغه بد او کرغېړن دي. مور او پلار په خفه کېږي او ددوي د قهر او غضب سبب ګرزي او ددوي دوو شديده منع چه وويني دا الهام ورته وشي چه دوي په دې خفه کېږي او د ناراضيه سبب ئې ګرزي. ددوي زغ او مخ بدورته نيول او نا ځا په شديده مداخله سمدستي د ه ته دا ښکاره کړي چه هغه عمل چه يو حسي او احساسي لذت دي دده په زړه کښې د عيب په معنی پوري ارتباط مومي. مګر په دې کې هيڅ شک نشته چه هلک د ومره فکرونو او داموضوعاتو دده تر طفلانه شعور او ادراک لوړ وي، مګر دي بيا هم دغه حرکات کوي او که څه هم د ممنوع او ګناه په نظر ورته ګوري خو ځکه چه خوند ورکوي او مزه پرا خلي کلونه ئې جاري وساتي او دوام ور کي په دې واسطه چه جنسي طبيعت وي په آخر کښې دا شعور او فکر په هلک کې شدت پيدا کي او د استطلاع او ځان خبرولو مينه پکښې پيداشي څو بالاخر بايد پوښتنه او سوال و کړي: کوچنيان د کومې خوار ائحي: اوبيان ددې په ځواب کې حيران او ځکه مات او مبهوت سي چه دوي نه غواړي ددې پوښتني صحيح او واقعي جواب دوي ته ور کي، بلکه تندي لا هم ورته تريو او چهره په قهر ورته ونيسي.

هلك دې ګمان ته مجبور شي چه اګه زه چه د يوې خورا بدې او کرغېړني موضوع پوښتنه کړېده، کله کله هلك خطا باسي وي غولوي او قهر ورته وکي ورته وائي: «ښه هلك داسې پوښتني نکوي» په دغه وخت کې د هلك ذهنيت دې ته متوجه شي چه دي خو يو نالايق او ګنهګار مخلوق دی که لار ښوونې او مشر د هلك لاس وهل په خپلو جنسي اعضاؤ داسې وبولي اګه په پزه يا شونډو ئو ياستر ګو چه لاس وهي، او که ئې د پوښتني ځواب چه هلکان له کومې راځي په داسې عادي ډول تلقي کړي اګه د هلك دا پوښتنه چه: «باران د کومې خوار ائحي»

او هغسې عادي خوب ورکې هيڅ اضطراب او حيرت به ور پېښ نشي او نه به دهلك ذهنيتونه او اتجاهات انفعالي او خجالت آمېزه رنګ ومومي. ستا به په زړه وي چه تا او له پلادا پوښتنه وکړه ! چه کوچنيان څنګه زېږي ؟ او دا به دې هم په ياد وي چه مشرانو او اولياو د دې پوښتنې په ځواب کې څه درته وويل ؟ د دې پوښتنې ځواب به اکثره هرچا د نسيان او هېرې تر پردې لاندې شوي او ترار وېدلو وروسته به د فکره څخه وتلي، مګر د لويانو هغه رويه او ذهنيت چه د موضوع په مقابل کښې دوی د ځان د پاره غوره کړې وي د هلك په فکر او دماغ کښې يو عميق اثر او اغېزه ځنې پاته شوې وي ستا په ياد يېږي چه ستا په خپل زړه کښې څه اثر ځنې پاته شو او پرتا پخپله ئې څه اثر وکې؟ په دې مسئله کښې د مشرانو اولويانو موقف تر هغه اندازه چه زيات ره خلق ئې تصور کوي په اثر او قوت کښې لوړ او ډېر لوړ وي. که تا فکر پکښې کړی وي که دی نه وي کړی او که ئې درك کولای يائې نسی کولای دغه ځواب او د مشر د غه موقف ستا د ذهنيت او فکر په توجيه کښې د کوچنيوالي له ور ځو څخه پوره اثر کړ يدی اکه ستا په ذهنيت کښې چه ئې د مراهق والي په وخت کښې کړيدی بلکه سر بېره پر دې تر ننه ورځې پورې لاهم ستا پر زړه او فکر يو فعال اثر او اغېزه لري. او اکثر اوقات ستا په زړه کښې دا ذهنيت او شعور په شدت پيدا کېږي چه هر څه چه د جنسي اعضاؤ سره تماس او ارتباط لري هغه خطا او ګناه او معصيت دی او دا ذهنيت ور سره موجود وي چه زه ګنهګار او خطاکار يم او د دغه اعتقاد تر ثقل لاندې ضعف الاعتقاده لوی شی دائې خيال وی چه دی يو شاذ او غير طبيعي انسان دی ولی چه ده خپل ځان ته اختيار او اجازه ورکړه چه فکر وکې او په جنسي مسائلو کښې ری ووهي او د ده د استطلاع سره يوه عادي او پاکه بې الايشه مينه دده دې شعور او ذهنيت مصدر شی چه دی ځان بد مرغه وګڼي او دا چه ده ګنه او معصيت وکړ. هلك په خپل دې کار تل په حيرت او تعجب کښې وی، مګر د پوښتنې څخه قطعاً ځان وژغوري او کوښښ ئې نه کوی څکه دی ځان لپې څخه ژغوري چه

څوك به د ه ته قهر كوي ، يا بله بلا بيا پر دې پوښتنه سپك او تهديد شي ، نو د داسې غونډې افكار و د پټو لو تظاهر كوي سره له دې چه په زړه او دماغ كښې به ئې ساعت او ګړى ګرزي او يو آن به نه وي څنې فارغ .

غلط تفسيرو نه او عجيب و غريب تاويلونه او بيا نو نه ئې خوا او خاطر ته لار پيدا كړي او هغه ئې د معلوماتو اساس و ګرزي ، او هيڅ كله ئې دا دلاسه نشي پوره چه يو صحيح او معقول بيان او تفسير او تشريح وا روي و لې دي دار يږي چه لويان او مشران دد اسې مردارو خبرو په كولو او د دغو كرغېړنو مسائلو د تفكر او څېړنې په ګنه و نيسي او نوم به ئې ور بد او متهم به ئې كړي ، نو د دې پر ځاى چه دى د جنسي مسئلې او طبيعي علاقې په باب كښې چه د اولادو نو زامنو لو نو ، نارينو ، ښځو په ژوند كښې سره موجوده ده ، يا دا چه دى څنګه دې دنيا ته راغى صحيح حقايق او معقول معلومات ځان ته حاصل كړي نيمګړى او داسې ناقص حقايق چه په شرم او خجالت ككړ وي ور ته وويل شي چه هغه ئې د آينده تو له عمر د پاره د اضطراب او د خيال او فكر د پرېشانۍ سبب و ګرزي ، نو دى خپل تو له معلومات اوس پر داسې اساس و نو در وي چه هغه عبارت له د اربېرى او هغه ناقص حقايق او ذهنيتو نه چه له بېرى او حوف او تهديد و نو څخه سرى خورا لېز كولاى شي چه هغو ته يو تأ ويل يا تفسير و ومې . دا بيان تر يوې اندازې پورى ستاد پخوانيو روحوده وتف سره مشابه ندى ؟ آيا تا ځان خبر و لې ته هڅه نده كړې او بيا دې بېر ته ددې جهته پښېماني نده ښكاره كړې څكه چه دا شعور در پېښ سي چه كه داسې پوښتنې و كې ګنه ګار به و بلل شي ، او د ځان په باب كښې حيرت ندى در پېښ شوى چه څوك پيدا كړې او چاته مراجعه و كړې چه هغه دى د حيرت در رفع كړي او پر سمه لار دى روان كړي ؟ آيا په دې اضطراب ندى در پېښ چه پدې باب كښې ستا معلومات لېز دي ، او په زړه كښې به دې شر مېږې چه دخپل ځان د پېژندلو په لار كښې ، او ستا علاقه له بل جنس سره چه ته ئې ور سره لرې به هم هغه لار كښې دى معلومات لېز دي .

جنسی مشاعر طبیعی مشاعر دی:

اوس به موږ د مسئلې تصویر په یوه واضح ډول وکړو . جنسی طبیعت یو نادر یا بد او کرغېړن کار نه دی بلکه هغه جنسی ژوندون دی چه کورنۍ پرو لاړه ده هغه کورنۍ چه زموږ د ثقافت اساس ده دا یو طبیعی او سم او معقول کار دی چه پر زلمی پېغله او پر پېغلی زلمی گران وی ر ښتیا او حقیقت داد ی چه زیاتره هغه مشکلات چه د عمر په دو هده مرحله کښی د زلمیانو او د هغو ورونو او خوند وشقاوت او بدبختۍ سبب گرزېدلی چه تر دوی مشران، وی قوله د هغه ثقافت او مدنیت نتیجه ده چه موږ اوس ژوند پکښی کوو ، یانې اقلا د سبب لار اورگه په هغو ذهنیتونو کښی پسی ور اخیستلای شو چه هغه پدغه اوسنی مدنیت او ثقافت کښی تسلط او سیادت لری ، او دا ډېر لوی اهمیت لری چه هغه ثقافات او معلومات چه تازه ځوانان او پېغلانی یې د جنسی حقایقو تر سیوری لاندی په او له ابتداء او د ځوانۍ په لمړ یو روځو کښی ضمناً او د عارضی طریقې څخه چه هیڅ پوښ او پر ده یا ابهام نه وی پکښی موجود هلکان او ځوانان به د دغو مشکلاتو سره چه اوس به موږ او زموږ په دوستانو کښی رواج دی نه وی مواجه .

مارگریت مید Margaret Meud ددې اشکال په خپل کتاب Coming of Age in Samaa کښی په علاج کړیدی او ویلی ئې دی چه په وطن او مملکت کښی نوی هلکان او نجونی یو ازی دا نه چه د لوئېدلو په وخت کی جنسی مشکل په معلوماتو کی هغه یا نو نه چه علمی او واقعی وی نه وی ورته بیان سوی او دوی نه وی په خبر بلکه سر بېره پر دې د نشوونما په قوله عملیه کی د اتجاهاتو (ذهنیتونو) له حیثه سره مختلف وی یعنی پر مړانه او بلوغ نوی راتلونکی طبقه ځکه چه د هر یوه فکر او ذهنیت د جنسی مسئلې په باب کی ځانته ځانته وی او هر یو د کورنیو وصایاؤ په ذریعه چه په دې موضوع کښی ورته شوی یانې ارو ېدلی وی خاص ذهنیت ور حاصل شوی وی نو ددې تو او څخه نتیجه هم دا او تلې وی چه د (تو تر) کراز ندوالی او جنسی آرزو گانو حالات د دغو

ممالکو په کوچنیانو کښې هرڅومره چه روحي پرتوپریږي اولوییږي مخ پر محویت او انعدام وي.

ځکه چه امریکائي ځوانان او پېغلانې په یوه داسې محیط کښې ژوند اولوینت کوي چه دهغه محیط اوضاع او ایجابات دهغه محیط څخه چه د(ساموا) ځوانان او پېغلانې ژوند پکښې کوي خوراډېر فرق لري نو دامسکنه ده چه هغه ډېر از ندو الې حالات چه د امریکائي کوچنیانو او نوبالغانو ترمیانځ پېښیږي دځینو چارو او اعمالو په واسطه لېز او سپك کړای شي، خو په هغه صورت کښې کېدای شي چه د دوی سره مرسته وشي او پهٔ دوی دد وی خپل ځانونه وپېژندل شي او دوی دخپلو ځانونو فهم و کړي، او ددوی دپخوانیو او تېرو تجربو او هغو معلوماتو دتأثیر په انداز ه پخپلو اوسنیو او حاضر وشخصیتونو کښې پوه شي. یعنې دوی ته داور معلو مه شي چه دوی پخوا څنګه وه او پر څه حال وه او اوس څنګه او په څه حال کښې دی.

د کوچنیو هلکانو او نجنو په لوبو کښې دډېره برخه او لو یه حصه د جنسیت په داسې او صافو مو صو فی‌دی چه فقط یوه یا که اوبې آلا یشه تجربه ورته ویله کېږ ی چه ددوی پخپلو مابینو نو کښې په صراحت او پوره وضاحت او ښکاره سره اجرا کېږي، او ددوی دالو بی په یوه بته خندا او مساچه هیجان او هڅه هم پکښې مو جو ده وي او یوه نوعه پوټ برهاري او گوښه گیري چه په عین حال کښې (شعور بالاسم) ځکه چه دوی دخپلو بلر و په ور اندې جرئت نشي بر کو لای ور سره ملګري و ی

دهلکانو او نجونو په دغو لوبو کښې چه موږ اشاره ورته و کړه ذاتاً څه عیب او ضرر نشته خودو مره خبره ده چه دغه هلک یا نجلۍ ته ددې ذهنیت تکالیف هغه وخت ور رسېږي چه دوی کوم نې رول یا د پر ستارې یا د علاج او طبابت او دا کترۍ رول لو بوي نو په دغو مواقعو کښې دوی ته دغه ذهنیت ددې سبب شي چه د گنه او شنیع کار شعور کوي او پر ځان ئې گمان بدوي، او ددغو درو حالا تو په شان چه د عمر په رو ځو کښې په جنسي مسائلو پورې مربوط په آینده ژوند کښې د هر شي سره مواجه کېږي چه په پېښه

ستر گه او دفحاشۍ په نظر ورته گوري ، او دادهغو اسبابو څخه دي چه د يوه انسان عادي سلوک د عمر په آخره مرحله کښې په انفعالي حدت او اضطراب سره موصوف کړي.

بوښه چه په دې لو به پوه وي چه دا په وړو کتوب کښې لا د جنسي مظهر نخښه لري سر بېره پر دې چه د کوچنيا نو په لو بو کښې يو طبيعي شي دی او په دې هم پوه وي چه کوچني او وا ړه ته د جنسي اعضاؤ په کتنه او لاس وروړ لو کوم تاوان نه پېښېږي او نه په دغو اوضاعو د هلک اخلاق خرا بېږي ، دغه سړی او دده امثال چه د هري چا ري او هري مسئلې پر فهم او ادراک ئې ښه اقتدار در لودلی وي او پوره ئې فهم کړې وي په دوا ړو اجناسو کښې خپلو دوستانو او خپلو انو ته د يوه داسي آينده ژوند بنسټ ايږدي چه د سعادت برخه پکښې ډېره او يو با کيفه ژوند وي .

دا ټو له شيان ، او هغه غم آوره او تکليف او دردېښوونکي اتجاهات چه د جنسي ژوند و خو اته د علمي او وظيفوي نقطهٔ نظره څخه متوجه دي داسي مشکلات پيدا کوي چه د هغو علاج غير له دغو معلوماتو له درس او بې له دې څو په سر سره پخپله د همغو اتجاها تو د تشکيل اعاده و نکړای شي په بله تو گه او طريقه سره نه وي ممکن لمړی لازمي او ضروري گام په دې لار کښې دادي چه موږ دغه اتجاهات و پېژنو او هم بڼې پوه شو او دارا معلومه شي چه دوي څه ډول نشئت و موند او څه ډول پيدا شول .

د عمر په ۱۱ ، ۱۲ کال کښې چه بدني تغيرات پيښ شي يوازې د جنسي مر غړ يو نشاط يوزاي د هغو مشکلا تو سبب نه وي چه پر دوي باند ې راځي ، بلکه نجلۍ چه د حيض او دسيني در ا پور ته کېدلو او د تيو په کولو ويو هېږي په زړه کښې ئې اضطراب او انديښنې ور پيداشي . دغه رنگه هلک او زلمی هم په قسم قسم افکار و اخته، او د نجلۍ په بدن او په جنسي اند ېښنو او احتلام ئې فکر مصروف وي ، دغه شيان وي چه د ډېرو خوا بو ته گيو سبب گرزي . نو هغه نوي اتجاهات او افکار چه دې ته ور معلوم وي د دې د در د او الم او حيرت سبب گرزي بايد مرستهٔ ورسره و کړای شي چه دا د دغو اتجا هاتو په کار و پوهېږي او د هغو پر ځای نور نور و افکار و او اتجا هاتو ته نشوونما او تنميه ورکړه شي .

نومچې ته هڅه ، او بعضی ناز کې مسخرې یا یو ې قصې ته چه بعضی جنسی اشارات او تلمیحات پکښې وی داتو له هغه کارونه دی چه ناوړه او بد نه بلل کېږی نوزلمی دې زړه آرام اری او خاطر جمع دې او سی ځکه چه هر څه چه دده په اند پښنه کښې د جنس پیاب کښې ور گرزی هغه ټوله د ناروا او محرماتو د بابه څخه ندی ، او شاید چه زیاتره هغه شیان چه موږ ته تکلیف او زحمت را کوی زموږ د ناوړه او بیځایه توجیه مولود دی .

په دی ډگرکی فردی فرقونه:

موږ باید د فرد د جنسی اتجاه او تمر کز په موقع کښې چه د و کومی خو انه متوجه کړی وی پرده د حکم په وخت کښې احتیاط وکړو او وارد واره بې له پوره غور او دقته څخه دیوه سره د جنسی اتجاه په اساس حکم پرو نکړو ، ځکه افراد لکه په ټولو شخصی خصوصیاتو کښې چه سره مخالف دی او فرق سره اری همدغسی دافرا دو تر میانځ د تفکیر په مظاهرو او د جنسی سلوك په باب کښې هم اختلاف او فرقونه موجود دی بعضی کسانو ته په زړه کښې د بعضو تصر فاتو څخه د گناه یوه لو یه کر که او خوف ورلویږی په داسی حال کښې چه بل ته هغه هیڅ هم نه معلو میږی او د ډېر جزوی ، او معمو لی ئی بولې بلکه خیال لاهم نه پکښې و هی نو ښه او بهتره داده چه ته پر خپل ځان یو شامل او پوره معرفت حاصل کړ ی چه د هغه په ذریعه تا ته خپل ځان در معلوم شي چه ته په څه اندازه د تحمل قابل ئی او کوم کوم شیان تحمل کولای شې ، نواوس دانده مهمه چه ته هغه کارونه وکړې چه ستا همزولی او ملگری ئی کوی بلکه اهمیت داخبره لری چه ته هر څه چه کوې داسی ئې وکړې چه نه دې پر زړه زحمت درسی او نه دی په ضمیر کښې خراش پېښ شی ، په عمومی ډول تاته د ا ممکنده چه ته هغو مره قدر او اندازه کار وکړې چه د هغې اندازې د پاره ته روزل شوی او تربیه در کړه شوې وی ، او که ته د مخه تر دې چه خپله و جدانی پختگی داسی مکمله کړې او دې اندازی ته ئې

ورسوي چه دهغې په واسطه دومره قدرت په خپل ځان کښې ومومې چه که ته دهغو افکار او نواميسو په مقابل کې چه دموږ پلار او نيکونو په ډول تاته درپاته دي راووزې دارا وتل او په مقابل کښې درېدل به غير لدې چه د هغه نشاط او نشو نما پر ځاى چه ته ئې هيله لرې تاته حسرت او افسوس در حاصل کړي بل څه به لاس ته در نشي .

دبل جنس (ښځو) څخه داستفادې اندازه په افرادو کښې مختلفه وى او داتمايل هم دنورو تمايلاتو غوندې دى چه څوك کم تمايل لرى او څوك ئې ډېر لرى په چاکښې ډېر په چاکښې لږ وي، نو که په تا کې هغه تمايلات او خواهشات او هڅې چه په نورو کې موجود وى نه وى موجودې بايد مضطرب او خفه نشې بعضې زلميان مغموم کيږي سره لدې چه ځنې نور بياغم او هم د سره پېژني لا نه، ځنې بياد گناه شعور او احساس زهيروي په داسې حال کې چه ځينې نور زلميان بيا فکر نه په خرابوي او هيڅ چرت نه پکښې وهي او صرف يو ملال غوندې ورپېښ شي او ذکر کې او پښېمانه شعور او احساس نه پکښې پيدا کيږي دښځو سره دمعاملې او د دوى سره دتعلقاتو په باب کښې کوم يو داسې لار ښوونه او راهنمائه دې موجود چه دټولو خلقو لار ښوونه دې وکړي او ديوه دستور او قانون غوندې دى ومنل شي ، يوه او هوښيار سړى هغه څوك دي چه ځان ئې وپېژانده او د ده سلوك د ده دسجيې او اخلاقو هينداره او نماينده وي نو ته ځان ته مراجعه وکړه ښائي چه په تا کښې دې بعضې شيان موجود وى چه د هغو شيانو په شاؤ خوا کې ديوه نفسياتو ديوه باخبره او ازموېلي سړي سره چه ذاشان روابطاو علاقات پرراغلې وى مشوره وکړې.

گاهې داسې پېښه شي چه موږ دخلقو درضاد حاصلولو په شوق ځان بالاخر وجدانى تاثر ، او د گناه شعور ته عرضه کړو څو دا شعور موږ دې ته اړ باسې چه د خلقو سره گډون او اختلاط پرېږدو او ترک ئې کړو. که موږ دخلقو سره سيالي دمعقوليت

او منطق په حدودو کښې و ګرځي پروا نه لري . مګر دا به حماقت او ډېره ساده ګي وبلل شي چه موږ ځان د صحیح او سالم تفکیر له الهاماتو او پیش نهاد ه ځان وژغورو او غاړه ځنې وغړوو نو به دې اساس او سدا په کار او لازمه ده چه موږ د نورو مخالفت و کړو . کله کله یو بې معنی او بې ځایه تمایل موږ د نورو خلقو د رضا حاصلو او ته ور کش کاندي که موږ د ځان سره سر په ګریوان کړو په خپله به د خپلو ځانو څخه لانه یو راضي او دا خو واضحه ده چه په موقتي او آني رضا موفقیت موندل په هم دغسې ظروفو او حالاتو کښې هېڅ کله د قلبي او نفسي اطمینان او د ضمیر د راحت سبب نشي ګرزېدلای کله داسې پېښه شي چه موږ پدې هیله یو چه د بل جنس (ښځو) په معاملاتو کښې به موږ موفق شو ، او ددې سبب هم داوي چه موږ ته هغه جملې او عبارات چه دېوه سالم او معقول ؤ مؤثر منطق او اظهار څخه تراوش کوې نه وي را زده لوم او په هغه باب کې جهل را حاصل وي ، او پدغه موقع کښې موږ ته دا راپېښه وي چه هغه پټ ضرورت چه موږئي پر خپل ځان اعتماد کولو ته لرو د هغو هیجانی معاملاتو سره چه موږ پکښې غوټه یو ګډ او مخلوط شوی وي .موږ ته ددې خبرې ډېر احتیاج او ضرورت شته چه باید خورا یو پوخ او سالم تفکیر او ازموینه ولرو د اسې ازموینه او تفکیر چه زموږ د اولنی عمر پر زده کړو او معلوماتو چه د خپل ژوند په لمړیو ورځو کښې را حاصلې شوي وي غلبه او برې ومومي ، او داسې زلمیان خورا لېږ موندل کېږي چه په همدغه دی موفق شوي وي او دادې په زړه کښې احساس کړي چه نقشې ئې نه شوې موفقې او څه چه دوی سنجولې وه نتیجه ئې ورنکړه . کله کله زلمیان خپلو قلبي مرامونو او هدفونو ته ور سیږي ، مګرچه ور ورسېږي چه و ګوري هیڅ هم نه وې او صرف یوه خدعه او سراب وي د بري او بریالي توب کوم شی نه وي پکښې موجود او صرف غیر اسې چه یو بچګانه غوندې ژر تېرېدونکي لذت او خوند احساس کړي کوم نفسي پوره راحت چه دوی ئې هیله درلوده او ترتیب ئې ورته نیولی و لاس ته نه وی ورغلی دا اسباب او عوامل د هغو اتجاهاتو سره چه

اثر ی دایمی وي سره غوټه او جمع شی او دسالم تکییف په لار کښې دا جتماعی علاقاتو په مقابل کښې یو مانع او ډېره غوټه دی و گرزي. دلته ځینی نور اسباب دبل جنس (ښځو) سره دتعلقاتو په لار کې هم موجود دي چه زموږ دعدم اطمینان او دضمیر او زړه دناراحتۍ او نا آرامۍ سبب گرزي او دا داسی اسباب او عوامل دی چه موږ ئی په خپله نشو پیژندلای ، او داندہ ممکنه چه په اوله وهله کښې ئی موږ و پېژنو او را معلوم دي شی خو دیوه داسی لاشعوري قوت تمثیل کوی چه ددو و جنسو (زلمی او پېغلې) تر مینځ دتعلقاتو داچولو پر مسئله خور الوی قدرت او پوره اثر اچوي

په اجتماعي سلوك كښې انفعالی نقاط:

سړی چه دهلکېنې دروځو څخه دځوانۍ عمر ته راځی او عمر ئې نضج او پوختیا پیدا کوی په دغه موقع کی سړی په یوه مجادله مصروف وی دیوې خواڅخه ئی استقلال او پرځان اعتماد ته هڅه وی او له بلی خواڅخه هغه دانقیاد او اطاعت شرایطو ته گوری چه دی باید دمشرانو او لویانو په مقابل کښې ورته خاضع وی او ددې انقیاد او اطاعت سبب هم داوی چه دی کوتاه فکره وی دتصرفاتو او اختیاراتو څښتن نه وی دنورو هدایت او ارشاد ته محتاج وی. مثلاً کله کله ته نوی شفای کورته راځلی او استا دمور او پلار دار او ستل خوښ نشی، او ددې دنه خوښېدو اسباب داسی شیان وی چه هغه دوی و تا ته په ښکاره او صریح و وائی، مگر بیا هم ته ددې نوی رفیق او ملگری څخه ځکه لاس نه اخلې چه تا ته داخبره ددې معنی در کوی چه ته دخپل اختیار نه ئې او دومره واک نلری چه دځان دپاره پخپل زړه او پخپله خوښه دوست او اشنای و نا کې، دلته نو پر تا دالازمه ده چه ته سرزوری او احمقانه اصرار پرېږدی او ددغه اشنای تعلق ته دوام ورنکړې داورو سته تر هغه چه ته پخپله هم په مسئله کښې دقیق شې او نا ملایمت ئی تا ته هم درمعلوم شي. ته داخیال مکوه چه په دې سره به ستا مردانگۍ او مړانی ته څه صدمه ورسېږي یا به ستا شخصی حقوقو ته تاوان ورورسیږي تر دې اندازې چه که ته دزلمی تر بریده تېر شوی او باخه عمر ته رسېدلې ئی هم داعیب نه دی چه دمور او پلار یا نورو

مشرانو په هدایت عمل و کړي او ددوی پر پروګرام روان اوسي او ددوی نصیحت اوروي او داپه ټینګه سره زړه ته وا چوه چه ستا د دغه سړی پر ملګری ټینګار او لاس نه ځنی اخیستل پر یو شمیر داسی حقایقو تکیه او ارتکاز مو ندلی وی چه هغوی پله ډیره دقیقه او ژوره مطالعه او بحث او درس سره ملاحظه شوی او تر درس وتلی او محقق او منلی حقایق ځنی جوړ شوی وی، او یوازی دیوه مراهق سر کشی او نافرمانی نه ورته وبال کیږی چه د مور و پلار د سلطی په مقابل کښی وشی او بل دا باید در معلومه وی چه دا چه موږ پر سلطه ور ولاړ شو او په مقابل کښی ئی هیجان او بغاوت و کړو تر دی اسانه ده چه موږ د خپلو افکار و په توجیه کښی امین او سو. د بل جنس (ښځو) څخه د دوستانو د خوښولو په موقع کښی موږ ځینی داسی معین عوامل ور جذبوی چه هغه پر موږ دومره حاکمیت او غلبه مومی چه په موږ کښی زموږ بی اختیار انتخاب او د خوښولو عملیه اجرا کوی مثلاً یوه پېغله چه د خپل مور و پلار فرمانبرداری ئی عادت وي، او پر شیانو باندي ددوی په اساس حکم کوی ددوی ښه بللی ښه او بد ئی بد بولی، په حیات کښی ئی ددوی فلسفه منلي او قبوله کړی وی هر څه چه دوی کوی هغه ښه ورته ښکاری او ددي اهتمام پر حر کت او هیجان راولی، دا نو هغه پېغله غالباً هغه زلمی ته هڅه کوی چه ددي د پلار غوندی او د هغه غوندی قالبه څخه راوتلی وی او غالباً به ددي داسی سړی خوښ وی چه پر برنده ځوانی نه وی، بلکه د پاخه عمر ښتښتن وی، او پوره سړیتوب ته رسېدلی وی چه په ژوند کښی د پلار رول ولوبوی.

کله کله دالا شعوری او غیر اختیاری عملیه په عکس ډول پېښه شی، دا هغه وخت چه د پېغلی د خپله پلاره څخه ښه نه راځی او تر میانځ ئی نفرت واقع وی، نو پېغله بی لدي چه دا په هغو پوه او غیر مرئی د واقعو شعور و کړی او په پوه شی چه ددي دانتخاب او اختیار شاته موجودی یو داسی زلمی وټاکی چه هغه ددي د پلاره څخه له هره حیثه نقیض واقع وی، نو دده ذوق او هسک امال او دده ظاهری وضعیت ځکه داور جذب کړی چه هر څه ته چه ئی نظر ور اچوی توانه د دي د پلار څخه په نقیض

اوضد واقع وي. د زلميانو په علاقه کښې د پېغلانو سره هم دغه ډول قواوې موندل کېږي او ددوی پر ژوند اغېزه کوي، مثلاً يو زلمی چه خپله مورئی خوښه وي او ددې ټوله اوضاع او حرکات او سکنات ښه ورته ايسي، يا هغه زلمی چه سم د خپلې مورد او امرو سره ئې ژوند تېر کړی، او هم ددې د فرمايښتو سره مطابق زلمی توب او ځواني تېره سېدلی وي او په ژوند کښې ئې پرې اعتماد او قناعت حاصل شوی دده د افکارو واګې ددې د تدبير او حزم واحتياط په لاس دي خوا او هغې خوا ته ګرځېدلی وي نو دې شيانو دده په افکارو او افعالو کښې تأثير کړی، او ددوی د تعلق واګې د سعادت په لاس کښې وي، موږ وينو چه دا زلمی چه ر اوېښ شي او د پېغلانو لوه ور ولاړه شي. غالباً داسې پېغله خوښوي چه په اخلاقي وضعيت ښې د ده مور ته ورته وي، هغه مميزات پکښې لټوي چه پخپلې مور کښې ئې ليدلي وي. بالعکس د کوم زلمي چه د خپلې موره شخه بدراغلی که څه په لاشعوري ډول سره وي داسې پېغله خوښوي چه د هغې خوی او خاصيت شکل او شباهت دده د موره شخه مخالف وي او دده د مور هيڅ شی نه وي پکښې موجود او که پکښې وي هم به خورا لږ شيان دده د مور غوندې پکښې وي. دلته يو بل ټکی او څنې عامل شته چه په عين حال کښې ديوه جنس د ملګری د ټاکلو په معامله کښې له بل جنس سره خورا ډېر مؤثر دی. دا ځکه چه کله کله د زوی او مور تر مينځ علايق او قلبي روابط دومره ټينګ وي چه زوی ئې له دې چه دې دې په ځان پوه وي يو قسم د ګناه شعور او احساس کوي نو چه سړی ورته ګوري دی به ديوې داسې پېغلې په تلاش کښې وي چه هغه به دده د موره شخه په هره خوا کښې نقيض او ضد واقع وي، او داسې به ښکاري لکه دي چه د هغې بهاندې او جاري عاطفې او شعور شخه چه د مور خواته ئې اری منکر وي، مګر دی به د خپل دغه فعل درک نشي کولای او نه به ئې شعور کوي. کله کله پېغلې هم د زلميانو د انتخاب په مورد کښې په دغه موقف کښې ولاړې وي او دغه ډول

وضعیت پدرا غلی وی او داسی زلمیان وتماکی چه ډول ،تمایلاتو ، هڅو او عالی مثلو ، او هر شی کښی ئی د پلاره شخه مخالفوی ، او دې کیفیت ته د ا ځکه ور جذب شوې وی چه پدې کښی دهغه قوی ارتباط چه دائی دخپله پلاره سره لری یو لا شعوری انکار موجود وی.

دد و جنسو د تجاذب اویو وبل ته د کش کښلو د امثالو نه په خورامفصلو تشریحاتو په هغو درسونو او مطالعاتو کښی موجود دی چه دشخصیت دنشوؤ نماد پاره ترتیب شویدی، او دداسی بشپړه او پوره دراست له لارې ئې تعلیل ممکن دې چه سړی ئې پای اوآخر ته ورسیږی. مګر بې له دغه عمیق اوژور دراسته شخه ئې درك معلوم ول ډیر مشکل او ګران کاردی بیا هم موږ دلته صرف دو مره قدر کوو چه فقط ذکر ا و یا د ونه ئی کوو ځکه چه موقع تنګ دی اوعلاوه پر دې ګنجا یش نلری زیاتره موږ لندیز شوې نقاط چه پد ې کتاب کښی موږ راوړ ې دې د Emational Problem s of living byenglish Pearson په کتاب او چه بل یو مهم کتاب کښی چه هغه: Ahappy family by Levy and munoe نو میږی

سلوك کله شعوری کله غیر شعوري وې:

د هغو مؤ ثراتو سره چه دپلر و نو ، له خوا شخه راځی ځینی نور عوامل هم موجود یږی چه هغه د بل جنس شخه د دو ست دانتخاب په معامله کښی خپل تاثیر او ا غیزه لر ی ، اوس چه تا ته دد ې مؤ ثرا تو طبیعت در معلوم شو دهغو مواقفو او موقعو نو شخه به دزیاترو حقیقت درته ځر ګندشی چه خلق دې ته اړ باسی چه د حیرت او تعجب یا تمسخر او ملندو په صورت پوښتنه کوی چه:

«عجبه ده دده نوددې کوم ځاې خوښ وو؟» یا «داد ده پر کوم ځای مینه و ه ؟» ممکنه ده چه ددې پو ښتنې جوابونه دې همیشه دهغو علا قاتو په حدود کښی نه وی چه دمورو پلار اوداولادترمیانځ موجودوی بلکه غالباً په هغه مورد کښی کیږی چه په طرفینو کښی یو داسی پټ شعور چه ددو اړو خواؤ په نقص او نیمګړ تیا پورې تعلق لري ، وجود وې ،

هغه نیمگړتیاچه ددغه دواړو ترمیانځ خوازه متبادله علایق ئې نرم او سپکوي.

یوددې خبرې دمثال و څخه به داوبو لوچه دجنوبي اروپا یوزلمی دی چه په ډنمارك کښې ژوند کوي او همیشه ئې دا خیال وي چه دده غنم رنگه دمخ پوست او تور وریښتان دې ددې جامعې څخه چه دې پکښې اوسي او ژوند پکښې کوي مخالف او لیرې کړیدي دا ځکه چه ددې محیط دوګړو رنگو نه تک سپین وستر گي ئې تکې شنې دي ، ددې ځوان به داخبره ډېره زړه ته ور گرز یده چه نه چه ددې محیط دو گړو به دده څخه ښه نه راځي او نه به ئې وي خوښ نو د ده خپلې دغې پټې اند ښنې چه دځان دعدم مناسبت له امله ئې دمحیط سره درلوده دی دې ته وردفع او پو رې واهه چه ځینې داسې دمیزاتو او نخښو او خصایصو ته ئې دځانه سره اهمیت ور کړ چه هغه په حقیقت کښې دومرې مهمې ندي . دا ځکه چه دده ملگرې او دوستا ن دده دو ښتانو په رنگ خبر نه وې چه توردی که سره او نه دده رنگ ته ملتفت وي چه څه رنگ یاڅه رنگ دې ، بلکه ددوی په نظر دی ښکلی او ښایسته دی او دائې هیڅ په خوا او خاطر کښې لا نهم نه وی چه دی دبل قوم او بل جنسیت سړی دی . مگر دې په هرموقع او هر مناسبت کښې انتهائی کوښښ کوی چه دوی ته دا واضحه او ښر گنده شي چه دی دبل نژاد سړی دی او دیوه قوم سړی دی چه دهغو دمخ پوست غنم رنگ او وریښتان ئې توردی او بل پدې کښې کوښښ کوی چه تل دداسې پېغلانو سره ملگری وی چه ور ښتان ئې زیړ او ستر گي ئې شنې وی او خلقوته ئې ځان داسې ښووه چه دی ددوی دهغو چهرو او مخونو په کتلو کښې چه هغه دشمالی اوروپا داوسېد ونکو خصوصی ممیزات دی یو اطمینان او قلبی راحت مومی او هر وخت چه خلق دی دد وی دیوی تجلیه سره ملگری وو ینی دی د یوه نفسی راحت احساس کوی . نو هیڅ چاته به پدې کښې شك نه وي او پوه چه دا دهغه ژاد او جنسیت تجلیه ده چه د ده پخواتر دې بد ځنې راتله او انکار ئې ځنې کاوه نو به ئې یوازې ددې به

ملګرتیاد خوشحالی شعور نه کاوه بلکه دابه ئې هم یقین شوه چه دملګروئی دازړه ته اوبدلېدی چه ئې دنورو دنظره ندی لوېدلې ، دغه فکر ؤ چه دی ئې بېراوه اوز مولا وه .

پرسړی چه دا ند ښېنه چه دی دهغو کسانوسره چه ورسره محشور دی مناسبت نلري یاوهغوته ورته ندی غلبه ومومی اودداسی شعور ترسیطره لاندې راشی او ودی ډوله عوامل ددوستانواوا شیانوپه انتخا بولو کښې مداخله وکری ، په زیا ته بیادهغو کسانوچه دهغوسره دی پخپل ژوند کښې متصل اودنږدی څخه روابط لری نو پدغه موقع کښې پرسړی لازمه ده چه مرسته او نصیحت ولټوی چه څودې دی ته آماده اومستعد کړی چه دی دځان څخه یوه سمه اوصحیحه رأیه ولری ، اوپوره قدر او اندازه ځان ته کښېږدی . داځکه چه انسان چه خپل ځان وپېژنی غالباً دهغه څخه پر خپل ځان اعتماد بنا کېږی. اوبل داچه څوك پخپلوهغو پوهتو کیفیاتوچه دده دسلوك دېردې ترشاموجود دی خبرشی دخپلو اتجا هاتو پرنضج اوپوخوالی مرسته ور کوی .

نو ته باید خپل ځان اوقدراو اندازه اوخپل ذات اوشخصیت په بې آلایشه او سالمو اوقوی وسایلو پورته کړې اوددائمی کسانو په صحبت پسی ونګرزې چه ته ئې په غلطه اوخطا سره ترځان په قدر او اندازه کښې لوړ ګڼې.

حقا یقو ته بیدا راوسه او اتجا هات مهمل مه پرېږده :

دلته یو بل مؤثرشته چه ددوو جنسو دزلمیو ترمیا نځ په تعلقاتو کښې ئې موز باید هېر نکړو او تل مو په یاد وی داموثر موز ته دپو هنځای دیوې پېغلې په هغه وینا کښې موز ته را معلوم او تمثیل کېدای شی چه دې هغه وختو کړه چه وروسته تر کالنی رخصتی چه ټولو ئې په تفریح میله ، ځوانی ، لهو اونشاط تېره کړې وه او پوهنځای ته راغله دې شاګردې خپلو همصنفیا نو ، پېغلا نوته وویل : « ګمان کوم چه زه په یوه مناسب وخت کښې پوهنځای ته راغلم ، او که نه نو به زه هم ستاسې غوندې دمېړه میر من وای » ددې پېغلې هدف یقیناً دهغو پېغلانو څخه چه دمړو شپې منظم او اجتماعی

ژوند ته اهمیت ور کوي او خوښ ئې دي مخالف دی، ترڅو اندازې چه دادد ې شخه په بېره کښې وه چه د مدرسئي او تحصیلي ژوندئي چه داز ښته پر حریصه ده دلهو او میلي او هغه ژوند په واسطه چه ددې همصنفیاني ئې اری متأثر نشي او ور خراب او برهم ئې نکړي دا ددې شخه په وا همه کښې وه چه یو زلمی مر که ور ته و نکړي او دا به ئې قبول کړي نه د د ې دپاره چه د د ې خوښ دی بلکه ددې دپاره چه داسی وی لکه دد ې دڅو لنی او دلې نورې پیغلانې چه ور کړی ئی ترناور کړ و د ېـ ی دې .

داجتما عی سلوك شخه دانخښی او مظاهر دجنسی سلو ک تمثیل هم کو ی، ځکه په هغه مو قع کښې چه موږ دجنسی استجابت ذ کر او یاد و نه کوو یوازې زموږ هد ف او مرام بدني نزدیکت او اتصالات نه وی بلکه دغه رنګه مو اجتما عی علاقات او عا طفی مؤ ثرات هم غرض وی . نو موږ با ید په جنسی مسئله کښې یوازی دبدني نا حئی تقد یر ته متوجه نه اوسو او نه انتها ئی اهمیت ور کړو ، ممکنه ده چه دد ې مبا لغې او انتهائی اهمیت سبب چه موږ ئی بدنی ناحئی ته ور کوو داوی چه جسمی او بدنی نا حیه په خبرو اووینا او افعالو کښې دحر مت او تحر یم په موقع کښې پر ته ده یعنی زموږ په عرف او اصطلا ح کښې دبدني ناحئې بحث او مذا کره لکه نار وا او دادب او ا خلا قو شخه منافی بلل کېږی .

نو ا وس تا ته لاز مه ده چه د حقا یقو بحث او څېړ نه و کړ ې ، مګر ته به تر حقایقو هم ګام و هغه خواته واړوې چه هغه اتجاهات و پېژ نی چه حقا یقو دهغو به رڼا او دهغو په لار ښوو نه نشئت او وجود موندلی دی دایو اسانه کار ندی چه ته خپل ځان او خپل سلو ک ته دا سی و ګو رې لکه بل یو ه ته چه ګوری، ته یو وخت امتحان و که او ځانه شخه دیو ه سړی د وضعیت په باب کښې (چه هغه پخپله ته ئی) او برائی دخپلو همزولو رفقاؤ سره په یو ه مجلس کښې وې، او ته آ پیغلې دیوې پیغلی شخه (چه هغه ته پخپله ئی) او برائی په یو ه مجلس کښې وه پو ښتنه و کړه: ایا دغه سړی چه هغه برائی ته وې یو داسی شو ک وې چه هغه ځانته خپل قیمت او اهمیت او رتبه درلوده ؟ دادې په یا داوسه چه کوم یو داسی شعور او انډ پېښنه په تا کښې پیدایه وده و نه کړی چه دهغې په واسطه تا ته ځان په خیال مجرم او

گنه‌گار داسې اودیوه پاك او منزه او سپېڅلي تفریح او هوس څخه‌دی محروم کړي، او مه کومه هغه څخه په ځان کښې پرېږده چه هغه په حقیقت کښې بې قیمته‌وي او هیڅ کوم اهمیت ونلري او تقاضائی داوي چه تا د اجتماعي خارجي تجانس او د خلقو د رضامندۍ او د کامیابۍ او استقلال وخواته ور کش کاږي، داځو له افکار اېږي کوم چه د ذات احترام به در څخه محوه او ورک کاندي.

پاکه او طبیعي ځواني همیشه دې ته هڅه کوي چه د ځوانانو او ز لمیانو سره ملگري و کړي او دا په هر وخت او هر ځای کښې یوه طبیعي مسئله دا مریکا، دا قیانوس اطلس جزائر، یا اتلسم قرن او وروسته تردوهمې عمومي جگړې وخت فرق نه پکښې کوي. ځکه چه جنسي روابط او اجتماعي تعلقات او فامیلي او کورني ارتباطات د ځوندور او پاك او خـوازه ژوند بنسټ او اساس دی. ته کوښښ و کړه چه د خپل شخصیت پوره نسخه او مکمله مجموعه در معلومه شي او فهم ؤدرك ئې و کړې داد دې جهته چه فهم دې مقصد ته دیوه حاله څخه بل داسې حال ته چه هغه تـر ښخواني حال زیات او نفسي او وجداني قناعت او رضا پکښې موجوده وي ور واوړې. او که تا ته یو فکري اضطراب در پېښ شي او ددې مسائلو په حل کښې ناکام او فیصله درته گرانه او فهم ودرك ئې در باندې مشوش شي، نو هیڅ شك او تردد مه در اچوه ددې چارو مذاکره او بحث د هغو کسانو سره و کړه چه هغه بشپړه باخبري او کافي تجربې په داسې موضوع گانو کښې ولري، دوی به تا یوه مسعود او نیکمرغه تکییف ته راه نمائي کړي، او کله کله ستا د پاره د زحمت او تکلیف ر ښتیا ني اسباب او علل همدغه شیان وي.



اتم فصل

د اجتماعي حاجاتو په مړولو کښې د ناکامي احتمال:

موږ ځینې اساسي احتیاجات چه د بشري ټولنې ته ئې زیات اهمیت درلود وښودل،
او په لنډه ډول مو هغه عضوي حاجتونه چه د هر یو ئې د ژوند د بقاء دپاره ضروري دي یاد
کړه . لکه هغه غوندې اجتماعي حاجاتو بیان چه مو په تفصیل سره وکړ
چه د هغو لاس ته راوړل او پوره وفا په کول زموږ د ژوند انه د سعادت او سالم
تکیف دپاره لازم او ضروري دي . نو که داسې پېښه شي چه د دغو حاجاتو څخه یو حاجت
بې مرېدا او وزي پاته سي نو به څه پېښه شي ؟

تا به لوستلي وي چه په پخوانیو زمانو کښې چه لا بې لوږې پېښې شوې دي چه د هغو په
واسطه به زرګونو خلق د لوږې څخه مړه شوه نو د لوږې عضوي حاجت چه
د زمانې په یوه معین وقت کښې موړاو پر ځای نشي د بدن د ضعف او وروسته د یوه
موجود او کائن د مرض سبب وګرزي او وروسته نو مړ شي او دا نا ته معلومه او په
قطعي ډول درته یقیني ده چه اختناق کله د مرګ سبب ګرزي ، او اختناق
هغه وخت پېښېږي چه موږ ته د اکسېژن حاجت په ماړه نس را ونه رسېږي (پورد)
چه د شمالي برخو د منجمدو نقاطو د کشف دپاره روان شو نوئې د دغو ځایو د شدیدو
سړو څخه د ځان ساتلو دپاره ټوله احتیاطونه و نه نیول دا ځکه چه که موږ چه ژوندي
پاته سوا او ژوند مو دوام وکړي د تودوخې د ضبط دپاره باید خپل عضوي حاجات
تأمین او ماړه کړو ، د غه رنګه چه ته غواړې خپل تفریحي رخصتي د کوره څخه
یو لیرې ځای تېره کړې سپي یا مرغان یا دي زرین کبان یا دي ګلان د بل چا په روزنه
کښې پرېږدې چه هغه ئې تر هغو څو ته بېرته راځې دي ئې روزي او د خوراک
او څښن او کافي هوا دور کولو په ذریعه ئې ژوندور محافظه کوي .

ددی حاجاتو دمړولو په لار کښې دريد ل :

اوس به هغو اجتماعی حاجاتو ته راسو چه هغه ډیر مهم وی . دابنکاره ده چه زموږ اجتماعی حاجات که وزی پاته سی موږ نه مرو ، نو موږ کولای شو چه موږ ژوندو کړو بیله دی چه زموږ ټوله اطرافیان او شا و خوا د محیط خلق دي را څخه خوښ او راضی وي ، یا موږ د دوی سره په آرا ؤ او اعمالو کښی مخالفت و لرو ، اودا چه په هر کار کښی چه موږ لاس وراچووا و شروع کو و ئی پکښی نا کام کیږو . رشتیا داده چه داجتماعی حاجاتو په مړ ولو کښی زموږ نا کامی لکه مثلاً دټولنی در ضا په حاصلولو مو فق کیدل، یا زموږ کامیابی او تجانس دنورو سره دا ټوله زموږ دمر گ سبب نشی کیدای . مگر دا په ټینگه معلومه ده چه داجتماعی حاجاتو په مړولو کښی نا کامی تر یوي اندازي موږ تر ډیره حده دسعادت اورضا څخه لیری پریږدی نوزموږ تکییف را خراب او عقلی صحت مورا کښته کوی . داجتماعي حاجاتو په مړو لو کښی زموږ دنا کامی نتائج موږ دي ته ور بو لی چه موږ هغه عوامل او مؤ ثرات وپیژنو چه هغه زموږ ددغو حاجاتودمړولو په لار کښی مانع و اقع کیږ ی . د لته یو ډیر شمېر عوامل سته چه ددي نا کامی سبب گرزی، دا اسباب بعضی پخپله په سړی ، او بعضی په دغه محیط پو ري اړه لری چه پر ده را چاپېروی او کله ددغود وڅخه هر یو د دی سبب شی چه دژوند څخه د ی سړی راضی و ی .

مثلاً په یوه رشدی مکتب کښی یو شاگرد دفټبال سره ډیره مینه در لو ده ، د ده یو ي خواڅخه دفټبال سره دیوي سپورتی او حر کتی لوبې په حیث مینه در لو د ه او بلې خو ا هغـه د افع او باعث و ر ته متو جه ؤ چه په مو نبږ ټو لو کښې د ملگر و د ر ضا مند کو لو ا و خو شحا لو و خو ا ته موجودد ی . اوموږ ټوله پدې پوهیږو چه دفټبال لو بغاړي په دغه درجه درضاڅو مره خوښیږی مگر داشا گرد دستر گوله خوا ضعیف ؤاو پرستر گوئې ښیښې اینوولې

همدغسې د ستر ګو ناروغی دده د پاره یو مانع بلل کېږي چه دې ئې د اجتماعي حاجت د مړولو شخه راګرز اوه ، چه د ښېښو استعمال او د فټبال لوبه نه سره چلېږي ، د دې معنې داده چه دی هغسې کامیابي په فټبال کښې لکه د ټولګي نور افراد چه ئې حاصلوي لاس ته نسي راوړای ، یو شاګرد بیا د زړه کمزوری اری نو د فټبال لو به نشي کو لاي هغه بل شاګرد مثلاً ناستاو کښا له هلک دی . دا کسان ټول له د فټبال د لوبې د خوا کوم نوم او نښان نشي حاصلولای ، او په همدغو حالاتو کښې چه موږ وښوول ذاتي عوامل د رغبت او خواهش د مړولو مانع دي ، او دا زلمیان ئې ته مجبور کړي چه د خپلو ملګرو خوښې او رضامندي له دوی شخه په ښېښو نورو لارو کښې ولټوي او په دوی خپل ځانونه ومني کله کله د زلمیانو ستر ګې جوړې او بدن ئې روغ او قوي وي ، مګر بیاهم داسې شیان موجود وي چه د وی د فټبال د لوبې شخه راګرزوي موانع ور له موجود وي او دادشو سببو شخه : لکه دا چه د فټبال غونډ سکه ونلري ، یا ملګري نه ور پیدا کېږي چه لوبه ور سره وکړي ، یا تر درس او مکتب وروسته نو د کار لري او د فټبال د پاره وخت نلري دا هغه محیطي عوامل دي چه دوه اجتماعي ضرورت د مړولو مانع ، او د دې شخه سړی راګرزوي چه د خلګو رضا او د دوی اعجاب د فټبال د لوبې په باب کښې حاصل کړي.

یو زلمی فرض کړه چه په کرهڼه کښې زیار باسي او هر شه آثار او کتابونه چه د نباتات په روزنه کښې په لاس ور ځي مطالعه کوي ئې ، او د زړه لوی مرام او مقصد همدا وي چه د ازمویښو او امتحانو د خوا شخه د نباتات د تربیې په باب کښې یوه ښه طریقه پیدا کړي ، او د زراعتي محصولاتو په مشکلاتو کښې یوه د حل لاره ور پرانیځي ، لنډه دا چه د زراعت په ډګر کښې تفوق و مومي نو که دا فرض شي چه دی په ښار کښې اوسي چه ده ته مشغولیت اجازه او موقع نه ور کوي نو په دغه واسطه دې دیوه مانع سره مخامخ کېږي ، او دده د کوششونو نتیجه دده په دې امکان موقوفه ده چه په چه تر ښار د باندې ژوند وکړي ، کله په دې آزادوي چه په ښار کښې اوسي او که د باندې مګر یا به روند او یا په بدن ضعیف وي . په دغه وخت کښې دده په لار کښې ذاتي مانع پېښ دی چه دده د خوښې او رغبت او خواهش سره معارضه کوي ، او دی د خپلو آمالو د پر ځای کولو شخه راګرزوي ، او دا داسې یو مانع دی چه بری پر موندل ندی پر مه کښن.

هغه موانع چه پر ذاتی عواملو موقوف دی :

دانده ممکنه چه ټوله هغه حاجتونه چه مونږ ئې احساس کوو ماته شي، ځکه د مناسبتونو او اسبابو له کبله هغه موانع چه موږ ته راپېښېږي په شدت کې تفاوت سره لري . او کله کله بري پرمونږ ممکن وي . لکه بعضي اوقات چه غلبه نه وي پر ممکنه دغه رنګه که ته دفټبال شوقي ئې او په خپله مدرسه کښې دفټبال ټیم ونلري نو ته کولای شې چه د خپلو همصنفانو څخه د فټبال ټیم تشکیل کړ ی . مګر ستا شوق که هرڅومره دفټبال سره ډېروی خو که ته یو جسمي او بدني عیب ولر ی چه د داسې زورورو لوبو څخه دې راګرزوي لکه دفټبال غونډي نو بیا پې صورت کښې ستا دغه شوق څه اهمیت نلري ، نو ځکه تا ته لازمه ده چه دا خبره پوره ومنې چه دفټبال لوبه ستاسره یوه وړاومناسبه لوبه نده او موږ هر یوه ته ځانته حدود مقرر دي چه سړی باید هغو ته تسلیم شي او قبول ئې کړي ، خود ا هم باید را معلومه وي چه د هغو په عوض کښې موږ ته نور امکانیات موجود دي .

مثلاً ته د یوی ښځی سره تصادف کوی چه هغه د ډا نس سره ډېره مینه لري ، او دائې ډېره خوښه وي چه زیاتر و مجالسو ته ورو بلله شي مګر د ایو څه غټه او په بدن پنډه ده ، او د ځانه سره بدې پوهه ده چه دا عیب د دې د هغې چه رساډانس ته ئې لري مانع دی، نو په همدغه مناسبت دا د بعضو طبی لار ښوونو متابعت ددی د پاره کوی چه تول ئې سپك او ډ نګره شی او په همدغه ذریعه خپل هدف اوغرض ته ورسېږي .

مګر که ددې مانع له ډانسه څخه ګوډوالی وی نو باید دی ته دخپل ګوډوالی حدود او اندازه او خپل قصو رور معلوم شي اووه ئې پېژني ، نو باید دخپل اجتماعی نشاط د پاره یوه بله خوا او لارو لټوی.

کله کله کوم سړی دیوه سر کښ شو ق څښتن وی چه کشکی ده رباب و هلای او د ساز نده ؤ په یوه ډله کښی شامل وای ، مګر که دده استعداد په موسیقی کښی ضعیف وی دغه ذاتی عامل به ژر دده د رسېدلو څخه هغه ځای ته چه دی هغه ورته لر ی چه په عام او لوی مجلس کښی در باب ږغول دی مانع و ګرزی او د مرام او مقصد په مخ کښی به ئې

دېوې او بې سنگړې حیثیت وموومی کوم وخت یوسړی وی چه د قانون د متخصصینو د کورنیو د پښتهٔ څخه به په سلسله راغلی وی او دی به د خپل وراثت په تقاضی د قانون د بحث او درس هڅه هم کوی مگر که عقلی قوت چه د دغه بحث او درس تتبع دی په کامیابی سره و کړای شی نه وی پکښې موجود د لته هم موز ذاتی عامل بیاوینو چه دده د هیلی او هڅی د ترسره کېدلو په لار کښې یوه اوبه سنگړه ده .

بل مثال دیوې پیغلې دی چه د خل او پیسهٔ ئی محدوده ده ، نو د ځانه سره فکر و کړی چه خپله شپو د د ې د با ر ه چه لگښت او مصرف ئې لږ وی پخپله جوړه کړی ، مگر گوتی ئی د شپو په اود لو کښې د دې مهارت مانع او بدلی وی نو د دې سره د دغه کار په شروع کولو او پای ته رسولو کښې مرسته و نکړی، او داسې شی لکه هغه ز لمی چه گوتی ئی د برق د ناز کو الاتو او سامانو د جوړ ولو په کار کښې مرسته ور سره ونکړی او دې ته ناچاره شی چه، کوم بل یو داسې کار ځان ته ولټوی چه د غو مره دقت ته ضرورت نلری .

زیاتره پر ذاتی عواملو غلبه په هغه موقع کښې چه د شخصی رغبته سره معارضه و کړی ممکنه ده که څه هم دا عمومی او مطر د ه نده، ځکه چه دا عوامل کله کله ز موز په مقابل کښې خورا کلک غوندې موانع وی چه گام تراړول نه وی ځنې ممکن . په دغه موقع کښې موز ته دا ضروری ده چه د خپل ذوق او کیف د تغیر کار ته متوجه شو لکه دا چه سړی د ځان د پاره کوم بل قسم داسې نشاط و ټاکه چه هڅهٔ ئې په مړه شی.

د محیطی عواملو څخه بعضې موانع :

کله کله غیر له ذاتی عواملو څخه بعضی نور عوامل او اسباب مو جود شی لکه دا چه یوه پیغله وی چه هم ئی بدن ورته سپک او هم ئې قدوشنده او هم ئی د ډانس سره زده وی او تصادف داسې واقع شی چه دا یه یوه داسې منطقه کښې استوگه کوی چه هلته د دې هم زولی زلمیان نه وی نو پېدې چه یو محیطی عامل د دې به لار کښې مانع ولاړ دی دا رقص او ډانس نشی کولای ایا یو وار داسې نده پېښه شوې چه ته دیوه

اور ګاډي د رېدځای ته د خپل یوه دوست مخ ته ورو تللی ئې، نو د دغه جهت ته د خپله کوره ستا تر خپل عادي وقت ډېر دمخه وتلی ئی او داپدې هیله چه دده تر راتګ له مخه دده په انتظار کښې پر (فلیټ فارم) ولاړ ئې، مګر داسې پېښه شوه چه په خو او خاطر کښې نه وه او نه ګمان کاوه کېده، ځکه چه په هغه وقت کښې چه ته د رېدځای ته تلمې دموټر ټیرډي وچاوده او د تلو څخه پاته شوې نو ددې واقعې په واسطه تا خپل پروګرام عملی نکړای شوای نو پر تا طبیعت خرابی او قهر نه ددې جهته غلبه وکړه چه ته یوازې د خپل دوست په انتظار پر فلیټ فارم و نه درېدې بلکه ددې د پاره چه ستا ترتیب کړی پروګرام ئی در ګډوډ کړ چه د هغه په اثر تا د خپل دوست خوشحالي او رضامندي حاصله نکړی شوای، لکه پدې کښې چه هم ناکام شو چه کومه معینه نقشه چه ده تړلې او په هغې پسې ورو سته ئې یو تدبیر سره سنجولی وهغه ټوله ناکامه شوه او یا داچه په خپل پروګرام کښې موفق نشو. دغه رنګه تا ته د یوه داسې اجتماعي حاجت په مړه ولو کښې ناکامی در پېښه شوه چه هغه تاته مهم وُ او پېلې پېغلې څه شوې او څه ورپېښه ده چه د رقص مجلس ته راغلې او داسې کالي ئې اغوستي دي چه د ښپې په مجالسو کښې ئې اغوستل کېږي؛ دا به هرومرو په یوه داسې حالت کښې وي چه د چا به غبطه نه په کېږي دا ځکه خفه وه چه داپدې پوهه وه اودا شعور ئی کاوه چه په کالو کښې د نورو څخه مخالفه وه. دې رقص کولای شوای که په د شب نشینۍ په جامو کښې وه که په نورو عادي جامو کښې وه، خبرې به ئې کولې مسیدله به، په لوبو کښې به ئی ګډون کاوه - او سره لدې چه جامې ذاتاً کوم عایق او مانع نه وې، مګر بیا داپدې چه جامې ئی د نورو سره نه وې برابرې مضطربه او خاطر ئې ناآرام وُ ځکه چه د مجلس او د ټولې د نورو افرادو سره ئې په لباس کښې تجانس او تشابه د لاسه ور کړی وُ.

دغه رنګه ځېنې اوقات شخصي یا نور محیطي عوامل پیدا کېږي چه موقتاً د اجتماعي حاجاتو د مړه ولو په لار کښې مانع او حایل شي.

بعضې موانع چه د هغو علت بعضې متضاد او متعارض دوافع وي :

د ژوند په لار کښې ډېر دالو ډېر عوایق او موانع شته . کله کله ستا دې ته هڅه او هوا کېږي چه د خپل ژوند چارې اجرا او پای ته ورسوې مګر په آخر کښې دا درته ښکاره کېږي چه ته دا دواړه چارې دواړه په یوه پلانشي اجرا کولای د غه رنګه تا ته دا لازمه شي چه د دغو دوو چارو څخه یوه خوښه او بله پرېږدې ، نو پدې معامله کښې هم په دوه زړه کښې ئې چه کومه یوه پرهغه بله زیاته وبولی ولی دا دوې چارې خو تا دواړه خوښې کړې وې نو اوس چه یوه پکښې خوښوې او د دوی دوو ترمیانځ په ښه والی (مفاضله) کښې قضاوت کوې حتماً تردد او اضطراب در پېښ او د حیرانۍ په موقف کښې اوسی چه په دوی دوو کښې به کومه یوه ډېره ښه وي چه هغه خوښه او هغه بله پرېږدی . په همدغه ډول موږ وینو چه اغلباً قسم قسم دوافع د حاجاتو په مرسته ولو کښې مداخلته کوی .

د دې مثال لکه د فټبال د ټیم یو غړی چه پخپله لوبه ډېره بېړه کوی . او ددې دپاره چه په یو خورا مهم میچ او مسابقه کښې اشتراك وکړی ځان خورا ورته آماده کوی او پېښه داسې شوه چه د ی د ښې دناستې یوه مجلس ته خبر او دعوت شو ، نو د ده د لاسه و نه شوه چه هم میچ ته ځان آماده کړی او هم د ښې درونو لو مجلس ته ورشی او دا دعوت قبول کړی او دواړه ئې خوښ او هم زړه غواړی چه اشتراك پکښې وکړی . نو ددې دوو هڅو ترمیانځ مخالفت د اضطراب او تردد سبب وی ، او داسې مانع پېښه وی لکه موږ چه ئی د ذاتی او عقباتو او موانعو د اسبابو په بیان کښې یادونه وکړه .

ستا به ډېر ښه دا اراده او عزم په زړه کښې ټینګېږی چه ته ځان نحیف او خپل وزن ددې دپاره سپك کړې چه د ډانس جامې وا غوندې او داسې ښه درسره وایسی لکه ستا د سیالانو سره چه داسې . نو چه ته په دغه وخت کښې یوې داسې میلمستیا ته خبر ه شې چه په هغې کښې خورا خوند ور خواړه پراته وی نو دا نه ده اسانه چه ته ځان ځنې را وګرزوې او د خپلې ډنګرتیا خبرې ته و ګورې ، او د ډوډۍ د هوا او شوق او اشتیا سره

دې مجادله و کړي . په دغه وقت کښې د دوارو خوا شدیده جګړه نښتې وي او په
همدغه ډول د رضا او خوښې په لار کښې مانع پیدا شي.

دا هم د هوا نمود مخالفت مثال دی . دی یو زلمی دی چه په یوه کیلوالي او زراعتي محیط
ژوند کوي او داسې تصادف پیښ شو چه دی د خپل رشدي تعلیم د دوره (یا) کولو
د پاره باید خپلې منطقې یوه نږدې ښار ته ولاړ سي . دده هڅه د خپل تعلیم د دوره لوتهٔ ای لرې
بیشکه د قدر او آفرین وړ ده مګر دلته یوه جګړه ده ته ښکاري هغه وخت چه دی دې فیصلې ته
متوجه شي چه دا ده چه د کلي څخه کډه و کړي او که یه؟ ځکه که د کلي ښه ښار ته
ولاړ شي یو به هغه دنده او نور وظیفه له لاسه ووزي چه په هغې کښې ده ته دومره معاش
ور کوي چه هغه سره جامه او خوراک رانیول کېدې شي او نور هر څه چه دده د خوشحالي
او راحت او نفسي نشاط اسباب وي د ته ولو د پاره ئې کفایت کوي ، دی به کلي کښې د کلي
د یوه مشر په حیث خپل حیثیت د یوه ساده اجتماعي نشاط په چوکاټ کښې ساتلای شي
مګر په ښار کښې خو د ښاري او ژوند او بلدي اجتماع د سرور او
نشاط څخه خو را کوچنۍ برخه شاید په زحمت تهیه کړای شي . او که بخپل کلي کښې
واوسي چه هلته فقط ابتدائي مکاتب موجود دي تعلیم ئې نیمګړی پاتې کېږي نو په همدغه
ډول دد غو دوو هڅو ترمیانځ جګړه او مصادمه پیښیږي .

د متقابضو او متعارضو هڅو یو بل مثال د یوې پېغلې په باب کښې دی چه د خپلې کشرۍ
خور سره په یوه سفر چه د کشرې خور ئې هغه سفر ته د خورا ډېرې مینې څخه زښته
هوا کېده ولاړه شي ، او له بلې خوا څخه په هغه روځ چه ددې خور د سفر د پاره
ټاکلې شوې وه مشرې خور ته یو داسې موقع ورپېښېږي چه دا باید د خپلو دوستانو
د یوې ډلې سره په یوه داسې تفریح کښې ګډون و کړي چه ددې تر ګمان پوره ته وو
دلته جګړه یوازې پر مشرې خور نه منحصره بلکه کشره خور هم په کښې شامله ده
دلته جګړه ددې فکر ده چه آیا مړې وعده پر ځای کړي او هغه کوچنۍ تجلیه
خوشحاله او ددې هوس پر ځای کړي او که دا ومړي رعدې څخه سترګې پټې کړي

په دوهمه وعده کښې اشتراك وکړي خاص د خپل ځان تفریح او خوشحالي په نظر کښې و ینسی، نو موږ ته راښکاره کېږي چه د جګړې سره مواجه او مقابله کوم اسانه کار نه دی.

ددې مثال غوندې بل مثال که څه تر هغه دقیق او پیچیده دی هغه دی چه یو مکتبي هلك ته چه رشدي تعلیم ئې تمام کړیدی د خارج د تللو چانس د فاکولتې د تعلیم دپاره ور کړ شویدی. دی ډېر متوجه ؤ چه خپل تعلیمو نه زر پای ته ورسوي مګر ده ته دا په ټینګه معلومه وه چه که دی د خپله وطنه څخه خارج ته ولاړ شي کونډه مور به ئې چه نا جوړه هم ده خفه او یوازي به اوسی او کوم شی چه شك پکښې نشته هغه دادی چه ده په خپله تعلیماتو کښې تفوق موندلی او د خارج چانس ئې لاس ته ور وستلی، او هم د شکه څخه وتلې یوه خبره ده چه دی په دې فکر چه د خپلې مور د ارام او راحت اندېښنه ور سره ده د آفرین لایق دی.

زیاتره اوقات د رسمونو او دودونو تر میانځ جګړه راسی مثلاً ځینې کورنۍ دودونه وی چه یو سړی د اسی لازم او منلی لکه مسلم قضایا او حقایق، مګر په یو وقت کښې بیا هم دغه دودونه د زیاترو نقاطو څخه د هغې قوانینو د دودونو څخه چه دی په خوښی او خوشحالی کښې ورته منسوب وی مخالف وی دا همېشه اسانه او ځینې اوقات دا مستحبه او ښه ده چه سړی بعضی رسومات چه د کوچنیوالي څخه عادت وی پرېږدی.

مګر سړی ددې دپاره چه د نورو سره سم او برابر وی دې ته ډېر ضرورت او ښته اړ دی چه زاړه دودونه پرېږدي او نوي شروع کړي، نو له همدغه ځایه څخه جګړه شروع او پیدا شي. ددې حالاتو سره مخامخ کېدو تر هغو نه وی ممکن چه هغه مخصوص عوامل چه فقط په همدغسې حالاتو مشتمل وی موجود نه شي او دا یوه عمومی قاعده نلري. کله کله ستا په خیال د اسی درسی چه هغه قوانین چه ته په هغو راغلی او لوی شوی ئې زاړه شوی دی، مګر ته باید د مخه د زړو تر پرېښوولو او د نوو عاداتو تر قبولو د هغو په قیمت کښې فکر وکړی او ور وسته تر پوره غور او فکر او دقت

خپل زوړ او قدیم طرز او اسلوب ته تغیر ور کړي او وائي روپ . داچې ګړه موږ ته زلمیانو او پېغلانو او په تعلقاتو کښې به یو خاص ډول په مخه راځي نو موږ ته لازمه ده چه په داسې موقفونو کښې د مخه تر دې چه پر تغیر اقدام وکړو د تغیر په سبب کښې فکر وکړو . دا ځان ته معلومه کړه چه ستا حقیقي هدف څه دی او کوم یو له وږو حاجاتو څخه ته غواړې پوره کړې .


خلقو ته جګړه په ټولو عمرونو کښې ور پېښېږي کله کله په یو سرسري او بسیط موقف کښې وی لکه د هغه کوچني هلک موقف چه یو څه خوږې ته ئې هوا کېږي مګر خوړک ته ئې به دوه زړه کښې وی ځکه دی پدې پوهېږي چه که ئې د سهار تر ناری د مخه او په تش نس وخوړم مور ئې نه ځني خوشحا لېږي کله کله جګړه ډېره پېچیده وی چه زموږ او ژوندون پر سعادت اثر کوی .

که موږ پر عادي مشکلاتو خپل بری احساس کړو دا به ددې دپاره تمهید وی چه موږ ته پېچیده مشکلات مخې ته راځي او د عادت له مخې دا معلومه او ثابته ده چه موږ ته پېچیده مشکلات اسانه کېږي، که موږ د هغو د پیدا کېدو په عللو او اسبابو پوه او خبر شو . او زموږ باید دا تل په یاد وی چه زموږ اجتماعي حاجات د ذاتي یا محیطي عواملو په سبب وږی پاتې کېږي ، او دغو عواملو څخه هر یو جلا یاد واړه سره یو او ګډ کله کله زموږ کوشش ددې څخه مانع شي چه موږ خپل اجتماعي حاجات ماړه کړو ، او چه داپېښه شي نو موږ ته نا آرامي او اضطراب او ماتې راپېښه او ور سره مواجه شو چه دا حالت نو اوس « نا کامي » بولي .

ځنګه موږ د موانعو سره مخامخ کېږو :

که موږ د خپلې نا کامۍ چه موږ ته راپېښه شوې په اسبابو پوه شو او در ک ئې وکړای شو نو په هغه صورت کښې موږ بردې ډېر په قدرت چه د بری مونده لو او پر خپل مرام او مقصد د غلبې او ظفر پیدا کولو دپاره نقشه ترتیب کړو . نو که زموږ د نا کامۍ علت یو داسې شی وی چه موږ ته ئې تغیر نه وی ممکن نو موږ ته پدغه وخت دا لازمه ده چه د حقایقو سره مواجه شو او د خپلو خواهشونو د مړولو دپاره نورې

لارې ولټوو . او که د ناکامۍ اسباب داسې شیان وي چه تغیر ئې ممکن وي
او بری سړی پر مونډلای شي ، نو موږ د حقایقو په مواجه سره کولای شو چه هغه
خوښي او خوشحالي او رضامندي لاس ته راولو چه زموږ د خپلو ځانو د پاره خوښه وي
دا باید یاده کړو چه موږ له ره دا ښائي چه موږ خپل هدفونه او مرامونه په عقل
او داسې رویه وټاکو چه زموږ د پاره د ناکامۍ څخه پېژغورلو کښې مو ثروي .
او دا باید ووایو چه موږ بخپل ژوند کښې د ډېرو ناکامیو سره مخامخ شوي یو ،
او دا هغه شی دی چه پر موږ سخت او گران تمامېږي ، مگر بیاهم ناکامي گانې
زموږ ژوند را خوږ او خوند ور کوي دا ځکه چه تر ناکامۍ وروسته کامیابي یو مخصوص
نشاط او ځانته خوند لري .



نهم فصل

هغه وخت چه موږ د خپلو اجتماعي حاجاتو په پوره کولو کښې ناکام شو د ځينو اساسي حاجاتو د پوره کولو د ناکامۍ په بحث کښې موږ د دې خبر يادونه وکړه چه بدبختي کله خيمه ووهي او کله ترمرګه پورې د سړي سره ملګرې وي داهغه وخت چه بعضې حاجات د ډېر عمر دپاره وږي او غير ماړه پاته شي . او که څه هم کله کله بعضې حاجتونه نسبتاً دلږې مدې دپاره وږي پاته شي خو زموږ ژوند خطرته نه وړاندې کوي او نه موسعادت په يوه محسوس ډول متأثر کوي مګر دلته بعضې هغه نتايج موجود ېږي چه د حاجاتو د نه پوره کولو په صورت کښې حتمي دي .

موږ ولې اکثره اوقات د اضطراب شعور کوو :

که څه هم د انتايج په خپل طبيعت کښې څومره خطرناکوالي نلري او بل دا چه ډېرې مدې دپاره دوام نکوي مګر بيا هم لازمه ده چه د اعتبار درجه ورکړه شي ځکه چه دا ډېر اهميت لري ؛ هغه دادی چه موږ په شعور بالرضا کښې د ډېره اغېزه لري لکه اکثره اوقات چه بيا موږ په داسې مواقعو کښې ځرګند او ښکاره کړي چه نه زموږ خوښ وي او نه راسره مناسب او لايق وي په داسې اوقاتو کښې نو موږ د اضطراب او خوابوتګي شعور او احساس کوو سره له دې چه په سبب به ئې موږ هېڅ نه پوهېږو ، دا ځکه چه موږ د دغه شعور او د هغه حاجت ترمنځ چه وږي پاتې وي لږ ځله ارتباط پيدا کوو.

د دې دپاره به موږ يو وږي هلک مثال په ډول ياد کړو ، دا هلک نه آرام وي او نه د ګذران وي ، تاو تاو کېږي ، پر يوه ځای ئې توخته نکېږي او لاسونه غورځوي او پښې ټکوي، ژاړي او بغارې وهي. او داسې حرکات کوي چه غير له هغو حرکاتو څخه بل قسم حرکات نشي کولای څو چه د دغه موقعه څخه ځان باسي همدغه ئې کاروي. دغه رنګه يو سم سړي ته هم په هغه وخت کښې چه حيرت ور پېښ وي اطمينان او د زړه ارام ته لار نشي موندلای، دغسې به پر خپل ځای سره تاو پېږي، يا به په خپل اطاق کښې قدم وهي د يوه سره څخه

تر بله سره پورې ځي او راځي ، پر له ايشي او هر څه چه ئې مخې له ور ځي په قهر او توت‌ئې پر ته کوي ، شکوه کوي او د هيڅ يوې ناوړې خبرې څخه چه پر خوله ورځي پرهيز نکوي دي هم مضطرب دي او غواړي د دغه نوعي سلوک له لارې هغه راحت ته چه ده ته مطلوب دي او دي غواړي ځان ته تهيه کړي ورسېږي .

نو که په هغه کوچني ته ووډي ور کړه شي آرام به شي او هغه حرکات به ئې سکون وموني ، او که هم دغسې د هغه سړي مشکل ور حل کړه شي زړه به ئې آرام او حرکات به ئې سکون و مومي ، او په دواړو حالاتو کښې د يوه حاجت موړ تيا پوره شوې ده . دغه رنگه که د طبيعت خراب (توتر) په يوه کښې د دغو دواړو حالتو څخه باقي پاته شي نتيجه به يوه وي لکه د طبيعت د خرابېده د زائلېدلو په صورت کښې چه هم يو دغسې حالت ته رسېږو نو اوس موږ ته دا معلومه شوه چه د هر حاجت نه موړول که عضوي وي که اجتماعي د اضطراب او قلبي نا آرامئ سبب کېداى شي هغه نا آرامي چه هغه سړي د چارو او علاج وړ وي اړ باسي چه د هغه موقف ازاله وکړي چه هغه د سړي نا آرامي را غونډوي ، او سړي ته بېرته د زړه آرام او راحت ور حاصل کړي نو کوچني خپل قهر او غضب چارو او ژړا سره ښکاره کوي او چه لږ څه غټ شي نو خپل بدراتله او حفقان بد خلقئ او بد طبيعتئ په ذريعه څرگندوي .

مگر دلته يو فرق او تفاوت شته چه هغه لوى اهميت لري چه هغه دادى چه خلك تو له تکيه او اعتماد د حاجاتو په موړولو کښې پر نورو کوي په داسې حال کښې چه لوى سړي پر دې قادر دي چه خپل کارونه او هر ډول اجراآت پخپله وکړي .

آيا ته رښتيا بوخ او رسيده ئې !

يوه نښه د پوختيا د ښو څخه داده چه ته د خپلو چارو پر معالجه پخپله قدرت ولرې . او دا خو معلومه ده چه هر څه چه ته د خپلو هغو حاجتو د موړو او دپاره کوې

هغې لارې ته به د تجربې او ازموینې له خوا ور رسېدلی ئې ولې تا دا زده کړې ده چه د زړه ارام او خوشحالی په کومه یوه مخصوصه او معینه طریقه حاصلېږی نو هر وخت چه د خفقان او ناآرامۍ شعور وکړې هغې طریقې ته التجا وړې.

ددې مقصد د توضیح دپاره وایو چه تا به حتماً کوم کوچنی لیدلی وی چه په یوه خاصه طریقه شرم او خجالت ور پېښېږی او زیاتره اوقات به مور ته په ژړا ورشی یا به اکثره اوقات لاس پورته کړې ددې دپاره چه د قوت او زور له خوا څخه د دې معاکسی دپاره حدا و مانع ایجاد او وضع کړی، یا کله کله ځان ناګمانه واچوی یا کله کله داسی لار او طریقه لټوی چه د هغه سړی خوشحالی ورځرا به کړی چه دی زهیره وی، موږ ته د هلك هغه کار چه دی ئې د هغه سړی په مقابل کښې کوی څه اهمیت نه لری، بلکه موږ ته دا اهمیت لری چه دی په کومو چار و ګوتې وهی او کوی ئې ځکه ئې کوی چه ده د پخوانیو تجربو او ازموینو څخه دا زده کړی دی چه د دغه ډول تصرفات همیشه د ده د نشاط او خوښۍ باعث او سبب ګرزېدل او ما یو کوچنی چه په دې عادت شوی وی چه په ژړا او قهر ؤ خوا بدی خپل مقاصدتر سره کوی هغه ډېر ژاړی او هر څه په ژړا غواړی، دا ځکه چه ده ته د پخوا تجربې او زده کړی څخه ور معلومه شوې وی چه په ژړا دې ځان له ناوړو څخه ژغورلای او ښېګڼی را جلبولای شی.

دغه رنګه کوم هلك چه د زده افعې او مقابلې دپاره لاس پور ته کوی پر ده دا تجربې ور غلې دی چه دا ئې ور ښوولی دی چه په زور سره د ده خواهشات ترسره کېږی، او ده ته خوښی را وستلای شی، لکه هغه کوچنی چه د کومو پېښو او هغو حوادثو څخه چه د قهر او غضب اسباب ګرزی تجاهل کوی ځکه چه ده ته دا څرګنده شوې وی چه دداسی شیانو څخه تجاهل د هغو څخه د تکدیر صفت ور کوی. دغه رنګه هر یوه ضعیت او سلوك او عادت چه د سړی

خوی او خاصیت شي په آخر کښې دې اندازې ته ور سېږي چه د تجربې په حکم د ده دباره د خوښۍ او رضا او کامیابۍ عامل وی .

په موږ کښې هر یو ځانته خاصه لار او دسلوک مخصوصه طریقه لري چه په هغې سره له نورو شخه امتیاز حاصلېږي او له نورو وګړو شخه ئې بېلتون او جلاوالی په راځی نو دلته یوه نجلۍ داسې وی چه کوم وخت کښې چه بخپل یوه مقصد کښې نا کامه شي او لاس تر زنه ور ته کښېني مګر بله نجلۍ به بیاو وینې چه په یوه خورا معمولي او جزوي غوندې شي تمام عمر اخته او ورته اړم به وی . ممکنه ده چه تا ته به بعضې زلمیان معلوم او پېژني به ئې چه هر وقت د چا سره په رأیه کښې مخالف شي نو جنګ او جدل او قهر او غضب ته لاس ور ته کی

لکه څېنې نور کسان چه تا ته معلوم دي چه اوزې به ښور وی او د بحث او مناظرې شخه به ډډه کوی . او موږ ټولو ته داسې کسان معلوم دي چه پر هغو با ندې ویسا او اعتماده مکن دی ځکه چه دوی په هغه وخت کښې چه زور پر راسې او چاري سختي و کړي دوی جدی شي او سخت سري ښکاره کړی . لکه داسې کسان چه بیا هم پېژنو او پخپلو دوستانو کښې داسې افراد وینو چه همتونه ئې کښته شي او چه لږ تغیر ئې په پروګرامونو کښې راشي سمدستي په مرستیال پسې ګرزي او غواړی چه ځان د هغه په قوت او موته دز حمت او تکلیفه شخه چه ور پېش وی و باسې .

دسلوك طریقې او نمونې څنګه تطور کوی :

دسلوک ټول له هغه انواع چه موږ ئې بیان و کړ د هغه فرد د شخصیت جزء ګرزېدلی دی چه موږ د هغه په بیان کښې یو او غواړو بحث ئې و کړو، او هم هغه سلوکونه چه موږ پدې سره وستایل چه هغه داسې نمونې او پروګرامونه دی چه د سلوک د پر له پسې تکرار او بیا بیا کېدلو شخه ئې نشئت کړیدی څو بالاخره د تکرار او بیا بیا کېدلو په واسطه عادت ګرزېدلی او دې اندازې ته ور سېږي چه د سړی امتیاز په هغه سره . راسی او د شخصیت جزء ئې و ګرزي .

اوځکه چه انسانی سلوک انتهائي پېچیده ګی لري، نو خورا ډېر کوشش نه
در واج شوو سلوکونو د شمېر د پاره شوېدی چه دا معلومه شي
چه مروج سلوکونه څو او تعداد ئې څومره دی، نو چه موږ پدې پوه شوه
چه د سلوکونو د نمونو څخه د پخوانیو ازموینو په اساس نتیجې حاصلېږي نو موږ ته
دا ممکنه کیږي چه د سړي سلوک د هغو اسبابو ځان ته معلوم کړو چه هغه د سلوک
تر شا موجود او پراته دي، نو هر څو نه چه موږ ته د سړي د یو چا څخه ډېر شیان را معلوم شي
په هغه اندازه څخه زموږ قدرت د ده پر پېژندنه زیاتیږي. او دا زموږ د پاره د بل او د ځان
د پېژندنې د پاره یو فارمول او حقیقت دی کله به ته اعتراض او تنقید وکړې نو به ووائې
چه ته خود خپل ځان په ټولو اوضاعو پوره علم لرې مګر سره لدې بیاهم ته همېشه
دا شعور نکوې او دا په زړه کښې نه در ګرزوی چه ته د خپل ځان فهم کولای شې او پدې
پوهېږې چه ته څنګه سړی ئې، ددې اعتراض جواب دادی چه احتمال لری او دا ممکنه ده
چه نادی د هغو افعالو تر میانځ چه ته ئې کوی یادی کړی وی او شعور ددې په کړی وی
او د هغو نمونو تر میانځ چه ستا د شخصیت امتیاز په راغلي وي وجود ولري کله یوه پېغله
وي چه په کومه وظیفه مقرره شي او په خوراخوښی او هوس او ورین تندی په مصروفه وي.
نو دا په سال کښې سل ثابته ده چه دا نجلۍ د خالقو د دوستیۍ پر حاصلولو او لاس ته
راوستلو په اسانی قدرت لري لکه داچه پدې هم پوهه وه او شعور ئې کاوه چه ددې
مجلسیان او مخاطبین دا ښه مني او په حسن قبول ئې قبلوي، نو دغه درک او شعور
پدې نجلۍ کښې پر خپل ځان د اعتماد احساس داسې نشوونما کړ او دومره ئې پکښې
وروزه چه ددې سره ئې دا مرسته وکړه چه دا ور ته اسانه شوه چه هر موقف ته ځان په نوی
کیف مکیفه، او د وخت او ایجاب او موقف سره برابر ځان جوړه وی او په هره بڼه
ځان کولای شي.

ددې څخه بالعکس یله نجلۍ د چه نوی په کار مقرره شویده که مکتب وی که
په کومه ملی موسسه کښې وی او که غیر لدې بل ځای وی نو دې ځان د نورو

څخه لېرې نیولی او په لوئي او تکبر کښې وی د نورو څخه ځان گوښه کوی. د دې سبب دا شی نه وی چه دا پر خپلو نورو ملگرو ځان لوړ او زیات بولی بلکه دا وی چه دې په خوا بعضی موانع لیدلی وی چه هغو دا بې باوره کړې او دا ئې ور ته یقین کړې وی چه د نورو ملگرو د خوا به دې ښه استقبال او پېش امدنه و نه شی. کله کله د دې دا موقف د دې شعور د پاره چه دا د نورو سره مناسبت نلری او وېرېږي نه ور سره و زی او نه ور سره بامی یوه پټوونکې پرده وی. دا نه غواړی چه د دې اضطراب او قلق ښکاره شی مگر ځکه چه دا په ځان بې باوره وی نو خپل ځان حقیقت پسې ډول پټوی چه ځان په یوه داسی دروغو کې چه حقیقت او اصلی شعور ئې ښکاره نشی او نه څوك په پوه شی.

دا نجلۍ عادتاً منزوی او نفرت کوونکې بلل کېږی مگر په حقیقت کښې دا یوه تنگ طبیعته او خوفناکه نجلۍ ده، ځینې کسان بیا دا رقم شعور په یوه مصنوعی جرئت او بې شرمی او د شدید ساختگی ادب په پرده کښې پټوی، دا ډول کسان چه وغواړی پر خپل ځان د اعتماد یوه فضا جوړه کړی (او دا په زیاتره او قاتو کښې په لا شعوری طریقه سره وی) نو د ځان پر شاؤ خوا د اعتماد بالنفس یوه نضار او گرزوی مگر د دوی سلوك او گفتار داسی څرگندنه کوی چه دوی د اعتماد بالنفس څخه خورا لیری دی.

هر شخصیت یوه ماضی لری :

هغه تجربې او ازموینې چه پر موږ راغلی دی دا ښکاره کوی چه خلق موږ هغه وخت منی او قبولوی چه موږ ځان په داسی قالب کښې وا چوو چه ځان په هره نوې ډله ور کښې باسو، هغه ترخې تجربې چه په آخر کښې ئې زموږ ناکامی په خپلو اجتماعی تعلقاتو کښې نتیجه شوی وی زیاتره ئې په وروسته پسې داسی سلوك راځی چه په هغه کښې تو تر او اضطراب پاشلی او خپور وی.

دا خبره د یادولو وړ ده چه د دې تجربو رگه سړی تر خورا لیرې گذشته پورې ور واخلی، او د هغه وخته څخه ئې را نیسی چه کوم سړی

چه ماموز وی یا که د کوم مجلس غړی وی یا د کوم مکتب په صنف کښې وی ددغو کسانو دهریوه د کچنیوالی څخه داسلسله راشروع کړې نو به دامعلومه شی چه زموږ دژوند نوی عادات اومؤثرات زموږ سره خوراداو زدې زمانې څخه ملګری او تعلق راسره لری نو که ته په یوه ټولنه کښې دهغې دغړو څخه یوغړی داسې ووینې چه هغه ددې دپاره چه دنورو ستر ګې ځان ته وروا ړوی او جلب انظارو کړی ځان دهرې بلا خولې ته وراچوی او یاد جمعیت دټولو اداری امورو په اجرا کښې فوق العاده نشاط ښکاره کوی نو په دی کښې څه شك نشته چه ددغه سړی دغه وضعیت ستا نه خو ښېږی او ددغه سړی پدغو اسلوبو نو باندې ته په قهر کېږې، او د ځانه سره داعزم کوې چه دده په هیڅ کار او هیڅ فکر او نظریه نه قبلوی او نه به ئې منې، او هر وخت چه ورسره ملګری سې او وئې وینې قهردی ورته راشی.

پدغه موقف کښې ابز څه فکرو که او د ځانه څخه پوښتنه وکه: داقهر له کومه شو. آیاد ناکامۍ یوه شعوراو احساس حمله درباندې راوړه؟ آیا یو سړی دلته ؤ چه یو کارئې کاوه چه ستا زړه غوښته چه هغه ته و کړې، آیا تاته په فکراو اندېښنه کښې دادر ګرزی چه ځکه چه داپلانی سړی ځان پورته پورته او اوقی کوی نو تاته خپل ځان بې اهمیت ښکاری؟ او که آیا تایو ورور درلود چه هغه به زغسی سلوك او وضعیت کاوه او ستا به دده دغه وضعیت نه خو ښاوه.

ته د دغه سړی ددغه وضعیت په سبب او علت کښې فکرو که چه دی داوضعیت او دا سلوك کوې او کم شی دی چه دی ئې د غه عجیب او غریب تصرف او عمل ته مجبور کوی؟ آیا تاتر دې پخوا دامعلومه کړې ده چه که دغه سړی پدغه توګه او دغه وضعیت ژوند ونکړی ممکنه ده چه دی ته به څو ك ونګوری او اهمیت به ور ونکړی؟ او که آیاده ته دا په خیال کښې ور ګرزې چه دی باید هرو مرو ځان ددې دپاره پورته او هسك څر ګند کړی چه دخلقو په زړو کښې یو اهمیت او درو ندوالی پیدا کړی؟ او که آیا دی په رشتیا او حقیقت سره داشعور کوی چه کومه ډله چه دې په هغې کښې ژوند کوی

ځان بېګانه او د ړلې شخه غریب ورته ایسی نو ئی زړه ورته ابزدی او تل پدې اندیښنه کښې دې چه دا ړله به ده ته په کومه سترګه ګوري او په خپل ما بین کښې به ئې په څه توګه منی او قبولوی؟ او ایا ستا په خیال داسی درځی چه ددغه سړی دخپل دغه سلو ده شخه مقصد دادی چه دی ددغه تکالیفو په واسطه چه وړی ئې د کوم کار اوعمل اجرا په کوی، او که تردې ښخوا له قدیمه شخه ملګرواو رفقاؤده ته پر دې عمل اوحرکت تشویق او تشجیع ور کړی او اوس نوده عادت ورسره موندلی دی. او که ده پر خپله کورنۍ دا وضعیت زده کړی او په کور کښې ئی ځان همدغسی اموخته کړیدی.

موږ خلق پردوه قسمه ویشو څوک تند مزاجه او عصبی بولو او څوک ارام او دسړې سینې خاوندان بولو یاداچه څوک خوشبینان او څوک دعالمه شخه جدا اووتلی بولو یا نور او صاف ورلره وایو. حقیقت دادی چه دیوه سړی ممیزه صفت یو نه وی بلکه قسم قسم او رنګ رنګ او ضاع او سلو کونه دسړی ځکه ممیزه ګرز ېدلی وی چه ده ته دهر سلوک او وضیعت صلاحیت او ښېګڼه او فائده په مختلفو مواقعو کښې ښکاره شوې وی، نو ځکه ئی بیا بیا کوی چه دهغې لاری شخه خپل مقصد ته رسېږی او مطالب لاس ته راولی نو داثابته شوه چه پدغه سلوک او وضعیت کښې یو غرض او مقصد موجود ؤ ځکه سړی ته تر ښخوانو دار امتیا اطمینان زیات شعور کوی او تر ښخوا دځانه شخه ډېر خوښ او پر ځان ئی نیت ښه وی کله کله دا مقصد ددې دپاره وی چه د نورو ورته فکر شی یا ددې دپاره وی چه دا ړه او مطمئن واوسی، یا داچه ددغه وضعیت او سلوک چه دی ئی عامل و ګرزی په اهمیت نور مستشعر او یوه کړی. کم وخت هغه مناسبات چه په هغو کښې دهغه وضعیت چه دغه مقصد په حاصلېږی بیا بیا او مکرر شی نو ئی ځکه سړی دخپل مقصد موندلو دپاره وسیله وګرزوی که څه هم دسړی مقصد او هدف دایماً معین او معلوم نه وی بلکه په حقیقت کښې دمقصد خاوندوار دسره هغه ته نه وی ملتفت او نه ئی تر زړه ایسلی وی، مګر د وضعیت او

سلوک نمونې او ښې د مرغوب او په زړه پورې موقف او فرصت په تهیه کولو ښې پخپل خیال یا د نورو په خیال ډېره فایده لري، موقف چه پدې لا یزار او همدغه شانته وي دهغه داخاصه وي چه هغه نا امیدي چه د ناکامۍ دوامې او بېړې شخه پیداوي لبزه وي او سپک وي.

دا یو حقیقت دی چه پر هلکانو او ددوي پرورونو که نروي که ښځه او ددوي پر پلرو او مندو هم تطبیق کېداې شي بلکه دا یو واقعي حقیقت دی چه پر ټولو وگړو دهر عمر چه وي تطبیق کېداې شي، او هر څومره چه زموږ پېژندنه د سړي په باب کښې ډېره شي هغو مره زموږ اقتدار د سړي پر فهم او پېژندلو ډېر یږي.

دسلوك بدتاويل :

زیاتره موږ خپل نوي پېژندوي بدو پېژنو، موږ پر دوي گمان کوو چه دوي دننه پوشي او دباندې بل شانته ځان ښکاره کوي، ددې معنی داده چه موږ د سړي او دده دا فعالو فهم نه کوو ددې دپاره موږ یو مثال وایو: یوه نجلۍ د تعلیمي کال په ما بین کښې دقاهرې شخه د صعید او اطرافو د مرکز په یوه پوهنځي کښې داخله شوه. د پوهنځي شاگردانې پدې گمان چه دا د قاهرې نجلۍ دوي ته په سپکه سترگه گوري ددوي سره گډون نکوي او د تفریح په وقت کښې نه ور سره گرزي بلکه دډوډۍ دخورک په وقت ئې په یوه لاس کښې ډوډۍ او په بل کښې ئې کتاب نیولی او لولې ئې، دوي پردې قاهره وي نجلۍ د یوې متکبرې او بدخلقي نجلۍ گمان کاوه، دا نجلۍ خورا ډېره ښکلې او ښته ښایسته وه او دائې زړه غوښته چه د پوهنځي د نجونو په ټولنه ور گډه وي، مگر دا و چه مدرسې ته در اتگ په لمړیو ورځو کښې ئې صدمه وموندله او داخیال ورلوېده چه نجونې ددې پر قاهروي لهجه تنقید ونه کوي او پکښې گډې وي تردې اندازې چه ددې دا خیال سو چه د مدرسې نجونې بېلې پورې خاندې علاوه پر هغه ددې دجامو خورا سپك او لبز غوندې مخالفت چه د نورو نجونو د جامو شخه ئې درلود ددې دپاره یو ممیز بلل کېده. دغه رنگه دې نجلې د خپلې لهجې

او جامې د سپک اختلاف په واسطه حساسیت وه وند او ځان ته متوجه شوه، او داسې ښکارېده چه دغه خپلې نوې ملګرې په آرنه ور ځي. خو داسې پېښه شوه چه د قاهرې د نجلۍ د خپلوانو شخه یوه نجلۍ هم په دغه مدرسه کښې شاګرده وه او په اخر نی کال کښې دې داهمدغې نجلۍ په واسطه او ددې د لارې د نورو نجونو سره وپېژندله نو د دوی دا خوړا خوښه شوه او ډېره مینه ئې ور سره ښکاره کړه نوئې خبرې ور سره شروع کړې او رفاقت ئې سره و نښت.

رښتیا همداده چه نوری نجونی دې ته خوراحیرانې تللی وې او دائې خوراخوښه وه او ددې جامې او کالی ئې ددې دلوړ ذوق ښېه په خیال ور تله، او دائې عقیده وه چه ددې لهجه خورا سپېڅلې او پاکه او زړه منونکې ده او دوی ددې په لهجه پورې تمسخر نکوی او کوم وخت چه ئې خبرې پکښې کړېدې بائې ددې د عباراتو او لهجې تقلید کړېدی د خوښوالی او ښه نیت په ادراه ئې کړېدی. مګر قاهروی نجلۍ ددوی مجلس ته هڅه ندرلوده، او کوم شی چه وضعیت ئې سخت کړی ؤ داؤ چه دائې د وروستنی کال نجونو ته محبوبه او ګرانه کړې وه، نو ددې نتیجه داشوه چه ددې د همصنفیانو په خیال داسې ورغله چه داپر دوی ځان لوړ اوړ کوی، او همدغه سبب ؤ چه دوی داسې معلومېدې لکه د چاچه د چا شخه بدراځې او تنقید پر کوی.

رشتیا هم داده چه دموقف حقیقت نه قاهروی نجلۍ او نه ددې همصنفیانوته ورمعلوم ؤ او نه ئې فهم کړی ؤ نو د تعلقاتو فضاد دوی ترمیانځ بدفهمی او بدتاویلی پیدا کړه، قاهروی ښکلی به پدې فکر چه د همصنفانو ددې شخه ښه نه راځی ددوی شخه ځان لیری لیری کاوه. او همصنفیانو خو ددې سره مېړخی او بغض و عنادنه ښکاره کاوه خو قاهروی نجلۍ ځکه چه ډېره ښکلې وه داسې تظاهر ئې کاوه لکه ددوی ناستې پاستې ته چه ئې اهمیت نه ورکاوه ځکه نو همصنفیانو ددې په مقابل کښې د نقص شعور کاوه او ځانو نه به ئې تردې کم په خیال ور تله.

په همدغه صورت اضطراب او ددواړو خواؤ شخه نارضائی او ناخوښې پیدا شوه. حقیقت دادی چه د پېښله ددفعل پیدا کېدل د خلقو په هره ټولی او ډله کښې ممکن دي

او د عمر په هره مرحله کښې ئې امکان سته هلك بالغ نابالغ ځوان ټولو ته یې ورنګه ور پېښېدونکې دی. دا زموږ هر یوه زړه غواړی چه په یوه مجلس کښې دی د خوشحالی شعور و کړی دی دی مجلس ته مقبول واقع شی، او که داسی نه وی نو اضطراب او عدم رضا او خفقان پرراځی.

دسلوك تفسير:

دهغو اسبابو او موجباتو په فهم او پېژند نه کښې غلطی او خطا چه خلق دی ته اړ باسی چه یو معلوم او معین سلوك او لار ځان ته غوره کړی زیاتره اوقات د بدبختئ او بد مرغئ سبب ګرزی، مګر که زموږ فهم او درك دسلوك په باب کښې صحیح وی د تنقید او بد ګڼلو اسباب به ورك شی او هیڅ وخت به د چاتر تنقید لاندی او نه به موږ خوك بد او ناوړه وبولی. نو چه له یوی خوا ته خپل اجتماعی اړی د یوې ښې او معقولی لاری شخه شی تر سره کولای، او له بلې خوا غیر له تا نورو ته هم ستاغوندی دغسی مشکلات ور پېښ او په مخ کښې وی نو وضعیت ډېر مشکل او سړی ئې حل ته لار نشی موندلای کوم وقت چه موږ ته د موقف فهم بشپړه نه وی موجود، او سړی پره پر هغه د نارضائی د شعور احساس هم و کړو نو یو داقسم اضطراب او دزړه نا آرامی (قلق) را پېښ شی لکه عینا چه یوه کوچنی واړه هلك ته د لوزی په وخت کښې ور پېښ وی. او دا نا آرامی صرف ددې خبری تعبیر دی چه موږ یوه داسی شی ته حاجت او ضرورت لرو چه په هغه زموږ دی ماتوالی چه را باندی راغلی دی د حملی شدت را سپك کاندی نو هغه ماتوالی او اضطراب چه زموږ راحت او آرام ئې را وران کړیدی ددی سبب کېدای شی چه موږ کوښښ او نشاط ته ور یوری وهی، او زیاتره اوقات سړی یو مضر کوښښ ته ورخرمه شی چه دسړی د ماتوالی او اضطراب د شدت سپکتیا دومره لکه پر نورو چه تعدی او تېری په راغلی وی نه په راځی مثلاً موږ وروسته تر هغه چه دخپله اطاقه شخه ووزو او خپله کوټه پرېږدو دیو شو دقیقو د پاره مو طبیعت ښه او راحت وی دا په هغه وخت کښې

چه موږ دغضب اوقهرپه حال کښې دخپل اطاق دروازه په شدت اوبله ښه په ځان پسې وتړو ، رښتیا اوحقیقت دادی چه موږ ددغه وضیعت په کولو دیوه ګړۍ او څو دقیقو دپاره دراحت شعوراواحساس کووا وپه همدغه وضعیت په دې هم موفق شو چه دنورو داوریقین کړو چه دوته قهرورغلی دی داسې قهرچه دهغه په واسطه ددوی په زړو کښې زموږ په نسبت دناخو ښتیا اوعدم رضا ښه پا ته شی . مګردابه هم ووایو چه پداسې وضعیت خلق نه خوشحاله کېږی اوهیڅ څوك په ښه نظرنه ورته ګوری .

کله کله موږ خپل تکبر اولوئی دیوې ګړۍ دپاره پدې راضی کړو چه پریوه سړی په قهر زغ و کړو اوماُیوس ئی کړو اوترا ټور کړو ، مګر نیتجه به څه وی؟ موږ پدې وضعیت سره خوزموږ حالت تغیرنه وخوړاو نه موهغه حال چه راپېښ دی ښه کړای شوای بلکه بالعکس ودا او کړه چه دنورو نیت موله ځانه څخه واړاوه اودخلاف اومخالفت فرجه (سوړه) موولویه ، او یوموړ ښمن مو ځان ته پل وموندنور څه مو ونکړه .

رښتیا داده چه که موږله یوې خوا دخپلی ماتوالی شدت سپک اود یوې ګړۍ دپا ره موخپل قهر سوړ کړ ، خو مګرداچه دنورو دوستی موبایلو وه اوښه نیت ئی زموږ په باب کښې په بدنیت بدل شولوی تاوان موځان ته واړاوه اوزښته ګرانه اوقیمتي را له تمامه شوه . کوم وخت چه موږ ته له یوې خوا دتفکراوخپلو تصرفاتو دواقع راخر ګندشی او په ښه توګه ئی وپېژنو ،اوداهم په یادولرو چه خلق تولهٔ لکه موږ غوندې عینا دغسی حاجتونه اری اوهمدغسی خبری اومسایل ورپېښ اوپه اخته وی هلته به نوموږ ته دا ممکنه شی چه دځان قیادت و کړو اودخپلو ځانوواګی او اختیارموترلاسه کړی دخپلو دوستانو آشنا یانو اودنورو هرچاسره چه ګډون اوناسته ولاړه ورسره لرو ښه ګزاره اوحسن معامله و کړو . نواوس موږ ته دا لازمه شوه چه لمړی خپل ځان

و پېژ نو اوورو سته ترهغه دخپلو دوستانو او محشور ینو دشخصیتو نو مطالعه او پېژ ندنه حاصله کړو ، اودا رامعلومه شي چه زموږ دشخصیت د کومی نوعی او د دوی شخصیتو نه د کومی نوعې دی، نو چه هغه مناسبات چه په هغه کښې دشخصیتاو سلوک او دبعضو نمو نو دظهور احتمال مو جود وی موږ ته رامعلوم شی نو به ز موږ اقتدار پردې خبره ډېر وی چه پرخپل منکر سیطره وموموا و بد نیت (سوءنظر) ئی خپل ځان ته په (حسن نظر) بنه نیت بدل کړو.



لسم فصل

شعور او لاشعور:

د شعور او احساس تجربه زیاتره کسانو د ناکامۍ په ذریعه او د همدغه لارې څخه کړې ده پداسې حالاتو کښې چه: یا ئې یو د زړه مقصد نشی ترسره، یا په کومه چاره کښې ناکام شی، یا دا چه موږ نور په پوره ډول و نه پېژنې؛ یا تر دې اندازې چه بعضې اوقات فقط په همدغه قدر سره د ناکامۍ احساس او شعور کوو چه زموږ بعضې پېژاندوی موږ ښه نه بولی او نه موخوښوی. نو پدغو ټولو صورتو کښې موږ دیو ډول ماتوالی او طبیعت خرابۍ شعور او احساس کوو، لکه د دې زړه و نکی شعور سبب چه هم رامعلوم وی.

مګر بعضې اوقات د خوا بدۍ او ماتوالی او یو قسم طبیعت خرابۍ شعور او احساس کوو مګر سبب ئې نه را معلومیږی چه ولی او په څه، کله کله دا شعور دې حد ته ورسیږی چه ټوله ژوند بلکه ټوله نړۍ تر نظر توره او تاریکه راشی پرځان او جهان دواړو نیت بدوی، او دې اندازې ته ورسیږو چه نور دی ته مجبور شی چه زموږ د غیر طبیعی او دې ناوړو او نادرو اوضاعو د سر او سبب پوښتنه وکړی چه: «پدې پلانی څه شویدی او څه ورپېښه ده؟»

کله کله داسې ښکاری چه زموږ دغه اضطراب هیڅ کوم سبب نه لری، مګر په حقیقت کښې دغه نوعه د اضطراب احساس او شعور خپله یوه محدوده او ذاتی معنی لری. او موږ کولای شو چه دیوې عمومی قاعدې غوندې و وایو چه دا شعور زموږ د پخوانیو او هغو زړو تجربو او رابانډې راغلو وقایعو نتیجه ده چه اوس ئې موږ نه را په زړه کولای او نه په خواو خاطر کښې را ګرزولای شو، او نه موږ ته دا ممکنه ده چه داوسنی ماتوالی او اضطراب او د پخوانیو حادثې تر میانځ چه اوس زموږ د خفقان سبب ګرزیدلی دی یوه علاقه او رابطه پیدا کو. پرموږ پخپلو وخپنو کارونو کښې داسې ډېرې خبرې راځی چه موږ ئې په شعوری او ارادی ډول نشو را په زړه کولای

خو سره له هغه بیاهم په یوه پټ او مخفي ډول زموږ په اذهانو کښی پاتېږي او خپل اثر او اغېزه پرېږدي او زموږد حیرانتیا او نارضاوالي سبب او باعث گرزي مثلاً: موږ ته یو څوك په مخه راسي او موږ سلام ورواچوواو دی مو سلام را (وعلیك) نکړي ، یالکه داچه زموږ په زړه کښی یوه خو را مهمه مدعاوي او هغه تر سره نشي ، یا یوي مېلمستیاته پر خپل وخت برابر ور نشو ، یا اکه یوي مېلمستیاته چه په یوه داسی لباس او کالو کښی ورسو چه دهغي مېلمستیا سره مناسب نه وي او دهغي شېبې کالی نه بلل کېږي نو حقیقت خود اوي چه هیڅ یو داسی شی نه وي پېښ چه زموږ روح دی را خرابه او کرغېړنه کړي ، خو که ئې اثر پوازې په همدغه روح پوري منحصروای خو بده به نه وای مگر افسوس خودادی چه دداسی او ضاعو څخه چه کوم شیان پیدا کېږي اثراو اغېزه ئې یوازې په هغه روح نه وي بلکه نورو روحونه هم پاته وي ، او به یوه داسی ډول اثر کوي چه موږئی په شعوري ډول درك نشو کولای ، خو بیاهم ددوي یو عمیق اثر په موږ کښی پاته وي او تکلیف را کوي .

خوداشیان په ټولو خلقو کښی یو شانته او په یوه ډول نه وي او ټولو ته یو شانته دتکلیف او اضطراب سبب نه وي اوددوي سره مخامخ کېدونکی پخپل مابین کښی ډېر او تفاوت سره لري . مثلاً یو سړی داسی وي چه د سلام جواب ئې څوك ورنکړي دقهره سره چوي مگر بل بیادو مره پروا نه په کوي که ئې څوك سلام ورنه کړي په خورا خوشحالي او خندا به ورته ووائي : « دسلام جواب دی ولی رانکړ فکر دي بلی خواته ؤ ؟ او که کوڼ شوی ئي ؟ » دا به ورته و وائي او په زړه کښی به هېڅ نه وي متأ ثر او نه به ئې په خواو خاطر کښی څه ور گرزي او نه به داانده ښه ورلوېږي چه دي سړی تاته اهمیت نه در کاوه او په آر ئې نه راوړلې . دغه رنگه دچاعزم اواراده ور نا کامه کاندي او دیأس او نا امیدي حال ته ئې ورسوي او دچا بیاعزم او اراده ورسخته او کلکه کړي او ړېړو کو ښښ ته ئې

تر پخوا زیات مجبور کړی لکه ځینی کسان چه پخپلو خطاگا نو او اشتباهاتو باك هم نکوی او پرخاندی بداسی حال کښی چه ځنی نور دخجالت او غم له لاسه دومره ویرجن وی چه نز دې وی دغم څخه مړه شی .

په هغه موقع کښی چه موږ ته اندیښنی تکلیف او زحمت را کوی :

څوك چه پرځان اعتماداو باور نلری عادتاً ډیر حساس او حساسیت ئی شدیدوی، په کوچنئ خبره او په نه شه متأثر کیږی . او اضطراب ئی دې اندازې ته ورسیږی چه په لاشعوری ډول ئې په ذهن کښی نقش او ار تسام مومی ، او ځکه چه بې سببه او بې لدې چه کوم شی دی ځان ته پیښ و بولی همیشه د بدبختی شعوراواحساس کوی موږ ته دی داسی په نظر راځی چه دی نشی کولای او پر دې قدرت نلری چه ځان هغو مواقعو او ظروفو ته برابراو آماده کړی چه بر ده راځی یا په بل عبارت دوقت او موقع سره سازه او جوړه نشی کولای بلکه د ده آینده سلوك او ژوند په آینده کښی لا هم متأثر او غمجن وی . خلاصه او لنډه دا چه زموږ لاشعوری اندیښنی اوسوداگانی یعنی هغه چه زموږ دشعوری ژوند په یاد نه ورځی او هغه دخفقان اندیښنی او خاطری چه پخوا موږ ته را پیښې شوی وی ددې ډول څخه کوم وقت داسی وضعیت اوحرکات پیداسی چه موږ ته ددې قدرت نه وی حاصل چه ددغو حرکاتو او وضعیتو نو دحقیقت دپاره یو تاویل او تفسیر پیدا کو ، او داوواپو چه ددې سبب څه دی او داولی داسې پیښه د ه او عامل ئې څه شی دی . دابعضی هغه اندیښنې اوزړه خراشوونکی خاطرات دی چه موږ ئې ډیری او زیاتره بیر ته نشو را په یاد ولای او که نه څوك دی چه پخپل عجزاو ناوسی دی اقرار وی او خپل عجزمنی یو له هغو تجربو څخه چه زیاتره موږ ورسره مخامخ کیږو او په موږ کښی شهرت اورواج اری دا دی چه یوه خبره یا یو کار و نواو وروسته تر کولو ئې سمدستی افسوس کوو چه کشکی مو هغه خبره یا کار نه وای کړی،او دریمې دځانه سره وایو:دولی می داخبره پدې لهجه و کړه،یا ،دمی ولی ور په ځان بسی داسی ډینگ ونا ړه ؟،یووقت بیاپر دې افسوس کوی

چه د بلانی سره مې په سخته لهجه خبرې وکړې یا مو پدې طبیعت خفه وی چه د بلانی سره په ترش تندی او بروس" وضعیت ملاقی او مخامخ شوم، یا دیوې شدیدې ملاحظې او غیر معقول نقد او اعتراض له جهته چه یوه چا ته مو متوجه کړی وی خفه او متأسف یو او دا موږ ته غواړی چه که وکړای شو چه د هغه اثر او اغیزه لېرې او محوه کړو. ددې اوضاعو او تصرفاتو تفسیر چه خلق پر روان دی او دوی ئې شعور او احساس کوی موږ ته ئې تر هغو تفسیر ندی ممکن څو موږ ته ددوی د تېر ژوند او حالاتو یوه برخه او ددوی د هغو تجربو او سړو او تودو درک را معلوم نسی چه پر دوی ورغلی او تېرې شوېدی.

کله کله موږ د قهره سره چوو، مگر موږ ئې په پټولو کښې ډېر کوښښ کوو، بالوخت بیاد یوه کار په واسطه چه پر موږ ئې اجرا کول لوېدلی او باید موږ ئې وکړو خورا ناراضه او بد موبه راځی مگر دا بد راتله زغمو او ځان نه ښکاره کوو کله ددې جهته اضطراب راپېښ وی چه د یوه کار د پوره اجرا او داسی ترسره کولو څخه عاجز یو چه هغه مجری و خوری یا د یوه داسی شی د پېښېدلو څخه په خوف کښې یو چه موږ ئې مخه نشو نیولای ددې احساسونو څخه موږ د خبرو او کلام په ژبه بیان او تعبیر نشو کولای او نه په خوله بیانېږی لکه په شعوری طریقه چه فکر هم نشو پکښې کولای، مگر بیا هم زموږ د ذهن او عقل په یوه څنډه کښې پاته وی او زموږ په افعالو کښې په آینده کښې موثر او اغېزه کوی. او ددې پاره چه موږ ته د یو چا رویه او سلوک را معلوم شی او په پوه شو پر موږ دا خبره لازمه ده چه دده ډېر څه او یوه پوره برخه شیان را معلوم کړو. یو فرانسوی متل وائی «که هر څه در معلوم شی هر څه به و بخښی» یعنی که موږ پوه شو نو به د تنقید او ملامته څخه لاس واخلو. د یو چا په پېژندلو کښې چه موږ ته د ځینی شیانو معرفت لازم شی هغه یوازې د هغه د عمر د تجربو د طبیعت او نوعیت پېژندنه نده چه پر ده ورغلې او ده لیدلی یا ئې تیری کړیدی بلکه موږ ته لازمه ده چه هغه احساسات او شعور او اندېښنې

ویېژنو چه دده په زړه کښې دی یالدغه قسمه نور افکار، لکه دده تعلقات د خپلې کورنۍ له افرادو سره او هغه اثر او اغېزه چه دده اشنایانو او دده د مکتب او مدرسې استادانو په ده کښې پرې اېښې ده ډېر اهمیت لري کوم وخت چه موږ ته دده دقولو هغو حوادثو چه پرده ورغلي دي او هغه ناکامۍ یا کامیابۍ او هغه شخصي او خصوصي روابط چه پدغو ټولو پورې اړه لري ټول له موږ ته را معلوم او موږ په پوه شو نو دار اله ممکنه شي چه دهغو عواملو او اسبابو په فهم او پوهه کښې ګام واخلو چه هغه سړی دی ور بولي چه یوه معینه رویه او ټاکلی شعور غوره او منتخب کړي.
دا ښکاره ده چه موږ د خلقو د ټولو شیانو سره تماس نشو موندلای او نه ئې ځان ته معلومولای شو او نه ئې پر ټولو تفصیلاتو او لویو کوچنیو احتوا کولای شو، لکه ددوی یاد او ذاکره چه ددوی سره ددوی د ژوند د هرې لوئي او کوچنۍ خبرې په وریادولو کښې ښېګڼه او احسان نشي کولای.

ځینې شیان موږ ته خورا ژر را په یاد شي:

موږ پردې قدرت نلرو چه خپل ټول له حوادث چه را باندې راغلي او مشاعر او افکار چه را سره ملګري شوي وي په واضح ډول خوا او خاطر ته راولو او را په زړه ئې کړو مګر ددې څخه مقصد او معنی دا نده چه هغه نو ټوله زموږ د یاد او ذاکرې څخه تللي او پرمخ محوه شوي دي واقعي او رښتیا حقیقت دادی چه هغه شیان چه پر موږ دازموینو او تجربو له ډوله څخه راغلي دي زموږ پرمخ ندي هېر، مګر په هغو کښې ځني شیان داسې وي چه سړي ته ژر او په اساني ور په زړه کېږي، او دبعضو ور په زړه کول ګران او سخت وي لکه ځني داسې شیان چه هم سته چه موږ ئې له را په زړه کولو څخه بالکل عاجز یو. پدې باب کښې ټوله خلق یو رنګه او سره مساوي دي، مثلاً ته په بازار کښې روان ئې او یو سړی چه ستا پر خوا ناته مخامخ رارهي دي ووینې او سم دستي ورته په سپېدلو شې او ځان دې ته جوړه وې چه سلام ورواچوې نوم ئې واخلې او ور وغبږ ورسره وکړې نو ستا او دده ترمینځ دهغو شیانو په باب کښې خبرې اترې راولوېږي چه دیوې خوا

او بلې خوا څخه ستا او دده تر مینځ موجود شوی وي. ته په دغه حالت د خپل دوست نوم په اسانۍ سره در په زړه کولای شې لکه هغه معاملات چه ستا او دده تر مینځ تیر شوي يدي هم خوراژر او په اسانی در په زړه کولای شې که څه هم میاشتې یا کلونه ستا او دده پر لیدنه او کتنه تېر شوي او نه دي په میاشتو او کلونو دغه معاملات چه اوس دي دده سره خبرې پرو کړې په خوا او حاظر کښې در گرزیدلی یادي فکر پکښې کړی وي.

داموږ ته ولو ته معلومه ده چه ځینې حقایق چه زموږ په ذهن کښې ساتلي ندي پاته دي معنی دا نده چه موږ ئې هر وخت چه اراده ئې وکړو پر را په زړه کولو قدرت نلرو. زموږ خپل معلومات را څخه هېر ډېږي نه بلکه یو مهم شي چه پدې باب کښې شته هغه دادی چه موږ اهمیت نه ور کوو چه یوه روح خپل فکر دهغو خواته متوجه کړ او راپه زړه ئې کړ و.

دغه معلومات که تا فکر نه وې پکښې کړی د کمه شوه او څنگه در په یاد شوه؟ معلومه خبره ده چه تا نه وه هېر کړې نو ځکه ئې بېرته در په زړه کول او ذهن ته در گرزول اسانه وه، او هم داسې ستا په ذهن کښې پاته وه لکه ستا په ذهن کښې دهغې خزانې برخه چه ستاد معلوماتو په ضمن کښې موجوده وه مگر په داسې صورت ستا په ذهن کښې موجوده چه ستاد عقل د شعور تر سویه نه وه لاندې یعنې ستا عقل ئې شعور نه کاوه نو ځکه همیشه تاته حاضر او آماده نه وی. په همدغه ډول ډېر حقایق دې اندازی ته رسیږي چه د عقل د لاس رسېدلو د سو یې څخه لاندې پاته وي یعنې عقل ته نه وي حاضر او ذهن ئې نشي حاضرولای، مگر په هغه موقع کښې چه موږ وغواړو چه را په زړه اوراپه یادئې کړو را په یاد یېږي. ته کولای شې چه خپل عنوان، د خپل پلار نوم او دهغه کار او کسب در په زړه کړې، او داشیان که کله ستا په ذهن کښې حاضر نه وی مگر چه پوښتنه در څخه وشي جواب ئې تاته په فوری ډول حاضر شي. نو دلته اوس ډېر داسې حقایق موجود دي چه د شعور دا حاطې څخه وتلي غوندې ښکاري مگر تا ته زور نه غواړي چه عقل ته ئې را ولې او په کلام او ونیا بیان او تعبیر ځنې وکړی.

بعضې چارې موږ نشو را په زړه کولای :

خو بیا هم د یادولو په زړه کېدلو مسئله همیشه اسانه او فوري نه وي یعنې داسې نه وي چه زموږ ذاکره همیشه زموږ سره په مرسته کښې وي او هر وخت موږ ته شی ژر په ژر او فوراً را په یاد وي، دا سخت موقف په موږ کښې ډېر زیات ترو کسانو بلکه پر هر چا ورځي چه دیوه چا سره مخ شي او پداسې حال کښې چه ښه ئې پېژني مگر نوم به ئې ځینې هېر شي او هر څه چه وکړي ور په یادولای به ئې نشي، یا چه د کور د څخه په یوه کار پسې راوزو مگر بېرته به کورته ورسو او کار به را په یاد شي، داسې څوك به په موږ کښې نه وي چه داگړې به نه وي پر ورغلي چه یوه خبره یا یو نوم ئې په زړه کښې جگ ولاړ وي خو چه هر څه کوي پر ژبه ئې نه ورځي او تر خوله ئې نشي را ایستلای، دا زیاتره هغه وخت وي چه موږ غواړو یو سړی بل ته معرفي کو او نوم ئې ور اخلو مگر هغه نوم د غسې را څخه هېر شي چه په زړه کښې مو جگ ولاړ او پر خوله مو نه راځي.

نو اوس دا ښکاره شوه چه دلته بعضې حقایق شته چه موږ ئې ددې قدرت نلرو چه کوم وقت ئې موږ اراده وکړو د شعور منطقي ته ئې را حاضر کړو و که څه هم ته پدې پوهېږي چه هغه دي په خوله کښې او د ژبې پر سر ده مگر بیا ئې هم نسی را ایستلاي او پر خوله دي نه درځي. داسې حالات موږ ټولو ته را پېښېږي، او ځینې اوقات سړي ته قهر ورولي یا خو تکلیف او زحمت ور کړي، مگر بیا هم څه اهمیت نلري او نقیصه نه بلل کېږي و لې ددې حالت تفسیر او علت ممکن دي چه کشف کړای سي او داو ویل شي چه دا حالت ولې پېښېږي او سبب ئې څه شي دي مگر دا هغه وخت کېدای شي چه زموږ دیوه سړي یا ټولو کسانو په هغو شؤناتو او اخلاقو علم او وقوف حاصل شي چه زموږ په ذهن کښې هغه د دوي سره ارتباط لري، یا هغه حوادث او وقایع چه پر موږ راغلي وي را معلوم او ټوله موږ په زړه وي

د هیرې او نسیان دا نوعه څو مره اهمیت نلري او داسې عیب او نقیصه نه بلل کیږي لکه دعادي نسیان حالت موږ ته زیاتره اوقات پدې باب کښې ناکامي را پیښه وي چه دخپلې ذاکرې عمق ته ددې دپاره ورشوه سو چه دهغو حوادثو او تجربو څخه د هیرې او نسیان پرده پورته کړو چه په کوم په خوا وخت کښې ئې زموږ پرشعور اثر او اغېزه کړې وي ، یا کوم معلوم او معین حوادث چه موږ ئې را په یاد وول غواړو او دا چه موږ په هغو روابطو او علاقاتو ځان خبر کړو چه دعلت او معلول تر میانځ موجود وي او داد هغې جملې او هغو شیانو څخه وي چه زموږ په زړو کې نا امیدي او شک پیدا کوي . په دغسې حالاتو کښې به داده چه موږ دیوه داسې سړي څخه مرسته وغواړو چه هغه د اتجاهاتو او انفعالاتو د نشو نما په استقصاء پوه او د خلقو سره د مرستې په طرز کښې چه څه ډول یو څوک د سالم تکیف پر لار سم کړي باخبره او ښه پوه او ازمویلې وي .

ځکه چه هر شی خپل تفسیر او ځانته بیان لري ، نو دا نده ممکنه چه هر سلوك اره دې یو سبب نه وي لکه دا چه هم نده ممکنه چه هر سلوك دې یوه غایه او غرض او هدف ونلري ، مګر دا همیشه یو اسانه خبره نده چه موږ ته دې دحاضر او ماضي تر میانځ دا تصال دائمي کړۍ (حلقه) را معلومه شي او د ګذشته ؤد حال دار تباط په واسطه او رابطه دې هر وخت او په هره حادثه کښې پوه شو. نو کم وخت چه څوك د پخوانیو خاطراتو په سین کښې ځان لاهو وویني او خاطرات او زړې اند ګېښنې پرغالبې شوې اولا ندې کړې ئې وي نو دې یو داسې چاته مراجعه وکړي چه هغه دغو زړو خاطراتو په توضیح او تفسیر کښې مرسته ورسره وکړي او د پخوانیو واقعاتو علل او معلولات ورته بیان کړي .

کله کله افکار دغم او ویر نتیجه وي :

مشکله ، بلکه بعضې اوقات د محالاتو د جملې څخه وي چه موږ بعضې خبرې (حقایق) را په زړه کړو ؟ او کوم هغه اسباب دي چه موږ ته ئې پېژندنه ددې دپاره ضروري ده چه دهغو په واسطه موږ ته خپل عدم اقتدار

پردا به زړه کولو بیان کړي اوددې نقیصې علل را وښیي ددې جواب دادی چه
کوم حقایق او خبرې چه را به زړه کول ئې ممکن نه وي به ځنو خفقان راوستونکو
شیانو پورې ارتباط لري او زیاتره پېداسې شیانو پورې مربوط وي چه د هغو په
واسطه موږ ته دځانه سره شرم او خجالت راپېښېږي او خپله ګنه موستر ګوته درېږي ،
اود همدغه غم آور شعور او احساس په سبب موږ خپله دیاد قوه (واعی عقل) تر کاسه
لاندې کړو ، یعنې په هغه منطقه او احاطه کښې ئې کښېږدو چه په هغې کښې موږ
هغه شیان ذخیره کوو چه په زیاتره اوقاتو کښې موږ د هغې احاطې ځخه د شعور د ګرته
کوم داسې معلومات را کاږو چه زمانه ډېره پرېته شوي وي .

نو ددې سبب چه موږ ته بعضې حقایق نه را په یادیږي دادې چه د هغو په یادراوړلو
را به زړه کولو موږ غمجن وی ، مګر بیا هم زموږ د زړه څخه نه وزي او غمجنه ونکی باد
داشتو نه پاته وی او داسې پاته وي چه زموږ د شخصیتو نو وه برخه او جزء ځینې تشکیل شوی
وي ، مګر دغومره قدر وي چه په باطنی عقل کښې تر پرده لاندې پټ پراته وی او
موږ ئې نسو راپورته کولای او نه ئې را په زړه کولای شو ، او په همدغه توګه زموږ
داضطراب او ګنهګاری شعور او احساس چه له هغو څخه به راپېښېده محوه او باطل شي
مګر ځکه چه هغه پر یوه مخ او په قطعی ډول ورك او وران شوی نه دی نو ئې
اثر او اغېزه په موږ کښې پر مخ او بالکلیه نه ورکیږي .

نو هغه حوادث او افکار او هغې چه زموږ د باطنې عقل په کومې او پای کښې تر خاورو
لاندې پټ پراته دی همدغسې بلاناغه او دائماً زموږ په سلوك (ګذاره) کښې تأثیر کوی ،
که څه هم موږ د هغو په تأثیر چه په سر د پرن عقل (عقل واعی) کښې ئې اری نه پوهیږو مګر
بیا ئې هم سیطره او غلبه خورا قوي ده . او همدغه حقایق دي چه موږ ته زموږ د زیاترو غریبو
او نادر واو شاذ و تصرفاتو او حرکاتو تفسیر او ښوونه کوی هغه شذوذ چه زموږ
اعمالو ، افعالو ، اقوالو ته ور پېښ وی او موږ پر دې چه ولی هغه زموږ څخه پېښېږی
تأسف کوودا خفیف انفعالات نه محوه کېږی او نه له ما بینه څخه وزي ،

بلکه وار په وار ئې فشار او اغېزه ډېرېږي او تأثیرئې قوي کېږي داسې چه زموږ اوسنی سلوک د ماضي تر سلطه او تأثیر لاندې دی. موږ ته چه مشکله او سخته راپېښه ده هغه داده چه دغه افکار په ماضي او په خوا کښې څنګه په موږ کښې ځای نیولی دی هغه ماضي چه اوس ئې موږ نشو راپه یاد ولای او نه مو راپه زړه کیږي که څه هم زموږ په باطني عقل کښې د غم او افسوس منبع همدغه افکار دي.

کله کله دا (غلي) افکار د سلو کې افعالاو سبب و ګرزي مګر دومره اهمیت نلري، سره له دې چه بعضي اوقات بیا هم اهمیت هم لري.

غلي افکار تل غم راوړونکي نه وي:

یو هلك به تل دا ښکاره کوله چه دده «چاکلیټ» نه خوښېږي که څه هم دده حلوا خوړا خوښه وه، که څه هم دا نوعه طبیعت څه اهمیت نلري ځکه چه دا شیان د سړي په کفایت او قابلیت یا په اجتماعي ژوند، یا د سړي د ژوندانه په کامیابي یا ناکامۍ کښې څه اثر نکوي، خو بیا هم دده د «چاکلیټ» څخه بد راتله د ماضي په حوادثو د متأثر کېدلو له پاره یو واضح مثال دی، ددغه هلك د حالاتو په معلومولو کښې چه دې ما کلیټ د کوم طبیعت څخه تن او څه ډول هلك دی ده مور لاندینی قصه وکړه:

هلك چه د ۱٤ کالو ؤ یو ورځ د خپلو پلار سره د خپلو والو کره ولاړ، د پلار ئې دا عادت ؤ چه هلك به ئې همېشه تر اته او دا به ئې ځني غوښته چه هر حرکت ئې پر آداب و برابروي او باید دې یو لایق او با ادبه هلك اوسي. پلار د هغو کسانو څخه و چه پخپلو اولادو ئې افتخار کاوه او کوشش ئې در لود چه دده زوی دې یو لایق هلك وي مګر داؤ چه معامله ئې په سختي و ر سره کوله او سزا به ئې شدیده وه د خپلوانو کره چه سره ولاړه هلك سعیه کوله چه باادبه او ارام اوسي او له خپله ځایه څخه ئې حرکت ونه کړ خوړا په متانت او آرام ناست ؤ کور به به خوږي ورته راوړې او هر څو واره چه ئې خوازه شیان ور ته راوړه ده به یو څه ځني واخیښته او نور به ئې پرې ښوو ه څلرمه پلا چه ئې ور ته راوړه او ده غوښته چه بیا یو څه ځیني واخلي پلار ئې فکر وکړ چه که ئې د دې پلا بیا خوږي واخیستی کوربه به ئې پرزوي د بې ادبه

او نالایق ګمان و کړی نوئی خورا یو دقهر زغ پرو کړ او یوه ترخه خبره ئې ورته و کړه ، هلك د پلار قهر او غضب ډېرو بېر او ه ، او تر هغو ځنی فارغ نشو مګر څو کور * به هلك ته و ویل چه : ورشه دها بلی خونی څخه ها پلانی شی را و اخله ، نو هلك پدې ډېر خو شحاله شو چه یوه بهانه او پلمه ور پیدا شوه او دپلار له مجلسه څخه بلی خونی ته ولاړ شی .

دلته تصادف او اتفاق خپل رول لو بوی ، هلك ته پدغه خو نه کښی د « چا کلیټ » یوه قطعی پهلاس ورځی او څو ك هم په خونه کښی نشته ، دهلك چه هر څونه دلاسه کېده او خوړ لای ئې شوای هغونه ئې و خوړه ، مګر په زړه کښی متأ ثر دی او پخپله ګنه پوه دی چه څنګه دبل مال بې اجازې خوری او دخپل پلار نافرمانی کوی . چه پلار کور ته بېر ته دتګ دپاره ور زغ کړه لېز څه ئی زړه ارام او خاطر ئې جمع شو او دائی زړه ته و لوېده چه دپلار دزړه څخه قهر وتلی دی او د ده بې نزا کتی ئې هېره شویده ، مګر په عین حال کښی دا واهمه دروار بده چه «چا کلیټ » ئی غلا کړې او خوړلې وه ، پدغه وخت کښی چه دوی دخپل کور خواته دتګ دپاره آ ماده ګی نیوله ناڅا په هلك ته دنس درد و ولاړ شونو دوی ئې دنار وغه او درد په علاج مصروف وه اودی دځانه څخه شرمندۀ ودې خبری بیاډېر زهېر اوه چه د ده دهغه حر کت څخه دبد را تلو اظهار و کړی کم چه ده د کو ر به پـه مخ کښی کړی ؤ ، په زیاته چه دابه ئې ور په زړه کړه چه که ئې پلارد چا کلیټ په خوړ او خبر شو نو به ئې غم او تأ ثر نور هم پسی زیات شو . او د خپلی ګنه شعور او احساس به ډېر متأثر کړ هلك چه کورته و رسېده هغسی ئې نس درد کاوه او دی مجبور ؤ چه دهغو شیانو دخوړ لو څخه ځان وژغوری چه د ده خورا ډېر خوښ وی لکه دا چه ئی هم د زړه څخه نه وتله چه ده څنګه بې ادبې و کړه او دپلار دبد را تلو او په قهر کېدلو سبب ئې شو .

او که څه هم د چا کلیت په خوړك چاڼه و نیوه، مګر پخپل زړه کښې دا واهمه ور لوېده چه نه چېرې اقراردې په ده و شي.

دې دګنه خاطرې به د ده زړه ور تنګاوه تر دې اندازې چه دده په باطني عقل کښې ئې ځان غلی او تمرکز وموند. څو دا کیفیت په ده کښې پاتې شو او په زړه کښې رسوخ وموند د چا کلیتو څخه ئې بدراغله خوښېدې نه وې او هېده چه ولې؟ او سبب ئې ځان ته نه ؤ معلوم.

کله کله (غلی افکار) دغم او خفقان باعث وي:

لاشعوري مؤثرات لکه لاندېنۍ د دوو خوندو قصه چه ئې موږ ته نابتوي خورا مهمې اغېزې لري او د سړي په شخصیت کښې لوی رول لوبوي:

دوې خوندې وې کشره خورا خنده رویه خوشحاله او د نرم طبیعت مړمن وه، او هر چا اعتماد پر درلود، او دا بله چه تر دې لویه او پنځه کاله پر مشره وه خورا ژر به قهر کېدله، نه به مسئولیت بنده او نه ئې د چا لحاظ او مراعات درلود او نه ئې د خلقو سره ګډون او راشه درشه خوښه وه.

د دوی دوؤ تر میانځ تفاوت او تباین د دوی کورنیو او د دوی دوو اشنایانو او دوستانو ته چه د دوی سره ئې ناسته و لاړه درلوده ښکاره او واضح معلوم ؤ او دغو دا یقین وه چه دوی مختلفې پیدا شوې او هره یوه د جلا او ځانته طبیعت مړمنه ده. مګر د دې تباین او اختلاف سبب وراثت نه دی، بلکه د تباین او اختلاف اول او آخر مسئول محیط دی.

که څه هم پر دوی ګرد د چا پېر ظروف او حالات په ښکاره او ظاهر کښې سره یو رنګه او یو شان ته دي مګر بیا هم په حقیقت کښې سره مختلف او جلا او بالکل سره بېل دي.

کشره چه زېږېده مشاهده خور ئې د پنځو کالو وه هغه اوضاع او تلقیات ئې لیده چه په کور کښې ئې د مور ؤ پلار یوه دانه اولادوینۍ او یوازې همدغه یو اولاد ولري.

نو چه کشره خور وزېږېده لمړنۍ نجلۍ وړ کتون ته داخله شوه او وړ کتون ته داسې داخله کړه شوه چه هیڅ کوم تمهید ئې

ددې دغه ژوند تغیر دپاره ونه دراودنو وړ کتون یادغه نوی ژوند ته داپه ویرجن او غمجن احساس او شعور تسلیم شوه، او یو واحد تفسیر چه دې پخپل فکر کښې ورته راشلی ؤ دا ؤ چه د مور ئې اوس محبت او مینه دنوی زیږ ولی لور سره پیدا شویدی او زړه ئې تو له دهغې وخواته دی ځان ئې له دې شخه هغې ته او ز ګـار او فـارغ کړ او چه دادخپلې دمینې او لورنی او مراعاته شخه چه پخوا یوازی ددې په برخه ؤ او ددې سره کېده محرومه شوه ژر ئې داخبره درک کړه چه اوس نو داده ور پخوا نیه توجه او عاطفه ګه شـه هم خورا لبز او جزوی حصه وی د مقـابلې اوّ د بـد ګـذرانیه او بـد سلوکیه په واسطه را ګرزولای شی، او داخر ګنده شوه چه کم و خت چه به دا آرامه او پته خوله وه مور به ئې ځنی بې پروا او بېخبر دوه بې غمه به په خپله کشره لور اخته وه او د هغې مراعات به ئې کاوه. خو چه ددې دخوا به بدخلقی و شو داوژړا ؤفـریا د به ئې شروع کی سمد ستی بـه ئې موور ته ملتفته شوه او تو جـهؤ التفات به ئې ورته و کړ په دغه صورت سره نجلیه بد خلقه ناآرامه او تند طبیعته او بد ګـذرانه و ختله خورا بدنیتی او متکبره نجلیه ځینې جوړه شوه، او تر دې چه مور ئې ځنی ناخبره، او بې التفا ته وی داور ته آسانه وه چه ژاړی او بدخلقی او بد ګذرانیو کړی

نجلی سمدستی دخپلې کشری خوشخه په بدرانلو شروع و کړه دهغی شخه چه ددې په ګمان چه د مور په زړه کښې ددې ځای هغې ځنی نیو لیؤ او داسی تریخ عداوت او بدخوند معامله ئې ورسره واخسته چه دلاسه ئې کېده، مګر ددې پخپل دغه نوی شعور او احساس کښې فکر و نکړ، او د فکر په تله ئې و نه تاله، دا ځکه چه یوه آسانه خبره نده چه انسان ئې پخپله دځانه سره او په فـکر معلومه کړی، او له بله پلـوه بیا داهم و ی چه محیط او اجتماع دی د ده په وجو دنوی راضی.

زیاتره دمشرانو او د کوردلو یانو شخه کوم چه د دوی کچنیه خوندی پر ګرانی وی پو ښتنی کوی او دا پو ښتنی د دې دپاره ځنی کوی چه خپل شکونه زایل کړی، یا د مشرانو مینه او محبت دځان دپاره نورهم ټینګ کړی په همدغه ډول نجلیه خپل شعور او احساس د کشری خور په باب کښې په باطنی عقل کښې پټ وساته،

چه علاوه پردې چه محوه نشو بلکه یو دا قسم قوت ئې جوړ شو او ددې د سلوک
اساس پر بنا شو هغسې چه مورږ پلار او کم کسان چه دا سلوک ئې یو ورائي کیفیت
باله ور ته حیران وو.

کوم وخت چه نجلۍ سره دهغو اسبابو او عللو پر فهم او درک چه دا ئې د خلقو
سره پدغه موقف او ژوند ته پدغسې کتنه مجبوره کړې وه مرسته وشوه او بدې
رېو هول شوه، نو ددې دلاسه وشوه او وئې کړای شوای چه خپلې کتنې او سلوک ته
چه خلقو او ژوند ته ئې درلود تغیر ور کړی او ځان با اشکال نوی او الپښ
کړی لکه داچه ئې هم زده کړه چه باید دخلقو اهتمام او رعایت چه غیر له دې
شخه نورو سره ئې کوی ښه ګڼه قبول کړی او بدنه پرو لګیږی، او دا ئې هم زده کړه
چه دا باید ... د نرم طبیعت میرمن داوسی او داچه په خورا ښه زړه او پوره رضادی د واجباتو
او مسئولیتونو په مقابل کښې دقدر او احترام احساس ولری ددې شعور پر ځای دی - چه واجبات
او مسئولیات ظالمانه تحمیلات ګڼی او ددې دلیل ئې بولی چه دخلقو ددې شخه بدراځې
نوئې داورته پلمه کړې دی - هغه شعورونو مومی چه د مخه ئې بیان وشو. لنډه داچه ددې
دخپل حالت فهم او درک وکړی، او په هغه ذریعه سرد ئې وکړای شوای
چه په شعوری طریقه سره د کوچنیوالی په پټو او مخفی خاطراتو او ذهنیاتو کومې
چه خورا ډیری زمانې پر تیرې شوې وې پوهه شې. لکه داچه ئې دلاسه وشوه چه
بدې پوهه شوه چه ددې چه پر خپله وچنې خورنیت بدؤ دا صرف دهلکینی افکار او
هم دهغو په اساس چه دناوړه تأویل او تفسیر په نتیجه کښې ئې وجود موندلای و.
نجلۍ ته داهم ښکاره شوه چه راالوشوه، ځوانه شوه دې دې ته زیاتې نده لایقه چه داد عداوت
او عناد شعور او احساس دخپلې خورو خوا ته چه هغه لاوس هم د زانګو یوه کوچنۍ
نجلۍ ده په زړه کښې ولری.

که څه هم دا یوه اسانه خبره نه وه چه نجلۍ خپل هغه احساس ته چه په کلو کلو ئې
ددې زړه مضطرب کړی و تغیر ور کړی مگر کوم وخت چه بدې وپوهېده چه

دا احساس څه ډول پیدا شو او څه ډول ئې تطور وکړی نو ئې د لاسه وشوه چه د خپل وجهٔ نظر چه خپلې کورنۍ ته ئې درلود ه سر له سره نوې رڼا واچوی په داسې اوقاتو کښې سړی عادتاً دې ته اړ یږی چه د یوه داسې چا څخه مرسته وغواړی چه هغه ئې په صحیح فهم سره و پوهوي او بیا د خپلې نظریې سمون و یوې صحیحې خواته عملی کړی ، او دا یو سخت کار دی چه ډیر صبر او کوښښ غواړی ، او غیر له دې څخه چه کوم داسې څوك مرسته ورسره و کړی چه هغه پوه او د دغسې پیچیده سلوك د ښو په معالجه او اصلاح کښې اوږده تجربه ولری په بل صورت امکان نلری .

مهمه خبره داده چه ته زموږ یا د نورو پر سلوك ژر او بې تأمله حکم مه کوه ، بلکه صواب او سمه داده چه هر یوه لاشعوري محتمل دافع ته یوه پلا ښه په ځیر فکر او نظر ور واچوی او پوره ئې مطالعه کړی ، که موږ دغسې و کړو دا به یوه بله ښېګڼه هم ولری هغه داده چه پدې طریقه کښې دې ته ضرورت نه پېښېږي چه څوك د چا بدو اتجاهاتو او معیوب سلوك ته عذرونه او معذرتونه ولټوی بلکه د هغو تفسیر به کوی او اصلی علل او عوامل به ئې ښرګندوی لنډه دا چه موږ خپل سلوك تر هغه په ښه تر هغو نشو بدلولای څو موږ لاشعوری دوافع معلوم نکړو و او وې نه پېژنو او داسې ئې و فهمو او ځان په یوه کړو چه دوی زموږ پر سلوك او اتجاه تو یوه قوی اغیزه او کلکه سلطه لری .



دوولسم فصل

د مشکلاتو د حل او د دوی د تجاهل معامله :

دې معنی څه ده چه موږ وایو: «فلانی سړی فلانی کار ته ور پورې وهل (مدفوع) کیږی؟ موږ د هغو چارو او حاجاتو اسباب کښې چه هر سړی ته په ژوند کښې ور پېښ وی او کومې چه د ده د سلوك او د ژوند د طرز اساس وی او د ده د شخصیت مسؤلی وې و زغږېدو او بیان موئې وکړ او هم مو دا ذکر وکړ چه بعضی معین او معلوم حاجات دې چه سړی پر حرکت او نشاط راولې نو اوس به دا پوښتنه وکړو چه د دی شیانو سبب څه دې او ولی؟ او داکوم شی دی چه سړی وارد و اره پر حرکت او نشاط راولی؟ رشتیا دا دچه د دې سوال جواب ویل گران دی. ځکه چه هغه حاجات چه پوره ترسره او پر ځای نسی یعنی (غیر مشبعه) دې موږ د اضطراب او قلق او تنگ طبیعتی سبب گرزی سکون او آرام را څخه بیائی، او انسان د داسی شعور او فکر څخه طبعا خلاصېدلو ته مایل دی او ځان ځنی ژغوري، او کوښښ کوی چه د راحت او آرام او اطمینان شعور ځان ته حاصل کړی، لکه نشاط او حرکت چه د دې خبری شاهدان دی او پردې دلالت کوی چه کوم حالات چه د اضطراب او قلق سبب وُ تغییر ئې خوړلی دی.

د دې حالت سبب به زیاتره عضوی یا اجتماعی حاجت وی او د هغه څخه به را پاڅېدلی وی یا به د دواړو څخه په گډه پیدا شوی وی. که څه هم هغه موقفونه چه د ماتوالی (توتر) د حالاتو سبب گرزی سره مختلف دی خو نتیجه په هر صورت یوه او واحده وی. دا حاجت چه هر څه وی که بدنی او جسمانی او که عاطفوی خواسړول وی او که غذائی خواهش وی. او که د ځانه څخه د خلقو خوشحالول وی خواشباع او موړول ئې ضروری دی او که نه نو سړی به حیران او مضطرب وی د دې د پاره چه یو سړی د خپل حاجت سره مخامخ شی نو دی اراده کوی چه هغه حالت ته تغییر ور کړی چه پده پورې قایم وی، نو له همدغه ځایه څخه نشاط او حرکت شروع شی.

نه اشباع ماتوالی (توتر) راولی:

اوس یوه پلا بیان اوښی حالت ته وګوره: موږ دمخه هم هغه عکس العمل ته اشاره وکړه چه دیوه ماشوم او واړه شخه ددې عضوی حاجت (لوږې) په مقابل کښی صادریږی دلوږې حالت هغه عصبی کرازند والی ته چه په کلمو کښی وی حرکت ورکوی او پرهیجان ئې راولی، او دې حالت ته دلوږې کرازندتیا (تو ترجوعی) ویل کیږی او داهغه شی دی چه موږ ځینی اوقات چه غذامو ځنډیږی او دوړوډی خوړ کمو ترخپل عادی وخت وروړی په پوهیږو او شعور ئې کوو، که څه هم ددې احتمال او امکان سته چه په موږ کښې دې ابز کسان په رښتیا او حق سره دالوږې ددرد (الم) شعور او احساس کړی وی، داځکه چه موږ پدې عادت شوی یو چه څو څو ځلې ورو سته او پرمعینو اوقاتو ډوډی خورو، نو که دډوډی دخوړک یوه یادوې شی بیرا شخه پاته شی او وئی نه خورو اشتها مو په زیاتیږی مګر په صحیحه او اصلی معنی لوږه نه را پیښوی، څمد غه رنګه لوږه دمرغږ یو فعالیت پرنشاط راولی پداسی صورت چه پر هغه باندې په شعوری ډول سیطره ممکنه نده، او دا نشاط عبارت له ګونجو (تقلصات) شخه، دی چه د معدې په دېوالو نو او عضلاتو کښی راځی، د دغه کرازندتیا شخه دخلاصون او ځان ژغورلو دپاره د نشاط دوره دډوډی خوړلو او خوړک دپاره آماده ګی ښکاره کوی، او دا نشاط تر دغو دوام او استمرار کوی څو موږ دلوږې حاجت رفع کوو او ځان مړوو او تر هغو څو ډوډی ونه خورو دانشاط په دوام او جریان کښې وی.

نشاط کرازندتیا (توتر) زائلوی:

دشیدو خوره هلك دنشاط نخښه دلوږې پروخت اضطراب او ژړا و فریاد دی چه دی دعکس العمل دښکاره کولو غوندې قدرت پرلاری او شعور په کوی، چه په همدغه توګه غذا او دځان مړول غواړی، مګر اوی هلك چه ددې قسمه تجربې کړاری پرو رغلې وی او د دې نوعی شعور علاجو نه ئې کړی وی ډیری لاری ئې زده وی او دخپلې لوږې د ګرازندتیا (توتر) تخفیف په را وستلای شی، کله موږ ته

ورزغ کوی چه پټېره و رپخه کړی، کوم وخت بیا پخپله مطبخ ته ورسی او هر
څه چه ئې زړه غواړی دونه قدر و خوری چه لوږه ئې په رفع شی. کله بازار ته
ولاړ شی او یوشی را نیسی. مګر ووړ هلك کله د مور دې خونې ته ورسی او پر هغه
چوکۍ چه دی ور سره عادت دی کښېني او ځان موړ کړی لنډه دا چه څه چه دی
کوی د هغو تجربو په اساس وی کومی چه ده د لوږې د شعور او د لوږې د رفع کولو
پر موقع کړی وی. او کوم رسیده او عاقل چه کوم وخت وږی شی کله د ډوډۍ
دپاره نژدې هوټل ته ورسی او کاه خپلې ښځې ته ورزغ کړی چه د ډوډۍ د تیارۍ
وخت ځنی و پوښتی، یا کوم وخت پخپله ځان ته ډوډۍ تیاره کړی او عموماً
هر څه چه چاته ور پېښ وی هغه په هغو شیانو تأثر مومی او رفع کېدای شی چه
ده په همدغسی مناسباتو او مواقعو کښې پخوا عملی کړی وی، نو ده ته کوم شی
چه د دغسی کراز ندتیاؤ د شدت تخفیف په راځی ور معلوم وی. هر یو نیمګړی (غیر مشبع)
حاجت چه عمومی کراز ندتیاوی پر هیجان را ولی ددې امکان لری چه هغه مشاعر
و بلل شی چه راحت او اطمینان پر حرکت نه را ولی بلکه د نا آرامی او اضطراب
سبب کېدای شی، او د مخه تر مړ و لوئې یو قسم نشاط راځی چه هغه مخ د یوه
معین هدف پر خوا روان وی چه عبارت د کراز ندتیا (توتر) د سپکولو څخه ی
او چه کراز ندتیا هیسته شی اضطراب آخر ته ورسېږی او د همدغه کیفیت په
متابعت نشاط متوقف شی.

تا به هلك لیدلی وی چه د شیدو غوښتلو پر وقت ژاړی او شاید تا به فکر ورته کړی وی
چه د شیدو تر رودلو وروسته به نه دی ژاړی او نه به لاس و پښې غورځوی بلکه وروسته
د کراز ندتیا د اسبابو تر زائلېدلو آرام او راحت و مومی، او کله کله خو راغرق خوب ورسی.
لنډه دا چه یو داسی کیف او حالات و مومی چه د هلك د هغه حالت سره چه تا د مخه
لیدلی وی هیڅ مناسبت نلری کوم حالت چه د ژړا او نا آرامه ؤ، او کټ مټ تا ته

پخپله په هغه حالت چه د هوډ یو د خوړ لود حاجته شخه د ر پیدا کیږي او بیا د دې شخه مخالف او مغایر شعور چه وروسته دیوې غوړې گولۍ ترخوړ لودر پیدا کیږي .

په هغه وقت کښې چه یو اجتماعي حاجت موږ نسي :

په عین همدغه طریقه سره زموږ نورحاجتونه تر ډېرې اندازې همدغه نتیجې ور کوي . نو هر وخت چه یو غیر مشبع یا د غیر مشبوع حاجتونو شخه سره مخلوط حاجت هیجان و کړي هغه کړاو ندوالي چه پر نشاط باعث کیږي ځنې پېښ شي ، او ددې د پاره چه دا کړاو ندتیا (تو تر) زایله شي ته باید هر و مرو یو شه و کړي دا یو خاصیت دی چه ټول خلق پکښې شریك او یو رنگه دي ، خو بیا هم یو عام او مطرد قانون پدې باب کښې ندی موجود چه انسان ئې عملي کړي نو هغه نشاط چه کړاو ندتیا (تو تر) ئې پر هیجان را ولي په افرادو کښې سره مختلف او متفاوت دي ، مگر عموماً او غالباً کم کار چه یو شخص ئې په همدغسې حالاتو کښې تتبع کوي عیناً همهغه سلوك وي چه د د ه د پخوا نیو ازمویښو او تجاربو شخه ده ته معلوم شوي وي چه په هغه سره کړاو ندتیا (تو تر) زائلیږي .

کومه خبره چه دیادو لووړ بلال کیږي داده چه کوم سلوك چه سړی هغه عملي کوي کله کله د مشکل حل نه په راځي که شه هم کړاو ندتیا (تو تر) یو شه په سپکیږي داخبره به موږ وروسته یو شه نوره هم سره وشېړو .

نو کړاو ندیتا (تو تر) او نشاط او د کړاو ندتیا ازاله هغه نخښې او اثار دي چه دیوه حاجت د ظهور ر تعقیب کوي ، او دادانسان پخپل سلوك کښې یو خاصیت او طبیعت دی . خو فقط د غو نه خبره ده چه د نشاط نوعه په افرادو او اشخاصو کښې سره مختلفه وي که شه هم کوم حاجت چه نشاط ته دافع وي سره یو شی او متحد وي .

ددې د پاره چه پور ته خبره ښه واضحه شي موږ د انسان لو مړ نی حاجت چه کامیابیه او هدف ته ئې لری تر فکر او تأمل لاندې راولو . کړاو ندتیا (تو تر) موږ ته هغه وخت راپېښیږي چه موږ ته دیوه کار او عمل د اجرا په ترڅ کښې گرانې او سختی گانې مخې ته راشي نو موږ پداسې مواقو کښې چه داسې مشکلات اوله دغه

اړئ موانع مخې ته راولو ښيي او د ناکامۍ سره مخامخ شوي که و او د که دومره چاروشخه کار اخلو ؟ د دې د پاره چه ته دغه چارې و پېژنې خپل زړه ته هغه ناکامي وربه زړه که چه د مکتب او شاګردی او په تعلیمي چارو کښې ته ورسره مخامخ شوې وي یا د ماموریت د وظائفو په اجرا کښې ته د عجز سره مواجه شوی وې، یا د اجتماعي خواهش په پوره کولو کښې چه ناکام شوې وې .

نوستا ناکامي د درس په ګراني اړه درلوده نو به شاید تا د مخنۍ باب او فصل ته مراجعه کړې وي، یا به دې خیال وچه پوازې ئې پخپله نسي زده کولای د خپل استاد او معلم شخه به دې مرسته غوښتې، یا به دې د دې سره ځان عادت کړی و چه د پلار درانګ انتظار به دې کاوه چه کور ته راشي او ستا په کار او وظیفه کښې مرسته درسره وکړي یا به دې خپل یو دوست او ملګري دې ته وادار کړی و چه وخت ناوخت مرسته درسره وکړي، یا به په دې فکر او عقیده وې چه هغه وظیفه چه تا ته درسپارل شوې وه صرف مقصد پکښې ستا تعجیز وچه په لوی لاس تا پکښې ناکامه کړي او ستا ترقدرت او وس دونه لوړه وه چه که ته هر څونه کوښښ وکړې دیوې ذرې فائده نکوي، یا به دې شاید د ځان زړه پدې ښه کاوه چه نورې چارې چه تا ته درسپارل شوې دي تول دې په زړه پورې او کامیابانه اجرا کړې دي، او داشوک نه درشخه غواړي چه ته دې په هره خوا کښې مکمل ئې .

کوم وقت چه تا ته دا ثابته شوه چه د کار شرایط ستا تر قدرت داوړې سوې شي تقاضا کوي نو تا څه وکړه او څه پېښه شوه؟ تا خپل مشر او رئیس ته د اشکایت وکړې چه دا وظیفه تر تا لوړه ده او دې ستا شخه د دې وظیفې د اجرا امید او انتظار نلري ؟ دیوه اداري ملګري شخه دې خواهش وکړ چه ستا په عوض کښې دې هغه وظیفه دې اشغال کړي ؟ یا که دې سرزوري او سرتمبه ګي ښکاره، او په هغه وظیفه کښې چه پرتا ښته لو وه بې فائدې او ناکامه زحمت او کوښښ ته اړ م شوې ؟ په همدغسې مناسباتو او موقعو کښې تا ته یو د ماغي ستو ماني

(دسر درد) در پیښېدی چه ته ئی دې ته ویه مجبور کړی ئی چه د کار څخه تر وخت دمخه لاس واخلی او په دی امید بیکاره ورته کښېنی چه دغه کار چه ستا د زحمتونو سبب گرزیدلی او په تکلیفونو ئی اخته کړی ئی بل څوک به ئی تکمیل کړی؟ بیانو کوم وخت چه یو داجتماعی مواقفو او مناسباتو څخه د دی سبب گرزیدلی وی چه تا د خپلی ناکامی شعور او احساس کړی وی څه پیښه شوی ده؟ په زیاترو کسانو کښی د گوښه گیری عادت نشو ونما کوی بودی پر ځای چه په کوم مجلس او تولنه او د خلقو سره د تماس او گډون په صورت کښی د طبیعت د نه خلاصید لو او تر ینگلتیا د شعور خطرور نه ممکن وی دا زیاته و بولی چه یوازی او همیشه منفرد و اوسی، داسی کسان اکثره اوقات په مجلس (گډی) کښی پټه خوله ناست وی او له شرمه څخه ئی واڼی د نشاطه څخه گوښه وی او خجالت او اضطراب د ونه پر غالب شوی وی چه دا دوه شیان ئی د خوف درجی ته رسېدلی وی.

کله کله داسی سړی چه په مجلس (گډی) کښی د اضطراب او په تولنه او غونډه کښی د نه گډون شعور کوی دا فکر او اراده کوی چه دا اضطراب په شور ماشور یا دلوړ آواز په خبر و یا په ډیره خندا کولو یاد داسی خوش طبعی گانو په تدبیر سره پټ کړی چه د مجلس کسان په هغه سره د ځان کړی یو یو وخت بیا سړی ته د خپلی نارو غیه واهمه ورلویږی او پر ځان د دونه نارو غیه گمان و کړی چه گواکی د کور څخه دوتلو طاقت نلری د اپر زیاته بولې چه شپه تو له در ا دیو په اروېدلو یاد کتاب په مطالعه تیره کړی.

په دې حالاتو کښی له هره حاله څخه که په مدرسه او مکتب کښی وی، او که په وظیفه او په اجتماعی ژوند کښې وی اشکال په شعور کښی د عدم رضا او کامیابی ته د هڅی او نجاح ته د احتیاج په بڼه تمثیل کوی. مگر که څه هم اساسی حاجت خو یو دی مگر د سلوک اتجاهات (مخونه، طرزونه) د افرادو په اختلاف سره مختلف او بېل دی. د غه رنگه موږ وینو چه کوم وخت چه یو اساسی حاجت پوره موږ نسی او نیم وزی پاته شی هغه کراز ندیتا (تو تر) پیداشی چه یو قسم نشاط را او پاخوی چه هغه

دسړي هغه کوښښ دی چه د دغه ګرازندتیاو حدایتوولار د پاره ئې کوي، داخو ده مګر
بیاهم دنشاط دنوعې تاکنه او اختیار یوه چار ده چه خلق پکښې متفاوت او سره پکښې
مختلف دي.

دمشکلاتو سره مخامخ کېدل دکوښښ او نشاط تقاضا کوي:

داخر ګنده ده چه دنشاط انواع چه فرد په عادت شوېدی او ددې دپاره چه دهغې ګرازندتیا (توتر) تخفیف په راولي چه دیوې کامیابۍ دغوښتنې او خواهش په مړولو (ترسره کولو) کښې دنا کامۍ شخه ئې نشئت کړېدی په بردي، او لکه د مخه چه وویل شوه شخه چه ته په هغه وخت کښې کوې چه دیوې سختۍ او اشکال سره مخامخ شې هغه ترډېرې اندازې، تا ته پدې موجه او ثابت شوې وي چه تا په وار و وار و په همدغسې مشابهو حالاتو او ظروفو کښې کړې وي نو چه موږ ته دا یقین شي چه دسلوک یو معینه نوع دهغو ګرازندتیاو (توترونو) پر بېړ ته کولو چه موږ ته را پېښېږي اثر کوي نو کم وخت چه هم هغسې ګرازندتیا وي را پېښې شي بیانې تکرار ته هڅه کوو، یعني پدې باب کښې موږ لکه دنورو خپلو اعمالو په باب کښې دتجربې او از موینو شخه کار اخلو.
او کله کله دا اسانه وي چه موږ خپل کم خواهش موږ کړو، مګر ددې شخه نې دانه خېژي چه موږ خپل تول حاجتو نه او خواهشو نه په اسانۍ سره ترسره کولای شو بلکه غالبا زموږ په لار کښې خنډونه او موانع پیدا کېږي چه موږ د خپلو خواهشاتو شخه را و ګرز وي داسې چه دحاجاتو دمړولو او دپیدا شو و ګرازندتیاو (توتراتو) دزائلولو قدرت مونه وي را پاته. خو په هر حال کښې موږ یوې چارې ته لاس ور اچو و چه خپل مقصد لاس ته په راولو او ددې موقف مقابله و کړو، بلکه که په لار کښې موانع راته و در ېږي موږ یوه نوعه دنشاط دانواعو شخه شروع کوو، که شه هم هغه نشاط دهغه مشکل مستقیم علاج نه وي خو بیا هم موږ پر عینې هغه لار روان او تګ کوو کومه چه پخوا دهغې لارې په تګ موږ ته په همدغسې ظروفو او مواقعو کښې دراحت او دخوښۍ او رضا شعور را حاصل شوی وي، نو هغه حاجت

چه موږئی د تر سره کولو او مړولو دپاره په زیار او زحمت کار کوو هر پول او دهرې نوعی چه وی بیاهم دلته موږ همیشه خپله یوه طریقه اروچه هغه معادت شوې او ددې دپاره عمل په کوو چه دهغی کرازندتیا شدت او تیزی په سپکه کړو چه لدغه حاجته شخه ئې نشئت کړیدی. دنظری نقطهٔ نظره شخه (طبعاً) پر موږ دالا زمه ده چه ددغه نشاط متابعت وکو چه دهغه حاجت سره مخامخ شویدی چه هغه د کرازندتیا (تو تر) سبب گرزېدلی دی او کوم چه هروْ مرو د کرازندتیا په شدت او حدت کښې مؤثر دی او سپکوی ئې، مگر حقیقت دا دی چه موږ په مطلوب مهارت کښې دغی درجې ته نه یورسیدلی. داخبره په رښتیا عجیبه ده چه زموږ دا په قدرت کښې وی چه کومه کرازندتیا (تو تر) چه راپېښه وی دسپکولو دپاره ئې کار وکړو او سره له هغه هم حاجت او خواهش وزی پاته وی، لکه دا چه هم ممکنه وی چه زموږ په راحت شعور کول وفور وکړی که څه هم د هغه حاجت په تر سره کېدلو (اشباع) کښې چه دغه نشاطئی پرهیجان راوستلی دی موږ موفق نشو په بله معنی کله کله داسی هم کېږی چه سره لدې چه د کرازندتیا (توتر) حدت اوشدت زایل شوی وی مگر مشکلات لاهغسی موجودلو پر خپل حال پاته وی.

کله کله نشاط دمشکلی شخه دتېښتې سبب شی:

زیاتره نشاط هغه چه خاصتاً د کرازندوالی (تو تر) دپاره کار کوی دهغی مشکلی شخه دسړی دتېښتې سبب شی چه ده ته ورپېښه وی داحقیقت دهغه شاگرد پر حال تطبیق کېدای شی چه په درس زده کولو کښې دخپل پلار شخه مرسته غواړی یا دځان زړه پدې ښه کوی چه که په انشاء کښې کمزوره دی ددې کمزورتیا کسات ئی د(الجبر) په مضمون سره چه په هغه کښې بیا وړی دی خېژی. دې شاگرد ځان ته یواستنادا و نشاط پیدا کړ مگر دانشاط دده دو رپېښ مشکل دپاره شه کار نشی کولای، بلکه تش دهغی کرازندتیا (توتر) سپکولی او تخفیف په راځی چه ددغی مشکلی په واسطه ئی هیجان موندلی دی،

دغه رنگه داشکوه چه څوك ئې ددې شخصه لرې چه كاراو وظيفه دده تر استعداد او سويه لوړه وي ، يادا چه دده كار بل څوك اجرا كړي دادواړه حالته دهمدغه خبرې ښه مثالونه دي . زموږ دانوغه تصرفا تو موږ ته دمشكلې شخصه تيښته په لاس را كړه او كومه كرا زند تيائې (توتر) چه دنا كامۍ په واسطه پرهيجان راغلې وه زايله كړه .

دمثال په ډول په كور كښې ناسته او د مجلسو او ملاقاتو سره مينه نه درلودل داجتماعي روابطو دتحسين او تقوية د پاره هيڅ كار نكوي ، بلكه زموږ دهغه شعور په زائلولو كښې مرسته راسره كوي چه داجتماعي روابطو په ناكامۍ كښې موږ ته راپيښيږي لكه دخلقو د گډونه شخه ځان ساتل چه په سړي كښې (دعدم توافق) شعورر وزي او تقويه كوي هغه شعور چه منبع ئې داجتماعي روح نه درلودل دي . داسلوك او طرز دمشكلې دواقعي او اساسي تغير دپاره كار نكوي ، او كوم شي چه پيدا كوي هغه دادي چه يوه پاڼ ته لاس اچوو مگر داسې پاڼ چه هغه موږ ه دردنه خوري او تش دځان زړه ښه كوو او دردونه په دوا كيږي ځكه چه مشكل هغسې پرخپل ځواني حال پاته او راته ولاړدی خوموږ صرف دغونه وكړه چه موقتاً موځان ځنې غلا كړاوور شخه وتښتيدو دغه تيښته چه موږ ئې هريو دواوتوله په اخته يو خورا ډيرانواع او اقسام او مختلف اشكال او بڼې لري ، دا تيښته دسلوك پر ډيرو درجاتو مشتمله ده دشر مناك سړي شخه را شروع كيږي بياتر بي حيا او خورا بې مخه سړي پورې راځي ، او دشكمن اوسودائي شخه را نيولې بياتر تلواري او اوو گډ ډونكي پورې ، او دتر ينگاي او غمجن رقمه سړي شخه بياتر خوشحاله او ډير خبرياله پورې پكښې راځي . دا نمونې او توگې هغو كسانو كشف كړې دي كوم چه د شخصيت درس او مطالعه او څيړنه ئې كړيده دوينې اند يښني او هغه خيالات چه دبيري اوغم ؤهم په موقع كښې پيدا كيږي هم دتيښتې دهغو انواعو شخه دي چه دهغې په واسطه د كرازند تيا (توتر) دمخصوصو


حالا نو څخه خلاصون راځي مګر په دې تو او د هغه مشکل علاج کوم چه د ګرازندتیا د وجود سبب ګرځېدلی دی نه کېږي.

د سلوك د دې انواعو څخه به په راتلونکو ابوابو کښې موږ زیات شه پر تر څېړنه لاندې ونیسو، دا هغه انواع دي چه شاذ او نادر نه ورته ویل کېږي او د سلوك هغه توګې او ځنې دولونه او رنګونه دي چه ته او زه او زموږ آشنایان او زموږ خپلوان ئې زموږ د ژوند په هره ورځ کښې ښکاره کوي، دا ځکه چه هغه داسې یوه زغره او پوښ دی چه په هغه سره ځان د زحمتونو او اضطراب څخه ژغورل کېږي.

دائم ده چه موږ په زیاتره اوقاتو کښې د دې درك نه کوو او دا مو نه وي په یاد چه موږ فقط ګرازندتیا (توتر) زائلوو، په داسې حال کښې موږ د هغه حاجت مړه و او ته چه را پېښ وي نه یو رسېدلي، زموږ مثال په دغه وقت کښې د هغه هلك غوندې دی چه آرام او راحت و مه و مې هغه وخت چه موږ مړشي، مګر موږ له هلکه څخه په دې کښې تفاوت او توپیر لرو چه موږ د یوې حیلې (چال) قرباني یو چه پر موږ ئې تجاوز او حمله کړې ده او داسې یو لکه څوك چه ډېر وږی د خوراك په عوض کښې ژاولي ژوي، او نتیجه ئې داوي چه آرام او راحت فقط د څو دقیقو د پاره وي. نو لکه موږ چه ترڅو وږي نه خورو د لوږې احساس کوو، دغسې که وږي په لاس رانشي هم د لوږې احساس کوو، یعني مشکل د وهمه پلا بیا پیدا کېږي که موږ د هغه ریښې ور و نه کاږو. نو که موږ د ګرازندتیا څخه د دې پر ځای چه د هغه حاجت چه موږ ته را پېښ وي پوره اشباع و کړو ځنې و تښتو او ځان په بانه او پلمه خطا باسو ګرازندتیا (توتر) به ژر ژر ته را پېښه او ځان به را ښکاره کړي.

دا ته د سلوك قسم قسم طریقې شته چه خلق د ګرازندتیا د زائلولو د پاره التجا وروړي، او موږ ئې په دې کتاب کښې حصر او احصائیه نشو کولای مګر ځکه چه په ډېرو لې د دې سببه چه رواج او خپرې دی موږ به یو یو نوډا یو هغه موږ ته د شخصیت د ډېرو مشکلاتو په پرفهم او پوهه مرسته را کوي.

ښځائې چه ددې وړاندې کولو او فهم په لار و کښې یو ازینی ښه لار داوی چه موږ تا ته ستاغوندې استاوارو کسانو قصې وکو، نو ځکه وایو چه ډیرو خلقو ته په ځینو اوقاتو کښې داضطراب او کړاو ندیتا شعور ورپیښیږي، او موږ ټولو له ساعتاو ګړۍ دغه (تاوان) او ناخوښیه په شعور اخته کیږو، نو بها اول هغه تجربې او ازموینې درته بیان کوچه زموږ درو ځینو او ومې ژوندو ځخه اخیستل شوېدي پداسې حال کښې چه د ځینو هغو طریقو او اسلو بو فهم به هم وکړو چه به هغو اوقاتو کښې ئې اتباع او پیروي کیږي چه دسختیو او مشکلاتو سره موږ مواجه او مخامخ کیږو. ښځائي چه پدغه ذریعه دې زموږ اقتدار پر خپله پیژندنه ډیر سي، او د مشکلاتو په مقابل کښې چه ور سره مخامخ کیږو دزیات مهارت څښتنان شو او دهمدغه په واسطه موږ په خپلو ځانو او شخصیتو کښې ښکلي او مرغوب (په زړه پورې) تغیرات پیدا کو.



دولسم فصل

تېښته د حقيقت د مسخ کولو دلاري څخه :

هغه آراء او افکار چه موږ ترا او سه پوري غونډ او څېړلي نه مو پرو کړي دايمي موږته تر يوي اندازي څرګنده کړه چه سره د خلقو تر ميا نځ داختلاف د موجوديته د دوی تر ميانځ مشا بهت موجود دی او موږ دا واضحه کړه چه ولي زموږ څخه هر يو د نا کامۍ پر موقع خپله د فعا ليت يوه خاصه لاره لري چه هغه يوازي په ده پوري خصوصه وي لکه هر سړي چه د اجتماعي مؤثراتو او عواملو د استجابت په مقابل کښي ځانته مخصوصه لار لري چه د ده مميزه او خاصه وي . لنډه دا چه موږ کم دافع عوامل وڅېړل چه موږ پردي راولي چه د يوه معين او ټاکلي نشاط په حاصلولو شروع وکړو څو هغه ضرورت او حاجت موموږ (ترسره) شي چه د هغه دپاره نشاط راسره پېره شوی دی .

موږ ټولو ته دا معلومه ده چه د حاجتو ترسره کېدل تل يو آسانه کار نه دی ، او دا هم را معلومه ده چه کوم وخت يو حاجت مشکل شي او ترسره کېدل ئې ګراني او سختي پيدا کړي دا شکالا نو د پيدا کېدلو سره سم معيني کرازندتياوي (توترات) پر هيجان راشي چه سم د هغه سره اضطراب ، خفقان او طبيعت خرابي پېښه شي ، لکه دا چه هم را معلومه ده چه موږ زياتره اوقات د داسي اسلوبونو تتبع نکوو چه هغه د حاجت د پوره کولو (ترسره کولو) دپاره ګار نکوي بلکه هغه اسلوبونه غوره کوو چه د هغه پريشانوونکي شعور زوال را ولي چه د کرازندتيا (توتر) نتيجه وي .

لاشعوري کوښښ د نا کامۍ څخه د ځان ژغورلو دپاره :

دلته ډېري توګي او بڼي شته چه موږئی د دې دپاره په ځان اغوندو چه د نا کامۍ سره د مخامخ کېدلو پر موقع موږ ته راحت او اطمينان ډېر کړي ، خو دا بڼې چه موږئی په ځان اغوند و کله کله موږ د هغې نا کامۍ په مقابل کښي چه موږ ته راپېښه وي موفق کولای نشي مګر زموږ معنويات او روحي حالت راقوي کاندي او د نا کامۍ د تحمل

اره رالېږه او استعداد موزیات کړي. زیاتره زموږ څخه داسې توګې (تصرفات) کېږي چه موږ ئې پخپله د سبب او علت فهم او درك نشو کولای چه ولې ئې موږ کو، یا دا نشو فهمولای چه دا تو که (تصرف) به زموږ سره په څه اندازه او څرمره مرسته و کړای شي، دا ځکه چه هغه توګه (تصرف) زموږ څخه په لاشعوري ډول په پېښه شوي وي. او داد دې خبرې فاصل حندي چه موږ دخپلې ناخوښيه (عدم رضا) شعور ندی کړی او نه یو په پوه شوي. ددې مثال دادی چه یوه کليوالي پېغله دخپلې یوې ملګرې پېغلې له خوا په هغه ښار کښې چه لیکوالي پېغله نوې ورته را شوه شوې میلمه شي، او دښار والو په رسم ورواج او کهدؤ ددستور نوی خبره. او سره لدې چه دادعوت دې ته یو تازه او طرفه شی وی او هوائی ورته کېږي چه ورغلې او ګډون ئې پکښې کړی وای مګر څلهٔ ئې ور تګ زړه نه غواړي چه دې ته تو له هغه شیان ندي معلوم چه په همدغسې تقریباتو کښې ئې دا بایدو کړي او نه د کالو او لباس نوعه ور معلومه ده چه باید څه راز کالي ور اغوندي او نه داور معلومه ده چه ددعوت تر خلاصېدلو ور وسته په شپه خپل ځای ته بیرته څنګه راشي ایا خپل پلار ته ووائي چه د دعوت دمېړمن کورته راشي او داخپل کاله ته ور سره راولي او که کوربی ته ووائي چه یوزلمی د دې تر کاله ور سره کړي چه داور سوي پېغله پدې کښې ور که او متردده ده چه پدې موضوع کښې د هغو پېغلا نو سره چه دا ئې د ځور و ځو راپدې خوا او نوې ور سره شناخته شوېده مشوره و کړي. لکه دا چه هم ندهور معلومهٔ چه نورې مېلمنې او مېلمانه به څوك وي چه د ا د هغو شیانو په باب کښې پوښتنه ګرو ېږنه ځنې و کړي چه دائې په فکر کښې اچولې او حیرانه کړې ده. دا پهدې پوهه وه چه ددغو پوښتنو جوابونه باید ور معلوم شي، او په پوښتنه ئې هم د دې حیثیت خرابېږي. پېغلې روځ تو له او دشپې څخه زیاته برخه تیره کړه او دغه سوالات پر هرمخ سره اړوي را اړوي ځکه چه داښار ته را شوه شوېده دائې او له پلا دهٔ چه یوه مجلس ته ور بلله کېږي، او سره لدې چه دې ډېره هڅه درلوده چه دخپلو نو وهمکارانو پېغلانو او همزو لو سره دوستې او رفاقت شروع کړي مګر بیاهم دی د دې خبرې

طاقت نه را وړای شوای او دائې تحمل نکړای شوای چه دوی ځکه چه
دا د مجلس او دعوت په مراسمو نه خبره چه باید څه وکړی او
څه وا نه غوندې ملنډې به پهوهی ، نو اضطراب او پریشانۍ غلبه پرو کړه ځکه چه دې
دغه نه سره یوه قطعي فیصله ونکړای شوای ، خو په آخر کښې ئې په یو ډول
دغه نه سره په یوه صورت قناعت حاصل کړ نو اوس ته څه گمان کوې چه دې به څه کړی
وی ؟ ستا پر دې څه خیال دی ایا دې به خپل اشکال حل کړی وی ؟ ته وائی دې به
رښتیا د اشکال حل او علاج کړی وی ؟

بېغلې خپله غمگینی ښکاره کړه چه دا دعوت نشی قبلولای ځکه چه د مور ئې
شدیده تبه ده او پلار ېې د دعوت په شپه له ښاره څخه وزې او خپل کلی ته د ځینو کارو
دپاره ځی نو دا خپله مور په کور کښې یوازې نشې پرېښودای نو ځکه به دا دعوت ته
په ورتگ نشی موفقه ... دې فکر د دې زړه ور آرام کړ او د مسئلې دغه حل د دې
قلق او اضطراب رفع کړ او هغه کړ ازندتیا (توتر) ولاړه چه (۲٤) ساعته ئې د دې
دزړه ندصفائې ور کړ غېږ نه کړې وه دا که دیوی خوا څخه بېدې پوهیده چه که دعوت ته
ولاړه نشی د دعوت د شپې خوښی او خوشحالی او د هغې شپې تفریح او ساعت تېری
به ځنې باته شې له بلې خوا څخه به بی دا درك کوله چه د مور لحاظ او د دې د ناروغیه
مراعات ئې کړیدی او د مور سره ېې خپل دی احسان به ئې زړه ته خوشحالی ور پېښ شي ،
په آخر کښی ئې ځان ته دا سلا او قناعت ور کړ چه دا کار چه دې وکړ دا پر
حق وه ځکه د مور سره ئې ښېگڼه وکړه نو ئې تر پرون شپه نن شپه ډېره آرامه او بې
اضطرابه تېره کړه .

ښېگڼه اود هغې ماهیت:
نو اوس کوم شی و چه پېغلې ئې د خپلی مور غمخوری ته مجبور کړه او دائې پردې راوسته
چه بدغه شپه د امور ته ور پاته شی او دعوت پرېږدی ؟ آیا رښتیا د دې زړه او ضمیر دې ته
د دعوت اجازه نه ور کوله . او ر ښتیائې مورمانه ځنې کوله چه دا ئې یوازې
او ناروغه پرېښووله او دا ځنی ولاړه ؟ بېدې تولو کښې یو شی هم نه و او کوم شی چه

پیښ ؤهغه داؤچه پېغلې ته اضطراب ورپيښ ؤچه که دعوت ته ورشي هلته به خطاګانی او نامناسب ځنی وشی او په هغه اندازه چه ئی ددعوت قبولو ته هڅه وه په هغه اندازه ئی ځان ده ر یوه اعتراض او تنقيده څخه چه دمجلس دمدعوینو له خوا پردې کېده د ځان ساتنی او ژغورنې ته هڅه وه.

اودغه رنګه ددې احتیاج او ضرورت چه دمدعوینو اعجاب او خوښوالی ته ئې در لود چه دهغو په نظر دانبه ورشی او ستاینه ئې و کړی دائې پدې تردد او اند یښنه کښې واچوله چه ددې به نظرئی ددوی تنقید یو خطرورؤست ، اوداځکه چه دې به ځان باور او اعتمادنه در لود.

تاددې په اشکال کښې چه ورسره مخامخ وه فکرو کړ او نظر دی ورواچاوه ددې ته لازمه وه چه یوداسی تصمیم ئی دځانه سره نیولی وای چه هغه کراز ند تیا (توتر) ئې ور سپکه کړی وای چه دې ته ددغه دعوت او مېلمستیا څخه ور پېښه او پیدا شوی وه او دائې په حیرت او اضطراب کښې اچولې وه ، نواوس ته باید هغه سبب (عذرئی نه بولو) وپلټې چه هغه ددې قابل وی چه ځان ، کورنۍ ، اوخپلوملګرو ته ئې اظهار کړی ؛ ددې کوښښ داؤ او سعی ئې پدې کښې کو له چه په هغه شی چه ددې په زړه کښې شوری چه هغه پرخپل ځان عدم اعتماد او عدم باورؤ اعتراف ونکړی او دائی نه غوښته چه څوك په هغه شی خبر شی چه دائې هکه پکه کړی او به حیرت کښې اچولې ده . کوم معقول عذ ر (تفسیر) چه دې دځانه سره کړی دی چه دا ناروغه ور یوازی نشی پرېښوولای فقط دې ته دافکر نه وورته ؛ . کړی چه دادمور یوه اهله او په حق کښې راسته اورده بلکه ددې خبری خپر پدلوددې پر زړه ښه اثر کاوه او چه هر څوك ئی واروی هغه به پردې ښه ووائې او تحسین به ئی کړی دا به ټینګه ښکاره ده چه پېغلې په موضوع کښې فکر نه ؤ کړی او نه ئې رأیه سره دهغو تفصیلاتو چه در لوده ئی عینی په هغه طریقه سره پر له اړو لې او شاوخوا کړې وه چه دهغې طریقې څخه موږ ددې (پېغلی) په تحلیل کښې کار واخیست ، بلکه داشکال په مخامخ کېد او کښې دې یوه تصادفی لارخوښه کړه یوه لارچه قاطعه فیصله اود کراز ند تیا (توتر) شدت او

حدت سپک کړي، هغه هغه لاره چه موږ ته ول ئې په همدغسې مناسباتو کښې استخدامو و پېغلې ښځې (تبري) ته التجا وروړه، او ددې د پاره چه هغه څه چه ددې په زړه کښې ور گرزېدلي وه او دائې باید عملي کړي یو معقول او موجه سبب په نظر ورغی.
دې دهر احتمالي تنقید په مقابل کښې چه پر دې به شاید وشي یا کومه ناکامي چه د تصادف احتمال ئې درلود دفاعي خط ولیکه. مگر بیا هم داد موقف د حقایقو سره صریحاً مخامخ نشوه او د مشکل اصلي علاج ئې ونکړای شوای لکه په اجتماع کښې پر ځان د باور درلو (اعتماد بالنفس) د اشکال د طبیعي علاج د حل لارې ته چه هم نه ور سېده ځکه چه که دا دوهمه پلا بیا یوه دعوت ته ورو بللې شي شاید چه همدغه د حیرت د گرداب یوه موفقه لاربه چه دا به په یکښې لاهو وي ونه ومني او هغه وخت به بیانوري پلمې او عذرونه ځان ته وتراشي ولې دا نشوه موفقه چه یوه داسې لارو موومي چه هغه بې لدې چه دادې د تکلیف او حرج شعور وکړي د دعوت په منلو کښې مرسته ورسره وکړي.

ښځگنه زموږ د تصرفاتو تأئید کوي :

کله کله زموږ څخه ښځگنه په اوی لاس او قصداً د دې د پاره صادر یږي چه زموږ هغه اندېښنې او زړه ښه کوني (تصرفات) چه موږ په سختو موقفو نو کښې ور سره مخامخ کیږو را تأیید کړي.

مگر په زیاترو حالاتو کښې موږ پدې پوه نشو او داخبره درک نکړو چه موږ د هغه شي څخه چه په موږ کښې حیرت پا څوي ځان وژغوره او اوزه موځنې خالي کړه، ددغسې حالاتو په شان اوقاتو کښې موږ حقایقو ته په امانت او مړانه نه یوور د مخه شوي ځکه نو موږ د اصلي اشکاله څخه ایري آراء او افکار قبول کړو او د موقف ځینې تفصیلات پر پېږدو، او یو داسې لارې د ځان د پاره ددې خواهغې خواښخه جوړې کړو چه هغه هیڅ مسئولیت نلري او دا ټولنه ددې د پاره وي چه موږ یوه پلمه ځان ته جوړه او خپل زړه په زوره ښه کړو پېغلې خپل دې حاجت او ضرورت ته چه هغه په ټولنه کښې ددې پخپل ځان باور (اعتماد بالنفس) درلو ته اهمیت نه ور کړي

او د همدغه حاجته سره ئې ځان مخامخ نکړ شو چه يوې فيصلې ته نا چاره شوه.
او دا مجبوريت په زړه کښې ورولوېده چه د ميلمستيا جواب بايد هرومرو په (يه)
يا په (هو) ووائي.

نو ئې د خپلې مور ناروغي او يوازې پاته کېده ور په ياد شوه او دا ئې په خيال يوه شېبه
پله مور غله رښتيا داده چه مور ئې ناروغه نه وه، او د لور په تلو دعوت ته خوشحاله کېده چه ساعت
به ئې تېر شي او شپه به ئې د خوښۍ شپه وي، مګر په غلي ځان د موقف څخه وژغوره او په يوه
موجه وسيله ئې ځان مسلح کړ چه خپله د خوښۍ او خوشحالۍ د شپې قرباني ورته روا کاندي
مګر دې خپل ځان ته دا فرصت او موقع ور نکړ چه د موقف ټول احتمالات په هغه اهتمام
سره وزن کړي بلکه د عدم ملايمت د شعور فکر ئې ليرې و باله، او دا ئې په خوا او خاطر کښې
نه ور ګرزېده چه ددې دعوت ته نه ور تګ به ددې پر عدم ملايمت او د خلقو سره نه د ګډون د شعور
نتيجه وي، دا شعور خو ئې ليرې و باله او سر بېره پر هغه د مور سره د ښځې ګڼې فکر ور پيدا شو.
که ددې په دغه کړن کښې چه د مور سره ئې راو اخيست شک پېښ شوی وای دا به څو نه
پرېشانه شوې وای!! په دغه وخت کښې ددې احتمال څه هغه شرح چه موږ ددې د موقف وکړه
دې د هغه تفسير څخه انکار کړی وای او شايد چه دا دې په خپل انکار کښې صادقه وای. په
هر حال دې د خپل موقف او تعليل ته په ضرورت او حاجت نه درلود، ځکه چه په غلي په شعوري
پول کم شيان چه ددې په سلوک کښې موجود وه درک نه کړه،

موږ ته او ته دا ممکنه ده چه هغه موقف و نه ياد کړو چه په هغو کښې موږ ددې د پاره چه د حرجه
څخه د وتلو لار پيدا کړو د همدغې طريقې متابعت کړېدی، لکه دا چه هغه طريقه ده چه
اطفال او زلميان ئې تتبع کوي موږ ټوله کله کله ښېګڼې (تبرير) ته التجا ور وړو
يو کوچنی هلک دی چه د حساب درس ئې زده نکړای شوای، نو ئې تعليل په دې وکي چه چوکۍ
ئې د تختې څخه ليرې وه او د حساب سوال ئې نشوای ليدلای، يوه نجلۍ ده چه د مکتب د ډرام
پارټ ئې ښه نه و لوباوه، او ځان ئې د خپلو همصنفيانو نجونو څخه په دې خلاص کې چه
د ډرام پارټ و نو دوبش په روح دايخ وهلې وه، دغه رنګه يو بل بيا په مأموريت پسې ګرزي
مګر نه ور پيدا کېږي، د خپل ځان او کورنۍ د پاره ئې دا پلمه پيدا کړېده

چه‌دده نورو همزو لو او رفقاؤ ته ځکه کار ونه ور پیدا شوید ی چه هغه‌دا د ارو سره شنا خته‌دی واسطې لري .

ته کولای شی چه ددغه قسمه شخه خورا ډیر مثالونه را وړې ، نودا څرگنده شوه چه ځان په بله کول (تبریر) یو له‌هغو وسایلو شخه دی چه د دې دپاره چه موږ له خپلو ځانو شخه دنا کامۍ شعور لیری کړو ده ته التجاورو ړو ، او پدغو وسایلو کښې تر ټو لو همدغه (تبریر) ډیر شایع او رواج دی او دغه رنگه (تبریر) دهغو اسبابو شخه دی چه غالباً موجه‌وی اوددې دپاره چه پده سره‌ځان په یوه معقوله توگه مسلح کړو زموږ دپاره یوه ښه آله او ذریعه ده ، بلکه زیاتره او قات دموقف دپاره یو منطقی تفسیر وی مگر رښتیااو حقیقت دادی چه (تبریر) له اسبابو شخه نه ، بلکه له عذرو نـواو پلمو شخه دی .

تبریر (ځان په بله کول) دناکامۍ
دمحوه‌کولو دپاره عزم کول دی .

تبریر (ځان په بله کول) دتېښتی‌او ځان غلاکولو یوه داسی نـوعه نده چه پرموږ ئی‌به خاص ډول اهتمام او غخموری لازمه ده ، مـگر په هغه وخت کښې چه زموږ التجا دونه ور له ډیره شی‌چه دحقایقو شخه‌موړانده کړی . اودې درجې‌ته و رسېږو چه حقایق نه وینو ددې دپاره تر ټولو ښه لار داده ، چـه موږ دزړه له صدقه عزم اوقصد و کړو چه خپلو ځانو ته تسلیم شواو تلولی نشو چه دلته بعضی اسباب‌او شیان داسی وی چه موږ دیوه معین سلوك متابعت ته ورېوری وهی لکه داچه مثلاً موږ دیوې‌چاری شخه‌چه خوښه مونه وی یا زحمت او تکلیف آوره وی یا مو طبعاښه نه ځنی راځی او یو عذر ځان ته پیدا کوو نو به پدغه وخت کښې موږ خپل ځان ته مراجعه کوو او ځان به په ژوره او غور سره مطالعه کوو که څه هم موږ ته همیشه داتصادف نه واقع کېږی‌چه کوم‌وقت موږ دخپلو ځانو عمق اوژوری ته دځان رسـولو عزم و کړو او موږ دې موفق شو ، مـگر که موږ ځان پدې عادت کړو چـه درا پېښو چارو او دحقایقو سره ځان مخامخ و کړاو د صراحت او امانته شخه کار واخلو موږ به و کړای شو چه د هغه

قدرت د تحسین د پاره چه د ځان او خپلو ملګرو او دوستانو فهم
په کو وکارو کړای شو، اوهم به مود لاسه وشي چه د دې درک وکړو چه:
شخصیات به له هغو اسلوبو او طریقو څخه چه دوی ته په وجداني راحت شعور روافـ
اوډیر کاندي په څه صورت بحث او خبرې نه کوي زیاتره ځان په بله کول (تبریر)
رهغه موقف فشار سپکوي چه په هغه کښې د سړي خیال داوي چه پرده راګرځ یدلې
اوشاؤ خوا کسان ده ته مخ نه وراړوی او په آرئې نه راوړی مثلاً یو ظلمې دا معلومه
کړی چه د ده ډیر اداري ملګري د مدیر د لور دواده شپې ته خبر شوي وه،
او دی به ور بلل شو و کسانو کښې نه وو، نو دی ژر به ژر دامشهوره او په تینګه سره
مشهوره کړي چه د ده دا قسم مجالس ندی خوښ او ډیر درنیږي. اودا بله پېغله چه
ړدا ور امعلومه شي چه کم داعا ئې او مرستې مجلس ته چه ددې زیاتره ملګری پېغلا
نې ور بلل شویدي اودا ئې نده دعوت کړې دا او وائې چه د دې دو سه نده پوره چه
دتیاتر تر مجلس او کتنه دي دیوه خیریه مجلس په ور تګ تېره سي.
داسلو ک په دو ولوړ و مثالو کښې کله کله (فرد) د دې شعور څخه چه دې په اجتماعي
رتـه کښـې نا کام دی ژغیوری او داطبیعې ده چه فرد به پلمو او بهانو پسې په همدغسې
مـواقف و کښې ګرزي، مګر که د دی پر ځای هغه اسباب وڅاری چه هغه دعوت
ته د نه ور تګ باعث ګرز یدلی دي نود اصلي واقعي او مسئلې په علاج پسې وګر زی
دا به ډیره ښه وي ظلمی کوم وقت په خپلو ملګرو ته ئې داور یقین کړه چه د ده د رسی
مجالسو څخه ښه نه ر ځي د راحت ا خوشحالي شعور و کړ مګر ده ته مناسبه داوه
چه دی خپلې ذاکرې او حافظې ته مراجعه وکړی چه دده مدیر څو واره دا عزاز
او احترام دعوتونه کړیدي او په هغو دعوتونو کښې ده دلیاقت او فکر و کیاست
نقص او نیمګړ تیا ظاهر ګنده شو یده، نو دغه حقیقت ته دده رسېدل او دده سره پېدې
خبره کښې چه دده نوم د مدعوینو په لست کښې ندی راغلی ډیره مرسته کوله، نو
په ئې خپل اجتماعي سلوک او اسلوبو ته تغیر او بدلون ورکړی وای، خو ده ځکه
چه په مدعوینو کښې نه ؤ شامل دغم اوالم شعور و کړ، او ځوان مردي او مړانه ئې

ونکړه تر دې اندازې چه ځان ئې لا د خپل شعور او احساس په حقیقت خبر او پوه نکړ. د پېغلې خبره بیا داوه چه دا په اجتماعي مجالسو کښې په خپلو اوضاعو او تصرفاتو کښې کامیابه او موفقه نه وه نه وه، دې به په مجلس کښې غوښته چه د خپل آشنای فهم او فکر د ځان خواته راواړوی د دعوت تر آخره پورې ئې د بل چا سره راشه اود رشه نکوله او نه ئې خپلې آشنایانې او دوستانې پېغلانې په آر او ړلې، او د خپل آشنای دوم وضعیت چه به ئې خوښ نشو او ددې په زړه کې به ئې یوه هوا او هوس ژوندی نکړ پر هغه به ئې ښکاره او صریح تنقید کاوه لکه په نورو پورې چه به ئې په مجلس کښې ملنډې هم وهلې. بلدا چه په رقص کښې د پېره قابله وه نو لدغه جهته هم خپلو ملګرو دادعوت ته نه کړه خبره. مګر ددې دغه مجلس ته د پېره هوا کېده چه پکښې وای بلکه د دغه مجلس د پاره ئې نوی کالې رانیولی وه، نو چه خبره نکړه شوه د پېره خفه وه. مګر دې د اسبابو د پلټلو څخه ځان لیرې واچاوه او دائی نه و غوښته چه معلوم ئې کړي حتی د ځان د خبر ولو د پاره ئې لا هم نه و غوښته. او ددې پر ځای چه دا و کړي دا ګمان ئې وکړ چه د دغه مجلس تر ورتګ تیا تر او سینما ته تګ زیات دی، اندېدا چه لور والی (یومخی) او امانت بهترین سیاست دی کوم چه موږ ئې باید د خپل ځان او د نورو خلقو سره متابعت وکړو، که څه هم رشتیا بعضې اوقات زور غواړی او د حقیقت اعتراف او منل تر خه وی، مګر تر هغه داسخته او درنه ده چه موږ حقیقت مسخه، او هغو خطاګانو ته دوام ورکړو کومې چه موږ او خلق ئې سره لیرې کړي د یو دا وضعیت څرګندې بلهمعنی نلری چه موږ ګویا د ناکامو تجربو کړی (حلقې) زیاتوو، سره لدې چه د اسلوبونو تغیر موږ ته د کامیابۍ او موفقیت فرصتونه او چانسونه پېروی.

اسقاط (خپل بار پر بل اچول)

د حقایقو څخه تجاهل هم دی

اسقاط یوه بله او چم دی چه اکثراً ئې خلق د دې پاره کوی چه خبری او چاری پر ځان اسانه کړي اسقاط غالباً یو غیر ارادی او لاشعوری سلوک دی او خلق کوم مطالعه

او فکر نه ور له کوی او نه د ومه نقشه او پروګرام ور له ترتیبوی که څه هم ددوی دسلوک
دېر جسته او ممیزو صفاتو څخه وی اسقاط دې ته و یل کېږی چه خلق دخپل سلوک او خط مشی
دپاره داسی لارې وټاکی چه هغه د ټولنی او ددوی د جامعی ور سره خوښی نه وی
ددی دنور و په باب کښی پر دغو شیانو خبرې کوی چه : پلانی ولی دا نکوی ولی هغه
نکوی سره لدې چه ددوی به د ځان دپاره هغه نه وی خوش او بد به ئې ځنی راځی .
دمثال په ډول یوه پېغله دمازدیګر دچایو مجلس ته ورو بلله شوه نو دې د ځانه سره
وویل چې عصر یه کښی ددې طبیعت ځکه نه وغوړېده چه په رابلل شوو کښی مینه
او محبت و صدا قت نه ؤ مګر رښتیا او صحیحه خبره دا وه چه پخپله دا د مجلس په
ادا بو نه پوهېده او د ې نشوای کولای چه دخلقو سره ښه ګډه او ښه ډول ګډون او
آمېزش و کړی نو پر دې شرم او خجالت غلبه و کړه او په مجلس کښی یوا زی پاته
شوه ځکه نو دمجلس د اخیال شو چه دا انزوا ته مایله ده او د چا سره ئې ګډون زړه نه غواړی.
په غلاغلائې کتله لکه دا چه ګوښه او منزوی ژوند ته مایله ده او د ګډو نه څخه ئې ښه نه راځی
سره لدې چه ددې ډېره هوا د دوی ګډون او خبرو نه کېده خو افسوس چه دا قدرت
په دې کښی نه ؤ موجود او په همدغه سره ئې خپل مخصوص حالت پر دوی تاوان کړ
په بله معنی ددوی دسلوک تفسیر ئې په هغه رڼا کښی و کړ چه دې شعور په کاوه نو ئې
په خپل تور دوی و نیوله او خپله ګناه ئې پر دوی واچوله .
داسقاط دمثا لو څخه یو مثال دهغه زلمی قصه ده چه مورو پلار پر تېر ېدل دا زلمی
چه یوه شپه وځنډېده او دشپې په آخرو ساعتو کښی کور ته راغی او په زړه کښی ئې
د مور و پلار څخه ډار ؤ چه څه به ور ته شوائې؟ او دخپلی ګناه شعور ئې کاوه مګر مور ؤ پلار
ئې لکه ددوی چه خوی او عادت ؤ سهار ئې پر موضوع تبصره نه و کړه او نه ئې د برائی
نا وخته . راتګ پوښتنه ځنی و کړه، مګر ځوان چه پخپله دغه ګناه چه دسمی لارې څخه ئې
ښه چپه ایښی وه په زړه کښی متحسس ؤ دسهار په کتنه او سلام کښې ئې چه

دمور ؤپلارسره ئې کاوه ددوی سره ئې په یوه مخصوصه او معنی اړونکی لهجه خبرې کولې ، لکه څوك چه دوی ته وائی چه دا ولی په یوه بل ډول کتنه را ته گوری ؟ نودا هم یو بل مثال دی چه خلق خپله گرمه او گناه پرنورو واچوی ، ځوان دخپل شعور تفسیر دځانه څخه په رضامندی و کړ ، لکه داچه عیناً هغه شعورؤ چه هرو مرو به دده مورو پلار دده په نسبت دراود .

پخپل تنقید کښې پوه او ظریف او سه :

یو موقع اسقاط (خپل بار پر بل اچول) دیره شدید تنقید په شکل او بڼه وی چه دسړی به یو کار په هغه ساعت او هغه گړی دځان دپاره خوښ وی مگر بر بل یوه به ئې تاوانه وی او دهغه په تور به ئې تور وی د دې مثال هغه پېغله ده چه به ساده لباس او جامو کښې اویه شوې او پر سادگۍ ئې عادت راغلی ؤ مگر پر بله نجلۍ ئې چه هغه په ښو جامو او اعلی پسو لو کښې لویه شوی او عادت ئې پر راغلی ؤ همیشه لگېدله او شدیداً ئې هغه غندله او تنقید به ئې پر کاوه حال دا که دې قدرت در اودای دې به عیناً هغسی کالی او هغسی اعلی گېڼې مستعماولای مگر ددې خپل دسادگۍ عادت ددې مانع ؤ چه هغسی جامې واغوندی یا هغسی پسولو نه په ځان پورې کړی او په دغه تنقید اتو ئې ځکه چه په ښو کالو او پسو لو ئې وس نه رسېده خپله تسلی کوله او دهغه ضعف (تو تر) علاج ئې په کاوه چه حسد او غیرت په دې کښې پیدا کړی وه .


دقلبی او پټو خوا هشاتو داچپه او کبزه دتعبیر او اظهار طریقه یاد چغان او دانگورو قصه (چه انگور نه ور رسېده او ویل ئی انگور تروه دی) یوه غیر عادی طریقه نده بلکه دا طریقه دتأثر (تو ر) ازاله را ولی یائې شدت او ډېر والی نه تخفیف ور کوی ځکه دا طریقه خپل یوملطف (نرمونکی) اثر او اغېزه لری یعنی پر خپل موقع دسړی سوده په کېږی که څه هم موږ بېله دې چه عقلاً او منطقاً ئې سنجش و کړو ددې سلوک څخه کار اخلو او عملی کوو ئې خوصرف دغونه قدر دولای شوچه دهغه نقص چه په موږ کښې وی یا کوم غیرمشروع خواهشات چه ارو

د هغو د اعتراف او منلو څخه ځان غلا کړو او ځنې و تښتو مګر دا تېښته ده وما یوه موقتي او آني تېښته ده ولې موږ ته دا نه ده ممکنه چه د حقایقو څخه سترګې پټې کړو او کوم نقص او عیب چه په موږ کښې موجود وي ځان و غولوو او انکار ترې وکړو یا لمر په دوو ګوتو پټ کړو.

د اسقاط (پر بل بار اچول او تنقید کول) د مثال څخه دا هم یو مثال دی چه یو زلمی زلمیتوب پر سر اخیستی وي او د جنسي خواهشاتو پر ځای کو او ته حیران وي چه څه علاج یې وکړي او په څه توګه یې له کمي خواسانه کړي، نو د دغه مقصد د پاره په هره موقع کښې چه قدرت ومومي د خپلو ملګرو او همزولو ځوانانو سره په دغه باب کښې خبرې کوي او د خپلو جنسي پوهنو او معلوماتو په سلسله کښې چه کوم مشکلات و پېښ او دي ورسره مخامخ وي ورسره ګډوي او د دوی پر ساو که په دغه باب کښې تنقید کوي او په دغه توګه سره د دې پر ځای چه په خپلو مشکلاتو او خواهشاتو کښې فکر وکړي او د حل لارې یې وموومي ځان د دغه فکره څخه غلا او د هغه پر ځای هغه تنقید چه دی یې په ۱۰۰ کښې ۱۰۰ پر ځان وارد بولي نورو ته متوجه کړي نو که څه هم د ه د خپلو زحمتو او فشارو نو څخه یو موقتي فراغت ومومي مګر د خپلو مشکلاتو په علاج کښې، ترهغو چه د خپل شعور او احساس له حقیقته څخه سترګې پټې کړې وي - موفق نه دی او تش یې ځان خطا ایستی او دا هغه شخصیت ته د رسېدلو لار نه ده چه هغه د قدر او احترام وړ بلل کېږي او نه د شخصیت د جوړولو (تکییف) سالمه لار ده.

هغه وخت چه تاته دا در معلومه او ثابته شي چه ته په یوه شي پرېشان او زړه دې نا آرام دی، نو ته د پرېشانۍ او نا آرامۍ په اسبابو کښې فکر وکړه هغه شیان چه دا شدید اثر د هغو څخه پېښ دی، او کوم وخت که ته دېره سرې په تنقید او غندنه کښې افراط ته هڅه کوې، نو ته پدې کښې فکر وکړه چه ستا د دغو نه قهر سبب څه شی دی. ممکنه د دې چه کله کله دا کشف شي چه هغه پټ او پوښېده

اسباب چه ستا د سلوک ترشا موجود دي هغه پخپله ستا د خوښې او ستا د رضا او خط مشي په پرده کښې پټ پاتې دي ، په ساده عبارت هر څه چه ته کوې او پر هره لار چه ته په ژوند کښې روان يې يا کوم خط مشي او معين سلوک چه تا د ځان د پاره ټاکلی دی هغه په حقيقت کښې ستا د پټو او پس پرده خواهش او تمايل ايجاب دی او هغه ئې په تا کوي ، د دغه شي فهم او دغه درک به ستا سره ستا د ځان د حقيقت په معرفت کښې مرسته وکړي او تا به پر دې قادر کړي چه ته د خپل ځان شخصيت او حقيقت وپېژنې او په عين حال کښې به دې د نورو سره په معاملاتو کښې ډېر موفق کړي . تا ته لازمه ده چه ټول خپلو مشاعرو او احساساتو ته د حقيقت او واقعيت په رڼا کښې وگورې دا به ستا سره ډېره د اسې شخصيت په موندلو کښې مرسته وکړي چه هغه د قوت او سعادت له حيثه ډېر قوي وي.



دیارلسم فصل

له مقصده څخه مخ پر شا راتلل د دفاع له وسایلو څخه دي:

زیاتره خلق په بعضو اوقاتو کښي ځان په یوه و به بله کړي او خپل بار پر بل واچوي او داسي ددې دپاره کوم وقت چه د ژوند د مشکلاتو او ستومانیو سره مخامخ شي یوه مرستوني وسیله وګڼي، دوی دې وسیلي ته د دې دپاره التجا کوي چه د ځان دپاره یو روحي او نفسي راحت پیدا او اثبات کړي، او د دې دپاره چه د خلقو خوښي او رضا ځان ته حاصله کړي حال دا چه دا دواړه د نورو هغو وسایلو څخه دي چه موږ ئې د دې دپاره استخداموو چه د نفسي شدتاو او روحي فشار و په وخت کښي لږ غونډې راحت راحاصل کړي، دلته یوه بله رواجي او عامه او مشهوره طریقه د مشکلاتو او زحماتو سره د مخامخ کېدو او پر وخت هم شته، هغه دا ده چه سړی له هغو ځایو (مواقفو) څخه چه د زحمت او اضطراب سبب وي را اتر شا شي که څه هم په دې طریقه کښي یو منفي نشاط موجود دی مګر سربېره پر دې چه موږ ته یو موقتي غونډې نشاط راحاصلوي خو د یوه مؤثر او فعال کیفیت حالت نلري.

موږ چه متردد او په دوه زړه کښي شو:

زیاتره اوقات داسي پېښه شي چه یو زلمی یا پېغله د ځانه سره دا فیصله وکړي چه عالي تحصیلات به پرېږدم او نور به تحصیل ته ځکه چه پروګرامونه ئې مکمل ندي او د درس د هر مواد نلري دوام نه ور کوم، او هلک یا نجلۍ ته د معلمینو څخه د مرستي په غوښتلو کښي تردد ورپېښ شي، نو یو شرمناک محصل ګرځي چه د استادانو څخه پخپل هغه مشکل کښي چه شاید د هغو په مشوره به ئې حل شوی وای مشوره وغواړي دا نه و بولي چه مکتب یا مدرسه پرېږدي او دائمي غیرحاضر شي.

په حقیقت کښي مشکل په درس کښي نه وي بلکه اصلي او حقیقي اشکال دا وي چه د ده اجتماعي روابط کمزور او ضعیف وي. نو چه شاګرد ته دا ور معلومه شي چه ملګري د ده سره راشه درشه نکوي او زړه ئې نه ور سره غواړي نو یوازي

پاته او دي وخپل ځان سره اخته وي او دملګرو او همصنفيانو آشنائي لاس ته نه راولي، اوضمناً ئې جرئت کم شي پخپلو مشکلاتو کښې د نورو سره چه په اجتماعي ژوند کښې دخپلو ناکاميو په اسبابو پوه شي نشي زغېدای دغه رنګه دمرستي په غوښتلو کښې هم متردد او په دوه زړه کښې وي، څو آخر دغسې دي او ځان سره پاته شي او په جامعه کښې دانفرادي حيات او منفرد ژوند سره عادت شي د نورو سره ګډون نشي کولای مګر ډېره به ئې هوا ورته کېږي او زړه به ئې پسې چوي خو مګر شرم به پرغالب وي او هېڅ به نشي کولای.

دحقيقي او واقعي ګډ او مقصده څخه مخ راګرزول او دوه زړه کېدل يوازې عبارت دهغو مثالو څخه نه وه چه موږ دشاګرد يا شاګردې په باب کښې راوړه بلکه داطريقه کله کله دعمر په ابتداء کښې چه سړي دحقايقو سره مخامخ کېږي وربېښه شي، او زياتره اوقات په هره حادثه کښې چه لدغه قبيله وربېښېږي مکرراً توسل په کوي او استخدامه وي ئې. نوتر تحصيل وروسته او وړاندې يو رنګه او په يوه شان پردغه لار او طريقه روان وي او همدغه ئې خپل طرز او سلوك وي هغه سړي چه د خپل حزب اعانې پرخپل تا کلي وخت ور کوي مګر دحزب په اجتماعي نشاط کښې اشتراك نه کوي او داځکه چه داسې کسان اجتماعي ژوند دځان دپاره يوه شديده او پر زحمته غير موفقه تجربه ګڼي، او صرف دحزب يادمجلس په عضويت کفايت کوي دهغو خوندونو او لذتونو ذوق چه د کاميابو او موفقو اجتماعي تعلقاتو او روابطو څخه مونده کېږي يا پکښې موجود دي دوی نلري او احساس ئې نشي کولای، زياتره اوقات يوه پيغله پدې فکر چه د کاله کارونه ئې دا وي او دېوې مؤسسې اجتماعي خدماتو ياد يوه سپورتي ټيم شموليت ته فرصت او وقت نشي موندلای، نوددې بعضي ملګري پردې داتهمت وائي چه دامتکبره ده او ددوی په هيئت او مجلس کښې په شموليت شرمېږي يائې د کور يوه ئې کاره مېرمن بولي چه ترلازم وخت د کور چارې په زيات وخت کښې اجرا کوي د کهالي او تمبلي نوم پر کښېږدي نوځکه دادبل کوم خارجي نشاط دپاره وقت نشي پيدا کولای،

مگر غالب دمان په زیاترو اوقاتو کښې دادی چه دامېړمن ځکه گوښه ده چه دنورو سره دتعامل او راشه راشه اسانتیا گران ورته ایسي، نویوازې پاته ده اوددې پر ځای چه دا جتماعي روابطو په ایجاد کښې زحمت وکاږي داجتماع څخه ځان گوښه کول ورته اسانه ښویږي.

مخ را گرزول زیاتره اوقات
په اندېښنو «احلامو» خاتمه مومي:

داځه عجبه نده چه پدغه شانته حالاتو او مواقعو کښې موږ دموقف او مسئلې داصلي حقیقت له معالجې څخه او زه خالي او ځان ورڅخه په بله، اودیوې داسې وسیلې په پلټنه پسې مخ وپیسو چه دغه اصلي اوحقیقي موقف چه موږ ورسره مواجه یواوزموږ مخې ته ولاړ دی یواحتمالي موقف کاندی، داپدې صورت چه موږ دغه په خپل فکر داسې راواړوو څنگه چه زموږ زړه غواړي اودخپل تمایل په اساس ئې تفسیر او ترجمه کړو.

دامر موزه او پیچیده طریقه ډېر زیار اوزحمت نه غواړي، ځکه دااسانه ده چه یوسړی دځانه سره دفکر پر نیلي سپور رسی او په اندېښنو ځان پاچا کاندی په خیال کښې داور وگرزوی چه دی په درس او زدکړه کښې بریالی او تر خپلو نورو ملگرو په صنف (ټولگی) کښې لوړ اودونه قابل دی چه خپل سیالان او همصنفان په حسرت او غبطه ورته گوري. مثلاً یوسړی به دې فکروی چه دحزب اعضاؤ دی دمشر (رئیس) په توگه ځکه ټاکلی دی چه په ده کښې دفعالیت او نشاط نخښې ډېرې دی او یوه مېرمن پدې خیال کښې ده، او په وینه خوب وینی چه زماخو داسې ستاینی کېږي او په شه او ړه سترگه خلق راته گوري!! ددغې نوعې خلق خوراډېردی چه پدغو خیالي میومست شوي او په اند ېښنوئي ځانونه پادشاهان کړي اودې افکار ورته تسلیم شو یدي، مگر دخوراډېرو کسانو په دوی کښې دادلاسه شویده چه ددې هیلو او آرزوگانو ترجمه په واقعي او حقیقي ژبه وکړي په زیاترو کسانو کښې ټینگ عزم او کلکه اراده لږ دوي یاې دکامیابۍ په لار کښې شدید کوښښ اومجاهده دلاسه نکېږي او ددې سبب

هم داوی چه‌دوی په‌هر کار کښې دنا کامۍ خوب وینی او مقصد ته د نه رسېدلو اندېښنه ډېره ورسره ملګرې وي . نو په همدغه سبب دوی پخپل خیال او اندېښنه ځانونه دهغو مواقفو ابطال او پهلوانان بولي چه هلته موانع او شدائد ددوی په‌لار اومخ کښې وجود نلري اود کامیابۍ دموندلو په‌غرض چه‌دوی هرڅول رولونه لوبوي او بولای ئې سي ، نو دواقع او حقیقت پرځای خیال او اندېښنه ودروي او لکه‌دپښتو دا لنډۍ چه وائي:

په اندېښنو مې ځان پاچا کی
سر مې راپورته کې ملنګ ددوهې ومه

په اندېښنوئی دځانه څخه هرڅه جوړ کړی او تر هرڅائي پورته بللی وي ، ځکه‌نه ده چه اکثره اوقات‌دی مواقف او ظروف هغه ظروف او مواقف وي اوڅه تغیراو بدلون دی نه وي پکښې راغلی ، او هم خلق هغه‌خلق وي لکه په واقع کښې چه وي ، مګر هغه سړی چه دخیال په‌دنیا کښې ژوند کوی اودا اندېښنې فلمونه لوبوی دهغه‌سړی څخه چه‌په واقعي حیات کښې ژوند کوی او حقیقت او واقعیت ته اعتبار ورکوی کوږت جلا او بېل دی ولی دو ېښې په‌خوبو (دخیال او اندېښنې دنیا) کښې غیرله کامیابۍ او ځان خوښۍ (اعجاب) او غیرله ځان ستاینې څخه دبل شی موقع نشته او نور شیان هیسته غور ځول کېږي .

ځینې اوقات داسی پېښه‌شي چه‌داندېښنې او خیالي ژوندښېتن په‌هغه‌موقع کښې چه‌دخپلو دوستانو سره ملاقات او کتنه کوی دوی اغفال او ځان ددوی په نظر داسی ورولی چه دهغه‌ګی پرمخ موفق او کامیاب انسان یوازی دی دی چه‌په سپورت یا موسیقي یا په‌فن کښې ئې ستوری پر آسمان ځلیږي ، یا دځانه څخه انسانیت او بشریت لوی مصلح جوړ کړی یا دا چه‌دجامعې ستر ګی‌ئی روح زماولور ته‌دی ، او ټولو ماخوښوی او ستائی ، خلاصه‌دا چه نه‌څخه‌هغه‌شخصیت جوړوي کوم‌چه‌دده‌هوا اور ګېږي او تمایل ورته لري ، مګر په‌حقیقت کښې له‌دغو شیانو څخه‌یو لا په‌ده کښې نوي خودده په‌خیالي اړخه کي چه

هر هغه دي گوري د کاميابۍ او موفقيت سره مواجه وي او کوم ځاى چه دي ښکاره شي د ننا او ستاينې د باران يو شور وي.

کله کله د احلام او انديښنې معنوي روح هسک او اوچت کړي، او د دې سبب دا وي چه اغلباً خو احلام او انديښنې د هغو مشکلاتو او ناکاميو په عوض کښې دريږي چه زموږ پر واقعي حيات گرد چاپيره وي، په هغه موقع کښې چه کاميابۍ ته لاس نه ور رسيږي، مگر کوم راحت او اطمينان چه د احلامو او انديښنو د خوا پيدا کيږي دوام نلري لکه د رضا او قناعت اساس او د اعتماد وړ چه نشي بلل کېداى.

موږ به انديښنو ته متوجه کيږو او که په ځان ځنې گواښو ؟ :

ځينې اوقات موږ انديښنو او احلامو ته التجا کوو او موږ ته له دا عادت ارو، موږ بايد د ورځنې احلام (انديښنو) ته تشجيع ور کړو مگر نه په اندازه سره، که موږ ته خپلې انديښنې (د ورځنې احلام) په يوه ځلانده او روښانه فضا کښې ځان را ښکاره کړي او په واقعي حيات کښې موږ د کار او د عمل خوا ته ور و بولي او د جد او جهد الهام راله ورکړي چه موږ کاميابۍ ته ور رسيږو نو بې شکه احلام خپل يو مهم قيمت اري.

مگر که موږ د انديښنو (د ويښې د احلامو) څخه د دې د پاره کار واخلو چه د واقع او حقيقت څخه ځان غلا کړو او ځنې وتښتو، يا په دې توگه التجا ورو وړو لکه دا چه د يوه ترخه حقيقت څخه د ځان ژغورلو وسيله وي او ورو سته د غه خيالي او وهمي ژغورنې ته ځان ور وسپارو نو په دې کښې شک نشته چه د (ويښې احلام) په دې حالت کښې څه قيمت او اهميت نلري.

اوس به دا د موږ په دې باب کښې چه له دغې ناحيې څخه اغلباً څه پيښيږي يو څه مثالونه در ته راوړو : يو زلمی دی چه دی پر په دې فکر کښې دی چه دی بايد د قانون په فن کښې تحصيل وکړي او د ځانه څخه د حقوقو يو عالم جوړ کړي نو د ځانه سره په دې انديښنه کښې دی چه دی د يوې قضائي محکمې د هيئت په منځ کښې ولاړ دی، شاؤ خوا خلق پر را گرز ېدلي او بخپل فصاحت او بلاغت او منطقي بيان چه ور کوي ئې د خپلو حريفانو په عقل لوبې کوي چه په دغه ذريعه د يوه بې گناه متهم ژوند او سعادت وساتي او د مرگه څخه ئې وژغوري لږ گړۍ ورو سته د دې انديښنې د يوې شعلې شکل ومونده هغه شعله چه له هغه ځنې پورته شوه

او دده د جدو جهد او زیور تازه کړ او د لوست، مطالعې، درس، او د کتابو کتنې ته ئې ملا وتړله، او ځان ئې فقط خپل هدف او واحد مقصد ته وقف کړ چه هغه د حقوقو په فاکولته کښې لوېده دي، مګر د دوري (کورس) تر ختمولو او د امتحان تر ورکولو، او د فاکولتې د داخلېدو او د اجازه نامې تر اخیستلو د مخه دا فکر ور وا وېدی چه اسانه او د خوشحالۍ صورت ئې دی چه اوس دستي په دستي ځان یو کامیاب او د (ستاژ) په دوره کښې حقوقي فارغ التحصیل وګڼي او د حقوقو د فاکولتې تر شمولیت او د فاکولتې تر شهادت نامه تېر شي او ځان ته کار ګران او لار او زده نکړي په دغه صورت دوېښې احلام (اندېښنې) په ابتداء کښې دده د پاره د نافع او د عمل او جدو جهد باعث شوه، مګر د زمانې او شپو ورځو په تېرېدو اندېښنو (دوېښې احلامو) دی پسې واخیست او له هغو کوښښونو شخه ئې را وګرزاوه چه دده د ارزو ګانو د تر سره کېدو د پاره ضروري او لازمي وه.

نو د هغو اندېښنو چه د کار او عمل باعث وي او سړی مقصد ته رسوي، او د هغو اندېښنو ترمیانځ چه د جدو جهد پر ځای ودرېږي ډېر فرق او توپیر دی.

اندېښنې مرام ته پر رسېدلو باعث دي:

یوه پیغله په یوه داسې کور کښې لوشوه چه ژوند ئې پکښې د زحمت او سختۍ، داسې پلاره او بې تموره وه، خپلې انا ساتله هغه انا چه ذا او ددې خور ئې په خورا زحمت او خوراې ساتلې. پیغلې د خپلې انا خوا خوږی او ښېګڼه او زحمتونه تقدېرول چه په یوه محدود د خال سره ئې د درو کوچنیانو روزنه او ساتنه کوله او کېدو ازۍ دا او خپل ځان وای او ددې لمسیانی ئې نه وای د غاړي خورا د پراخې او راحت ژوند به ئې کړی وای دې کولای شوای چه که ددوی درو مصارف نه وای په هغه ئې د کور د زوړ فرش او زوړ سامان نوی کړی وای نو پیغلې د ځانه سره عزم وکړ چه یوه روځ به د خپلې انا دغه شیان ور نوی کوي، او په یوه نوي کور کښې به دا د یوه مسعود او خوشاله ژوند مېرمن کوي. پیغلې د دغه مقصد د پاره په ورځو او شپو د ځانه سره فکر کاوه چه هغه نوی کور به چه دې پخپل فکر دانا د پاره سخ جوړ لې ؤ په ځه

په هغه صورت امکان واري ، او څنګه چه ئې په جوړولو موفقه شي ، پېغلې د هغو
کتابو پر مطالعه راواچول چه د کوراود ټاک اوټوک اوتزئین په موضوع کښې
غوره او صحیح معلومات حاصل کاندي ، او مخوئې دلاسه کېده هغه مغازي چه د کوراو
دالهاما نو نه پکښې خرڅېدل ټوله ئې و کتلې ، دې مقصد ته د دې شوق زیات شو ،
د مدرسې د درسو نو په پروګرام کښې ئې دفنو نو درس هم شروع کړ او د استادانو له خوا څخه
ډېره تشجیع او تشویق شوه پدغه توګه د فني درسو په واسطه د ونه تقویه شوه چه
په آخر کښې د مکتب د صحنهٔ تمثیل ټولګې د دې ته مراجعه کوله او کوم مناظر چه به دوی
په خپلو ننداروکښې ښکاره کول د هغو د ترتیب او تنسیق چاري به ئې په دې اجرا کولې
علاوه پر دې پېغلې ته د تاریخ درس او تتبع ډېر خوږ او خوندور واقع شو
ځکه چه تاریخ خو د تصمیما تو (۱) اساس او بنسټ دی . په همدغه ډول د وینښې احلام
(اند ښنی) هغه چه د دې داناد واړه کور د ټاک اوټوک د نوی کو او فکرئې
د بنسټ ډېره وه د دې د تفکیر او د ژوند د پروګرام او آینده خط مشی د ټاکلو باعث شو
او پېغله ئې د دې خبری ته اړه کړه چه د کورو تنسیق او ترتیب د ځان د پاره کسب او پېشه
او تخصص پکښې حاصل کړي ، نودو ینښی احلام (اند ښنی) د هغه نشاط پر ځای چه د دوی
نتیجه ؤ ونه دربدلې بلکه د دې باعث شوې چه د نشاط څخه استفاده و کړي .

دو ینښې احلا م (اند ښنی)
د مقصد د مو ندلو په عوض کښې:

دې څخه مخالف د کشرې خور افکار بیا بل ډول وه . دې نجلۍ هم هغه مسئولیت
چه د دې او خورئې دانا خواری پراوږو لو پدلی ؤ حس کړا و په اسې حال کښې
چه د خپلې انادښېګڼې قدرئې کاوه په هغه خوار کور کښې چه دوی ژوند پکښې کاوه

---

(۱) د تصمیما تو څخه پدې ځای کښې مقصد د فلم او ډرام د پاره د قصې انتخاب دی ،
او ځکه چه د تیاتر او صحنې ننداري اغلباً د تاریخي وقایعو تمثیل او ښودنه کوي نو د تیاترونو
او صحنو متخصصینو ته په تاریخ کښې زیات معلومات او مطالعه لازمه ده چه خوندور
او مفید واقعات تمثیل او ښنداره کړي . (واسعي)

شرمېدله ، او دغه جهته به يې تردد کښې وه چه خپلې همزولې نجونې ميلمنې کړي، او که يې راوبولې نه چه په کوز پورې به يې وخاندې او زړه به يې پرې سوځي . دې نجلۍ ته هم خپلې اندېښنې چه دې دژوند دغه محيط څخه يې نشت کړې وې موجودې وې . د دې اندېښنې هم دخپلې خور داندېښنو او احلامو غوندې دتشاکاوو ک او تزئين او ښکلتيا په شاؤ خوا کښې وې چه کاشکې د کور ښې خونې او نوې فرشونه او سم ترتيب واى دا اندېښنې ددې په دماغ کښې داسې ټينگې شوې چه د تفکير جزءئې و گرزيدلې او هيڅ کله به ځنې فارغه نه وه و تردې اندازې چه کله کله به يې خپل شاؤخوا وکتله او هغه خونې به يې وليدلې چه داژوند پکښې کوي او ډېرې به خوارې او تنگې او تاريکې وې ډېره به حيرانه شوه او يو قسم دهشت به ور پېښ شو . ددې اندېښنو تجسم ومووند او غټې شوې او دحقيقت بڼه يې وموندله تال به يې په مکتب کښې خپلو ملگرو ته دخپل کور د پوره ترتيب او تنسيق خبرې کولې ، تر دې اندازې چه يوې نجلۍ ته يې د هغه تذکره قالين تعريف وکړه چه لکه ددې په سالگره کښې چه دې ته دېو چا له خوا د تحفې په ډول ور کړ شوى ؤ بيانو هغه وخت دې ته پرېشانى او اضطراب ور پېښ شو چه دقالين د نوعې او رنگ ؤ او صنائعو سوالو نه ځنې و شوه ، دائې نسواى کولاى چه ښځېلو در واغو اعتراف ورته وکړى په هره اندازه چه به هغه پردې بدگمانه کېدلې ددې پرېشانى او اضطراب به لا پسې ډېر يده ، دې ددغه خيالى نړۍ په اندېښنو کښې چه ځان ته يې جوړه کړې وه شپې شپې رونې او روځې روځې يې تېرې کړې ، مگر دې د خپلې خور بالعکس هيڅ داسې کارونه کړ چه ددې آرزوگانې ترسره او موجودې کړى بلکه ددې خوشالى فقط خيالى وه او هر څو نه چه به يې داندېښنو قصرونه ډېر جوړه کړه هغونه به ډېره خوشاله وه دې ددې خبرې تحمل ونه کړ چه دشيانو په باب کښې هغسې فکر وکړى څنگه چه دوى په واقع او حقيقت کښې وى لکه پدې کښې چه يې هم هيڅ فکر ونه کړ چه د وهم او خيال او اندېښنې له ښاره څخه راووزي او داخلاقى ژونده څخه لاس واخلي .

په دغه صورت دویښی احلام (اندیښنې) د مشرې خور دپاره دخطوط مثنی دتر سیم او مقصد ګوندنې او دهغې بلې دپاره دواقعی عالمه څخه د خیال او وهم نړۍ ته دتګ او تېښتې باعث شوه.

ایا ستا اندیښنې حقیقي قیمت لري؟:

دویښی خوبونه (اندیښنې) کله کله دیوه قیمتي قصر دجوړښت دپاره مساله وي لکه څېنی اوقات چه بیاد هغه دنړولو دپاره توپ او ټانګ او دسړي د بدمرغۍ لوی عامل وي نو لدغه جهته موږ داندیښنو په باب کښې یو قطعي او عمومي قضاوت نشو کولای چه ښې یې کومې او ناوړه یې کومې دي؟ نو پر موږ لازمه ده چه دهغو اندیښنو فرق چه یو داسې شی یې نتیجه وي چه دانسان دمستقبل په جوړولو کښې یو قیمت او اهمیت ولري له هغو اندیښنو څخه وکړو چه هغه صرف دموجوده مشکلاتو او سختیو څخه د تېښتې او خلاصېدو سبب وي.

دحقیقته سره مخامخ کېدو او په هغه کښې فکر او دقت خورا لوی اهمیت لري نو که موږ ته حقایق لکه څنګه چه دوی دي هغسې را څرګند شي او موږ په پوهېږو پلمه (تبریر) او خپله ګناه پر بل اچول (اسقاط) او اندیښنې ته چه موږ التجا وړو و دهغو وسایلو څخه وګرزی چه زموږ دروځنی ژوند پر تکیف به مرسته را سره کوي مګر موږ باید ددې حالته څخه چه دځان دپاره عذر او پلمه پیدا کړو او پدې لار کښې افراط او تر حده تېري کوو ډېر ډېر ځان وساتو، او تل دا کوښښ وکړو چه په هر کار کښې ځان ته پلمه جوړه نکړو یا په بل عبارت د ویښی دخوبونو (اندیښنو) څخه چه موږ ته دکار او نشاط په عوض کښې دریږی او دجد و جهد څخه موا چوی ډېرو بیریږو او ځان ځنی وژغورو او داشیان پر خپله اندازه متوقف کړو ځکه دا اندیښنې (احلام) صرف دعجز او تضییق په مقابل کښې دفاع دي، او پدې کښې څه شك نسته چه زموږ څخه هر یو کولای شي چه دخپل تکییف دطریقو دتحسین دپاره داسې لاری غوره کړی چه په هغو کښې د پېچېده وسائلو استخدام دروځنیو ستونځو څخه دځان خلاصولو په غرض نه وی شوی. پدې لار کښې لوی او مهم ګام دادی چه

موږ ډېر ځلې پوه شو چه په هغه وخت کښې چه موږ تبرير يا اسقاط يا اندېښنو ته التجا وروړو په هغو شيانو چه موږ ئې کړو پوه شو. او دوهم مهم ګام دادی چه موږ ته دا را معلومه شی چه موږ ولی د غو دفاعی وسائلو ته التجا ور وړو. وروسته به موږ ته دا ممکنه شی چه خپلو ځانو ته داسی لاری او پېروګرامونه جوړ کړو چه د هغو په اساس موږ خپلو مرامو او اعمالو ته تغير ور کړو چه د دغو وسائلو څخه مستغنی شو او بوازی په دغه وقت کښې به شخصيت ته دا ممکنه شی چه وده او تطور شروع کړی. رښتيا داده چه اندېښنې د هغو مواقفو څخه دژغورنی د پاره چه اضطراب او پريشانی را وستونکی وی يوه غير عادی طريقه نده، په موږ کښې هريو د اندېښنو په واسطه او د تخيل لاری د خپلو مشکلاتو د واقعی حل په موندلو موفق شوی دی داسی حل لکه چه ورته لازم او بايد وی، لکه په موږ کښې چه هريوه ته په اندېښنو کښې يو موقتی راحت داسی چه د کاميابی او موفقيت پر ځای دريدلی وی ور حاصل شوی او ليدلی ئې دی ځکه ناکامی ترخه ده او هيڅ څوک ئې نه غواړی او په هره توګه چه وی د ترېخوالی څخه ئې سړی ځان ژغوری که څه هم وهمی او خيالی او موقتی وی. په هر صورت د ويښی احلام يوه له هغو متعددو طريقو څخه ده چه خلق التجاء وروړی او په هغه وقت کښې چه د خپل کوم مرام په لار کښې د سختی او مشکل سره مواجه شی د هغه مشکل او سختی څخه فرار او رجعت کړی.

په پخوا پوری لاس نيول
او په ماضی پوری ځړېدل :

دلته ځينی نوری ډېری وسيلی سته چه سړی ددې د پاره مخ ورته را اړوی چه د درد آلودو او حيرانوونکو مشکلاتو څخه ځان اوزګار کړی، دلته د ستوما نيو څخه د خلاصون لپاره نور وسائل هم سته. ځينی کسان ددې د پاره چه ځان د يوه زحمت څخه وباسی بوازی يوه وسيله نه بلکه ددېرو وسايلو څخه کار اخلی، ځنی بيا فقط هر وخت يوه وسيله تعقيبوی خو د فر د سلوك چه هر يو وی خو ددې د پاره ئې فوره

کړي وي چه زحمت او تکلیف ئې پرسپک کړېدی او په ژوند کښې د راحت یوه لوه وسیله ده.

د لته د حقیقته څخه د مخ اړول او ارتجاع او قهقرا د پاره یوه بله وسیله هم شته چه (ارتداد) نومیږي او معنی ئې: شا ته راتلل او را تر شا کېدل دي. دا داسې کېږي چه سړی خپل فکر او عقل پخوا او ماضی ته د دې د پاره متوجه کړي چه ګوندې د مشکلاتو، ستو مانتیاؤ په مقابل کښې یوه داسې لار پیدا کړي چه تقریباً ډېره کامیابه او خوش آینده وي، ارتداد ته ډېر خلق په خپلو مقاصدو کښې په دې غرض التجا کوي چه د کومې ستومانۍ او کړاو نه د تیا (تو تر) شدت چه ورته پیښ وي په سپك کړي. په دې کښې شك نشته چه تا به هم په کوم موقع کښې چه یو مشکل در ته در پېدل وي او په علاج ئې نه ئې پوهېدلی له دې طریقي (ارتداد) څخه کار اخستی وي. یو له هغو وینا ؤ څخه چه موږ ئې ډېر اوروو دا عبارت دي «د ځانه څخه هلك مه جوړوه» یا: «سړی سه او داسې کار کوه لکه ستا همزولي چه ئې کوي» دا هغه وخت ویل کېږي چه څوك د ځینو کسانو پر وضعیت او حرکاتو د مشکلاتو د مواجه کېدلو پر موقع تنقید کوي. مګر موږ د هېڅ چا څخه داندي اورو پېدلي چه: «مه را ګرزه» حال دا چه هغه عبارات عیناً د غه معنی ور کوي خو ندوره لا داده چه کوچنیانو او وړو هلکانو ته هم دا معلومه ده او په پوهېږي، او د وی هم چه یو څوك غندی د هلکتوب نسبت ور ته کوي وائي: «هلك دی! هلك دی!» تر دې او د تأثر او خفقان وسیله هلك ته بله نشته چه دی په دې پوه کړه شي چه د ده وضعیت نالایق دی بې له دې چه دده کارونه د هلکانو کارو ته ورته وبولي که څه هم زموږ مقصد داند ی چه «ارتدادی» سلوك هر و مرو ناوړه او بد سلوك دی ځکه چه په ډېر واو قاتو کښې یو هلك ځان کوچنی کړی او (ارتداد) وکړی مګر کار ئې ناوړه او غندلی کار نه وی.

په حاضر وخت او حال کښې ژوند کول:

پر یوې نجلۍ داښکاره وه او داسې معلومېده چه و روسته دوړ کتون (روضة الاطفال) تر دوره کوم وخت چه د مکتب (ښوونځی) لمړي صنف ته

راغلـه په خپل تعلیمی او تدریسی ژوند کښې ښوهیږي ، داسې : چه هر سهار به په ورځ کتون کښې خپلې کوټې ته‌ورتله ښوونځي دښوونځي داخیال‌سوچه د الا اوس دتدریسی صنف (مدخل) ورته باید په ورځ کتون کښې وي ، سره لدې چه ددې نوری ملګرې په (مدخل) پوره بلدي او ام خته وي پر وقت به خپل صنف ته برابرې راتلې او دهری یوې به خپل دناستې ځای په‌صنف کښې پیداؤ او پر خپلو ځایو به کښېنستلې . دې نجلۍ هم ګولای سوای چه داتوله په زړه ولري ، او ټوله دروازې و پېژني چه پر کومه ورځ کتون او پر کومه مدخل ته ور ځی خومګر ددې ورځ کتون خوښ ؤ او مدخل ته ئې ورتګ زړه نه غوښت داځکه چه‌داپه‌ورځ کتون کښې موفقه‌اوخوشحاله‌وه‌اودانه‌وه‌ورمعلومه‌چه‌په‌مدخل کښې به‌څه ورپېښه سی اوڅه حال به‌ئې وي اوپه ځان ئې باورنه ؤ ، نو اضطراب اوناآرامی ورپېښه شوه ، اوپه ماضی پورې ئې‌چه اسانه‌اوخوش آینده وه لاس وینوه‌اوهغه‌پرون ته‌ئې‌عودت‌وکړ چه داپکښې لوشوې‌وه،نوځکه‌ورځ کتون ته‌تګ ئې ددې چه نوې محیط ته ځان جوړ کړي ورته اسانه ؤ .

دیوې بلې‌پېغلې‌مثال ستاسو چه‌تردې‌په‌عمر کښې‌زیاته‌وه‌او کښې‌مت‌ئې‌هم‌دغې‌وسیلې‌ته مخه‌راو کړه‌داپه‌هغه‌موقع کښې چه‌په‌مدرسه کښې‌دداخلې‌شوق‌په‌تعلیم کښې‌ولویده‌اوهغه ژوند ته ئې چه پدغه مسلک کښې ئې ددې انتظار کاوه ډېر کوم درلود او ور ته تلوسه‌ئې وه لکه‌په کومه‌موقع کښې چه‌به ئې دخپلو هم صنفانو او همزولو پېغلا نوسره چه‌دمدرسې په‌خارجې شق کښې به‌داخلې وي‌دخپل آینده‌ژوند خبرې ګولې دخو شحالی او هوسه څخه به‌مځکې ځای نه‌ورکاوه اوپه کمیسه کښې به نه‌ځائېده مګر فقط‌چه‌ځان ئې‌چه‌یوه نابلده محیط کښې ولیدسمدستې ئې خلق ورته تنګ او خلق تریخې ورپېښه‌شوه .

دې ګولای شوای‌چه‌پرخپل طبیعی‌شعور (خپل لمړې‌وطن ته‌ئې‌هڅه) غلبه وکړي که دې خپل ځان ته ددې‌فرصت ور کړی وای چه ځان نوی «وطن» ته آماده

او تیار کړی دی، ددې پرځای داو کړه چه خپل پښتوانی ژوند او تېرېږي روځی ئې او هغه طریقې ئې ورپه زړه کولې چه دې عادت ورسره پیدا کړی وُ، او ارمان به ئې کاوه چه کشکی خپل پښتوانی ژوند ته ور کرز بدلی وای هغه ځای ته چه هلته ئې خپلې ملګرې او ځوانی دی او تېرو لو دا ښه پېژندله، یو هفته وروسته ئې دې ته تمهید اېښوو ه او دې ته ئې اسباب برابرول چه کاله ته ولاړه شي او هلته دخوږ و اندېښنو شخه مزه او خوند واخلی، او دائی زړه نه غوښتل چه لازمی کوښښ دې وکړی چه نوې طریقې زده او نوې اشنایانی او دوستانې پیدا کړی نجلۍ په ماضی او (پښتوا) پوری منګلی و نښتلی چه نوی تجربې یا نوی جهدو جهد ئې نه غوښت.

بل مثال هغه دپاخه عمر ښځه ده چه کټ مټ ئې همدغه قسم ارتدادی سلوک ته هغه وقت چه یو بل ښار ته مسافره سوه التجاو کړه دا به تل خفه او خلق تنګی وه او غیر دخپل ښار دښکلا او ستاینې شخه ئې بله خبره نه در اوده، همیشه به ئې دهغه ښار دو کړو ښه اخلاق، مېلمه پالنه او خپل ښه ژوند او دراحت شپې وُ روځې چه هلته پر تېر بدی ستایلې. مېړه ئې دې ته مجبور وُ چه بدغه نوی ښار کښې و اوسی مګر ددې دلاسه نه وه پوره چه دې نوی وطن ته ځان په وړین تندی مکیف کړی او پر دې نوی وطن سکته وکړی.

نوی روځی دنوو طریقو ایجاب کوی:

احتیاط بدی کښې دی چه موږ دهغی ښېګڼی (تحسن) طبیعت وپېژ نو چه دهغی وار دول او ادخال زموږ پر پښوانیو او ماضی وسایلو ممکن وی، یادهغو مزایاؤ طبیعت وپېژنو په هغه صورت کښې چه موږ غواړو هغو ته دوام ور کړو او دخپل سلوک په پروګرام کښې ئې داخلی وبولو دا چه موږ هرنوی شی ته په سپکه ستر ګه وګورو او بې اهمیته ئې وبولو، او پر ماضی (پښوا) باندی زحم وکړو ددې نتیجه به غیر له دې شخه چه همیشه به ناخوښه او دائمی قهر او بدبینی وی نور شه ونه وینو دامکنه ده

چه کله کله زمونږ د مینې او محبت وطن زمونږ پخوانی دوستان، او زمونږ د ماضی
نشاط په هغه ګړی او دم در حاله زمونږ د بهجت او خوښۍ سبب او باعث وي، مګر که
مونږ وغواړو چه ځان ته الش او تغیر ور کړو دا تغیر به هم زمونږ د خوښۍ او سرور سبب
وګرزي . دا ته یو داسې شی نشته چه هغه دي د ماضي ده پر ولو ایجاب کوي او زمونږ
څخه دې زاړه خوازه خاطرات محوه یادی ماضی را څخه بېګانه او پرده دي کړي مګر دا هم
نده جائزه چه مونږ ماضي زمونږ د نوي ژوند او عصري حیات په شرایطو او د رضا او
خوشحالۍ او د ځان ترمیانځ حایل او پرده وګرزوو نو مونږ ته لازمه ده چه واقع او
حقیقت ته مخامخ شو او اعتراف به ور کړو ، لکه دا چه راته ضروري ده چه حقیقت ته
آماده او ځان په تکییف کړو دا به ښه شوې وي چه تاسې د سپورټ دیوه متقاعد
پهلوانه سره خبری کړی وي، د دې سړي د خبرو موضوع به غیر د ده د سپورټ د پهلوانیو
د قصو څخه بل شی نه وي چه پخوا دی داسې او داسې ؤ ، دی به خبری د هغو کامیابیو
او بریالی تو بونو په باب کښې کوي چه ده په سپورټي مسابقو کښې حاصل کړي وي
او د هغو هدفو په شاؤ خوا کړ کښې به ږغیږي چه ده په سجال کښې تر وروستنۍ
قیصې پورې لیکال شوي یا به د ځینو یك نواخته او متشابهو حوادثو په اطرافو کښې
وي به دي کښې څه شك نشته چه دی پدې طریقه سره د نجاح او کامیابۍ هغه
شعور لټوي چه د پېره زمانه دده سره ملګری ؤ ؛ هغه شعور چه مونږ ټولو ته معلوم دی
او راحت په مومو ، ځکه چه قهرمان او پهلوان نن روح متقاعد شوی او د نامه څخه
او پد لی ؤ نو ده غوښته چه د ماضي او پخوا افکارو ته رجوع (ارتداد) وکړي او زړې
د خوشحالۍ خبرې بېرته نوی کړي ، ځکه چه د کامیابۍ افسانې خوندوری او راحت
راو ستونکی دی، او که دی نن هم داسې کامیاب وای لکه پرون اوس به ئې د دې
پر ځای چه د پخوا او ماضی سر نوړی او افتخارات بیان کړی د نن
تو ری او غـز اوی بـه ئې بیا نو لې په ماضی پورې لاس نیو ل او زاړه افتخارات
بیـا نـو ل پـو ره خـو ښی او رضـا نـه لـمـو ي ، او بشپړه خو شحا لي نه

راولي، داځکه چه پخواني خاطرات که څه هم ډېر خوشايند وي د اوسني او حاضر وخت پوره عوض او قائم مقام نسي کېدلای او په نن روځ د سړي په ښه نه ورځي، نو که ته دغه خبرې ته غاړه کېښېږدې او ورته تسليم سې نو به ئې خپل دنن روځې دخوشحالۍ سبب وبولې او که انکار ورځنې وکړې نو به ته د يوې لېرې صبا او آينده انتظار کوې چه په هغه کښې به هغه وخت چه راسي، دهغو شيانو قدر درمعلوم سي چه هغه په نن روځ کښې ستاد خوښۍ سبب گرزي که موقع او فرصت ور له ميسر شي.

مشکلات کله کله دفعاليت او کار باعث سي او سړی بر عمل راولي، نو ته داسې نوي وسايل ولټوه چه پر مشکلاتو او سختيو بری ومومې، داځکه چه هغه نشاط چه ته ئې پدغه لار کښې ښندې ستادهغې ستومانې او زړه ماتوالي شدت درسپکوي چه تا ته د مشکل په واسطه د د پيښ شويدی او ته بايد پدې پوه شې چه ستا د داشعور چه ته ددې لايق ئې چه دمشکل سره مقابله وکړې او دمخه څخه ئې بيرته کړې تردې ډېر راحت راوستونکی دی چه ته وتښتې او رجعت وکړې.

او که ته په فکر يا په عمل ماضي ته ولاړ سې او کوم شيان چه تا په ماضي کښې په هغو يوه کاميابي موندلې وه ددې دپاره چه ځان په خوشاله او درضا شعور او احساس وکړې اوس او په نن روځ کښې تکرار او عملي کړې نو هغه د ماضي کاميابي دوړاندې تگ خواته لومړی گام وبوله او داسې په قانع کېږه لکه وروستي هدف بلکه وړاندې پسې ورتير سه او وړاندې تگ ته دوام پسې ور کړه، او چه ته د ترخه واقع څخه راترشا کېږې او مخ د انديښنو پر خوا ځنې تښتې نو دا زړه ته را چوه او يقين ئې واره چه ژوند يو رښتني او حقيقي واقعيت دی او خوبونو خيال او انديښنه و آرزونده، ته به هر ومرو ور سره مخامخ کېږې که نن نه وي خو صبا به ضرور وروی، او هر څونه چه ژر ورسره مخامخ سوې هغونه به پر خپل تکاليف دده په مقابل کښې ډېر او ښه ترا مقتدر ئې دواقع او حقيقت په مقابل کښې فرار او ارتجاع يوه داسې طريقه ده چه هغه شخصيت چه د کفايت څښتن وي تره

او ابا ئخنی کوی ، نو بعضی خلق پخپلو اند یښنو کښی داسی خوبونه وینی چه تر اوسه نه وی لیدل شوی بلکه وجودئې مشکل او محال وی . او بعضی بیا په خاطراتو کښی داسی اشکال او بڼې وینی چه په لیری ماضی کښی به ددوی د خوښی او خوشحالۍ دلمسون باعث وه مگر پدی صورت کښی چه موږ باید د حاضر وخت دپاره یو رښتنی اود خوشحالۍ ژوند لاس ته را ولو داندی را ته ممکنه چه دماضی په آرام او ښه مرغی قانع سو ، بلکه دحقیقته سره مخامخ کېدل او مقابله ورسره کول او د هغه مغلو بول ، هغه هم زحمت او تکلیف را باندی راسی د با کفایته ژوند او میړ نی حیات دلیل او نخښه ده ، او هغه طریقه چه په سیوری کښی یی شخصیت وده او نشوونما کوی یوازې د غه طریقه ده .



څوارلسم فصل

اعتدائی (دضدیت) دفاع :

هغه وسایل چه د سختو او داسې مواقفو او مواقعو د مخامخ کېدلو دعلاج دپاره استخدامېږي چه هغه د زحمت او کدورت نه شخه ژغوري او موږ ئې تر بحث او څېړنې لاندې و نیول په هغه فرد پوري ئې اړه درلوده چه هغه د مشکلاتو په مقابل کښې ارتجاع او قهقرا کوي نو د دې دپاره چه د یوه شي نه ځان کناره او وژغوري د ځان دپاره منطقي وجوهات او دلایل و تراشي، یا د هغو دواقعو تفسیر و کړي چه دی خپل فعل او چاري ته ور دفع کوي یا د واقع او حقیقت نه شخه سترګې پټې او هېر ئې کړي دو یښې په احلامو (اندېښنو) نوزي او ځان په وهمي او خیالي شیانو خوشحاله او په اندېښنو ځان بانچا کړي یا غالباً د هغو وسایلو شخه چه موږ د مخه بحث پکښې و کړ یوې وسیلې ته التجا ور وړي لکه ارتداد یا اسقاط مګر دلته دا فرد د هغو تو ګو نور انواع او اقسام هم شته چه د هغو شخه د هغو ګرانو او مشکلو مطالبو د وړاندې کېدلو په وخت کښې کار اخیستل کېږي چه یو چا ته ور پېښ شي، نو یو فرد د دې پر ځای چه ځان ګوښه کړي (تخی) یا ارتجاع و کړي یو اعتدائي او ضدي سلوک غوره کړي او پدې ذریعه خپله طریقه د مشکل په معالجه کښې الیشه او وا ړوي موږ د مخه دې ته اشاره و کړه چه کله کله د بیلو بیلو او متباینو عللو شخه یو واحد سلوک (کړ کتړ) پیدا کېږي، همدغسې کله کله دواحد او خفي اسبابو او یوه شمېر متحدو عللو شخه د سلوک (کړ کتړ) داسې انواع نشئت و کړي چه هر یو له بله شخه پوره مخالف او ځانته وي.

لکه مثلاً کوم کسان چه په د مخني باب کښې ئې موږ بیان و کړ او تحلیل او وصف لاندې مو و نیول دوی حقیقي کسان وه او دغه ئې رازؤ باز او طبیعت ؤ تـان (۱) ؤ

---

(۱) دقندهار په محاوره کښې د حقیقت، ماهیت کړ کتړ او طبیعت په معنی مستعمل دی مثلاً: «تان ئې دغه دی» یعنې طبیعت او مزاج ئې دغه دی. راز و باز هم تقریباً په دغه معنی مستعمل دی. (واسعی)

خو بیا هم ددې معنی دا نه ده چه هر سړی به لکه دوی غوندې وی او ګوتمڅ به پر هغه طریقه چه دوی تللی دی روان وی، ځکه ټول له هغه هلکان چه د مکتب اومړی صنف (مدخل) په خیال سخت ورسی وړ کتون ته نه ځی او نه ټول له هغه پېغلانی چه ژوند په خیال ګران او سخت ورشی ځانونه خیالاتو او اندېښنو (دو یښتی احلامو) ته ورسپاری او نه ټول له هغه کسان چه ځانونه ترخپلو ملګرو بې اقتدا ره او کم استعداده په خیال ورشی شرمندګی او خجالت غلبه پر کوی او تنهائی او ګوښه غوره کوی. بلکه د داسی موا قفو او حالاتو څخه په ډېرلو بېلو رنګو او مختلفو ډولو د سلو کونو (کرکټرونو) نمونی پیدا کېږی.

آیا ستا طبیعت تند او تېز دی:

ډېر کسان په طبیعت کښی تندوی ژر قهر ورځی او چابک تر او زی زمو ز به دو ستانو کښی بعضی بړوس وی او چه جریانات داسی شیان را وړی چه د دوی د طبیعت څخه مخالف وی سمدستی ئی تندی تر یوسی، د ځینو بیا او ښکی په وا ک نه وی او بی اختیاره ځنی توئیږی، ځنی بیا ددې دپاره چه غمجن حقایق پر ځان اسانه کړی عذرونه او پلمی تراشی بعضې بیا داسی هم وی چه د قهر او غضب تر سیطره لاندې راشی نو ته هم یو له دغو کسانو څخه ئې ؟

مزاجونه په ځینو اوقاتو او ظروفو کښې تندی او تیزی کوی نو ته چه د خپلې ناکامۍ احساس وکړې آیا دادې خوښه وی چه زغ دی پورته کړی او جنګ ته دې هوا کېږی؟ اعتراض او تنقید چه ستا پر یوه پوره یا دنیمګړی کار وشی څنګه دربا ندی لګېږی ایا قهر درځی، او داسی خبري دې ترخواه وزی چه وروسته پښېمانی پر کړی؟

په موږ ټولو کښې دا خبره شته چه یو کار سم ونه کړای شو یاد کومی بې باکۍ او اهمال په واسطه خوك ډېر را باندی و وائی سم دستی به زړه کښې را ګرزی چه ددې کار څخه ما جزوم او صلاحیت ؤ استعدادئی را کښې موجودنه ؤ او طبعاً مات او مضطرب کېږو، دا کیفیت د عمل په نوعیت او طبیعت پوری اړه نلری په هر عمل کښې چه موږ ته ناکامی را پېښه شی که د برق د ماشین تخنیك وی که یوه رسمی را سپارل شوې

وظیفه وی بلکه که د اداری رئیس د خوا د یوه مکتوب لیکل وی چه په ښه خط او موزون ترتیب نه وی لیکل شوی کله کله ستا لوړ زغ او شور ماشور او په زوره خبري د دې دپاره ستا طریقه وی چه د ماتوالی هغه شدت سپك کاندی چه ستا د حاجت د نیمگړتیا یعنی د ناکامۍ څخه پیدا شوی وی او که ته یوه گړۍ د دې دپاره چه په مسئله کښې فکر وکړی صبر او تحمل وکړی پدې به اعتراف وکړی چه دا وضعیت ستا د مشکل د حل دپاره څه فائده نکوی، او پدې ستا لیاقت او کفایت نه زیاتیږی چه ته خبری په لوړ اواز کوی یا دروازه په شدت او زور سره په ځان پسی وتړې، که څه هم وروسته د دغو وضعیتو نو تر کولو خورا لږ مده د یوه راحت شعور کوی او لږ څه دې زړه سوړ سی خو بیا هم کوښښ وکړه چه بلا یو داسی کار وکړی چه هغه جدی وی او ځانته یو قیمت ولری او پدې ښه وپوهېږه چه د قهر لمبې به د یوه آن دپاره زړه در سوړ کړی او سمدستی به دې سوده په وسی خو د مشکل او سختۍ څخه دې نشی ساتلای او علاج ئی نشی د ولای.

ته باید د حقیقت او واقع سره مخامخ شی نوعیت چه ئی هر راز وی او کوم کار چه ته پکښې ناکام شوی ئې هر کار چه وی فرق نلری که د کور د خپلوانو په مرسته، یاد تعلیمی وظایفو په ترسره کولو کښې یاد وظیفوی چارو په اجرا کښې وی که ته د خپله ځانه سره امانت شروع کړې ته به وکړای شې چه د خپل عجز پر اسبابو او د بې کفایتۍ پر عللو دې علم راشی ترڅو اندازې چه که د حقیقی موقف سره کوم وخت مخامخ شې دا به درته ممکنه شی چه داسی پروگرام او نه ترتیب کړی چه د هغو په واسطه د موقف په معالجه کښې زیات موفق ئې. او پدغه ذریعه سره به هغه شیان لږ شی چه د هغو په اثر ستا سیطره پر خپلو اعصابو لږیږی او د قهر او غضب هیجاناتو ته تسلیمیږی.

دا ممکنه ده چه ته د خپل ځان دپاره داسی طریقې جوړی او راو باسې چه ستا عمل او کار د اجرا او ادا دپاره زیات صلاحیت ولری او داسی اسلوبونه ایجاد کړی چه د خلقو په گډون او اختلاط کښې ستا د زیات مقبولیت باعث وی او پدغه توگه ته خپل ځان د خلقو د غندلو او قهر و غضب څخه ډېر گوښه کړای شې. دا پدې چه ته به د خپلو

حاجاتو د اشباع او پوره کولو په لار کښې داسې کارونه کوي او داسې قدمونه به اخلي چه هغه پخپله ستا او ستاد ملګرو او پېژندیو په مورد کښې خپل خاص اثر او اغېزه لري، نو به لدې جهته چه ستاد ماتوالي (توتر) حالات په لږزوي دقهر او غضب هیجانو نه هم کم وي ، ځکه چه خوا پوځګی (توتر) خو تر هغو نه ښکاره کېږي شو په دننه کښې مشکلات چه د هغه اسباب دي موجود نه وي.

ویاړل او افتخار کول :

د طبیعت تندی ، قهر او غضب یوازې د مشکلاتو او ناکامیو په مقابل کښې یوه عدائی واسطه نده چه سړی د زړه کوفت په باسي ، بلکه یوه پېغله وه چه د هغه شخه ئی د یوه بل غرض دپاره کار اخیست، دې پېغلی په خپلو همزولو کښې د ځان مقبولیت ډېر نه لیده ځکه چه دې په لوړ اواز خبری کولی او و یاړو افتخار ئی ډېر کاوه او د خپلو همزولو تنقید به ئی په خور ا عجیبو او غریبو کلماتو کاوه ، او ددې دا وضعیت (سلوک) صرف ددې دپاره و چه پر خپل دې احساس (شعور) پرده واچوی چه ددې کفایت او لیاقت تر خپلو همصنفیانو کم او لږ دی . نو دې خپله رأی د ځان په باب کښې پدې قوی او وغښته چه په داسې شیانو افتخار و کړی چه هغه په دې کښې ډېر نه و، او په وافر ډول نه وه پکښې موجود او بل په دې چه د نور و حیثیت کښته کړی . ددې په دغه سلوک دا پدې سره مو فقه شوه چه د نورو سترګی ځان ته ور واړوی او دا یو له هغو شیانو شخه و چه دا په خوشاله شوه او په غوړ ېده به . دغه رنګه به دا پخپلو کار نامو کښې هم ډېره زغېده او خپل بیانونه ئی هم ډېر کول دې کار ددې ډېر وقت ونیوه او دې اندازې ته ور سېده چه دو یلو د وړ کار دپاره وقت پاته نشو . دې وضعیت د پیغلې سره مرسته و کړه دا ئې لدې شخه و ساتله (که شه هم د لږ وخت او لنډې زمانی دپاره وه) چه خلق دا کشف کړی چه په هغه اندازه چه دا ئی دعوه کوی هغو نه لیاقت او کفایت نلری . دې غولېده او خطا یاسته کول او د حقیقته شخه ئی ځان پټاوه ، لکه هغه کسان چه ځنی تښتېدل چه موږ د مخه اشاره ور ته و کړه ، مګر دا پېغله پخپل

مسلک کښې ډېره قوي او افراطي وه ځکه دې غوښته چه دخپلې نيمگړتيا د شعور او احساس څخه وتښتي .

زموږ څخه ډېر کسان ددې دپاره کار کوي او زيار کاږي چه يوه داسې طريقه راوباسي چه په هغې سره ددې څخه ځان وساتي چه نور خلق د ناپوهۍ او جهالت گمان پرو کړي اوداپه غله چه ددوستانه عاطفې دخوا معذوره او مفلسه وه چه دهغې لارې ځان په خلقو کښې محبوب کړي نو ئې دخلقو دجلب نظر دپاره دناجائزې او غير مشروعې طريقې څخه کار واخيست . حقيقت دادی چه داپو گران کارندي چه ته دنوروستر گې ځان ته دروا ړوې خوگرانه خبره داده چه ته دوی ځان ته ملتفت کړې او ددوی قبوليت اورضائيت اومحبوبيت پيدا کړې . دانبکاره ده چه موږ چه هر څه کوښښ کووهغه دهمدغې رضااوقبوليت دپاره دی مگرداشي بعضې اوقات خوراپه گرانه لاس ته راځي نو بد غسې او قانو کښې موږ هغه کوو لکه پيغلې چه وکړه او بلې طريقې ته لاس وراچوو چه خلقو ستر گې را واوړي .

پيغلې دو هم او خيال په قسم قسم رنگو نو سره افتخار او وياړ ته ددې دپاره التجا وروړه چه له حقيقت څخه وتښتي اوخپل حال پټ کانړي . داپخپل ځان پوه اوخپله بې کفايتي ور معلومه وه چه دا داسې نده لکه ددې نو رې همصنفيانې ، او هغه تقدير او احترام ته چه دوی رسېدلي دي داندهٔ ور رسېدلې او ددې پر ځای چه خپل عقل حکم ، اوفکر و کړي چه څنگه دځانه څخه يوه داسې نجلۍ جوړه کړي چه په خپلو هنزولو کښې محبوبه او پر هرچا گرانه وي ، خلق ئې په ډېرو خبرو تړېږي ورسول اوشپه ؤ روځ ئې دځان ستاينې ته ملا و تړې له . حال دا چه د خلقو دمحبوبيت اومقبوليت دمو ندلو لاردانده .

پهٔ وياړنه او تفاخر کم سړی نهٔ ډېر دو ستان مو ند لی دي اونه ئې يو داسې کار کړيدی چه دويلو وړوی نو موږ بايد پخپله کار خبروته پر يږدو چه ستاينه يا که دغند لووړوی غندنه وکړي ، اوداسې وز غېږي چه هغه د ار و پدلو وړوی او په دې وار زی چه سړی غوږ پرونيسي . د افتخار او وياړه څخه که يوڅه څر گند يږي

یاړ. کم شی دلالت کوی دا به ځنی ښکاره ښېږی او ښه دي به د لالت کوی چه په سړی کښې اجتماعی کفایت نشته او بل دا چه یوه داسی عمل ته محتاج دئ چه هغه دیاد ونې وړوی لکه د افتخاره شخه د انصاف تله (ترازو) هم نشته ،

وینڅدل هر څه ویل:

ځینی کسان ددې دپاره چه د خلقو جلب نظر و کړی یو ې بلې وسیلې ته چه وئېدل او هر څه ویل (تهریج) دی التجاور وړی . لکه هغه شا گرد چه په مدرسه کښې ئې پرخپلو هم صنفیانو هغه وخت چه مدرسې ته ور و لوېده (د تهریج) له لارې تفوق وموند ، هلك حاضر جوا به اوذ کیږ داسی کارو نه یې کول چه سړی ته به خندا ور تله او هر سړی به ئی خندا وه ، دی به ی خو شا لېده چه د خلقو ستر گی ور وا وړی شو په آخر کښې دې اندازې ته ورسېده چه پدغه لاخو شحالېده چه معلمان به ئې ورته ملتفت شوه او د ټوقو ټقالو شخه ئی راو گرزاوه درس ته به ئی متوجه کړ .

دې زلمی ددې دپاره چه د خپل صلاحیت او لیاقت نه درلو د لو پر شعور او احساس بری و نه موندی او د خپله ځانه شخه ئی پټ وساتی یعنی ځان و غولوی یو قسم عملی هجوم ته مخه ورو کړه او التجائې ور وړه ، دا ځکه چه ده په ځان دا باور نه درلود چه په پوره ډول د خپلو درسی او تعلیمی چارو ترعهده و وزی ، لکه هیڅ وخت چه پخپله تعلیمی دوره کښې د تحسین په اخیستلو هم نه ؤ موفق شوی او دائی یقین وه چه د ریاضیاتو په برخه کښې ذې په ده یو خالی ځای ډک شي ځکه چه پدې مضمون کښې دی ډېر ضعیف ؤ ، او نه ئی دا زړه ته لوېده چه په صحنه یاد خطابې په خوا کښې یو نوم و باسې او د مدرسې په کنفرانسونو کښې دې برخه واخلی او یو ښه نطاق دی ورته و ویل شی ځکه چه ده کورټ دا تصور نه کاوه او هغو کسانو ته به ئې چه کنفرانسونه به ئی ور کول گوته په غاښ نیولې وه چه دوی ته چه ټوله خلق گوری څنگه هر څه نه ځنی هېر یری او څنگه خبرې کولای شي ؟

باید گټنې شک نشته چه دژلمی دا اراده وه او دائې غوښته چه د دې احساس
او شعور و کړی چه دی موفق دی، لکه داچه ئې هم زړه غوښته چه د خپلو همصنفیانو
په رضامندی موفق شی، او ځکه چه باید پوه شوه چه د حقیقی اقتدار له خوا باید وی
ځان نسوای منلای او د دوی په احترام او اهتمام ئې موفقیت نه دی ممکن نو ئې بلې
طریقې ته مخه و کړه او وا انجائې وروړه هغه نو داوه چه ټوقو او مسخروته ئې لاس
ورته او دنا ټک او نمایش حرکات به ئې کول شوئې و کړای شوای چه خلق ځان ته
ملتفت کړی او هغه شی چه ده ضرورت ورته درلود (دا احساس او شعور چه دی
موفق او مقبول دی) لاس ته ورغی او سره له دې چه دې ځان سره گوښه شوی نه وه
چه یو وخت او بل وخت سر به گرېوان او د ځانه سره فکر و کړی مگر پخپله دده حرکاتو
پر هغو شیانو دلالت کاوه چه ده دویښد لو (تهریج) د پردې ترشا پراته وه، ده
د خپلو همصنفیانو دالتفات دوراړو او دپاره یوه سمه او موزونه طریقه غوره نکړه
او دائې هم یقین وه چه دوې ته دی ښه معلوم دې او ده په حقیقت پوره پوه دې، لکه
هغه مسخری او ټوقی او ټقالی چه ده به دنورو د خوا کولې پدغو گړیو کښې ئې په دغه
مستشعر کاوه او دا به ئې زړه ته ورتېره وله چه دې د میدان پهلوان دی، نو ده به په نورو
ملنډې وهلې او تحقیر ول به ئې، او په دغه صورت به ئې د خپل اهمیت او سیطرې
شعور پېداوه. او دا ښکاره ده چه دې حال ډېر دوام نه و کړ، او ژر پر خپلو همصنفیانو
درو نند سو، دا لدې جهته چه دی پوه شوه چه دده ته فوق
په ټوقو او ټقالو دی نوئې د ځانه سره دا فیصله و کړه چه هغه اعتراف چه د ټوقوله خوا دده
په برخه شوی دی باید همیشه دپاره په دایمی ډول ده ته حاصل وی. ملگری دده دنا پوهې
او حماقته شخه په عذاب شوه او ده دوی د ملامت کولو شخه و ځان ته لاس نه اخیستی.

دا په یقینې ډول ښکاره ده چه په هره ټولنه او ډله کښې یو سړی پیدا کېږی چه پر له
پسې نکات وائی او ځنی خوازه او نوند ورموضوعات میدان ته را اچوی چه د مجلس
ترنورو حاضرینو دې پخپله ډېر پر خاندی. او دا سلوک په عمر او کال هم اړه نلری،
گاهې مسخراچی او ټوکمار د نوی عمر یا پاخه عمر یا زوړ سړی وی، لکه په مکتب،

یافاریکه یا یوه هیئت کښی چه هم دغسی پېښېږی ، نو کمار او مسخر اچی همیشه لدغی لاری خلق ځان ته ملتفت کوی او دی دخپل ځان د استحکام او خپلی پایې د ټینګوالو دپاره همیشه دغی طریقی ته محتاج دی .

هیڅ څوك نه غواړی چه دده نفوذ او سیطره دی پر ده ځکه ولوېږی :

کله کله د اعتدائی سلوك خطر ره هغه خطر شدید وی چه پېغلی د تفاخر او د زلمی د وېډ لوا و تو کماری (تهریج) په دوو حالتو کښی موجود ؤ ، دا ځکه چه اعتدائی سلوك کله کله د نور و په بې خیری بلکه په ضرر تمامېږی . اعتدائی سلوك هغه وخت میدان ته راځی چه هغه لېز خطر لرونکی سلوك پر ځای چه موږ ئې بیان وکړ داسی سلوك وشی چه دقهر نخښی پکښی موجودی او آمریت ؤ حاکمیت پکښی پروت وی ددې سلوك مثال دهغه زلمی حالت دی چه دی یو لچر شاګرد ؤ او دائی زړه غوښته چه تر ځان پر کشرانو کمزورو فشار وروړی او دده تر لاس دی لاندې وی . دی په ثانوی مکتب کښی بو زحمت کښ هلک او پر خپلو درسو غښتلی ؤ ، خو دژوند پخوانیو روحی داسی پر تیری شوی وې چه د خپلو ملګرو سره ئې د روابطو د ټینګولو او حسن علایقو زمینه نه آماده کوله ، نو هلك ته بدغه زمینه کښی اضطراب ور پېښ او په او سنیو هم صنفیانو کښی د خپل مقبولیت او محبوبیت په اندازه په شك او اندېښنه کښی ؤ . ددې سبب دا وو چه پلار ئې د کار او وظیفې په تقاضا شو وار ه د یوه ښار څخه بل ښار ته کډه شوی او ددرسی کال په پیاشتو کښی د پلار کډې او د یوه ښار څخه بل ښار ته تګ زلمی دې ته مجبور اوه چه د یوه مکتبه څخه بل نوی مکتب ته چه دهغه درسو ماتو او عاداتو او د شاګردانو سره به پرمخ نابلده ؤور داخل شی .

داخبره هلك ته نه وه اسانه چه دغو مکررو او ډېر و تغیرا تو ته ځان تیار کړی ، هره پلا چه به ئې د کور او کاله د تګ خبر بل ښار ته تر غوږ شو خورا به د خپلو رفقاؤ او مکتب په نوې کېدو او د هغه شناخته ؤ د پاته کېدلو په واسطه چه دده به عادت او الفت ور سره موندلی ؤ ډېر اندېښمن او خفه کېده . کله کله به په نوی مکتب کښی داسی هم پېښېده چه په نوی مکتب کښی به د لېزو کسانو دده سره رفاقت او دوستی زړه غوښته ،

اودی په دزیانو شاګردانو له خوا ځکه اغفالېده او غولېده چه دوی خو خپل تر میانځ له پخوا څخه سره دوستان شوی او ملګری توب ئی سره پوره او ټینګ دی ، علاوه پر دې ده پدې زمینه کښې کوښښ هم نه کاوه او څوک ئی ځان ته ور نژدې نکړه نو حیرت ور پېښ شو او دائې فکر ته نه ور تله چه دی څنګه او په څه صورت خپلو همصنفیانو ته دا ښکاره کړی چه دده دوی مینې او محبت ته ډېره هڅه ده او خورائې هوا ور ته کېږی ، او پدې هم پوهېدی چه دی همېشه ددوی دډلی څخه وتلی او په دوی ور ګډ نه دی ، نو ئې پخپل ځان کښې دهغې طریقی دبدګڼلو (بدبینی) شعور ته وده ور کړه چه هغو به لده سره عملی دوله .

زلمی دا کشف کړه چه یوازې کشران شاګردان دی چه ده ته اهمیت ور کوی او سره لدې چه ده به کشرانو شاګردانو ته ددوې داهمیت ور کولو ستاینه کوله او ددوی څخه ئې خوښې کوله مګر بیاهم ددې وضعیته څخه متأثر او په قهرو ، ځکه چه ده ته دافکر دربده چه دوی به هرومرو پدې پوه شوی دی چه دلویو شاګردانو په نظر کښې دده مرتبه ټیټه او ښکاره ده پدې اندازه چه دده فکر ئې مشوش او شعور ئې ور متأذی کړېدی ، نو ددې دپاره چه کوچنیو شاګردانو ته دده اهمیت ور معلوم شی خپل او امر به ئی پر چلول ، او حاکمیت به ئې پرز غاوه ، او هغو به ځکه چه پر دوی مشر او قوی وو غیر له اطاعته څخه بله چاره نه درلوده ، او هروخت چه به ئې دخپل قوت خبری ور ته شروع کړی نو به ئې خورا خوند ور کاوه ، او دامر او نهی دمظاهرو دوفور څخه به دهغو اهمیت نور هم ور ښکاره شو په دغه وخت کښې ده ته دا ښکاره شوه چه دی خو هم یو شی دی که څه هم یوازې کوچنی شاګردان پدې قایل وه .

دده کورنۍ دومره شورنده او کهونه وه چه هغې مدرسې ته داګرانه او سخته وه چه ده ته دمرستی لاس ور وغزوی ، علاوه پر دې ده ته دا نشوه معلومه چه دی ولی دنورو څخه ټېټ او جلا دی او ولی ئې دده سره معامله ناوړه ده او هیڅ ددې خبرو په علت نه پوهېده ، څه چه پدې باب کښې ده ته معلومه شوې او دې

په پوهښوی ؤ عبارت له دې څخه ؤ چه دی د پوره سعادت څښتن ندی او چه دابه ئې ورپه یاد کړه چه کچنی شاگردان خوده ته خاضع او او امر ئې اجرا کوی نو به خوشحالي ورپېښه شوه او طبیعت به ئې وغوړېده .

نو د دغو عللو په اساس دا هیڅ عجبه نه وه چه کوم وخت په بل ښار کښې ثانوی مکتب ته ورداخل شو کټ مټ ئې د هغو قدیمو خیالاتو متابعت یعنی د قوت او سیطرې اعمال او چلول شروع کړه ، ځکه چه دی زلمی او د قوی موټ او بدن څښتن ؤ دا نه وه ورته گرانه چه بعضی داسې کوچنی شاگردان و مومی چه د ده څخه دی ویرېږی او د ده او امر دی پر ځای کوی ، نو ده پر دې راوستل چه څنگه به د ده زړه غوښته هغه به قطار ور ته ولاړ ېده ، او د ده پر خوندا و لوی لذت به هغه وخت ؤ چه ده به کچنیانو شاگردانو ته د ولاړ ېدو امرونه پداسی اشکالو او اوضاعو ورکول چه هغه به مسخره آمېزه او خنده آوروه. علاوه پر دې ابتدائی مکتب ته د ده نږدېوالی د ده ته د دې فرصت تهیه کړی ؤ چه دی خپل شعور د هغه په اهمیت موړ کړی په دې صورت چه د تفریح او لوبو په وخت کښې ئې د ابتدائی مکتب هلکان زهېرول څوک به ئې پرزول د چا څخه به ئې شپوگانی ، د چا څخه به ئې کتابونه اخیستل ، او دا وضعیت د دې سبب شو چه دی ئې په مدرسه کښې د خپلو همصنفیانو او ملگرو تر نظر سپک کړ .

ممکنه ده چه د دې هلک د اوضعیت دې تا ته یو ناوړه او احمقانه سلوک وایسی ، مگر که موږ حقیقت ته و گورو او اصلی واقعیت ولټوو دا به را معلومه شی چه دا د هغه شعور تقاضا او ایجاب دی چه څوک د دوستانو او ملگرو له پیدا کولو څخه محروم شی، او بیا دې ته باور نه وی چه دی به هغو کسانو کښې چه گډون ورسره لری ښه مقبولیت لاس ته ورولی .

دا وضعیت په هغو کسانو کښې هم لیدل کېږی چه تر دغه محصل په عمر مشران وی ، دا مشران او لویان زیاتره د همدغه مشکل سره مخامخ کېږی ، او سبب دا وی چه دا انسان په ځان د باور نه لرلو او عدم ملائمت احساس او شعور سړی دې ته مجبور

او ورو پاشه‌وي چه ترڅان پرضعیف او کمزوره زور اوز یاتی اوټېري د دې دپاره کوي چه گوندی پدې تو گه به د خپل نقص او نیمگړتیاد احساس او شعور پورا ینه وکړي اوشو ک به ئې پرڅه‌و بولي ، دا شعور کله لبز او کله ډېر وي . یو بل مثال دیوه سړي دی چه په یوه فابریکه کښې د کار گرانو رئیس وو ، اوڅکه چه دی یو مسلط او بې صبره ، او په عین حال کښې ئې آمریت او حاکمیت ډېر ښکاره کاوه نو دفابریکې کار گران ټول څني بېزاره وه بلکه بد ئې څني راتله. دی ډېره ښار له خلقو څخه چه هلته دی رئیس وو بېگانه او پردیس وو او د دوی څخه ئې په جلا لهجه خبري کولې داسې چه په دغه دی ښار میده هم اوچه ملگری به دده په خبره نه وبو ډېره دیوقسم خفقان شعور او احساس به ئې وکړ اوقهر به ورغی .

اوچه چابه خواهش څني وکړ چه یوه خبره دی دوهمه پلا بیا وکړي نو به ئې قهر او غضب څکه نور هم زیات شو چه ځان به ئې دفابریکې د کار گرانو څخه بېگانه په نظر ورتی ، او که به ئې یو ونت دوه کسه سره ولیده چه پخپل میانځ کښې سره لگېدی داگمان به ئې کاوه چه پاره کښې سره گېږدی او پرخاندی ، دگمان هم دی بدې مستشعر کاوه چه دې دنورو څخه جلا او بېگانه دی او ددوی څخه نه بلل کېږي پدغه صورت د ده دحساسیت شدت او شکمن والې د دې سبب شو چه دی یو داسې بد تأویل له ځانه سره وکاندی چه دهغه سلوک او وضعیت حاصل شی چه ده ته کمه رابطه او علاقه ور پانه نکړي : او که به یو وقت ده د کار گرانو څخه د کار ډېر ښت غوښت یا به ئې د دې دپاره چه کهالی او بېگا ری پرېښې دي پردوی زغ کاوه هم به ئې دحاکمیت او زور وظلم رول لوباوه اودې وضعیت دهغه زحمت او تکلیف پر پېټې چه پرده به دعدم ملایمت او بېگانگې دا حساس له خوا او بدی مرسته کوله او نور به پسې درنېدی لکه بالمقابل چه به ئې دا شعور چه دې د دې وظیفې ډوره وړاو لایق نه ی وار به وار زیاتی کېده ، څکه چه ده پخپلو کار گرانو باور نه رلود نو دې شعور او احساس ورو ورو وده پکښې وکړه چه دوی پرده تنقید کوي ، اودې

احساس دده د ښمنی نور هم د دوی سره زیات وله ، او دا احساس ئې کاوه چه
ددوی د ده شخصه بدراتلی نو به ئې د دوی سره زیږه او سخته معامله او گذاره کوله
او همیشه به ئې دې ته هوا کېدله چه که ئې د دوی سره معامله دوستانه وای
خو دا آرزو ئې ځکه نشوای ښکاره کولای چه کارگران به تور ځنی وخوري
یا به تنقید پرو کړی .

که ددې سړی ماندینې ته داموقع ور کړه شوې وای چه داهغه کلی تغیر
او بدلېده ووینی چه ده ته کم وخت چه فابریکې ته ورسی ور پېښېږی نو ډېره به حیرانه
شوی وای ، ځکه چه دی به کور کښی یو ډېر ستا او نرم سړی او هغه سړی و چه د
خپلې ښځې خوښ و ، خو را د سړي سینې ښځتن او چه اولادو به ئې هڅه ورته کوله
ده به په ډېره خوشحالي خپله غېږ ورته نیوله ، په کاله به خپلو انو دوستانو او به
تولو اقربا و کښی به خواخوږي او مهربانی مشهور و او داشیان ئې چه به فابریکه
کښی په مشهور ردی په کور او کاله کښی یو هم نه ښکښی لېدل کېده ، به کور
کښی ئی ځان د کاله یو سړی باله او داسی وضعیت ئې کاوه چه دی هم د دوی
څوندی یو سړی دی او د قهر و غضب شخصه ئی د خپل وجود د اثبات دپاره هیڅ کله کار
نه اخیست .

دعدائی سلوک څښتنان مرستې ته محتاج دی:

دا موږ ته اکثراً را معلومیږی او وینو ئې چه قهر من او سخت مزاجه خلق
بخپل زړه کښی دننه او قلباً نرم او ډېر مهربان او دخوا خوږی زړه څښتنان وی
مگر به ځان ئې یوریائی لباس اغوستی وی چه پر هغو لوائحو او پرو درامو ئی
اساس مو ندلی وی چه دده ددې احساس شخصه ئې نشئت کړی وی چه دی ځان
بخپلو ملگرو کښی مقبول او مرغوب نه بولی او دی په مهمو کار و کښی ددوی
سره د مساوات په پښه نه درېږي او دوی د ځان سیالان نه گڼی دی ددې جهته چه
ددوی سره ملائمت او گډون نلری نو نشی کولای چه خپل ځان حقیقتاً ښکاره
کړی ددې سړی مرسته ممکنه او موږ ته لازمه ده چه ده ته ډېری داسی لار ...

برابرې ګړو چه د کامیابۍ شعور او داشعور چه دی پخپله شاګرد خو اچاپېر ګښتې مقبولات لری تهیه کړه شی، چه دا ورله تهیه شی نو به زیاتی دی دې ته اړینه وی چه په ځان بله بده واغوندی او د بل شخصیت په کالو کښې ځان ښکاره کړی او پدغه صورت به خپل تفاخر او ویاړ هېر کړی. موږ ته لازمه ده چه ده ته دا ښکاره کړو چه دی کولای شی چه د نور وخلقو غوندې دی وی او دی پردوی ګران او پدوی کښې محبوب دی. بلکه دالاهم لازمه ده چه دی پر خپل ځان اعتماد زېږ ته پیدا کړی او دا پدې پیدا کېږی چه په ده کښې داشعور او احساس ژوندی شی چه دی چه هر کارته لاس ورته کړی پکښې کامیابېږی، او نور خلق به په ده اعتراف وکړی او وبه ئې منی.

ددې شیانو په لاس ته کېدلو کښې داخبره مرسته کوی چه دده ملګری دده دعدائی سلوک په اسبابو پوه او دا ورمعلومه شی چه کوم اسباب دی چه دی ئې خپل دغه سلوک ته مجبور کړیدی، او که دوی ته دغه اسباب کشف نشی دی به غیر له نقد او راستنکاره شخه بل څه ونه کړی موږ ته د انسانی شخصیت او د هغه د هغو حاجاتو فهم چه د انسان د شخصیت د باره د هغو مړول اوتر سره کول ضروری دی دهغه فرد په فهم او پېژندلو کښې چه هغه د خپلو حاجاتو په مړولو کښې غیر موفق وی ډېره مرسته کوی. نو موږ ته لازمه ده چه یوازی دیوه فرد د سلوک درس او مطالعه مهمه ونه بولو بلکه دا راته ضروری ده چه داهمیت او اعتبار په سترګه هغو اسبابو ته و ګورو چه د دې سلوک ایجاب او تقاضائې کړی ده او داسلوک دهغو نتیجه او مرتبه اثر دی او لکه د نورو کسانو فهم او پېژندل چه تاته پدې باب کښې لویه مرسته کوی چه تاته به د دوی د سینې دېراخېد، او اغماض اندازه ستا د خطاګانو او ناوړو په مقابل کښې در معلومه وی دغه رنګه دا په خوواره هم درته مهمه ده چه ځان وپېژنی. نو کوم وخت چه داو کړای شې چه هغه اسباب لټ او څرګند کړی چه هغه تا بعضو معینو داسی

اوضاعو ته وربوري وهى چه ورو سته ته افسوس پر کوی نو به دا شرگندنه او پیژندنه ددغو اوضاعو او سلوك پربد اولو او تغیر مرسته درسره وکړی او تاته به ددې اقتدار درکړی چه هغه ستاو کونه په نورو الیش کړی او چه تاته خپل وزی حاجات او هغه چه ستاد قهراو هیجان او ستاد وچ او ستوخ سلوك سبب وی در معلوم شی ته به وکړای سی چه ځان ته داسی پروگرام اولارجوړه کړی چه هغه تاد خپلو مشروعو اوجایزو خواهشاتو مړولو او ترسره کېدلو تاورسوی او ستا اجتماعی روابط او علاقې دراصلاح کړی کوښښ وکه چه ددغو اوچارو علاج په سرسره پخپله وکړی مگر که دهغه مرض دحل څخه عاجز شوې چه هغه تاته هغه اسباب بیان کړی چه ستادگذاری مانع دخلقو سره گرزېدلی وی نوپېدې کښی هیڅ شك اوتردد مه کوه چه پهمرستونې پسی به گرزی او یوځوك به لټوی چه پدې باب کښی مرسته درسره وکړی دلته ډېر داسی کسان شته چه د وی او زده تجربه اری ، او دشخصیت دمشکلاتو په تفسیراو توضیح کښی ئې تخصص موندلی وی نوژر دخپل استاد یامشر اولار ښوونې یاخپل طبیب او ډاکتر څخه پوښتنه وکړه دا کسان به چه په نفسیاتی او روحی چارو کښی تخصص اری یوه لاردر وښیی.



پنځلسم فصل

کوم وخت چه ناروغي د يوه زحمت څخه د وتلو سبب وي:

هغه قصې چه موږ د مخه وکړې، موږ ته ئې زموږ تصرفاتو او توګې د هغو مشکلاتو په مقابل کښې چه افرادو ته ور پېښېږي د يو څو مختلفو او بېلو بېلو انواعو په مشکل مصور او راوښوو، ممکنه ده چه ته به په دې پوه شوی او تا ته به درمعلومه شوې وي چه دا مثالونه تا ته مالوف او کورني وعادي وه او ته داسې کسان د پېژني چه دوی پرسره ورته او مشابهو طريقو سلوک کوي او په اوضاعو او طبايعو کښې يو شانته وي او دا به هم شايد درمعلومه وي چه ته په خپل سلوک کښې يو خاص اسلوب او طريقه لرې. او دا لا تراوسه پر موږ پوشيده او پټه ده چه ولې خلق د يو رنګه مشکلاتو سره هر يو په جلا جلا طريقه دا فردو د اختلاف په اندازه مواجه کېږي يعنې لکه افراد چه سره مختلف دي د مشکلاتو سره د مواجه کېدلو طريقې ئې هم سره مختلفې وي په موږ کښې به هر څوک او هر يو پر يوه داسې وسيله برابر شوی وي چه هغه ما تو الی (توتر) په لبز او سپک کړي چه د زحمتو او تکاليفو د مخامخ کېدو څخه ور پېښ وي نو چه زموږ يو سلوک پر يوه زاحد اسلوب او طرز باندې څو واره پر له پسې تکرار وموي موږ نة ته دا معلومه شي چه دلته ځينې خاصې طريقې شته چه هغه موږ ته ترنورو طريقو ګټورې دي يعني موږ ته به دا را معلومه او څرګنده شي چه موږ د ما تو الی (تبرير) څخه چه په تکليف کړي ئې يو په څه ډول ځان وژغورو. دا کيفيت وارد واره او اول په اول لکه تعليم او تعلم، د عمر په ابتداء او لمړيو روځو کښې پېښېږي او داشي د هلکانو او کوچنيانو په سلوک کښې واضح ښکاري مثلا دا معقوله ده چه څوک يو ماشوم وځوروي او ماشوم ته دا معلومه شي چه ده د ځورېدو څخه په ژړا ځان وژغوره نو که دی بله پلا وځورېږي بيا ژاړي او په هغه ذريعه ځان ژغوري نو چه ژړا يوه پلا ده ته خپل مقصد ور کړ ځکه نو دی په آينده کښې هم هره پلا ژړا ته التجا وروړي، او په داسې حال کښې چه کوم ما تو الي

(تو تر) چه خلق تنګی او اضطراب ځني پېښېږي ، او هلك ددې دپاره چه ځان ځني وژغوري ګټه مټ په هغه طریقه تشبث کوي چه دمخه په هغه شره کامیاب شویدی . او که په یوه بله ذریعه کوچني تنګ اوخفه کړی نو هم دی به عین هغه ذریعه تشبث کوی چه هغه ژړاده ، او په دغه ډول اوښکی دده دپاره یو اسلوب اوطریقه وګرزي او هر وخت چه خلق تنګی او خفقان ورپېښ شی التجاور وړی او کار ځني اخلی . نوژړا او دروښی احلام (اندېښنې) ماتوالی (تبریر) ټوله هغه اسلوبونه دي چه کله کله عادتونه ځني جوړشي ، او دادمروجو تکیفونو دنمونو څخه چه نوری دا ډول نمونی هم شته یوشمېر نمونې دي . او هر یو سلوک چه یوسړی دماتوالی (تو تر) په حالت کښې کوی هغه په خوا په همدغه شانته موافقو کښې ده نه د ګټو او فایدو تعلیم کړیدی که څه هم دا تعلیم عادتاً به قصدی اوارادی ډول نشی کېدای .

کله کله دردونه او ناروغۍ راحت اوارام ته لاروی :

ګاهی موږ پر یوه داسی سړی پېښ شو چه هغه دمشکل اوجنجال څخه چه ورپېښ وی په یوه داسی تو ګه ځان خلاصوی چه دهغو تو ګو څخه چه دمخه مو بیان و شو بالکل مخالفه وی ، اووار دواره سړی ته خورا عجیبه او غریبه وایسی ځکه چه ددغه خلاصون اوژغورنی دپاره ناروغی اودردونه وسیله بلل شوی اوددغو څخه کار اخیستل شوی وی او دا شیان هیڅکله دخلاصون دپاره یوه دراحت وسیله نده . مګر دلته دشدید و سرخوږ او (صداع) اودملادرد اوددردونو نور اقسام شته چه هغه دعضوی ناروغیو نتیجه نه وی اودهغو څخه نه وی پیداشوی ، لکه له طبی دقیقو تفحصاتو څخه چه دا خبره ښکاره او په واضح ډول معلومه شوې ده چه تر اوسه هیڅ یو داسی بدنی علت نه دی پیداشوی چه هغه دی داوښیی چه دغه دردونه (دسرخوږ ، دملادرد ، او نور دغه امراض) دباطنی غم اوستومانۍ څخه وبولی . اوددغو حالاتو دقیقی مطالعی اوڅېړنی څخه داواضحه او ښکاره شوې ده چه در دیا ناروغی په ټاکلو او معلومو اوقاتو کښې پیدا کېږی تردې اندازې چه ددې امکان موجود وی چه تر پېښېدو اودمخه دې سړی په آګاه او خبر شی . رشتیا هم داده چه دداسی غوندی عوارض ښکاره کېږده کله کله

خپل ښځېتن ته‌ددې دپاره لارهواره وی چه‌ځان دهغو وظایفو اوواجباتو څخه خلاص
کړی چه ورته ترخه او ستوغ وی یاله هغې وعادې او وخته
څخه ځان خلاص کړی چه زړه ئې نه ورته غواړی او میل نه ورته لری
کله کله ناروغی ګانی او مرضونه دیوه بلسړی په پروګرامو او خطوط مشی
کښې یوداسې تغیر راولی چه دهغو پېښېدل دمریض په لاشعوری ډول خوښ
او پرزړه ئې برابروی. کله کله ناروغی دسړی دپاره دراحت سبب‌شی اودظهور څخه‌ئې
داسې معلومه شی چه لکه دیوه غرض او مقصد دپاره چه وی، دانوعه فرصتونه
(چانسونه) په یوه معین او محدود عمر پورې مخصوص ندی بلکه لوی او
کوچنی ته‌یو راز ورپېښېږی لکه هلکانو او نجونو اومتعلمانو اومتعلماتو او ددوی
پلرو اواستادانو ته چه‌هم ور پېښېدونکی دی، داچانس د تدبیر نتیجه نده بلکه
داز موینو او تجربو نتیجه ده یعنی دزده کړی او تعلیم پذریعه کېږی.

کله کله دسر خوږیده دیوه کار دجهته‌وی چه هغه کار دانسان نه‌وی خوښ:

یوه کوچنی هلك ته‌دداسې کال په لمړ یورو ځو کښې دیو څو هفتو دپاره یوه
ناروغی ورپېښه‌شوه چه‌دمکتب دتګ څخه‌ئې واچاوه، اوچه‌صحت ئې ښه‌شو او مدرسې ته
راغی دامعلومه شوه چه نورو شاګردانو ډېره تجربه حاصله کړې وه، دمکتب په نظر او
قوانینو کښې ئې سترګی خلاصې شوی او بلدیت ئې موندلی ؤ، مګر ده ته ځان پدوی
کښې پردیس او په‌ځان بې باوره ایسېده. لمړی روځ په مدرسه کښې دده دپاره یوه سخته
اوترخه تجربه وه ځکه چه‌دصنف ملګرو ته‌دصنف کار و نه چه‌دوی به څنګه ناسته‌ولاړه کوی،
څنګه‌به خپل قلمونه او کتابونه‌او کاغذونه‌ورته ایښودی او نور له‌دغه‌قسمه ترتیبات ټوله
ورمعلومه شوی اوزده کړی ئی وه، لکه‌یوله‌بله‌چه‌ئې نو‌هم سره‌زده‌وه، مګر زموږ
ددغه‌شاګرد داشیان یو هم نه ؤ زده نو‌مضطرب اوحیران ؤ تردې‌دمخه ئې دچا سره
لوبی هم نه وې کړی، نو ددوی سره ئې په‌لوبو کښې هم اشتراك نسوای کولای
او شرم غلبه پر کړې وه یوازې پاته ؤ غیر دیو څو تنو لویانو څخه چه‌ئې پېژندل ئې

او نوموړنه ئې ور معلوم وه نورئې هېڅ څوك نه پېژندل نوله همدغه جهته د دې
شخه و پېړ ملره چه دخپلې معلمې شخه مرسته وغواړي، سربېره پردې معلمه هم د هغه مکانو
د یوه لوی ښهر په پالنه او غمخوری اخته وه، او چه موردده شخه دده دحال پوښتنه
په مدرسه کښې وکړه جواب ئې دخواشې په توگه ؤ.

شو هفتې وروسته هلك دسر د ډېر شدید درد شخه شکوه وکړه، چه سهار به ئې
کالي وا غوستل او (ناری) به ئې وکړه دسر دخوږ نه او شخه به ئې فریاد کاوه، او د بلې
خوا دده مور په ده ډېره ویشتلې وه داځکه چه خورا ابزروځی کېدلی چه دی
دناروغیه شخه راپورته شوی ؤ، نو به دې دنصیحت په ډول ورته ویل چه یوځي بې
دې ډېروتې پرځای دشاپرتخته اوزدوغزېږې چه هوساشې، یوساعت یالږ شه زیات
چه به وغزېده نو به هلك له ځایه شخه راپورته اودسردسپکېدلو اعلان به ئې وکړ
چه اوس ښه شوا و درد ئې پرمخ ورک شو. پدغه موقع کښې به دمکتب دتگ
وخت تیرشوی ؤ نو به په کاله کښې دلوبو او ساعت تېر یو د پاره پاته ؤ او د مور به ئې دا
خیال ؤ چه صبا به ئې مکتب ته لېږي. مگر داصبا رانزدې نشوا و ډېرو ځنې پدې ځکه
چه هلك داخوښه وه چه په کور کښې پاته وي او خپلې لوبې کوي هغه کور چه دې ئې
په ډگر کښې دلوبو سره عادت ؤ او پخپلو ټولو افعالو او حرکاتو بوره پوه ؤ پیداسې
حال کښې چه ددې پرځای مکتب ته ولاړ شي چه نه ئې په ځان باور ؤ او هم په شاگردانو
کښې نا شناخته ؤ. په دغه توگه دسر خوږ دده د پاره دهغه احساس او شعور شخه
دژغورلو یوه مناسبه پلمه وه چه ده ځان دنورو شاگردانو شخه بېگانه باله. لکه په
هین حال کښې چه ئې دمورد لطف او خوا خوږي ساحه هم ورله پراخه کړې وه. شو
ورځې چه تېرې شوې دهلك دسر خوږ بد لود کاله او کور خلق وار خطا کړه او
دطبیب تر کتنې وروسته معلومه شوه چه دسر دخوږ کوم عضوي سبب نلري موجود نو مورئې
پلاز پدې فکر شوه چه دسر دا عجیب خوږ همیشه دسهار په خوا کښې وي، او له دې
شخه ئې مورد ځانه سره دا فیصله وکړه چه صبا به ئې که ئې هم پر سر درد وی
مکتب ته لېږي، او مور ئې معلمې ته حال او کیفیت سرتر پایه ووایه

چه د همدغه جهته دی د مکتب څخه پاته دی او ځنی وئي غوښتل چه د ده د حالت نگرانی دې هلته دا کوی چه کیفیت څه او حقیقت څه شی دی ؟

هلک چه پېدې پوه شو چه د سر د درد شکوه به ئې د ور نظریې ته تغیر ورنکړی ژر مکتب ته ولاړ او وروورو ئې د مکتب کارونه تر نظر تېر کړل ده او د صنف قواعد او ضروری رسم ورواج ئې زده کړ او په تول او خبر شو ، ژر ئې په صنف کښی خپله موقع اشغال کړه د سر خوږ په دې حالت کښی نه دارو د وهلو او نه د نس دناروغتیا او نه دسترګو دستړیا او ستومانۍ او نه د ځینو نورو هغو شیانو مولود وو چه د هغو څخه د سر درد پیدا کېږی . خو د سر درد دلته فقط د دې دپاره ذریعه بلل شوی ده چه د هغه کار د کولو څخه ځان په وژغوری چه هغه ده ناخوښه دی او زړه ئې نه ورته غواړی . خو دښه مرغه د خپلی مور او خپل پلار او خپلو استادانو د غمخواری په واسطه د سردرد وشلېده او ده ته دا معلومه شوه چه فائده نه ورته کوی .

کله کله ناروغتیاوی د مشکلاتو څخه پر ژغورنه مرسته کوی :

دیوې (١٦) کلنی نجلۍ څخه کټ مټ دغه شی پېښ شو چه په مخنی مثال کښی هلک کړی وو ، خو دغو نه خبره وه چه ظروف بالکل سره جلا او مخالف وه . دا نجلۍ د لامبو یوه دعوت ته چه د دې په همزولو او دوستانو پېغلانو کښی دیوې دخوا ترتیب شوی وو وربلله شوه په دې دعوت کښی تر لامبو وروسته د شپې ناسته او رقص (اتڼ) هم وو . د نجلۍ خپله دغه ملګری چه په عمر تر دې لو وه خورا ډېره خوښه وه او هر څه ئې خورا ښه ورته ایښېدل . نو ئې دا مېلمستیا هم خورا پر زړه ښه ولګېده او غیر له دې چه په ډېره مینه او خوښی سره ئې ومنی بله ئې هېڅ چاره نه لیدله .

نجلۍ په فکر او اندېښنه کښی شوه چه ځان د دعوت ته آماده کړی ، نو ئې د ځان سره وویل چه د دې د لامبو او سیند کالی به چه دائی اغوندی د غو نه اعلی وی لکه د نورو وربلل شوو ښځو؟ آیا د ده مره چاغه شوې ده چه د دې کالو او جامو موزونیت ئې ور خراب کړی دی؟ او بیا د ځانه سره د خپلو وېښتانو د اوتو خبره ور په زړه شوه

چه د سر دور ښتانو رونق به ئې هم دلند والي په واسطه ویجاړ شي او بیا به ئې سوول گران وی، ددې دا هم ورېه زړه شوه چه پرسخر واو کر کښې و دختو اولو ېدلو، او دسیند دسیلیو اوشدیدو بادونو څخه دځان ساتلو په واسطه دی د ډېرعمر لامبو (آبیازی) نده کړی نو اوس به داداسی ښه لامبووهی لکه ددې نوري ملگر ی ؟

پدغه ډول څورونکی ددې پدغه فکر کښی تیری شوې ، څو په آخر کښی ئې خپله خبره مو رته وریاده کړه او ورته وئی ویل چه دعوت ته د ننه تگ اراده او تصمیم ئې کړیدی ، مگر مور ئې اعتراض پرو کړ ، چه دانده ورله مناسبه چه تردعوت یو ه روځ دمخه عذرورته و کړی ، او بل داچه ددې نوري ملگری به هم د او ضعیت وغندی ، په اخر کښی ئې دځانه سره فیصله و کړه چه دعوت ته به ورځی خو بیائې پخپل جوړ اب گالو ، او لامبو زړه کښاندوو . ددعوت په روځ پېغلی ته پرلاس باندې بخارور پیښ شو داسی چه دا ئې د مېلمستیا د تگه څخه منع کړه نو ځکه ئې کورپرې نښوو ، پدې بله ورځ دلاس بخار ښه شو او مورته ئې وویل چه دا په زړه کښی دخوښی او راحت احساس کوی ځکه چه زړه ئې دامشوره نه ور کوله چه دادې دخپلو همزولو د ناروغیه او مرض داخیستلو سبب شی .

پدغه صورت پېغله دهغه موقفه څخه و تښتېده چه ددې په ضمیر کښی د نا آرامی د شعور سبب ؤ ، او همدغسی پر هغه حساسیت چه دائی مغلو به کړې وه او پردې شعور چه دې د خپل عدم ملایمت په باب کښی دراود په غلبه مو نداو کښی کامیابه شوه ، لکه ددې خطره څخه چه ئې هم امان وموند چه د همزولو ښه نظر او خوشبینی چه و دې ته ئې دراوده هغسی پرځای پاته او دلاسه ئې ور نکړه .

پېغلی دا افکار په شعوری طریقه اود تفکر له لاري نه وه ونډلي ، یعنی دې له ځانه سره دا فکر او اندېښه نه وه وهلی چه (چه اوس چه ماته پرلاس بخارر ا پیښ شو نو به لامبو نشم کولای ، او لدغه سببه به هغه قدیمی جامې چه پټه او کاوا که پکښی معلو مېږم نه اغوندم بل داچه دور ښتانو او تو او انتظام به مې هم نه خرابېږی ، او دا به هم چا ته لښی هم گنده چه په کرملاغ کښی مهارت نلری) دې ددې خبرو فکر له ځانه سره په هغه

طریقه او ترتیب نه وو هلی، خو بیا هم داخبري ټولي پخپله او تصادفاً پېښي شوي، نو کله
انسان ته یوه آني او موقتي ناروغي په یوه خاطر خواه او مناسب موقع کښي ور پېښه شي،
د ناکامۍ څخه ډېره ډېر د تکلیف شی ده:
ممکنه ده چه پدې باب کښي دې موږ ډېر مثالونه راوړای شو چه یو له هغو څخه مثلاً
هغه متعلم دی چه دې ته ډېره هوا کېده چه په مدرسه کښي دې دی د موسیقي
د ټولګي په شاګردانو کښي وي، نو ئې په همدغه واسطه په کوښښ او شوق
او ذوق سره د موسیقي تمرین د دې، دپاره شروع کړ چه د امتحان روځی ته ځان
آماده او وروسته تر امتحان د موسیقي په برخه کښي داخل شي خو په آخر کښي
د امتحان د ورځی اعلان وشو او دغی روځی ته ئې په خوشالي انتظار کاوه خو ئې
د خپل ټولګي د هلکانو سره موضوع د مذاکرې مورد وګرځوله، او خپل
کورنۍ خپلوانو ته ئې وویل چه ده ته ډېره موقع او فرصت موجود دی چه
د موسیقي د ټولګي د غړو څخه دې یو غړی وبلل شي.
امتحان په شور و ځوا خیستل کېده او چه د امتحان تر میانځ په رخصتي
او تفریحي روځو کښي هلك ته د حیرت او دهشت غوندي حالت ور پېښ شو، دا
ځکه چه څو را یو قابل او ماهر غږ چکه زغوونکی زلمی په امتحان کښي ناکام شو
او دې ډېره دهشته څخه ئې ژبه بنده شوه کوم وخت چه یو ماهر دریه باز د امتحانه څخه
محروم او د هغو پر ځای تر هغه ناقابل او کم مهارته دریه باز ته موقع ور کړه شوه
ده تر امتحان یوه روځ د مخه ده ته یو شدید اضطراب ور پېښ او دا ئې زړه ته ور
ګرځېده چه آیا د امتحان د کامیابۍ قدرت به و لري که یه؟ خو په هر صورت
ځان ئې د امتحان نه څخه نشوای تر شا کولای، هلك ټوله شپه د پریشانۍ څخه
د مار وهلی په شان په اضطراب تېره کړه، او سره لدې چه د ناکامۍ پر تقدیر ئې
ځان ته ډاډ ور کاوه او خپله تسلي ئې پخپله کوله خو بیا هم دې فکر خپه کاوه
او د بغل اغزي ئې وو، په سهار کښي ئې په اړخ کښي دیوه شدید درد احساس کاوه

چه دهغه درده سره دامتحان ځای ته نشوای ورتلای طبیب چه ئې معاینه وکړه او په دقت شاؤخوا پرو گرزېده چه نه چه ایندیست وی خو هېڅ یو شی ددې نوعې په نظر نه ورغی، او څه دناروغی سبب ئې په وجود کښې نه معلومېده ، خو طبیب د آرام او راحت توصیه ورته وکړه چه دځایه دې حرکت نکوی ترڅو چه ناروغی او درد ئې ښه کېږی دوې ورځی وروسته چه ئې دپخوانی عادی نشاط تمرین ته شروع وکړه پدې خبر شو چه دموسیقی دصنف شاگردان پوره شوه او زیاتی څوك نه اخلی . او کوم شی چه دی په خوشاله ؤ هغه داؤ چه دوستانو او ملګرو ئې پالنه وکړه او بل که څه هم دورا څخه وه چا گوته ورته ونه نیوه چه دموسیقی دشاگردانو په امتحان کښې وانه خیستل شو ، او یوه زلمی ته څونه گرانه تمامېږی چه په امتحان کښې شامل شی او دنا کامی چپلاخه وخوری .

دناوړو موقفونو څخه ځان ایستل :

کله کله سړی دناجوړی داحساس او شعور څخه په ډیر و مو اقعو کښې لېز غوندی فائده واخلی مگر پدی شی سره لېز کسان اعتراف کوی ، خو موږ زیاتره کسان دمرض او ناروغی له شعوره څخه فایده اخلو او دا شعور نه یوه ادعا او نه یوه قصدی او اردی قلبی چلانی ده ، بلکه یو سلوك او لار ده چه یوه ټا کلی او معین غرض او هدف ته ورغلې ده ، که څه هم هغه هدف زموږ داصلی (واعی) عقل څخه پټ وی ، دا هم ضروری نده چه هر درد او الم دې یو عضوی علت او مصدر و اری ، کله دا ممکنه نه وی چه سړی دی د مرض اساس په بدن کښې پیدا کړی که څه هم طبی معاینه ډېره په دقت او توصیه سره شوې وی ، مگر بیا به هم ددرد څښتن ددې شعور کوی چه در دحقیقاً موجود دی او شك او شبهه نه وی پکښې ، او داسی ښکاری لکه په رښتیا چه د یوه عضوی علته څخه صادر شوی وی ، نو دهغه سی اضطراب او کراز ندتیا سبب شی . خو صرف دوره تو پیر موجود وی چه علاج ئې باید پر مغا یر او جلا اساس اجرا شي .

لکه چه دا ناروغی له داسی سببونو څخه پیداشوې وه چه د هغو سببونو څخه بالکل مخالف دي چه د هغو څخه عضوی ناروغتیا وې او درد و نه پیدا کیږي، دا طبیعي ده چه د ملا درد د درنو شیانو له پورته کولو یا د هغو د پورته کولو له کوښښه څخه پیدا کېږي، مګر کله کله د درنو غمونو او شدیدو مصیبتونو تحمل چه هغه غمونه دي چه سړی ته وروسته ددې تر ناکامۍ په یوه پروګرام او هدف کښې ور پښېږي یا د یوه هدف د انتخاب په وقت کښې د حیرت او تردد په نتیجه کښې پیښ شي هم انسان ته د ملا درد ورپېښوي د ملا د لمړي قسم درد علاج په قسم قسم تکورونو ممکن دي، مګر د ملا دوهم نوعه درد په یوه داسې معالجه ښه کېدای شی چه ددې طریقې څخه بالکل لیری او هېڅ نده ورته هغه بدی سره معالجه کیږي چه د وجداني او فکري درنډیا او ثقل چه سړی ته تکلیف او تحمل ئې انسان ته زحمت ورکوي معلوم او فهم ئې وشي یو له هغو عباراتو څخه چه د خبرو په ضمن کښې باب او رواج دی دادی چه څوک وائی: دې تردې زیات طاقت نلري، ددې مقصد دا نه دې وینا څخه دا ندی چه هغه د ومادي درونډښي پورته کولای، بلکه غرض ئې دادی چه دی د هغه مشکل له حل څخه عاجز دی چه ده ته ور پېښ دی یا داچه: «تردې پېښې لاندې به ئې ملا ماته او کبږه شی» دلته هم مقصد دا نه وی چه هغه به درونډ بار اخیستې وي، بلکه مقصد ئې داوی چه دې کوم مسئولیت چه ده ته متوجه وی نشي قبلولای. کله کله په وجداني غمونو او مصیبتونو بارسړی چه ددې د ستر طاقت او قوت د پېرلوړوی کولای شي خپل دغه د غمونو پېټې د بدني او جسمي ناروغیو په دردونو او کړاوونو والیش او بدل کړی او چه د غمونو اسبابو څخه لیری شی پر عضوی او بدنی زحمتو باندې پوره غښتلی وی.

ناروغی رحم او شفقت پسا خوی :

وروسته تر یوه لنډ تعارف او مختصري پېژندنې دوې دوه واده سره وکړه، خو د ماندینې د خپل مېړه هغې هڅې ته چه د (ګلف) لوبې ته ئې درلوده هیڅ اهمیت نه ورکاوه، بلکه دې هیڅ خوند نه ځنې اخیست مګر چه مېړه به ئې د هری یکشنبې په روځ په خپله دغه په زړه

پوري اوده ته خوږه او په مصروف اوسېده لو ددې وضعیت څخه راضي نه وه او په قهر شوه د ځان سره به ئې ویل: «زما مېړه تو له هفته پخپله وظیفه اخته او له ما څخه جلا اولېږی وی، ایا دا نده ورله ممکنه چه در خصتۍ روځ زما سره تېره کړي؟»

دېوې یکشنبې په روځ ښځې ته یوه سپکه ناروغي د لېږ تبې غوندې له قسمه ورپېښه شوه او مېړه دې ته مجبور شو چه هغه روځ په کور کښې د ماندینې سره واوسي، او د خپلو ملګرو سره د ګلف د لوبې پروخت اووعده ئې تله تېره کړه، ددې ناجوړې سپکه وه او په دوې درې روځې کښې ښه شوه، د بلې یکشنبې په روځ مېړه خپلې لوبې ته چه په تېره هفته کښې ځنې پاته شوې وه ولاړ.

لېږ روځې وروسته مېړه و ینې چه ماندینه ئې تو له هفته روغه رمټه وي د یکشنبې ګانو په روځ قسم قسم در دونه او ناجوړې ګانې پر راځي. سړې وار خطا کېږي او خپل سپو رتې مشق ته نه ځي او لاس ئې ځنې واخیست داتشو شات چه پر ماندینه دهري هفتې په آخر کښې راتله دخیال او اندېښنې له خوا نه وه او خیالي نه ورته ویل کېده. لکه ماند ینې چه هم په شعوري او ارادي ډول نه غوښته چه ددې مېړه دې په کور کښې پاته وي، مګر دا خبره ئې خو ښېده چه دا دي د ده په نظر کښې اهمیت ولري، او دې ته ئې هڅه درلوده چه ددې مېړه دې ناست وي، دې شیانو د ماندینې او مېړه په ذات البینی مناسباتو کښې یوه غیر مرئي پرځېږه تا پېښه کړه او نتیجه هغه وه چه دې تفصحي کرا ژند تیاؤ (انحرافاتو) مخه راو کړه، ا. ددغه جهته یو په بل پسې ورو سته به ئې تکرار مونده. پدې وضعیت سره دې ده ته په ټینګه وویل چه ددې دده د لوبې سره جوړه نده او راحت ئې په بر همېږي او خرابېږي. حقیقت داؤ چه د ماندینې ددغه وضعیت څخه په عمومي عقل او واعي شعور ښه نه را تله او ناوړه ئې باله، مګر طبیب ددې دنا روغۍ او در دونو اسباب او علل پیدا نکړای سوای، او دا ئې په ټینګه سره وویل چه د دې دېر له پسې او متکررو در دو نو د پاره یو عضوي اساس قطعاً ندی موجود. مګر صحیح تفسیر

داؤ چه مانديته ديوه لا شعوري دافع پذريعه پدې نه‌وه راضي چه د مېړه څخه ليري او يوازې په کور کښې پاته وي، بلکه دا ئې زړه غوښته چه د تعطيل په روځ دې مېړه هم لدې سره پاته او په کور کښې ورسره ناست وي، او دا آرزو او غرض ئې د نا روغۍ او مرض شعور ور ترسره کړ.

ناروغي سړي له مسئوليته څخه ژغوري:

کله کله ناجوړي ځکه‌دې چه يو عضوي اساس ولري، ياد توجه او اهتمام د غوښتنې د دافع په اساس وي د مسئوليته څخه د ځان ژغورلو يا د يوه داسې کار له کولو څخه د ځان ګښلو دپاره وي چه د هغه کار اجرا پر مونږ لازمه او واجبه وي: د دې مثال هغه زلمي دی چه پخپله وظيفه او چاره کښې ئې داسې ترقي ګانې په برخه شوې وې چه د نورو حسد په کيږي، او په آخر کښې د نس او معدې او کلمو داسې ناروغي ورپېښه شي چه د ځای ئې کړي او دا ناروغي خورا پر يوه خورا تنګ وخت ور پېښه شي ځکه چه ده خيال درلود چه د ځينو داسې کارونو اساس کښېږدي چه په هغو کښې د ده مشرانو هم موافقه ورسره کړې او ښه ئې ګڼلې وه، او ده ته لازمه وه چه خپله لايحه ئې د او يوما موريتو په يوه منتخب او محدود د مجلس کښې لوستلې او د هغو موافقه او صحه ئې حاصله کړې وای زلمي د دغه مقصد دپاره د خپلو طرحه کړو پلانونو او پروژو ټوله تفصيلات او مربوط توضيحات د خپل فراغ او اوزګار تيا په ساعتو کښې ليکل او دومره په مصروف ؤ چه غير له دغه څخه ئې بل په هيڅ خوا کښې خيال نه واهه په دغه فوق العاده شديد فرصت کښې زلمي ته ناڅاپه دغه مرض ورپيښ شو او د هغه مجلس وخت ئې د لاسه ځنې ووست چه د ده د پلان او پروژو د لوستلو او قرائت دپاره ټاکل شوی ؤ.

د زلمي دانتظاره سره چه دغه فرصت ته ئې درلود دا نه‌وه معقوله چه دی يوه ناروغي د ځان دپاره پلمه کړي او د دغه مجلس له حاضريدلو څخه ئې راوګرزوي مګر په کمه اندازه چه دی پدغه موقع او فرصت خوشاله ؤ په هغه اندازه د دې

شخه هم په بهره کښې وو چه پدغه مجلس کښې دی دی موفق نشي اودده پلانونه ؤ پروژې دی دده پرزړه برابر داجرا او عمل صحه او موافقه ونه گڼي، نو مرض او ناروغی راغله او دتولو غمونو شخه ئی وژغوره او هغه هم پداسی تو له چه دده نامه ته صدمه هم ونه رسیږي. بل مثال دهغو درو خوندو دی چه د کور کار ئي په وار سره کاوه، او دیوي داعادت شوی ؤ چه د خپله واره شخه به ئی ځان کینښ او هغه هم پدي تو گه نه چه دا دی ځان ته پر دوونور وخوند و په مزیت او اهمیت قایلهوی او ځان دی پردوی زیات وښئی پهدوی کښې به هر وقت یوي ددي دواری کار کاوه کم وخت چه به دی دبدن ددرد یاد خپلی اوږی شخه یاد سرد خوږ پد لو یاد موته له در ده شخه شکایت کاوه، دوي نوری نجو نی ددي دواری دڅېر و لو شخه په تکلیف نهوي مگر نجلی ته په زړه کښې ددوی ددی کاره شخه هیڅ نهورگر ز پده نو ددي کرازند تیاداسی نهوه چه دا دی دسهار دهغه (ناری) دخوړلو شخهراو گرزوی چه په هغه ر و ځ د ي د خپل واری او د کور د کاره شخه ځان کښلی ؤ. خو دي ددغی ناجوړی په پلمه ځان ته یو معقول عذر پیدا، او د کور د کاره شخه ئي چه ددي بد ځنی راتله ځان په خلاص کړ. دغه رنگه موږوینو چه صحی کرازند تیاوی او بدنی درد و نه چه په حقیقت کښې دوجدانی عواملو نتیجه وی عذر و نه او پلمی دی او سړی د کاره شخه په خلاصیږی مگر بعضی داسی ناروغی پیدا کیږی چه دهغو منشأ او عوامل طبیب او هغو کسانو ته نور معلومیږی چه دوی پدي تفسیر او توضیحاتو ملنډی وهی او تمسخر په کوی داځکه چه دلته دمرض او مشکل یاقلبی اضطراب ترمیان هیڅ کومه علاقه اورابطه سړی ته نهور معلومیږی او پر کشف ئي قدرت نهومی.


تاته دخپلی شکوی اوشکایت حقیقت درمعلوم دی:

په هر صورت که موږ لیږ غوندی په هغه کیفیت کښې ژور فکر وکړو چه دقلبی اووجدانی مواقعو پروقت ئی انسانی بدن اجرا ت کوی او پهمتأثر کیږی موږته بهدارا معلومه شي چه دانوعه اجابتونه او تأثرات دا دغرابت

او تعجب ورېږي. داځکه که موږ دمخ سوروالی ته چه دخجالت پر موقع ، یا هغه حیرت او اضطراب ته چه وروسته داشتهاء تر سقوط پېښېږي ملتفت شو یادزړه غورځنګ او دربهار او دسا شړل چه دقلبي اضطراب نتیجه ده (او داهغه حقایق دي چه موږ ته را معلوم دي او پوره علم پر لرو) تر مطالعه لاندې ونیسو دابه راته واضحه شي چه داهیڅ عجبه نده چه دوجداني اضطرابو نو سره کله کله نور عضوي استجابات او تأثرات ملګري یا وروسته پسې را تلونکي وي ، او ځکه چه دلته بعضي فیزیولوجي صحیح تفسیر ونه ددغو نوعو استجاباتو او تأثراتو دپاره موجود دي چه ضرورت ددې تقاضا کوي چه موږ ته هغه دسیکولوجي دلاري څخه را معلوم شي او فهم ئې و کړو . رښتیا داده چه داډېره عجیبه ښکاري چه څوك دردونه او نار وغیتاوي قبولی کړي خونه داچه پدغه نوعه سختو اوتر خودي اخته وي ، مګر بیاهم لکه موږ چه و لیده او را معلومه شوه جسمي او بدني دردونه کله کله په زحمت کښي تر هغه موقف چه د هغه څخه دغه دردونه پیدا کېږي اوموږ ځان ځني ژغوور لم او کښته وي . او دم مرض چه هغه یو عضوي اساس ونه لري فقط یوه حیله او پلمه ده چه موږ په هغه وخت کښي التجاء ورته کوو چه موږ غواړو دناوړو مواقفو او ظروفو څخه ځان وژغورو . لکه موږ چه خوږ واندېښنو (دویښي احلام) ښېګڼې (تبریر)او یوازې والي (عزلت) ته التجاء وروړو دادغه رنګه دزحمته څخه دځان ژغورلو ، او دسختیو څخه د ځان خلاصولو او د مسؤلیته څخه دېرانیستلو یا د نورو کموشیانو څخه چه زموږ بد ځني راځي هم دځان ګوښه کولو یوه ذریعه او واسطه ده ، دغه رنګه داهغه وسیله هم ده چه موږ دهغې کراړ ندتیا (تړتر) شدت په سپک کړو چه موږ ته داجتماعي حاجاتو دعدم اشباع او نه مړېدلو له خوا څخه را پېښېږي نو موږ دغی وسیلې ته التجاء وروړو لنډه داچه ته چه هر وخت به دې پوه شوی چه دغه رقم استجابت ته دې هڅه کېږي نو سمه او ښه داده چه ته پخپلو ستړیاؤ او زحمتو کښي به وضاحت او صراحت سره فکرو کړی ، ولی داستا دعقلي او فکري سالموالی نخښه ده چه ته دخپل ځان سره امین اوسې ، او لکه پرتا چه دا لازمه ده هر وخت چه لازمه شي ته به

خپله پوره او بشپړه طبي معاينه اجرا کوي، دغه رنګه تا ته نده جائزه چه دخپلو نفسي عواملو څخه بيخبري او تجاهل وکړي.

نوصحت او روغتيا يوازي دبدني سلامت ضمانت نکوي. بلکه دغه رنګه عقلي سلامت او وجداني توازن هم په حاصل دي، هغه سلامت او توازن چه دانسان په سعادت کښې مؤثر دي او دسړي داجتماعي حاجاتو په موفقيت کښې مهم تاثير لري علاوه پر دې چه دشخصيت په نشونما او په تکيف کښې يو مهم عامل هم دی.



شپاړسم فصل

بېره: پټه بېره او ښکاره بېره:

دا اسانه ده چه ته دسلوك زياتره نمونې دهغو څېړنو په رڼا کښې چه موږ ئې مخه دسلو کونو په باب کښې وکړې ځان ته معلومې کړې هغه پېغله چه دخپل طاق کړکۍ ته ناسته او خپل نظر ئې فضاته خوشې کړې پخپلو اندېښنو کښې غرقه وي بدې پوهېږي چه دادخپلو احلامو او آرزوگانو په سين کښې لاهوده، او هغه سړی چه ډېرې ټوکې او دنورو سره خوش طبعي کوي داور معلومه ده چه دی پخپله خاصه طريقه او مخصوص عادت خپل ساعت تېرې اودځان خوشالي غواړي، هغه بل سړی چه دی ؤ خپل ځان او يوازې په يوازې ژوند کوي دخپل گردچاپېر سره گډون نکوي او په اجتماعي نشاط کښې برخه نه اخلي سلوك ئې واضح او معلوم دی. خوبيا هم دلته ځينې نورې پلمې او مشهورې حيلې ستته چه فردالتجاء ورووړی او هغه ددفاعي حيلو په نامه مشهورې دي.

دېوې وسيلې استخدام ددې مانع ندی چه نورې وسيلې دې هم ور سره استخدام شي:

داښكاره او ښرگندهده چه دسلوك ددغو نمونو ظهوراواستخدام يوه يوه او په منفردډول لزوم او حتميت نلري، بلكه دا احتمال لري او كېداى شي چه يوسړی دهغو مشكلاتو او زحمتو څخه چه ورته متوجه وي دځان خلاصولو دپاره ددغو وسايلو څخه تر يوه زياته ډېرو ته التجاء وروړي مثلاً يو سړی خوږ واندېښنو (احلام اليقظه) ته التجاء وروړي مگر په عين حال كښې ددردو نو او نارو غيو څخه چه عضوي اساس نلري په شكوه اوشكايت كښې وي، او شايد چه كوم يو به دښېگڼې (تبرير) په نامه دځان دپاره معقول او موجه عذرونه اوپلمې دكوم كار دپاره چه دده ئې كول په خيال كښې وي پيدا كړي، خو په عين حال كښې به دوړو هلكانو اوماشومانو سلوك او وضيعت ځنې كاوه كيېږي، يا به د كور او كاله دهوا اوهڅې څخه شكوه ځنې كيېږي.

موږ ددې دپاره چه په یوه واحدوخت کښې چه زموږ شخصه دسلوک یوڅو متعددی نمونې ګڼی وړی شی اشتباه راپیښه نشی او دا په هغه وخت کښې چه زموږ مقصد دذات اویوه شخصیت جنایت وی ددفاعی سلوک دانواعو هره نوعه ځانته او علیحده علیحده وښیو له ، مګر داسی هم کیږی چه یو سړی چه د دغو وسایلو دجملی څخه دیوې څخه کاراخلی کله کله یوه یا یو څو نوری هم ورسره جوړه او استخدام کاندی، او که موږ ته دسلوک ټوله انواع را معلوم وی او په اقساموئی پوره خبر او سو اغلباً به موږ ته دامه ممکنه شی چه دسلوک داستخدام شوو نمونو په پیژندلو موفق شو ، خو بیا به هم دا ډیره نادره او لږ پیښه شی چه موږ ته هغه اسباب را معلوم شی چه ذاتاً دغه نمونې خوی او عادت شی .

کله کله موږ یو سړی ګورو چه یو عجیب او غریب سلوک ئی عادت وی ، مګر بیا هم موږ نشو ، کولای چه دده دسلوک نمونه چه دی ئی متابعت کوی و ښودلای شو او امتیاز ورکړای شو دا ځکه چه نمونو یوله بله په پوره ډول دوسایلو په حیث تمایز او جلا والی نه دی موندلی ځکه چه ګاهی ګاهی سړی په یوه خورا بې اهمیته شی متهیج شی چه هغه په په حقیقت کښې هیڅ اثر او اغیزه نلری یا به دیری اوخوف آثار ورښکاره شی اوچه دیری اسباب و ته ئی و ګوری داسی شیان به وی چه ته به ئی بې اهمیته ته حیران شی . یا به دیوه سړی اعمال غیر منطقی ښکاری او داسی به معلومیږی چه کوم یو هدف او غایه نلری .

دځینو وسائلو تاریخ خورا لیری ویږه

دیوی کمکی نجلۍ عادت و چه دموږ دبازار سود اوسودا به ئی په خورا خوشالی او ښه زړه راوړه خو ناڅاپه نجلکۍ دخپل شناخته او کور ته نژدی د کاندار ته دور تګ اوسودا اخیستلو څخه زړه توری سره تر هغه د کان به تیر یدله د بال لیری د کاندار څخه به ئی سودا کوله ، دنجلۍ دې مور او پت سلوک مور په حیرت او اضطراب کښې وا چوله ، او دنجلۍ ، دا سلوک هغه وخت پیښ شو چه د دی کورنۍ دپخوانی کلی څخه نوی کلی ته را کډه شوه ، دنجلۍ لدې

وضعیته څخه مور ته سودا او حیرت ور پیښ ؤ او حیرانه وه چه دا ولې داسې دي او گورته مخامخ د کانه څخه تېریږي او د بازار شانه د لیرې د کانه څخه سودا راوړي، او دې به مورته زاریده او جگېده کوله چه د سودا اخیستلو دپاره دې دا د کور نژدې دکاندار ته نه ور لیږي. په امریکه وهله کښې دا خبره ډېره عجیبه ښکارېده تر ډېره اندازې چه مور ئې په دقت او ژور فکر کښې واچوله مگر بیا هم مور هیڅ پوه نشوه چه نجلۍ ولې نژدې دکاندار ته پرنه ورتگ ټینگه ده، او مور د موضوع پر کشف او تفسیر موفقیت و نه موند. خو ډېره موده وروسته دې ته کیفیت ور معلوم شو، هغه داؤ چه د نژدې دکاندار میرزا یو بنډه او چاغ او خوړا بېروس او سر بېره پردې ؤ لوئی آواز ډېر خوفناکه او کړېږ مورته چه دا معلومه شوه چه او ورئې دغه د کان ته د دغه سړي له جهته نه ورځي نو ډېره حیرانه شوه په زیاته ئې بیا حیرت هغه وخت پیښ ډېر شو چه د سبب درک ئې ور معلوم شو.

دا میرزا هغه دروازه وان ته په رنگ او بڼه کښې تر ډېره حده ورته ؤ چه په هغه کلي کښې ؤ دوی ځنې راکډه شوی وه، د دغه دروازه وان د کوچنیانو او ماشومانو څخه بد راتله، نو به هلکانو هم دد ښمنۍ له جهته چه د دوی سره ئې درلودل نو له لیرې ځنې ساتل، او دوی به کله په ښکاره څه نه ویل خو ځنې به ډېر بدل به او تره ئې ځنې کېدله. نو د هغه دروازه وان څخه د تره په گنه نجلۍ دا بېگناه کاتب هم و نیوه هغې یېرې دلته انعکاس وکړه،

نجلۍ ته دده په لید او په لاشعوري ډول د دروازه وان پخوانۍ بېره ور په زړه کېده. او د «انتشار» مسئله چه (ردالعمل) ئې بولي څرگند شو. ولې اصلي عمل یعنې وېره «خوف» خو وار د واره دېوه خاص او معین سړي څخه نشئت وکړ مگر وروسته ئې تر خپله منطقه او دائره تېره کړې او یوه بل سړي ته ور شامل شو چه هغه دا مړی سړی سره لبز شانته مشابه، او څه نه څه د هغه غوندې ؤ. په همدغه شانته احوالو کښې دا پېښه امکان لرلای شي چه سړی کوم شي چه د هغه

څنګه دده ډېرې اشتباه کړې وي شعورا؟ هر ګړی نو بیا زیاتره اوقات دا دوره ګرانه او سخته وي چه سړی دیوه چادسلوک او وضعیت تفسیر وکړي او د هغه د معین حالت علت او سبب دې معلوم کړای شي هو! مګر هغه وخت چه موقف او موقعیت لې لږ ولو اقا طو او اطراف و څخه تر ژوره څېړنه او عمیقه مطالعه لاندې و نیسي هلته نو بیا مسئله اسانه شي او څومره ګرانه نه وي، دا ځکه چه دوېرې او خوف «رد» او نوی پېښېدل غیر منطقي ښکاري او کوم دلیل او برهان ئې نه وي معلوم، او دا موږ ته راښئي چه یو سړی څنګه دیوه وضعیت او (تکیف) دپاره یوې حیلې ته لاس وراچوي په اسې حال کښې چه دا هم نه وي واضحه چه ده ولې دا حیله غوره کړې او څه له ئې لاس وراچولی دی.

د دې نقطې د توضیح دپاره به موږ یو بل مثال هم راوړو هغه دا چه یو ۲۵ کلنی زلمی دی چه هره ورځ خپل کار او وظیفې ته تلی، مګر په هغه موټر کښې چه دده د کور په دروازه کښې به هره ورځ ده ته ولاړ و نه کښېناست او تر هغه به ئې پیاده ترام کښې تلل خوښ وو چه د کوره څخه ئې ښه شکل لیرې وو، د ده دا وضعیت ډېر عجیب او غریب ښکارېده په زیاته بیا چه د ده د کلي نور زلمیان ټول په همدغه موټر کښې سپرېدل مګر ده به دوی پرېښودل او په ترام کښې سپور شو، دوی به غیر له دې چه ده د غه وضعیت ته به ئې په تعجب او غرابت کتل نور ئې څه له لاسه نه وه پوره او نور څه ئې نسوای پکښې ویلای.

د مخه تر هغه چه پر زلمي وضعیت ښکاره شي څو کاله دوړاندې په کوچنیوالي او هلکینه کښې چه دې لاوړ ود موټر په یوه حادثه کښې دې لږ شانته ژوبل شوی او سپک غوندې زخم ئې اخیستی وو، مګر په همدغه حادثه کښې یو بل سړی مړ شوی او څو نور سخت ژوبل شوي وه، په دغه ورځ دده مور ته سخته وارخطائي ور پېښه او فوق العاده لاس وپښه شوې وه... او دومره کرږې ئې وهلې او دومره ئې پوره په زړه ور ننوتلې وه چه پخپله حادثه دغومره پېرې ور نه وه او نه ئې دغومره پوره پیدا کولای شوای د همدغه وخته څخه زلمي ځان دعمومي موټر د سپارلیه څخه

گوښه کړی ؤ او ترڅو چه لوئیده بیا ترنن پوري په موټر کښې سپور نشو ، او چه
ملگرو ؤ آشنا یانو به پوښتنه ځنی وکړه چه ددې سبب او سرڅه شی دی ده به ئی
د سبب اظهار نسو ای ورته کولای او تش دومره به ئې ورته وویل چه : « بل هیڅ
سبب نشته خو فقط دومره خبره ده چه د موټر سپارلی مې نده خوښه او زړه مې
ورته غواړی » مگر دلته یو سبب ده چه ددې لاس اخیستلو کښې چه په ظاهره
عجیب او غریب ښکاریده موجود دی ددی کیفیت، فهم او ادراک گران نه ؤ که څه هم
بخپله شخصاً ده د هغه علت نسوای کشفولای .

دا ځکه چه ده له ډیری زمانی اوږد . وخته څخه راپدې خوا به هغه خوا فناکه
حادثه کښې له فکر او اندیښنې څخه لاس اخیستی ؤ او ددې لاس اخیستلو سبب
بیا دا ؤ چه هغه حادثه خورا الم اوره او غم راوړونکې حادثه وه او داسې حوادث
طبعاً سړی د و همه پلا نه ور په زړه کوی او نه غواړی چه ور په زړه شي ، مگر
سر بیره پر نه ورپه زړه کیدلو یا نه ور پهزړه کولو ئې د ده په زړه کښې داسې
یوه وېره خاطره او اندیښنه پرېښوه چه هغه پرهارونه چه له هغې حادثې
څخه د ده پر بدن پیدا شوی وه تو له ولاړه مگر دا اثر او اغیزه پاته شوه .

هر هغه خوف او وېره چه سبب ئې پټ او غیر واضح وی هغه وېره خورا ډیره زمانه
دوام کوی ، په زیاته که دوېړی رد العمل د خپل ښتن د زحمت او تکلیف سبب نشی
هغه وېره په زمانو زمانو دوام کوی او پداسې صورت چه هیڅ به سړي پدې پوه نشي
چه داولی او نه به ئې دوېړي سبب ته فکر شی . داحقیقت به لاندېنۍ قصه واضح کړی:

ددې سره هم زولی به زړه پوری پېغلانی د ځینو شیانو درا ینولو له پاره یوې مغازې ته
سره راغلې او کوم وخت چه پورته طبقې ته ئې دورختلو اراده وکړه یوې و بلې ته داتومات
پوړی خبره وکړه چه ترڅو چه په عادی او عمومی پوړیو کښې دروخېږو اتومات ښه ده ،
مگر د ملگری ئې ور سره خوښه نسوه او دائې گمان ؤ چه دوی به دومره وخت ونه لري
چه اوږدی طبقې ته دی وخېژي او بلا دا چه په اتومات پوړیو کښې قطعاً نده پورته شوې

او سره لدې چه ددې سبب ئې نه وو، يه داخبره ئې په خنداو کړه چه ددې تر اتومات پوهېږي دا بله پوهېږي خوښه ده او چه ملګري ئې ددې له خبرې شخه د تعجب او حيرت اظهار وکړ نو دا خجله او شرمنده غوندې شوه.

دې خبرې يو سبب درلود، دا په غله داتومات د پوهېږي شخه وېرېده، مګر ددې وېرې د شدت ته شخه نا خبره وه. حقيقت او واقعيت دا ؤ چه د کوچنيوالي په زمانه کښې ددې مور دا داتومات د پوهېږي شخه وېرولې وه او ورته ويلې ئې وه چه که دې داتومات د پوهېږي شخه کار واخيست يوه غمجنه او ناوړه حادثه به در پېښه شي، نجلۍ غټه شوه او ۳۰ کلن عمر ته راورسېده، او ددې خبرې اراده هم نه کوي چه داتومات د پوهېږي شخه دې کار واخلي او هيڅ ميل ئې نه ورته کېږي، پېغله پدې وېره هيڅ پوه نه ده يا په بل عبارت د پېغلې د مور خبره په خوا او خاطر کښې لانه ور ګرزي مګر دې خوف او وېره ئې له لمړۍ روځې د مور د خولې شخه د کلونو کلونو راهيسته په زړه کښې ځای نيولی دی. او سره لدې چه ددې ترشار اتللو او انکار اسباب نه ورپه زړه کيږي خو د اتومات پوهېږي شخه چه مور به کوچنيوالي ځني وېرولې وه ترشاشار اخي او انکار ځني کوي.

څنګه پخواني تصرفات په اوسنيو تصرفاتو کښې اغېزه لري؟:

وروسته ددې ټولو حالاتو ترڅرګندولو نه موږ کولای شو چه يو خورا مهم مشترک او عمومي حقيقت ته اشاره وکړو: کوچنۍ نجلۍ وار دوار د دروازه وان او ددو کاندار د کاتب د مشابهت په وجه و نه پوهېدله. دې د دروازه وانه شخه په پخوا زمانه او به لونو کلونو ځان ګوښه ګوښه کاوه او حتی المقدور ئې ځان ځني ژغوره، مګر دا بدې نه وه پوهه چه دا پټ په زړه کښې ځني وېرېږي او تره ئې ځني کېږي. دا يوه شعوري او ارادي وېره نه وه چه دې ته ور معلومه واي يا ئې د هغې اظهار په ښکاره او وينا کړې واي، بلکه يوه داسې وېره وه چه ددې په باطني عقل او په زړه کښې د ننه ئې ځای نيولی ؤ. ددې د خپلې وېرې هغه لېز تقريبات او منا سبات چه د هغو په تقريب او مناسبت به دې دو يرې احساس کاوه هېر نه وه، مګر خپل

فکراوا نه ښځې ته ئې دومره موقع اوفرصت نه ورکړي اېښې چه په هغه کښې دې دا پیدا کښې فکرو کړي چه دا ولې بېرېږي اودېرې سبب څه شې دی. او کوم وخت چه داخپل غریب شعور او فکر دد کا نه ارد کاتب مربوطه دکان ته په ورننوتلو کښې متردده او په دوه زړه کښې کړه دهغې ویرې چه دې ئې اوس شعور و کړ اودپخوانیه ویرې ترمیانځ چه د کلې ددروازه وا نه څخه ئې در لوده ارتباط ونه کړ، او د دې خبرې سبب چه دې خپلې مور ته ددې علت نه و ویلای شوای چه داد نز دې د کان پرځای تنگ ته دلیرې د کان ورتلو ته آماده ده.

ممکنه ده چه موږ دې کتې مې همدغه شی د هغه زلمی په باب کښې ووایو چه پخپل تنگ راتگ کښې دعمومی سرویس موټر په عوض کښې دترام څخه کار اخیست.

هغه حادثه چه ده ته ور پېښه شوې وه یوه تر خه تجربه وه او د ومره ئې دی وېرولی چه فقط په ور په زړه کولو به ئې ده ته خوا شینی او شدید اضطراب ور پېښېده. اوله همدغه جهته به ده دغه فکر اوانه پښځه دځانه څخه لیرې کوله یعنی دغه فکر دده څخه داسې پټ اولیر ی شوی ؤ لکه د نجلیه اودروازه وان په مسئله کښې چه پېښه شوې وه او پیدې کښې شک نشته چه داپټوالی اولیرې والی تردې چه همیشه اودائمی فکر پکښې وشی ښه دی.

دپېغلې چه تراتومات پورې معمولی پوهیږ خوښه وه، سبب ئې داؤ چه ددې ځکه عمرونه دېر تېر شوي وه دخپلې مور خبرې چه دې ته ئې داتومات پورې په باب کښې کړې وې او دائی ځنې ور بېرلی وه هیرې شوی اودزړه او دماغ څخه ئې وتلی وی مگر کوم وېروونکی احتمالات او اندېښنې چه ددې په دماغ کښې ئې دوړ کړو به څخه ځای نیولی ؤ ددې په خیال اوواهمه کښې ئې اثراو اغېزه پرې اېښې وه.

دهر انسان داعادت دی چه دناوړو او وېروونکو خاطراتو اوافکار و څخه ځان ځکه ژغوري چه هغوی سړی مغموم کوی او زړه خفه کوی، مگر بیا هم داسې اند پښنې دانسان څخه نه جلا کیږي او په ور په زړه کېد لوسره ئې مثأثر کیږي.

کوم شی چه ښکاره او څرگند دی هغه دادی چه دمخنی مثالونه په هیڅ حال کښې

پر مخ او بالکل نه هیریږي او په زیاترو اوقاتو کښې چه موږ ته یوه داسې حادثه را پېښه شي چه دهغې شخه ز موږ پر زړه ویره اود واهمې اثر پاته یا خجالت ځنې را پیښ شي نو موږ ژ هغه هیره وو خو فقط دغومره قدرته چه د فکر او تصور په دننه او ژوره برخه کښې را شخه محجوبه او پټه وي یعنې باطن عقل ته مو شوه شي ، اود ذاکرې شخه مو پر مخ او بخ له تېره نه وزي بلکه ځان ښکاره کوي ددې دپاره چه کله کله په خاص او یو غږ یبوشانته تو دوسره خپل موجودیت ثابت کړي .

د ننه خواشینې او پټ غم ډیوه مقصد او غرض خدمت کوي :

دا نوعه خواشینې موږ ته زیاتره اوقات دهغه سلوک او وضعیت تفسیر او ښودنه کوي چه هغه موږ په نورو خلقو یا پخپلو ځانو کښې ملاحظ کوو او وینو ئې . دخواشینې سبب زموږ دهغو ارادو تر شا پروت دی کومې چه موږ ئې ددې دپاره کووچه خپل مهم اجتماعی حاجات ماړه کړو . او کومه خواشینې او خفقان چه دیوې تاکلې حادثې دیاد په او شخه سړي ته ور پیښیږي په یوه توګه د تو ګو سره موږ ته دخپلو آرزو ګانو بر مړو او مرسته را کوي چه هغه به زموږ دا آرزووې چه د خلقو په رضا مندي موفق شو ، یاد کامیابي احساس او شعور وي یاد نورو سره برابري (تجانس) وي همدغسې خواشینې موږ ته د کهالیه او تنهایی پر ایري کوا و مرسته را کوي او موږ د کهالیه شخه ژغوري .

یو وخت چه زموږ په زړه کښې دخرف یا خجالت احساس و شوري موږ ته دا اندیښنه را ولاړه شي چه باید پخپله سپکه او بې قدري راضي نشو نو پدې کښې کوښښ کوو چه دا کیف له خلقو شخه پټ کړو چه هغه ګمان چه دوی پر موږ کړي وي خراب اشي او موږ د دوی دقهر او غضب مورد واقع نشو مونږ دناکامیه شعور را و احساس کوو اوداخو یو خفقان آوره شعور دی ، پدې چه موږ داسې نه یو لکه نور خلق هم موږ دخفقان په او اضطراب شعور کوو او هر تفسیر ددغو شخه موږ ته دهغې خواشینې تعلیل رابښې چه هغه تر بعضو افکارو اراده پټو ورو سته سړي ته ور پیښیږي .

قصه پېرته راګرځوو :

پر تاپو داسې کار مسلط شویدی چه ته هغه په دائمی ډول او بیا بیا ګوې او هغه دې ستا د زحمت او اضطراب سبب کېږي؟ ته د دغه کار په باب ګڼې چېر ان نه ئې چه څنګه یې وکړې؟

ښه داده چه ته په دغه باب ګڼې دیوه داسې سړي سره وږغېږې چه اعتماد پر و لرې او هغه د تجربې خښتن وي چه ستا سره ددې کیفیت پر تفسیر مرسته وکړای شي او که ته ویرېږې او داوېره پټوې نو دا به اغلباً خبره نوره هم اوږده او مسئله به غټه کړي علاوه پر دې چه اضطراب دې لا هم ډېر کړي.

خپل خوف هېڅکله مه پټوه بلکه بل ته ئې ښکاره کړه او خبرې ورسره پکښې کړه او هر څه رأیه چه هغه درکړي اروه ئې او عملي کوه ئې بېدې شرط که هغه پوره اهمیت ولري او د عملي کولو وړ وي. د خوف او خپلې وېرې څرګندونه د سړي د کامیابۍ او پر وېره د غالبېدلو د باره ډېره مرسته کوي بالخاصه که ته دیوه نفسیاتي متخصص مرستونې په طلب کښې ئې نو به بیا هغه ددې کیفیته څخه د خلاصون په لار کښې ډېره مرسته درسره وکړای شي.

د چرت او اندېښنې بیرې او فکري او ذهني خوفونه هغه شیان دي چه ستا ژوندون درته ترخوي، او ستا هغه تکیف (سلوک) در وېجاړوي چه په هغه کښې ستا موفقیت پروت وي.

د هغه خوف د پاره چه ستاد اضطراب او قلبي پریشانۍ عامل ګرځېدلی وي پټ ساتل شعوري علاج نه دی او په همدغه طریقه نه ئې خلاصیږې، بلکه د عقل لا شعوري برخه ده چه هغه کولای شي چه د اضطراب او پریشانۍ عوامل لیرې او له میانځه څخه ئې یوسي.

او که څوک پر خپلو خوفونو علم ولري او بېدې یعقین پوه وي چه ده ته خوفونه او بیرې موجودي دي او په شعوري ډول او ارادتاً قصد وکړي چه چرت دې به خراب نکړي او فکر نه پکښې کوي او نه ئې ور به یا دوي نو ددغه سړي به شان کښې

سړی ویلای شي چه دی ئې په قصد او اراده سره پټوي، او دغه سړی ته هم عادتاً دانده ممکنه چه ځان دې دفکر او اندېښنې څخه خلاص کړي یاد باطني پریشانۍ او اضطراب څخه په امان ږدي دغه کوونکو اندېښنو، او دردناکو افکارو پټول اغلباً د پریشانۍ او اضطراب سبب او دخفقان باعث وي. او کوم خوف چه په تا کښې پریشانۍ او قلبي اضطراب پیدا کوي د هغه شعوري ازاله دانده چه ته ئې پټ وساتې او اظهار ئې نکوې، بلکه داد عقل دلاشعوري برخې وظیفه او کار دی چه هغه دې ته ملاو تړي چه ستا د اضطراب عوامل محوه او له میانځه یوسي. څوک چه د خپل خوف په عواملو خبر وي او په شعوري ډول ئې دې ته اراده کړې وي چه فکر نه پکښې کوي او دور به زړه کواو څخه ئې ممانعت کوي نو ددوم په باب کښې داویل کېدای شي چه دی ئې په قصد سره پټوي. مگر اساساً او عادتاً دغه قسم سړی ته دانده ممکنه او دلاسه ئې نده پوره چه ځان ددغو بدو دفکره وژغوري او اضطراب او خفقان دی ور پېښ نکړي. د دردناکو او غمرازو نکو افکارو پټونه کله کله د اضطراب او پریشانۍ عامل او باعث گرزي خفقان او ملال پیښوي او دا یو داسې کوښښ دی چه انسان ئې پخپله په لوی لاس کوي او په رونو ستر گو ځان خطا باسي ښه پوهېږي چه دا پټونه یا هېرول او ځان په یوه او بله کول څه گټه نه ورته لري بلکه بعضې اوقات به په شرمېږي هم او خجالت به په خوري مگر بیا هم ددغې طریقې څخه کار اخلي او خپلې بېړۍ به پټوي که څه هم دشعوري او لاشعوري پټونې څخه مقصد یو او دواړه یوه متحد غرض او هدف ته منتهي دي خو بیا هم ددوی دعمل لارې سره جلا او بېلې دي. دا دواړه عقلي فعالیتونه او عملیې دي مگر یو ئې زموږ له خوا په بشپړه او پوره اراده نه اجرا کېږي او هغه بل ئې زموږ په قصد او پوره شعور اجرا کېږي. دا خبره هغه وخت معلومېږي او انطباق مومي چه موږ ته د یوه کار په کولو ځان گنهگار او مجرم په نظر راشي، یا یوه اندېښنه او کوم داسې فکر په خاطر کښې راوگرزي چه نه راڅخه جلا کېږي او لاس نه راڅخه اخلي، نو که موږ دغه دمجرمیت شعور او احساس یا هغه اندېښنه موږ د ځانه سره وساتو او په خپل فکر او دماغ پرله پرو ورا اړوو نو به شاید هغه ډېر

اهمیت ورکوي او یوه دسودا لوماده به ځني جوړه سي . نو کوم وخت چه ورځ لدې شخه عاجز شو چه هغه پر ځان اسانه او سهله تېره کړو نو دشعوري پټو او له لارې داشکال حل او د ګراني علاج ته ملاوتړو واقعه او کوم شیان چه هغې پورې مربوطوي توله دځانه سره پټ ستاتو او پرده پرغوړوو . مګر دا پټول چه ددې واقعې د ګنه او جرم داساس او شعور په واسطه کوم وجداني او قلبي اضطراب او پریشاني موږ ته را پېښوي نشي زائلولای لکه دعلاج او حل د پاره چه لار او طریقه هم نشي ګرزېدلای .

دغه رنګه لاشعوري قمع (۱) هم پداسې مواقفو او حالاتو کښې شه کار نشي کولای ، ځکه چه اشکال یخ له برنه نشي بېرته کولای بلکه وخت ناوخته به ځینو نورو داسې بېواو اشکالاتو کښې ځان سړي ته ورښکاره کوي چه تر پخوا انه به ئې زحمت ډېر وي لکه به دمخینو مثالو کښې چه یې موږ بحث او بیان وکړ .

زموږ وروستني او یوازیني نصیحت دادی : چه خپل مشکلات دداسې سړي سره پرمیدان ووایه چه هغه ستا باوري وي داد نې دپاره چه دهغه په رأیه او نظریه ستا نسلي حاصله او وحشت دې ورك شي ، او دده نصیحت و نغوږه ، ممکنه ده چه مشوره به دهغو مشکلاتو بېتیه چه ستا پر زړه ئې فشار راوړیدی سپك او اضطراب او پریشاني به دې تر پخوا لږ کاندي ، ګمان کوم ته به زما سره زما پر دغه نظریه موافقه لرې او دا به را سره منې چه دا نصیحت د تجربې وړ او ددې لایق دی چه وازه ویل شي یوازي. ته نه ئې ته دا ګمان مه کوه چه په نړۍ کښې ځینې خاصې خاصې وېرې یا اندېښنې چه

---

(۱) لاشعوري قمع یوه علمي اصطلاح ده او هغه دې ته وائي چه سړی یو د خوشحالیه یا خفګان اندېښنه په لاشعوري او غیر ارادي توګه له خپله زړه شخه لیرې کاندي او له خپلو خاطراتو شخه ئې قطعاً محوه او ازاله کاندي خو دا محوا او ازاله چه لاشعوري او غیر ارادي صورت سره وي (واسعی)

سړی ئې د ور په زړه کولو شخه دغانه سره وشرمیږي، یا کوم داسې رغبت او خواهش چه خوندور او په زړه پوري وي پوازې تا ته در پېښیږي، په بلکه هر یو ازمینت او ترخه تجربه چه تا تېره کړې او تا ئې زحمت لیدلی دی پر نورو کسانو هم ورغلې او هغه چه تا ئې خنې لیدلی او پر تا تیري شوي دي دوي هم ور شخه لیدلې او پر تیري شوي دي، او داسې آرزوو هیڅ وجود نه لري چه تا دې درلوده لې وي او غیر له تا نورو دې نه وي درلود لې.

او څنګه چه انسانان ټول پخپلو عضوي اساسي ضرورتونو او حاجاتو کښې کوم چه دهغو مړ ول دد وي دژوند دبقا او دژو ند ی پاته کېد او دپاره لازمي دي سره شریك او یوشانته دي، لکه په هغو اجتماعي ضروري حاجاتو کښې چه هم سره شریك دي کوم چه دهغو تر سره کول ددوي دژوند دنېکمرغتیا او سعادت او خوښۍ خوشحاله ژوند دپاره لازم دي، نو دوي ټوله ددغو حاجاتو دمړ ولو او تر سره کولو په لار کښې یو له بله مصادمه سره کوي او هر یو دخپل حاجت دپاره زیار باسي دلته دانسانانو په حاجاتو او مشکلاتو کښې یو ښکاره او ظاهر تشابه موجود دي، او له همدغه جهته دا یو ه تر طاقت او قدرت لاندې مسئله ده چه سړی دا سې توجیهاتو او عمومي علمو او عواملو ته ورسیږي چه هغه دې دهر فرد دمشکلاتو او د ژوند د ګرانتیا وُد حل دپاره اساسونه وبلل شي.

ته یو سړی او یو فردئې، او دا معلومه ده چه په ډیرو خوا ؤ کښې دبل فرده شخه ډېر مخالف ئې، مګر په عین فرصت کښې یو انسان او بشري فرد ئې نور و بشري افرادو ته په متشا بهو حاجاتو او متشا بهو مشکلاتو کښې ور ته ئې، او د مشکلاتو وسایل هم ستا او د نورو افراد و سره متشا به دي یعنې کوم وسایل چه نور د مشکلاتو سره مواجه کوي هغه وسایل تا هم د مشکلاتو سره مخامخ کولای شي. دا حقیقت ستا له او ز د شخه یو درو ند پېټی په هغه وخت کښې اخلی چه ته یو غم ددې جهته په زړه کښې پټ ساتې چه ته دهغه دعلاج او ازالې په باب کښې دخپل عجز او بې وسۍ شعور او احساس

کوی یا په اجتماعی تکیف (۱) کښې دیوی گرانی او سختۍ سره مخامخ ئی، یا دیوی پرزحمته تجربې یادیوی گرانی او سختی آرزوسره مواجه ئې چه لاس ته راوړل ئې خورا زور غواړی.

ناکامی او په سهو او اشتباه کښې نښتل، اودخیال اوفکر خطا را تلل او سرنه نیول عمومی انسانی اوضاع اوحالات دی بدې کښې پرتاهیڅ گرمه نسته چه نه دکارو په شپه پرمخ بېولو او کامیا بانه جریان کښې موفق نشی اوترشارا شی.

ناکامی بالذات څو مره لوی اهمیت نلری، مگر کوم شی چه ستا فکر باید ورواوړی هغه په ناکامی راضی کېدل دی. په خطا کښې اوېدل هم څه اهمیت نلری، مگر پر خطابانډی علم در لودل او بیا بیاخطا کول دا کار نه جائز دی او نه معقو ل نو که سړی په همدغه قسم مشکلاتو اخته سی بې شکه ئی دعلاج دپاره دمشورې مرستې ته احتیاج لری.



---

(۱) ـ اجتماعی تکیف : دې ته وائی چه فرد په ټولنه کښې یوداسی مخ په ځان واغو ندی چه دهغه په واسطه انسان په ټولنی او اجتماعی ژوند کښې موفق وی او خپل مقصد ترلاسه کولای شی. (واسعی)

اولسم فصل

صحیح اوسمژوند اجتماعي ژوند دی:

زیاتره اوقات سړی دخپل ماحول پهمقابل کښې دیوه مشکل سرهدخپل وضعیت او تکیف په باب کښې مخامخ شي یعنی انسان حیران وی چه څنګه وضعیت د هغه مشکل دحل دپاره غورهاود کومې لارې ئې پرځان سهل اواسانه کړی؟ نو دی بعضو داسې طریقو اولاروتهلاس رواچوی چههغهله هغو طریقو څخهچه موږئې ښوا شرحهو کړهمخالفي وی.مثلاً کله کلهسړی تهد کومو سختیو څخهدخوب واند ښتو (احلام الیقظه) پهذریعه یادښوااوتیروزمانو دخوند ورو اوقاتو دور په زړه کولو پهواسط خلاصېدل نهوی ممکن ، مګردلته یوشمېر مختلف وسایل موجود دی چه کهڅههم هغه دسړی دآرزوګانو دپوره کولو دپاره لکه دمخه بیان شوی وسایل چهفعال اومؤثروهندی فعالخو بیاهم دحاضرشوو مشکلاتوسرهیوسر ښږن تماس لری اوسرسری اوسطحی غوندی علاج ئې کوی.

اجتماعي ګوښه کېدل :

پهموږ کښې زیاتره کسان دنورو سره ګډون اوناستې ولاړې تهڅخه لری ، دغه رنګه زموږ دزیاترو کسانو داخوښهوی چهدخپل ماحول اوشاؤ خوا کسانو دی دی خوښ وی نو کهیوهسړی تهداخبره ګرانه اوسخته پهنظر ورشي چهپخپلو اجتماعي روابطو کښې کامیاب اوسي نو کله کله دا اسانه ورته وبریښې چهتردې روابطو تېرشی اوتردې چه دښه کولو کوښښ ئې وکړی دا اسانه په نظر ورسی چه ګام تروا ړوی ، اودا هغهصورت دی چهالتجاء ورته ناجائزه ده کهڅه هم غالباً د هغه سړی دپاره چهدخپل وضعیت اوتکییف ثبوت غوا ړی یوارځنی لارده.

ګله کله سړی ګوښه کېد او تهالتجاء وروړی اوځان دومره ګوښه کړی چه فقط دی او خپل ځان وی او بل دهیڅ چاسره تماس نکوی، پدې لار کښې ترټولو عجیب اوغریب هغه څوک دی چه دراهب غوندې پهصومعه کښې وژوند کوی او د کورنی حیات یا اجتماعي خوندورژوندهڅخه برخهندری. کله کلهتهیوز لمی یا ښځه وینې

چه پر هم دغه لار روانه وي که څه هم د دوی سلوک طبعاً د راهب تر وضعیت لېږ غرابت لري .

د دې دپاره به موږ هغه شاګرد د مثال په ډول راوړو چه تل د ځانه سره یوا زی ، او د درسونو تر میانځ په تفریحي او فاتو کښې د نورو هلکانو سره ګډون نکوی ، بلکه یوازی ګرزی او دی او خپل افکار او چرتونه سره پاته وی . د درسي روحي تر تمامېدلو وروسته لکه نور شاګردان په مکتب کښې د سپورټ یا نورو ساعت تېر یو دپاره نه پاتېږي ، سر بېره پر هغه په مکتب کښې نه د کومې ټولګۍ یا مجلس او نه د کومې ډلې غړی وی او داسې نه وی ښېښه شوی چه دده د لید او او ملاقات دپاره دی کوم شاګرد دده کورته ورغلی وی ، یا دی یوه شاګرد دی خپل کورته ور بللی وی ، ده به تل دا ویل : چه دده تر هر څه دا خوښه ده چه دی او خپل ځان سره پاته او خپل زاړه درسونه او لوستلی اسباق تکرار کړ ی .

په حقیقت کښې شاګرد په سپورټي لوبو کښې مهارت نه درلود ، او د سپورټ په ډکرو کښې ئې د خپل عجزاو کمزورۍ شعوراو احساس کاوه ، او د مخه د ثانوی مکتب تر شمولیت به ئی په ابتدائی مکتب کښې همېشه تر ځان دوړو هلکانو سره سپورټي لوبی کولی او پردوی به ئې د خپل تفوق شعور کاوه ا و هېڅ چا به پرده د تنبلۍ یاسهوی او خطانه ویل . مګر په ثانوی مکتب کښې خوده د کوچنیو هلکانو سره لوبی نسوای کولای ، او د خپلو همزولو سره ئی ځکه چه په موټ او بازونه وو ورسره برابر ، او بل دا چه دا اندېښنه به همېشه ورسره وه چه ملګر ی به ئی صریحاً یا اشارتاً ملنډی په ووهی لوبی نکولې ، د ې افکارو او اندېښنو دی د خپلو همزولو او د مکتب له ملګر و څخه لیری کړی او د ځانه سره ئی یو ازی پرې ښ اېښی ، تر دې اندازې چه تر ځان د کشرانو سره ئی هم علاقه پرې شوی وه ، او ځان ئې یو او یوازی په نظر ور تلی .

شو مره به ښه وای که شاګرد د انسانی طبیعی تمایلاتو فهم د کومو چه دده د دغه وضعیت او سلوک مسبب شویدی کړی وای . پدې کښې څه شک نسته چه دده دې ته

هوا کېږي، چه پخپلو همزولو کښې ئې مقبولیت ارلای، مګر کوم شی چه ده ئې فهم نه وُ کړی هغه داؤ چه ده ته خپله نیمګړتیا نه وه معلومه چه هغه د سپورټي لوبو مشق او تمرین، او د خپلو موټو او بازوګانو د زور او قوت زیاتول او سپورټي حرکاتو ته ځان غښتلی او آماده کول وه. ده کولای شوای چه بېچ باب کښې مرسته ورسره شوې وای، بېچې شرط که ئې د سپورټ د ښوونکی شخصه په مکتب کښې نصیحت اروېدلی او د بدنی روزنې د استاده شخه ئې استفاده کړې وای ته ځان آماده کړی وای.

نو که ده ته په سپورټي لوبو کښې د خپلو ملګرو سره شمولیت ممکن شوی وای ده ته به په ټولو اجتماعي ډګرو کښې ځان ګوښه کولو او نه شمولیت شعور نه وُو ربښې او دا به ډېره ورته ممکنه وای چه د مدرسې د مجلې د تحریریه هیئت یا د صحنې په لوبغاړو کښې ئې ګډون کړی او خپله آرزوئې پکښې موندلې وای غیر له سپورټي ما حول له شخصه ئې په نور و ساحو او شقو قو کښې خپل استعداد او موقعیت څرګند کړی او لاس ته ئې راوستلی وای، ده ځکه د نورو شاګردانو شخه ځان لرې وساته چه ده دا شعور کاوه چه ددوی په ډله اوددوی سره په شمولیت کښې علاوه پرنه موفقیت بېچې هم دده یقین وُ چه پدوی کښې حسن قبول نلری او ددوی شبه نه ځنی راځی. نو ددې دپاره چه دی ددې مهمو آرزو ګانو او حاجتو نو په ډېر و لو کښې کومی چه موږ هر یو اشتراك پکښې کوو ناکام پاته نه وی ده د ځانه سره دا فیصله وکړه چه دټولوو ګړو شخه دې جلا او یو یوازی او بدبخت دې وی.

چاچه ځان وپېژند هغه یوازې والی غواړي:

د عزلت او یوازیتوب سلوك زیاتره د لویو او هسکو کسانو کار دی، مثلاً هغه مامور چه ده ته خوند، لذت په ګوښه والی او عزلت کښې په نظر ورځی مګر په حقیقت کښې دی د خپله ځانه شخه ندی راضي او د هغه شاګرد سره مشابه دی چه موږ ئې په دمخه مثال کښې بیان وکړ کمشه هم دی ترهغه پوره (۱۰) کاله مشردی، او دده شخه د ځان اردخپل

موافقه په فهم او پوهېدنه کښې ترشاګرد انتظار ډېر کېږي مګر خبره داده چه مشر توب
او عمر ذاتاً او اساساً ددغه فهم په قدرت کښې اهمیت لري ځکه لویان هم کله کله
چه د نورو آراؤ او افکارو ته خضوع وکړي فایده اخلي پوهېږي پخپله اوې وظیفه ځکه
چه د زده کړې او انکشاف او د ترقۍ موقع ورته پېښه. اعدوه ډېر خوشحاله ؤ ، مګر
دخپل کار دورځنی پروګرام په ترتیب پداسی صورت چه خپله وظیفه په صحیحو اسلوبونو
سره اجرا کاندې ډاډه نه ؤ ، نوځکه په خپله رأیه اعتماد نه درلود او د ځانه سره به په دوه
زړه او متردد ؤ ، لکه دخپل ماحول او اطرافیانو شخصه د مرستی او نصیحت په غوښتلو
کښې چه هم متردد ؤ . له همدغه جهته شخصه به ئې خپل او امر په شدت او سختی او تر یو
تندې صادرول ، او دخپلو ترلاس لاندې کسانو سره به خوش طبعی او ورین تندی
عادت نه ؤ ، پدې فکر چه که نرمی ورسره وکړي حیثیت به ئې خراب او سهم او هیبت به ئې
ددوی په نظر کښې کم شي نوځکه د دوی شخصه ځان دومره لیری او لوړ کړ چه هیڅ
یو ده د کار او طرز عمل د تنقید او اعتراض موقع او فرصت و نه موندلای سی یو وخت چه به
ده دغرمې ډوډۍ یو ازې خوړه او د اداري نورو مامورینو به ئې یوځای ډوډۍ
سره خوړه او توله به په خوشالی پریوه مېز سره راغونډوه : ده به زړه ورته پخسېده
او قصد به ئې په کېده سره لدې چه د ترفع او آمریت اراده ئې نه درلوده خو خپل او امر ئې
په نرمۍ او دوستانه ډول نسوای ورته صادرولای ، نو ده داسلوک او وضعیت
د بدبینۍ له پلوه نه ؤ چه د نورو شخصه ئې بد راتله بلکه د دې شخصه ئې نشئت کړی ؤ چه
پخپلو شخصی روابطو او تعلقاتو د نورو سره ډاډه او مطمئن نه ؤ . او دده دسلوک ترشا
دا شعور موجود ؤ چه دی دخپلی وظیفی صلاحیت نلري او نه دخپله عمله سره ملائمت
او مناسبت لري دغه احساس او شعور د ده په زړه کښې یو قسم شک او تردد غوندې
پیدا کړی ؤ لکه ده چه د ځانه سره په شدیده شخه دې ته درلوده چه د هر چا سره دې ددوستۍ
او مهربانۍ له لارې ژوند وکړي او که ده لږ غوندې صبر کړی وای دا به ور معلومه
شوې وای چه د ده تر لاس لاندې مامورین دې ته آماده او حاضر دي چه دی دیوه رئیس
او اداري آمر په حیث ومنې او پدغه صورت کښې به ده هم ډېر اطمینان شعور او احساس

دځانه سره کړی وای، ځکه چه د ده د تر لاس لاندې مامورين بدې پوهېدل چه دی
باید د وی ته لارښوونه وکړي او هدايات ورکړي، او د وی دغه کار ته تسليم وه خو دده ته
د خپل اطمينان او پر ځان د اعتماد چم نه ور تللي چه په څه تو گه په ځان کښې د اشعور پيدا کړي
چه د ده اعمال او تصرفات پخپله د ده په نظر مقبول ورولي او د ترديد او شکه څخه ئې
پاك او خالي وبولي.

د يو چادپاره د ځان نه پېژندنه ډېره وزحمتو او بدمرغيو باعث گرزي او شديد حساسيت
دعدم اطمينان سره جوړه نشو ونما کوي کله کله خبره دې اندازې ته ورسيږي چه
اصلاح ئې بې لدې نه وي ممکنه څو ديوه د اسې سړي څخه مرسته حاصله کړي شي
چه هغه د تجربې څښتن او د همدغسې موثرو ذاتي او شخصي مشکلاتو پر کشف پوره
قدرت ولري او پرده ئې له مخه څخه ليرې کولای شي او د اعتماد بالنفس د شعور
په نشوونما کښې لاس ولري. د امامور همدغه قسم مرستې ته محتاج ؤ ځکه دی د خپل
نوې ماموريت په مسئوليتونو کښې لاهو ؤ، تر دې اندازې چه هر څه چه به ئې ډېر
فکر پکښې واهه هغو مره به ئې اضطراب او پرېشاني ډېره پيدا له. د اسې پېچيده حالات
يوه معقوله د احساساتو څخه خالي نظريه غواړي چه په خصوصي ډول ئې ترغور او
دقت لاندې ونيسي او د حل لار ئې ومومي، د اچه سړی د نورو د گټونه څخه ځان
گوښه کړي د کار د اسانتيا او د چارو د پرمخ بولو او جريان د پاره څه فائده نه کوي
او نه کومه مرسته پکښې متصوره ده

د نقص او نيمگړتيا شعور اجتماعي اړيکې غوڅوي:

دلته يو بل مثال د يوې پېغلې دی چه تنهائي به ئې خوښه وه او د هر چا سره د گډون
يا کوم شيان چه اجتماعي روابط به ځني پيدا کېدل ليرې ليرې به گرزېده مگر
د دې پېغلې قصه د نورو څخه ځانته قصه ده، د اځکه چه يو واحد سلوك د د اسې اسبابو
او عواملو څخه پيدا کيږي چه هغه سلوك په نورو افرادو کښې د د اسې اسبابو څخه
نشئت موندلی وي چه د هغه بل فرد د سلوك د اسبابو څخه قطعاً ځانته او مخالف
وي او د دغه حقيقت فهم تاته ډېر مهم دی، ولی که ته پدې باب کښې پوره معلومات

حاصل نکړي دخپلو ورونو، خوندو، او پېژندو پوهنلو که او نفسياتو په تفسير او تأويل کښې به داشتباه او خطاسره مخامخ شي او هيڅ بوبه په حقيقي ډول ونه پېژني داپه ځله چه په مدرسه کښې وه دازادانه نشاط يا ساعت تېريو اولو بوته ده ځي او خواهش نخښي نه پرمعلومېدې، خود خپلو درسونو په تحصيل اوزده کولو کښې به ئې ډېر کوښښ کاوه او زيا تره اوقات به ئې په کتابخانه يا به کور کښې د درسونو په تکرار تېر ېدل. دمدرسي څخه به کورته او د کور څخه به مدرسې ته يوازي تله دتفريح په ساعتو کښې به يوازي * درزېده او دچا سره به ئې گډون نه کاوه، تېر دي اندازې چه ډېر ډېر به ئې لاهم کوښي خوړه، او دهغه شاگرد غوندي وه کوم چه موږ په دمخني مثال کښې دهغه بيان وکړ، دې ته دافکرور لوېده چه دامو فقه ندهاو اجتماعي روابط نشي پالالای، دهمدغه شعور په واسطه داله نورو څخه لېري شوې وه او ځکه چه په روابطو او اجتماعي ژوند کښې ئې دتنقيدونو احتمال له ځانه سره سنجولی ؤ نوئې د همدغه احتمالي تنقيد ونو څخه دژغورني د پاره د اجتماعي ژونده څخه لاس اخيستی او يوازي ژوندئې غوره کړی ؤ.

ددې* پېغلې په وضعيت کښې دتعجب وړداؤ چه دلته کوم داسي شی نه ؤ موجود چه دهغه په واسطه ددې په شان کښې داوويل شي چه دانسبت نورو کسانو ته ځان ته په نقص او نميگړ تيا قائله وه او ځان ئې تربل چالکم او کښته نه گڼه، ځکه چه دا دخپلو درسونو په زده کړه کښې ډېره مړه نې وه لکه ښکلې او ښاقواره چه هم وه رقص ئې هم ښه کاوه، که څه هم اې د دې ديو څو تنو همز ولو نجو نو څخه په مدرسه کښې بل هيڅ چاته ددې مهارت په رقص کښې نه ؤور معلوم نوارس دا معلومه شوه چه ددې سره داسي حقيقي اسباب نه وه موجود چه هغو دې دا په ځان بې اعتماده کړې وای مگر بياهم د دې دځان سره داعقيده وه چه دانه کوښښي ده، او نه قواره او نه يوه چاره کښې دچارو چه دائې کول وغواړی مهارت او لاس لري، دغه رنگه ددې دتحصيل او ددرس زمانه ددې دژوند يوه نېکمرغه دوره نه وه، اوله بده مرغه دې په هغو حقايقو کښې هيڅ فکر نه ؤ کړی چه ددې پر موقف چا پېر را گرزېدلې،

او د هغو په واسطه ئې د یوه پیچیده او غامض شعور په حالت ژوند کاوه او د دې پر ځای چه یو د غسې شعور ور سره موجود وي د یوه اطمینان او قلبي ډاډ او پر ځان اعتماد ته اړه وه ، خو د زمانې او روځو و شپو په تېرېدلو د اجتماع او خلقو څخه نوره هم ګوښه او لیري شوه ، او هر وخت چه به د فرصت او موقع په ایجاب او ضرورت د خلقو اجتماعي رابطې او اتصال ته مجبوره شوه د اضطراب شعور به ئې نور هم پسې زیات شو او وسوسه به ئې ډېره شوه.

کوم وخت چه له تحصیل څخه فارغه ، او وظیفه ئې ومونده نو هغه شعور او د عدم اطمینان احساس هغسې ور سره پاته او نه وه ځنې فارغه، او د خپل مأموریت په ځای کښې د ډېرو لیکونکو او مؤظفو پیغلو نو په ډله کښې یوازې وه او په یوه سرئې ګذاره کوله ، نو به دې خبرې ته ډېره حیرانه وه چه د خپلو ملګرو سره پر بې تکلیفه خبرو قدرت نلري . دې به اورېده چه اداري ملګرې ئې سره ګډ دي چه په اتفاق سینما یا د چا یو خوراک یا یوه دوستانه تفریحي سفر ته سره ولاړې شي مګر دې به سم د خپل عادت سره هیڅ کوشش نه کاوه چه په دوی ځان ور ګډ کړي او دا فکر و کړي چه دا هم د دوی یوه ملګرې ده .

په اول کښې دوی دا پېغله ډېره ور ګډوله خو چه د دې لېرې کېدل او ځان کښېنول ئې و لیده نو ئې بیا باک نه په کار نه وو ئې پرې ئې ښوده ، د دې به ډېره هوا کېده چه یوه خو نه وره او جدا به خبره او وینا و کړي مګر د عدم قدرت اندېښنه به ور ولوېده او به ئې په خیال کښې ورو کرزېده چه نه ئې شي کولای ، نو ئې دا ښه وګڼله چه په ورستنۍ او د شا په قطار کښې اوسي یا و نورو ته په تعجب کتونکې وي او د دوی په خوشحالي او مستۍ ئې سترګې وسوځي حسد ئې ور سره پیداشي ، پر ځان او پر قواه ژوند ئې نیت بد او زړه ئې د ګرومه ډک شي .

ته پوهېږې چه کوم اسباب دي چه پېغله ئې د نورو څخه ګوښې کړېده او سر بېره پر هغه پخپل ګوښه والي او پر ګډون د قدرت د نه درلودلو په واسطه خفه او زړه تنګې وه؟ او کوم شې دی چه دائې دې ته را اړ ولې ده چه کټ مټ هغه د سلوک

طریقه چه دې په مدرسه کښې عملي کوله او دې ته ئې بد مرغي را وستلې ده چه خپل عمومي ژوند او عمل کښې تطبیق کړي؟ هریو سلوک او وضعیت همیشه یو سبب او علت لري چه دغه سلوک او وضعیت تفسیر کوي او معلول ئې بالله کیږي . که پیغلې یوه گړۍ په صراحت او امانت او ارت نظر په چار و کښې فکر او تدبر کړی واي ، او که دې دخپل موقف او حالت په باب کښې دخپلې معلمې سره په مدرسه کښې یا دخپل رئیس سره په اداري او وظیفوي محیط کښې ، یا د یوه بل کوم سړي سره چه په شخصي مشکلاتو کښې د تجربې خاوندوي خبرې او بحث او مصلحت کړی واي احتمال ئې درلوده چه ددې دې بدمرغه او تراو سنۍ حیات ښه ژوند په برخه شوی واي او خپل اجتماعي روابط او علاقات به ئې ټینگ کړي . او په دغه صورت سره به ئې په ژوند کښې خوښي او نیکمرغي موندلې واي .

په نیمگړتیاد شعور ترشایوه قصه شه:

ددې پیغلې دژوند قصه داوه چه : دې دوې غبرگولې خوندې درلودې چه دواړه تردې دوه کاله مشرانې وې ، او غبرگولې او لا دونو ته دغبرگولي والي په واسطه دهرچا ستر گې ورا وړې ، مگر زموږ په دې قصې کښې غبرگولیانې دواړه خورا ښکلې او په شکل او بڼه او بخپل جدو جهد او په دې چه پرهرچا گرانې او د ټولو خلقو ښې ایسیدې دامتیاز مېرمنې وې دهمدغو مزایاؤ په واسطه غبرگولیانې به کور بلکه په مدرسه کښې له هغه وخته ځنځه چه وړې کتون کښې وې دهرچا داهتمام او التفات مور د گز زیدلې او زموږ پیغله ددوی دوو په مقابل کښې چه دهر نقطهٔ نظره ځنځه ئې بردې تفوق درلود مشتمله او دعناد او حسده ځنځه ډکه وه رښتیا داده چه دې پیغلې کنفرانسونه په مدرسه کښې دا رښه وه خو دغبرگولیانو هغې امتیاز درلود .

ددې گوشه او ږ دې او ډیری جذابې وې مگر دخوندو رښتنان ئې پېچلې طلائي او ږدې خونه وروه . کوم شی چه دې ته ډېر گران ؤ هغه داؤ چه ددې دوې خوندې چه اوئې سوې دیوي خوائي ښکلا او جمال او له بلې خوا ددوې دوو اعتماد چه په ټولو مراقعو کښې ئې پر خپلو ځانو درلود ددوی ښکلا نوره وړزیاته کړه او پیغلې ته به

چه دا له مقابل خپله سړی دائی روح او ساده‌ګی ورته زړه سوه نوره به‌هم سړی دائی او
د تردد حالت به ئی لا پسی ډیر شو . مثلاً غیر ګولیانی به یو له بله سره ګډی وې او په خوښی
او خوشحالی به ئې خبری سره کولې مګر ډله به په ټه خوله او یوازی ناسته وه هیڅ به ئې نه
ویله د غیر ګولیانو به خولې د خندا ډکی او په ورین تندی ښکاریدلې مګر زموږ پېغله به
خوابوږی او بې سره مالومیده . په عمومی ډول د ښځینه ولی سړو کې او وضعیت هیڅ کله د دوستی
او ګډون شخه تعبیر نه کاوه بلکه داسی حال کښی چه ډیری ئې زړه غوښته چه کاشکی د هر
چا سره د امحشوره وای او دوستی او ګډون ئی ورسره درلودلای دې حالت څو کاله
دوام وکړ څو پېغله ۲۰ کلنه سوه او دائې درک کړه چه دا خوابوږه ده او د فهم او فکر
له خوا نبه نده . او له بد مرغه هیڅ شو کی پردې پېښ نشوه چه دې ته ووائی چه دا ډیره
ښکلی او ښایسته ده ، او هیڅ سړی مرسته ورسره و نکړه چه د پټی خولی او انزوا څخه ئې
راوباسی او د خپلو خوندو غوندی جذابه او د خپله ځانه شخه راضی دی او د خلقو سره
په تعامل او ګډون کښی د سعادت او راحت شعور او احساس وکړی .
د پېغلی احساس بخپل عدم جاذبیت بدې کښی ریښه و نیوه او پکښی ټینګ شو به
دې اندازه چه له خلقو شخه ئې لیری کړه ، او د هر دو داو دستور او مناسبت شخه ئې
کوم چه د دې د اتصال ایجاب ئی له دوی سره کاوه ځان وژغوره او پرمخ ئی
پر ګړون ځنی وکړ . د دې خیر او ښېګڼه به په دې کښی وای چه دا بدې پوهه
شوی او دائی درک کړې وای چه افراد ټول له یو له بله سره ځانته او بیل دی ، او
هر یو ځانته خپل محاسن او مزایا لری مګر هغه اتجاهات او افکار چه د کوچنیوالی
شخه د دې سره وه هغه پکښی ټینګ شوی وه ، دا اول وار په مدرسه ، بیا په
ماموریت او وظیفه کښی بدې قائمه شوې وه چه دا نسی کولای چه د خپلو
همصنفیانو سره مساوات وکړی ، او تل به ئې دا آرزو وه چه کشکی دا داسی
نه وای لکه دا اوس چه ده . مګر د بده مرغه غیر له دغی تشی او محضی آرزو
د هغه ئې یو قدم هم عملاً وړاندی نه واخیستی ، سره لدې چه غیر ګولیانی که
هغه هم جذابی او زړه وړونکی وی مګر تفوق ئی په هغه اندازه نه و کوم چه

دپېغلي په خیال ورتلې او ځان ئې په هره خوا کښې تردوی کم او کښته ګڼي.

هر سړی ځانته جلا فردیت او شخصیت لري کوم چه هغه ته نظر په کار دی او مطالعه ئې لازمه ده او بایدد اعتبار په سترګه او په دا ډول التفات نظر ورته وسي چه دنشوونما دپاره ئې اقدامات وشي او کوم شی چه غالباً ئې پیغلانې اراده لري هغه دا وي چه دوی دهغو ښځو تقلید کوي چه هغه دهر چاله خوا ، ښې او فوق العاده ښځې بلل کیږي او تر دوی په عمر کښې اوپانې وي ، یا د سینما دا یکټرېسانو (ستورو) یا دفني ښځو کومو چه په فن کښې نبوغ ته رسېدلي وي تقلید کوي مګر ضروري او لازمي شی دادی چه په دې ډولو صورتو کښې دوی ته پرخپل ځاني طبیعت او کوم نفسیاتي او مزاجي حالت اعتماد او باور په کار دی او اساس ئې همدغه اعتماد دی ، نو کوم وخت چه دوی خپل خصوصي ممیزات او مزاجي خصوصیات دخپل اهتمام او غمخورۍ مرکز وګرز ولای شي ، او دلاسه ئې وشي چه خپلو نفسي مزایاؤ ته دنشوونما له حیثه پوره توجه وکړي ، نو به په خپلو اجتماعي روابطو کښې ډېرې موفقې ، او په ژوند کښې به داسې نېکمرغه او مسعودې وي لکه یو څوک چه وي !!!

او ددې دپاره چه ته پرخپل مزاج او دنفسي ساختمان پرلار و لاړسې تاته دا لازمه ده چه خپل ځان وپېژنې . او داپېژندنه ستاڅخه دا غواړي چه ته په امانت او واقعیت سره ځان تر بحث او مطالعه اوداسې لاندې ونیسې او کم وخت چه دغه مطالعه تا ډېره وکړه نو به تاته لار صافه او هواره شي.

داجتماعي روابطو ښه کول:

دبشري خصوصیاتو څخه یو خصوصیت دادی چه خلق یو دبل ګډون او ناستې ولاړې ته هڅه کوي ، او دا ښکاره او هر چېرې لیدل کیږي چه خلق په ګډون او یو ځائي ژوند داجتماعي نشاط څخه خوند سره اخلي نو کامیاب ژوند اجتماعي ژوند دی او څوک چه یو ازې او منزوي اوسي دبدتکییف (ناوړه ژوند) یوه لویه حادثه په واسوي بلکه پر دې به دلیل اقامه کړي چه دده ژوند یونا مسعوداو غیر راضي

ژوند دی دلته داسې یو عمومي قانون او کلیه قاعده (فار مو ل) نسته چه هغه دې موږ ددې لارښوونې او هینداره وبولو چه هر فرد دې دهغه پذریعه ځان دنورو محبوب کړي او پخپل اجتماعي ژوند کښې دې موفق وي ، خودوغومره قدر ممکنه ده چه په ځینې داسې افکارو او توجیهاتو پورې لاس ونیسو چه هغه دهمدغه مقصد او غائې د ترسره کېدلو سره مرسته کوي .

ممکنه ده چه پدغو لارو او توجیهاتو کښې دې بعضې هغه توجیهات وي کوم چه موږ دمخه اشاره ورته وکړه هغه داوه چه وقایعو او حوادثو ته مخامخې او مواجهه یوه ضروري مسئله ده دېهغلي (دغبر گولیا نود خور) په حالت کښې د او قایعو ددې وړیړه چه سړی زړه ور کاندې یعنې مشجع وه مگر ددې تکالیف او مصائب لدې څخه پیدا شوه چه ددې خپلو شخصي ممیزاتو ته هیڅ یوه غمخوري او اهتمام صرف نه کړه او دادې جهت چه دخپلودوو خویندو بارز واو برجسته ممیزاتو دا تحت الشعاع اوهرڅه ئې ځنې پاته کړه لاس ؤپښه شوه همدغسې د شاگرد په وضعیت کښې هم دا ممکنه وه چه ده په دې شرط (چه خپل مشکلات ئې پېژندلی او د واقعیت له خوا او په رښتیا ور وړاندې شوي واي) دمدرسې او تحصیل له ژوندنه څخه به ئې خوند اخیستی وای، او دمثال په ډول به هغه مدیر او اداري رئیس هم (که خپل قدرت چه په خپلوا داري چارو کښې ئې درلود پېژندلی او ور معلوم شوی وای) تردې به زیات او ډېر دزیردستانو او خپلو ماتحتانو سره دشخصي علایقو په ساتلو کښې موفق وای نو اوس موږ ته دا لازمه شوه چه همیشه دحقایقو سره مواجه او مخامخ شو او ستر گې ځنې پټې نکړو او ځان و نه غولو ولکه دا یو ښکاره حقیقت دی چه دشخصیت نشوونما دهمدغه شي تقاضا کوي او بې لدغه څخه امکان نلري .

بل له هغو توجیهاتو او طریقو څخه چه دورو پېمر فته او په عمومي ډول مرسته او معاونت رسوي دادي چه : ستا فکر او اندېښنه دې تر خپل ځان په نورو کښې داده او زیاته وي یعنې ځان ته دومره متوجه کیږه او تر خپل ځان نوروته ډېر متوجه اوسه ، مثلاً ځینې اوقات چه ته یوې میلمستیا ته ورو بلل شي داسې ډېر پښه شي چه پخپله

جامواو داوروو جاموسره دمقایسې فکر درپیښ شي، نوګه ستا فکراو اندیښنه ټوله په همدغه خوا کښې وي نو حساسیت به دې شدید سي او سوداو اندیښنه به دې پسې واخلي په همدغه فکراو چرت کښې به غرق یې. مګر کوم شي چه برتاسې عمل لازم دی او ته ئې باید حتماً و کړې هغه یدې کښې سخت کوښښ کول دي چه ته دمخه دعوت ته اروړتګ ځان ښه سمبال او اعلی لباس واغوندې، او کوم وخت چه دې دا کار و کړ بیانو دلباس او کالو مربوط ټوله اندیښنې او افکار دزړه څخه وباسه او یدې باب کښې هیڅ چرت مه خرابه وه. اوس نو ته په نور دمدعو ینو کښې فکروهه او ددوی دلباسونو او کالو ستاینه کوه، دائکه چه ستاینه دهرچا خوښه ده او په صفت هرڅوک خو شحا لیږي، نو به ژر په ژر نور مېلمانه راسي او تا به ستایي او ستاد کالو صفت به کوي داهغه وخت او په هغه صورت کښې چه ته پردغه شدید حساسیت (داچه په ستاینه هرڅوک خوشحا لیږي) بري ومومې او درک ئې کړې.

یو له هغو نصایحو څخه چه موږ ئې باید و کړو داهم دی چه ته باید خپلې توجه او اهتمام مخ دخلقو خواته وروا ړوي. ته ولې دې ته اراده نکوې چه ستاد همزولي دخوښې اور ضامندې شیان کشف کړې چه په څه شي خوشحا لیږي اود کوم شي هوالري، اوولې دخپل همزولي خبروته کومې چه دی ئې دخپلو هغوشیانو په باب کښې کوي چه دی ئې شوق او هوالري یدقت غوږ نه نیسې او په پوره توجه ئې نه اروې؟ نو که ته دغسې و کړې ژر به یدې پوه شې او دا به درمعلومه شي چه تا دغه ملګرې ته یو داسې موقع او فرصت تهیه کړ چه دهغه څخه ده خوند واخیست او پکښې خوشحاله شو. دغه رنګه هر وخت که تا به خپل ځان کښې فکراو اندیښنه لږ کړه ته به ځان ته دسعید او نیکمرغه وخت دتیرولو امکان موجود کړاې شې اوشپه او روځ به په سعادت او ښه مرغې او خو ښې در باندې تیریږي. دائکه چه موږ هغه وخت چه ځانونه هیر کړو دفکرتوازن مو ډیر او دراحت درجه مولوړه، اودوخت څخه خوند اوذوق مو زیارت وې نو اوهر لحه سعی او کوښښ چه کوو هغه یوازې په همدغه کښې کو وچه دوخت څخه خوند واخلو اوشپه او روځ مودې خوندوره وي، نودې ته وخت نلرو چه دجامواو کالو دښه ایښید او

یا بد ښکار ېږد لواند ښښنه‌او اضطراب راپېښ شي یا بر خپلو اوضاعو داضطراب فرصت ورو مو . ددغو نکاتو دتعمیل عزم و کړه ممکنه ده چه دا اسانه توجیهات به ستادټولو چارو مجرى ته تغیرو ړ کړی ځوك چه دخپلو اوضاعو د مشکلاتو علاج په انزوا او ګوښه ګیری سره کوی او مخامخ نه پرورځی داښئی چه دی دخپل ځان دفهم او پېژندنې څخه عاجز دی . او پر تنهائی او یوازي توب عادت نیول آخر سړی د سختو مواقعو او مشکلاتو څخه په تېښته اموخته کوی . خلق د سختیو سره په مخامخ کېدلو کښی متفاوت او سره مختلف دی "یو سړی به ځان په اند ښښنو خوشحاله کوی ، او بل به دځان زړه په پخواینو خاطراتو خوشحاله کوی مګر ځینی نور به بیاد مشکلاتو څخه په دې صورت تېښتی چه پر ځان به نسکوره کیږی (۱) .

طریقه چه هره یوه وی خوغرض او مقصد ځنی دادی چه ځان دهغه کرازند تیا او پریشانیه څخه ژغورل وی چه هغه زموږ دنا کامیه داحساس او شعوره پائی دهغه اضطرابه څخه نشئت کړی وی چه دنا کامیه سره لازم دی . او صحیحه لارداده چه موږ خپل د اضطراب علت څرګند او کشف او علاج ئې و کړو ، او دائی لارنده چه موږ اند ښښنو یا پخوانیو خاطراتو ته ځان وسپارو . که موږ داسی و کړو ممکنه ده چه دژوندانه څخه به خوندونه اخلو ، او په همدغو شیانو به دهغه خوندانه څخه پاتې او محروم یو .

---

(۱) دانزواڅخه په (پر ځان نسکوره کېدلو) تعبیر شوید ی ، او د ګوښه کېدلو او دخلقو سره دنه کېدون ګواو هغه اندازه ده تقریباً (رهبانیت) ته چه په اسلام کښی ممنوع دی تکیه کوی . (واسعی)

اتلسم فصل

د ژوند لوبه :

زیاتره خلق هغو لوبو ته مخه کوی چه دوی مهارت پکښی لری . نو دا به هیڅکله زما دخوښۍ وخوشحالۍ اسباب نکړي راغوند چه زه دبلیارد لوبی ته لاس ور ته کړم مثلاً او زه خپل ملګری وینم چه پرله پسې ئې وا ري سم منځلی یه اسی حال کښی چه زما توله وخت په هغوغو نه سکو کښی خاوری شی چه ماخطا کړی وی ، بلکه زماخوښی اوخوشحالی هلته وی چه زه لوبه وکړم اوپه دې پوه شم چه زه لبز تر لبزه دغو نه یم چه دمقابل طرف ساری او مساوی یم . پدغه موقع کښی دلوبی وړل یابایلل څه فرق نکوی خو ماته دغه خوند را کوی چه زه لوبه کوم اوښه لوبه کوم داسی چه په نتیجه کښی ئې زه دخوښۍ اوخوشحالۍ احساس و کړم . لو به چه هره لو به او دهری نوعی چه وی ځانته خاص قواعد او د اسی مخصوص قوانین لری چه دغو مراعات او تعمیل په لو به کی ضروری او لازمی وی ، اوهر لوبوړی ته دا معلومه وی چه کوم کوم شیان باید عملی او کوم څنی باید متروک او ځان څنی وژغورل شی ، او په هره اندازه چه څوک ددغو قوانینو مشق اوتمرین ډیر رو کړی په هغه اندازه په هغه لو به کښی مهارت پیدا کوی او کامیاب لوبغاړی ځنی جوړ شی .

لوبغاړی اولوبی :

ژونداو حیات هم یوه لوبه ده او لکه نوری لوبی خپلی قاعدې او معین او ثابت کلی قوانین اری چه عملی کول ئې دژوند دلوبی په نتیجه کښی مؤثر دی ، اوبل داچه دژوند په لوبه کښې ته دیوه غیر محدود اوبی شماره خلقو سره په لوبه کښی ولاړیې او دغه دژوند لوبه ورسره کوی ، او ډیره به لبز داسی پیښه وی چه ته به یوازی د ځانه سره لوبه کوې بلکه زیاتره اوقات دنورو سره په شریکه ژوند کوی نو که ئې شمار زیات وی که لبز او په زیاترو اوقاتو کښی دسړی څخه لو قدمونو چه پرله پسې ئې په تولنه کښی اخلی ډاډ او باور وی ، اوپر هر گام ددې دپاره یو موقفه کوی چه دځانه څخه پو ښتنه وکړی چه دغه قدم خو به غیر موفقانه نه وی اخیستل شوی . ممکنه ده چه کله کله

دی تا دا امید کېږی وی چه کهممکنه شی دداسی قوانینو او قواعد وشخه مرسته واخلی چههغه درله میسر اولاس ته دی درغلی وی یا کومداسی شو ک دهغومی چهلاس ته نیوی ئی وکی سمهاوصحیحه لارروښئی داښکاره ده چه د ژوند داو بی قواعد داسی ثابت یو نواخته او محدودندی لکهدسپورتی لو بی قوانین ځکه چه دژوند مواقف همیشهاوپه دایمی ډول په تغیراوتبدیل کښیدی ،نو دانده ممکنه چه مرتب او ثابت (لایتغیر)قواینن دی حا کمیت پرولری ،موږته لازمه اود ده. لیاقت وږخبره دا ده چه دخپلو پخوانیو تجربواو را باندی راغلوحوادثوپه رنما کښی پداسی ډولژوند وکړو چهدنوی راغلی تفسیر سره چهزمان اومکان ورسرهمواجه وی توافق او تناسب ولری،موږته لازمهاو ضروری ده چه ځان دهغودائمی تغییراتو سره چهپه روځنی ژوند کښی موږورسرهمخامخ اومواجه یو موافق وکړو اودعصر ایجاباو اوامراو تقاضاومنو اوسر ځنی ونهغړوو ددی روځنی تغیراتو سره به موږ ځان ته تغیرور کوو چهورسره اموخته شو اوعادت ورسره ونیسو شوموږته پدی تغیر کښی کامیابیاوموفقیت حتمی شی ،اوددې جهته چهموږدژوندمنظمو اومرتبو قوانینو دپارهیوه جامعه لایحه نسو جوړلای ، او نه هغه قوانین په یوه واحد لست او فهرست کښی انحصارولای سوخوداویلای شو چهدژوندهغهشیان چهورلهلازم اوپه کاردی (دژوندمقتضیات) تقریباً نسبتوموږ ټولوتهیوشیدی او تفاوت نهلری،ددې مقتضیاتوشخه موږ دمخهدوه گروپهاودوې مجموعې بیان کړیوې یوه ددغو دومجموعو شخهیعنی اومړ ی مجموعه : عضوی حاجتونهاوضرور تونهدی چهمړولاوترسره کول ئیدژوند او حیات دبقاء دپاره لازم او ضروری دی،دوهمه مجموعه اجتماعی حاجتونه دی چه دهغو مړول او لاس ته را واستل هغه وخت موږته لازم دی چه موږ په ژوند کښی سعا دت او نیکمرغی وغواړو که موږ علاوه پردغود وو گروپو دریمشی ز یاتهوو هنهبه جنسی حاجات وی چه باید موږ دې حاجاتوتههم حتماً داعتبار او اهمیتپه ستر گه وگورو داهغه حاجتونه دی چه پرعضوی او اجتماعی حا جاتو د و اړه د

بانډی شامل دی، او پداسی حال کښی چه دلته زموږ خاص اهتمام د اجتماعی حالاتو وخواته متوجه دی زموږ د شخصیت پوراینه او مکملیت ترډیری اندازې زموږ پر عضوی حاجاتو ولاړ دی نو که موږ د غو عضوی ضرورتونو ته بشپړه توجه او پوره پاملرنه و کړو زموږ بدنی وضعیت او جسمی حالت به صحیح شی او ځکه چه انسانی جسم دیوه واحد او پرله پوری وحدت غوندی کار کوی او د بدن متعدد داخلی او خارجی اعضاء دیوې واحدی دستګاه غوندی فعالیت کوی نو که بدن او جسم صحیح وی وجدانی او باطنی سلامت او روغتیا هم غښتلی او قوی وی هر څه پېښی چه پر لوېږی طاقت ئی راوړی او اجتماعي روابطو ته د نجاح او موفقیت فرصت پراخ او میدان ارت کوی. تاته به معلومه وی چه بدنی معمولی آفتونه ستا پر بدن څه اغېزی کوی، د غاښو درد، نری زکام یا یو عضلی تشنج څنګه ستا د ژوند صفائی در وېجاړه کړی او د هری چارې او هر عمل د ښه والی مانع ولوېږی، او هر څونه چه دې بدنی ناروغی زیاتېږی په هغه اندازه ئی پر تا اغېزه شدیده او ژوند دې وېجاړه وی.

او که ته پخپل کار او عمل کښی یوه معین حالت غواړی یعنی پخپل عملی ژوند کښی یوه تاکلی آرزو او هیله په زړه کښی لری نو ته به د خپل بدنی او جسمی حالت حتماً مراعات کوې چه د بدن ناروغی که هر څومره لږ هم وی بیاهم په یوه خوا کښی لا د کمزوری او عجز سبب ګرزی. که څه هم بدنی عامل کله راساً د هغه مشکل چه سړی ته ور پېښ وی مستقیم سبب نه وی مګر مساعد او مرستونی سبب خو وی، هم دغه سبب دی چه بدنی دقیقه معاینه که موږ غواړو چه د ژوند په لوبه کښی دې موفق او سوبه اوله درجه اهمیت لری نو ځکه پر تا حتماً لازمه ده چه عندا للزوم او د ضرورت په صورت کښی د خپل طبیب سره مشوره کوی.

نو پدې صورت کښی چه بدنی عامل یوازې عامل او سبب ستا د عمل د سوبې د کښته کېدلو نه دی نو دوهم قدم دا دی چه ته نو اوس اجتماعی عواملو ته و ګورې کوم چه کله کله ستا د هغه علت سبب ګرزی چه تا ته در پېښېږی. او اجتماعی عواملو ته ګتنه هغه وخت ممکنه ده چه ته لومړی هغه اجتماعی احتیاجات

و پېژنې چه د سلوک او اتجاهاتو د قواو انواعو تر شا غلي او پټ پراته دي یعني دا در معلومه او وپېژنې چه دا نوعه سلوک یا دا نوعه اتجاه د دې حاجت تقاضا کوي یا د دې قسم سلوک او اتجاه تر شا دا حاجتونه پراته دي. نو ممکنه ده چه د بدن د تول د کموالی یا ژر ستوماني یا د یوه ځای درد د موږ هغو عوارضو په شکل او حیثیت و پېژنو چه دا راښئي چه دلته ښې او واقع مشکلات او یو جسماني سبب موجود دی، او د دې عوارضو اهمیت تر هغو عوارضو ډېر دی چه د یوه مشکل وجداني او باطني سبب موږ ته راښئي لکه نورو ته اهمیت نه ور کول یا خوف او غم چه د چا سره ملګري وي.

موږ ته دا خبره ښکاره او واضحه را معلومه ده چه جسماني اعراض کله کله د خفقان او غم سبب ګرزي که څه هم ظاهري سبب نه ولري، مثلاً لکه په بعضو اوقاتو کښې چه د تول کموالی د اشتهاء د سقوط نتیجه وي کله کله یا د اضطراب او خفقان او غم نتیجه وي. او دا خو معلومه ده چه ستړیا او ستوماني لکه د خفقان څخه چه پېښیږي کله کله د ډېر ربړ او کوښښ څخه هم پېښیږي، او دا خو موږ پخوا لا ویلي وه چه د ملا دردونه کله کله د ډېر وغمونو د تحمل او برداشت څخه پېښیږي داسې لکه د درنو بارونو د اخیستلو څخه چه د سړي ملا درداخلي.

دا جسماني او بدني او غیر جسماني اعراض کله کله د وجداني مشکلاتو په سبب چه طبعاً وجداني عوارض هم ورسره ملګري وي نشئت کوي، مثلاً د طبیعت تندي او تیزي د وجداني عوارضو له جملې څخه ده، دغه ډول همیشه په اندېښنو او افکارو کښې لاهو کېدل، او شپه وورځ جنګ او جدل او وېدل، یا ګوښه ګیري او انزوا، یا د هغو وسایلو په التجاء کښې تر اندازه زیات توالی کول چه موږ پخوا یاد کړه د دې وجداني عوارضو پېژندنه او د دوی فهمول موږ ته ډېر ضروري دي ځکه د دوی وجود د دې دلیل او نښه ده چه بعضې وجداني مشکلات موجود دي لکه تبه او رعشه او دردونه چه د جسماني

زحمت او تکلیف پر وجود دلالت کوی. نو چه په جسمانی یا نفسی او باطنی صحت کښې
دنا روغی علامې او نخښې ښکاره شي دیوې ستړې او مهمې لوبې د لوبولو په لار
کښې چه مو زئې لوبو و موانع او خنډونه را شي چه هغه نودژ وند او حیات لوبه ده.

ستا خو ښه ده چه او به و کړی :

تا ته به معلومه وی چه موږ د کوم وشیا نو ځخه چه ښه ئې کولای شو خوند اخلو نو که موږ
دلوبی په لار کښې کوم داسې خنډ پیښ نسی چه موږ د لوبې ځخه را و گرزوی نو موږ لوبه
په ښه توگه کو واو پکښې موفق یو، او په دغه واسطه نو مونږ د خپلې لوبې ځخه ډیر خوند
اخلوژ وند یو خوند او خوشحالی ده، نو ښه داده چه موږ پر هغو لارو روان او سو چه
زمونږ نشاط او خوند پکښې ښکاری (او همدغه زموږ دژوند لارې دی) بیا به نو موږ
گورو چه موږ په ژوند کښې په څه اندازه کامیاب او تر کومه حده مو کفایت دی یعنی
زموږ استعدا د په دی لوبه (ژوند) کښې څو مره دی او که موږ په ژوند کښې کامیابې ته
رسیدلی یو دا به ددی دلیل وی چه موږ د ژوند خطمشی او د پخپل (کړن لار) څخه فا ئده
اخیستی ده یعنی څه چه موږ کو ویا پر کومه لار چه د ژوند د لوبې په لوبولو کښې
روان یو سعادت او خوښی را سره ملگری او داد وه مو استقبال کوی.

زموږ پورته وینا صحیحه ده که څه هم زموږ د نشاط یوه نخښه د نورو نخښو د لوړ والی اندازې
ته نه وی رسیدلی، ځکه سړی هیڅکله نسی کولای چه د کمال اندازی ته ورسیږی او په ټولو
خواؤ کښې د خوشحالی او رضامندی سره مواجه شی ولی؟ موږ که په هره خوا کښې راضی
او قانع شو او په هره خوا کښې د خپلو آمالو انتهائی نقطی ته ورسیږو نو به د کار او عمل
خوندر اځخه ولاړ سی او د خپلو احوالا تو د ښه کولو او د خپلو ځانو د لوړ والو او د افکارو
د به انکشاف او نشوو نما ځخه به لاس وا خلو مونږ ته د ژوند د جگړې پر ډگر
دالازمه ده چه هغوا زموینو او تجربو ته چه موږ ئې نتیجې زمو ږ پر زړه برابری
ندی اخیستی په جدیت متوجه شو او دا همیت او اهتمام له مخی ورو ړاندی شو

او سخت زحمت اوربړ پکښې یوسو . موږ ترهغو خپله سویه نشو پورته کولای څو پخپلو تجربو کښې هغې تجربې را معلومې نسی کومې چه دتحسین (نو ر ښه کولو) قابلې وی نو به موږ دهغو تقو یه کولو ته اړم کېږو او کار به ورته کو وچه لا ئی پسې تقو یه کړو او په زړه بوري نتیجې ځنې وا خلو .او که دواقع ا و حقیقت دمخامخ کیدلو څخه مخ واړؤ او دحاضر و حقایقو څخه سترگې پو ټې کړ و نو به موږ یوقدم هم دخپلو ځانو دترقۍ او وړاندې کولو دپاره پرمخ نه واخلو بلکه دحقیقته څخه به همیشه تښتو نوصریح او واضح حقیقت ته مراجعه او تماس ورسره مو ندل ډېر خوند او فائده لري تردې چه سړی دتښتې رول ولوبوی او هم دغه دځان خوی او عادت کړی.نو کشکی ته دځانه سره دهغه رول په شاواخو کښې حساب و کړې چه ته ئی به ژوند کښې لو بوی .

آ یاته په قواعدو او اصولو پوهېدونکی ئې :

په کوم وخت کښې چه ته اند یښنو (دویښې خو بونو) ته ددې دپاره التجا ورو ړې چه کوم اوسنی درپېښ حادث به هغه چه ته وا گو ندې په آ ینده کښې به پېښ شی الیش کړې او بیانو یوا زې په خپلو اند یښنو راضی هم شی نو پدې کښې هیڅ شك نسته چه ته به پخپل ژوند کښې دعجزاو لټۍ پرسویه باته شې او دخپل ژوند انه څخه به خوند او گټه په لاس درنسی او ،با لعکس ددې که ته ا ند یښنې ته د دې دپاره التجا کوې چه د کوم فعا لیت دپاره چه ته ئې داوسنی حا لت دبد لون د پاره په خیال کښې لرې پروگرامونه ترتیب اووروسته نو هغه پروگرامونه عملی کړی نو پدی کښې بیا هم شك نسته چه ته به همد غه حا لت کښې غو اړې چه ته خپل قدرت او کفایت به ژوند کښې لوړ او هسك کړې ، نو به ددې نتیجه د ژ وند به او به کښې داوی چه ته به دژوند په خوند پوه شی او دسعادت شعور به و کړې.

موږ به فرض کړو چه ته دطبیعې چارو به جریان کښې پخپل نوی مأمو ریت یا په نوې مدرسه کښې دمشکلا تو سره مخامخ ئې نو که ته وخت په اندیښنو تیر کړی او پخوانۍ نیمگړ غه روځې چه په پخوانۍ وظیفه کښې دې د خپلو زړودوستانو

او ملګرو سره تېري. ګړندی در په یا دوی او په همدغو افکارو ژوند کوي نو به دې ژوند تر همدغو خوږ واند یښنو یو قدم هم پرمخ ولاړ نسی او همدغه قدر به دې پرځه وی . او که فرضاً ته خپله اندیښنه او ذاکره یو شه مخ به وړاندې بوزی او غواړې چه هغه علل چه په پخوا کښې ئې ستاسره ستا په موفقیت کښې مرسته کړېده و پېژنې او د دغه ړ نګه هغه اسباب وپېژنې چه فعلاً ستا د نا کامۍ باعث ګرزېدلی دا به ستا دهغه پروګرام او اساس لمړی خښته وی چه ته غواړې دخپلې طریقې د بدلون دپاره ئې کښېږدې کومه چه ته غواړې دخپل تکیف علاج د نوی موقف دپاره په وکړې.

نو مثلاً ستا عادت دی چه پخپلو اعما لو او اقتدا راتو افتخار کوې او په ویاړې نو تا ته مناسبه داده چه یوه لحظه دځا ن سره فکرو کړې چه ته د دغه ویاړ لایق ئې، او په همدغه حالت کښې تا ته لازمه ده چه د حقیقت سره ځان مخامخ کړې په دې شرط که ته ویاړ او افتخار کول دځان دپاره هغه نخښه بولې چه ستا اقتدار په کامیابۍ باندې په ډېر ښېزی، ته به همدغه فکر سره چه ستا سره موجود دی غواړې پخپل ځان کښې تاثیرو کړی او پخپل شخصیت کښې داقینګه اوراسخه کړې چه ته پخپل کار او تصرفاتو او خپل ژوند کښې موفق ئې ، مګر ښه داده چه ته دعملی قدرت دسو یې دپاره کارو کړې او په تشو بې عمله خبرو قا نع نشې .

مشکلا تو له د مخا مخ کېدلو دپاره چه ته هره طریقه او پالیسی لرې زاو دا په زړه لره چه په ژو ند کښې د هر سړی ځا نته مشکلات او صعو بات دی) نو مهمه داده چه تا ته ستا د تښېښتی لا ری کومی چه ته التجا ور وړې د ر معلومې وې او و ې پېژ نې ، دا لتجا ا نو غ موږ ته خوراډېرې موجودې دې چه په مونږ کښې هر سړی یوې او بلې ته التجاور وړې ، مګر کوم شې چه تا ته لازمی او ضرو ری دی هغه دادی چه ته د دې در ک اوفهم و کړې چه ته تښتې همدغه پوهه او درک خو ته را ډېر ا همیت لری او که موږ د مشکلا تو دمواجهې دپاره په یوه واضحه طریقه پسې ګر زو

نو موږ کولای سو چه خپل ځان سره وپلټو او په ځان کښې وګورو چه څه باید وکړو او څه شیان راله لازم او ضروری دي، او خپل ټول مسؤلیتو نه د اسې اندازه او کنترول کړو لکه عملي رجال او ستر کسان چه ئې کوي، مګر کوم شی چه موږ ئې نسو کولای هغه دادی چه موږ خپله کامیابی په ژوند کښې پخپله دژوند په مادي مقیاسونو نسوای مقایسه کولای، او دا نسو کولای چه د زماني او وخت په یوه معینه ټوټه کښې موږ د ګټې او تاوان پوره خبری کوو، یعنی دا نسو ویلای چه سمدستی د کامیابۍ سره موږ ته دوه مره په لاس راغله دا موږ ګټه سوه ٥٠٪ یا که ناکام سو ودا موږ تاوان او زیان سو.

مګر دا کولای سو چه پر خپل موفقیت یو نسبتی او په تقریبی ډول حکم وکړو او بالاخر موږ ته دا ممکنه ده چه پر خپلو ځانو حکم وکړو پدې ډول چه موږ د خپل سلوک ر هغو نمونو سره کومی چه زموږ دژوند په نظام کښې دضعف او کمزوری حالت ته رسېدلی وی مقایسه او پرتله کړو. دپوره او بشپړه ژوند خوندور صورتونه ډیر دی او رقم رقم پهلوګان لری. بنائی چه ستاسی به یادوی چه دوړ کتوب په ورځو کښې به تاپخپله سینمائی لوبونې (بازیچه) لوبی کړی وی، هغه اوږ ده تو له چه په یوه سر کښې به ئې تاکتل په بل سر کښې به ئې شکلی شکلی هندسی اشکال په نظر درتلل دا ټوله چه به تاو شور وله او وبه دی څرخو له شکل به الیش او یو بل شکل به ځنی جوړ سو او نوې منظره به دی تر سترګو سوه، او داسې به لیز پیښه شوې وی چه دوه شکله دی په یوه بڼه لیدلی وی. دژوند نمونې کټ مټ د سینما دا شکالو غوندی په دائمی تغیر کښې دی او ساعت او ګړی بدلیږی، دا ځکه چه موږ کولای شو چه دژوند طرزونه الیش کړو بدې ډول چه دژوند کوم اشکال چه موږ ته خوندنه راکوی په نور و اشکالو بدل کړو.

موږ کولای شو چه د تغیر را وستلو په وخت کښې زموږ حاکمیت او قدرت د نوی ژوند پر نمونو او طرز و نو باندې تر هغه قدرت ډیر وی چه موږ ئې د سینما پر آله لرو نو ځکه

دتولې په‌ښور او دلو سره‌د سیمو ته‌وتې په داسې اشکالو کښې سره را غونډیږي چه موږ ئې نه هڅه او نه ئې پېش بیني کولای شو، مګر که موږ په خپلو ځانو کښې دتغیراو ستل وغواړو نوموږ پرهغه نقشه‌چه‌دخپل تغیر دپاره ئې اچو و حاکمیت او قدرت لرواو هغه‌پدې پوه چه‌لمړی به‌موږ دیوه فکر ایجاد کوو یعني ځان‌ته به یوفکر موجود ؤدافکر به‌یوداسې فکر وی چه هغه اطراف او پهلو ګان چه‌موږ غواړو دخپل ژوند په نقشه اونمونه کښې هغو ته‌تغیرور کړو ته‌وله تر مطالعه او سنجش لاندې یکښې را غلي‌وی اودغه رنګه هغه‌لارچه په هغې سره موږدغه تغیر راولو هم پکښې مطالعه شوی وی.ددې تغیر دراوستلو دپاره موږ ته‌دا ضرور ی ده چه ځانونه‌رازمویو .دځان‌ازمویني‌معنی‌دانده‌چه‌موږ به‌مادې شیان‌ځان‌ته شیندلی اېږدو بیابه‌نوفهرست جوړوو چه داداشي‌لرواوداداشي‌را له‌په کلردی،بلکه طریقه‌او لارئې داده چه‌موږ به‌دخپلوځانو څخه‌بعضي ټاکلي اومعین سوالونو کووا‌وبه پوره‌امانت به دهغو جوابونه وایو .

آیاته دژونده څخه فایده اخیستل غوړای :

دابه ستادانانیت نخښه‌غوندې ښکاره‌شي چه ته‌دځانه څخه پوښتنه وکړ ې‌چه آ یا ته‌په‌رښتیا دژونده څخه‌استفاده کونکی‌ئی ، مګر که‌ته دغه پوښتنه سره‌وسپړې‌او تحلیل ئې کړې نو به‌دادر معلومه‌شي چه‌ددې پوښتنې اثریوازې په‌تاپوری منحصر ندی بلکه غیر له‌تاستانورو ملګر و ته‌هم سرایت کوی، او هغه‌هم داپوښتنه دخپلوځانوڅخه کوي .

کوم وخت چه‌ته که‌دژونده څخه مستفیدئی دځانه څخه دغه پوښتنه کوی‌نو ددې‌معنی داده‌چه: آیاناخپل اجتماعی حاجتونه ښه ماړه کړیدی ؟اوکه جواب په (هو) سره‌وی‌داپردې دلالت کوی چه ته درښتیانیکمرغه ئی اوژوندې حقیقاً سعید دی او که ته په‌ژوند کښې نیکمرغه‌ئی‌نو ته بشریت ته فیض‌رسانه اودخلقو خدمتګارئې، دوی ستا په مجلس او صحبت نېکمرغه کیږي .

مګر که ستا روح واوړی، او بدمرغی دې په برخه شي نوبه ته دانه‌و یلای شې چه ته به ژوند کښې نېکمرغه ئې،او ددې معنی دا ده چه ستا حاجتونه نه‌دی ماړه

او ته سعیدنه ئې او خلق ستا په ملګري او مجلس نه دي نېکمرغه نوستا معنوي روح ناکام او مړاوی دی.

او بدې ته ښه پوهېږې چه ستامعنوي حالت په کوم وقت کښې مړاوی او خزان وي، او داهغه وخت پوهېږې چه یوه مقصدته په رسیدلو کښې ستاموفقیت په برخه نه وي، دانا کامي او غیر موفقیت کله کله ستادمعاش دپیدا کولو په صورت کښې وي چه ستا رئیس موافقه نه ورسره وکړي، یا کوم دعوت یوې سپورټي لوبې او مسابقې ته مګر ته نه ورو بلل شې یا یوه قصه چه تالیکلې وې او دنشر او چاپه شه پاته شې یا په یوه عمومي مسابقه کښې ته اشتراک وکړې او تقدیر دې نه وشي ستامعنوي حالت په هغه وخت کښې هم ټیټ وي چه په دې وپوهېږې چه ته دخپلو اطرافیانو او شاؤ خوا کسانو نه ئې خوښ نو که دا کسان مور او پلار یا ستاملګري او اشنایان یا ستا اداري آمران یا ستامعلمین وي دا کسان که په تا کښې یو عیب وویني ددوې تنقید خورا پرسړې در و ندلوېږي، او ته چه په دې پوه شې چه ستا افکار او آراء غیر مقبول او د چانه دي خوښ دا پوهه په تا کښې دانقباض او خواپوټګې او بدمرغۍ شعور او احساس پیدا کوي. همدغسې ستامعنوي حالت بدې هم ټیټېږي چه ستا په خیال درسي چه ته د خلقو شخه وتلی او ددوې شخه جلا او مخالف ئې، یا ته د خپلوا طرافیانو سره محشور او همفکره نه ئې. دا نه ده ضروري چه ستا داتباین او جلا والی دې له دوی شخه غټ او ښکاره ظاهر وي بلکه لږ او جزوي شانته بیل والی هم معنوي او وجداني اضطراب راولي که څه هم بېخي جزوي وي او کومه مهمه نتیجه نه ولري کله ته دغټو او ږبلو عینکو استعمال ته اړ سې یادې پر مخ یو ټپلي پیدا سې چه باکېده ئې ممکن نه وي، یا په پښه ننګوښې جه په نوروملګرو کښې دې شو کې دغه عیب نلري.

خو د هغو عیبونو شخه چه په تا کښې وي دهري نوعې او دهره قسمه چه وي ستاد بدمرغۍ او بدبختۍ دپاره سبب کېداې شي، مثلا کېداې شي چه یوه پلادې دیوه خاص مناسبت دپاره تا ته نوې دریشي لازمه وي مګر ستا په بودجه کښې به د نومړه پیسې نه وي

چه هغه پېرانيسي، يا په ستا موجوده ظروف ددې تقاضا نه کوي چه ته په يوه سياحت او مسافرت کښې ګډون وکړې، يا يو وخت پېښه وي چه ستا رفقاء په ښو ښو عماراتو او عالي قصرونو کښې اوسي او ته موقران لري مګر ته به په يوه سپک کور او معمولي ځاى کښې پروت ئى او ته وقربه نه لرې او ژوند به دې د خو ندو نو او خوشحالۍ څخه خالي او ساده ژوند وي په دغه اوقاتو کښې ته د نړۍ څخه بېزاره او د ناخوښۍ شعور کوې. دا چه سړى د خوښۍ او رضامندۍ شعور کوي د اساسي او عمده و حاجتونو د مېندلو دليل دى چه د نفسي رضامندۍ يوه مخصوصه علامه او نخښه ده. مګر د انده ضروري چه ستا حاجتونه دى تشا به سره و لري او يو و بل ته دى ورته وي بلکه ممکنه ده چه ستا ځني مطالب غير معقول يا د محال او مستحيل حکم و لري نو په دغسې اوقاتو کښې سعادت تاته نه در نژدې کېږي او تاته لازمه ده چه خپل افراط اصلاح کړې او غوښتنې دې معقولې وي.

که دهغو پيش آمدونو او حوادثو په باره چه په شپه او روځ کښې پرتا در ځى کار وکړې يعنى دهغو په مقابل کښې ځان په يوه موفق تکييف متکيف کړې نو ته دغه نشاطه څخه چه د تکيف په واسطه حاصل شويدى برخه اوخوند واخلې مګر که دغه تکيف بشپړه او پوره نه وي نو به ډېر لږ غوندې پېښه وي چه ته دې د خپلو اعمالو څخه خوند او برخه واخلې په بله معنى د ژوند څخه خوند نشې اخيستلاى

تاته سبب معلوم دى:

سړى ته اسانه ده چه پدې يوه شي چه د ده ژوند بې خوندونه دى خوګرانه دا ده چه پدې يوه شي چه د کومو عواملو او عللو څخه ئى نشئت کړيدى. مګر د دغو عللو پېژندنه خورا مهمه ده، د دغو په پېژندنه سره ته کولاى شې دا معلومه کړې چه په ژوند کښې کومه لار موفقه او سمه ده يا کومه يوه چپه او منحرفه ده.

نو که هر شى مخ د مقصد او مطلوب پر لور روان وي او ته په رښتيا سره ويلاى شې چه ته حقيقتاً د ژوندانه څخه خوند اخيستونکى ئې نو به دهغو عواملو پېژندنه چه تا ته ئې د سعادت تهيه کړيدى پردې مرسته در کړي چه پر هغه موفقه لار خپل تګ ته دوام ورکړې. مګر که ته دا نشې ويلاى چه ته په ژوند کښې خوند اخيستونکى ئې

نو دغو املو پېژند نه تاته پردې مرسته درکوي چه ته په هغه لار کښې تغیر راولې چه دخپل مطلوب سعادت موندلو دپاره دې ترسیم کړې وي.

پدې کښې څه شک نشته چه دېځوانیو فصلونو او تېر وشو وبیانو څخه به تاته ددغسې چارو پر فهم مرسته درحاصله شوې او کوم معلومات چه پدغو فصلونو کښې موجود وه تاته دانساني شخصیت د حقیقت پر پوهه او پېژند نه په عمومي ډول، او دخپل شخصیت پر معرفت په خصوصي ډول مرسته درکوي او دا معرفت تاته دهغو اسبابو او عللو پر پېژند نه مرسته درکوي کوم چه دژوندانه دچکړې پر ډګر ئې ته دخپل سعادت څخه راګرزولی ئې، او تر څار او څېړنه وروسته ددرد او مرض نقطه موندل کیږي نو مثلاً تاته دا معلومه شي چه ته قهرمن یا پېروندو کی ئې یا په اند ېښنو ځان خوشحاله کوې مګر سره لدې داسې نه معلومیږي چه ته دې پر تغیر او خپل بدلون قادر ئې. نو ددې سبب دادی چه دا یوه اسانه خبره نده چه سړي ته دې خپل پټ مشکلات او دهغو مسببات ورمعلوم شي. او که همداسې پېښه شي نو تر ټولو ښه لار چه ته ئې تعقیب کړې داده چه دچارو څېړنه دیوه داسې چا سره وکړې چه ته باور او اعتماد پر وارې او په فهم او فکر او عقل در ته وژغیږي، او دا هغه کسان دي چه دوی په علم النفس پوه او پدې علم کښې پوره تجربې او لوی لاس والري او دا کسان طبعاً ستا سره پوره مرسته کولای شي نو د همدغو مجربو او باکفایتو کسانو سره مشوره کوه. زیاتره دمشکل طرحه کول او دبل یوه سره مشوره پکښې کول یوه لویه مرسته وي چه دهغه دحال په لار کښې ئې ته ځان ته مومې، دا ځکه چه ذاتاً خبرې لکه موږ چه دمخه وویل دنشاط یوه نوعه ده، او هر نشاط او دبوی کراز ندتیا دشدت دسپکولو او تخفیف دپاره کار کوي، لکه په چارو کښې بحث او مناقشه چه موږ ته نوي آرا او نور نظریات راحاصلوي او په همدغه ئې مرسته او معاونت وینو لکه دا مرسته چه ئې هم وینو چه مشکل یو تنظیم او انتظام ومومي او فهم و درک ئې په ښه ډول او په صحیح صورت وشي. حقیقت او واقعیت دادی چه د پرېشانه کونکو افکار و ترجمه او تفسیر په عباراتو او کلماتو کښې

زیاتره دا بهام او غموض او کوم حیرت چه موجودوی دهٔرته کېدلو سبب شی. دمسائلو او مشکلاتو میدان ته اچول او بحث او مذاکره پکښې کول او بیا یو با تجربه سړی په شیر یك کول ډېر لوی قیمت لری نو ته کوښښ کوه چه پر یوه داسی طبیب ځان پېښ کړی چه په علم او لیاقت او کفایت مثال شوی وی.

ته کولای شی چه دژوندرول په ښه ډول و لوبوې:

کوم وخت چه ته دځان په باب کښې دیوه فکر او نظریئی له ور کولو څخه که دی ډېر زیار او زحمت یادی دبل یوه په مرسته او معاونت ور کړې وی او زګار او فارغ شوې نو تردې وروسته تاته څه شی ګوری او ته باید څه و کړې؟ موږ به فرض کړو چه تاته در معلومه شوه چه ته یوداسی سړې ئی چه اعتماد بالنفس ته ضرورت لرې او داشی باید په ځان کښې موجود کړی نو "دهمدغه موجودو او دپاره ته و یاړ او افتخار ته التجاء وروړې دځان باقی او لاقی وهی داددې دپاره چه په خپل لیاقت او قابلیت شعور و کاندی او ځان یو دغسی سړی په نظر درشی، یامو فرض کړه چه ته یو سړی ئی چه دیوه شی هیبت درباندی پروت دی او سهم ئی در باندی لو یدلی دی پداسی حال کښې چه ستاملګری په هغه ملنډې وهی نو دهمدغه جهته ته خپل زیاتره وخت په ګوښه او انزوا کښې تېروې او یوازیوالی ته دی التجاء وروړې ده. نو تادلته یو لوی ګام واخیست چه هغه دادی چه دخپل نقص او نمېګړتیا نوعه دی و پېژندله، کېدای شی چه طالع او چانس ستاسره مرسته و کړی او تردی ارت ګام واخلې او هغه سبب چه ددغه نقص ترشا پروت دی کشف کړې په همدغه واسطه سره به تر یوه لوی خنډ دام اړولی او ځنی تېرشوی به وی پدې صورت چه دچار ودحقیقی بڼې او واقعې چهرې سره دی ځان مخامخ کړ، چه وروسته ګام به دی نو داوی چه یوه داسی نقشه ځان ته طرحه او ترسیم کړه چه دغه اوسنی ناکام پرو ګرام تغیر په وخوری.

پدې کښې څه شک نشته چه دیوه پوره شمېر کسانو ددرس او مطالعې څخه چه پدې کتاب کښې یاد شوی وه تاته دا څرګنده شوه چه دهر مشکل سره دعجز او دلیاقت

داېز والي شعور ملګرى او جوړه وي يعنې کوم سړى چه په مشکل اخته وي هغه دا احساس حتماً کوي چه دى وس نلري او کفايت او لياقت ئې ضعيف دى، نو که ستا حالت هم دغسې وي لکه دز یاترو کسانو چه هم دغه حال وي نو لاندنۍ اقتراح در نيسه :

په موږ کښې هر فرد او هر سړى يوه نوعه نشاط ځانته سره لري يعنې په يو کار او عمل مصر و فوي او علاقمندي او دلچسپي ور سره لري او دا اسانه ده چه موږ اقلاً فقط يو شى داسې ځانته پيدا کړو چه هغه موږ په ښه ډول و کړو او ځان د کاميابۍ شعور او احساس پکښې و کړو. نو اوس تاته دا لازمه ده چه ته خپل ټول اهتمام او توجه په هم هغه نشاط کښې متمر کز کړې او د خپل وخت يوه ټوټه ور صرف کاندې، فرق نلري که دغه نشاط رسامي او لاسي چاري يا موسيقي يا سپورټي لوبې يا کښت او کرو نده يا کوم بل هر شى چه وي خو ضرور يو شى انسان لري چه هغه ئې تر نورو خوښ او پر ذوق ئې برابر وي

خو دغه شى چه تاور جذ بوي او ته ذوق ور سره لرې هر شى چه وي فرق نلري مګر دغو مره قدر و کړه چه د هم دغه نوعه نشاط په جدي او حقيقي عمل ځان ښه عادت او اموخته کړه يعنې دغه کار په جديت او حقيقت او په رښتيا کوه او دا ئما په اخته اوسه ، تا ته به ژر در معلو مه شي چه يوا زې به خو ښي او خو شحا لي نشي درپېښه بلکه دنو رو د اهتما م او اهميت مو رد به هم و اقع شې . دا يو ښکا ره حقيقت دى چه څو ک چه په يوه چا ره کښې کاميا ب او عمل په ښه ډول ترسره کړي داسې چه تحسين او آ فرين او د خلقو صفت او ستاينې ئې په برخه شسې دا دانسا نې خورا لويو حا جتو نو د مړ ېد او سبب ګرزي په بل عبا رت د انسان دسترو کا ميا بۍ و شخه ده لکه دا چه هم يو ثابت او واقعي حقيقت دى چه په هر يوه نشاط کښې چه څومره مو فقيت اهميت لري په هغه اندا زه دنشا طو نو دانکشاف او نورو رنګو نو او تنو ع مو ندلو شوق او باد شه م ګرزي، دالحکه: هر څو مره چه د نشاط انواع کوم چه ته په بو خت ئې ډ ېر ېږ ى هغو مره تا ته نږدې د ېا ر ه فر صت ز يا تېږ ي

چه ته پر کومو چه ته ئې په ښه ډول کوي او مهارت دې پکښې موندلی دی نور نوی شیان زیات او علاوه کړي ، او مثال ئې دا اوري د هغه غوندسکی دی چه ته ئې د یوې غوالې ښځه رار غړوې نو چه هر څومره ئې حجم لوئیږي تا ته خوندور کوي او نور ئې پسې راغړوې چه لا نور هم غټ شي . دا خو ستا د خوشحالۍ د اسبابو څخه دی چه ستا هغه د یوه کار دوام ور کولو ته ډېره شي ، او هر څومره چه ستا دوام پر یوه کار ډېر شي هغو مره به ستا مو فقیت نژدې او آسانه وي ، د مو فقیت خوند هغه شیانو څخه دی چه سړی تر ټولو شیانو زیات پر جد و جهد او در بار او کوښښ پر زیاتولو گرموي ، لکه کامیابي چه په زړه کښې یو داسې قوي او زورور شعور پیدا کوي چه هغه سړی د نشاط زیاتات او ډېر ولو ته دعوت کوي .

د کامیابۍ وزمه چه هسې دربانده ي ولگېده سمدستي دې پر ځان گمان ښه کېږي ، او ددې بیا بای پر دې تمام شي چه پر ځان دی اعتماد ډېر شي ، څو به ژر ته نور خلق وو ینې چه ستا د دغه اعتماد با لنفس استقبال به وکړي او ستا قدر به په دوی کښې په اوړ پېدو شروع وکړي ، او پدې سره به ستا معنوی روح تقو یه شي . نو به په تا کښې له یوه پلوه د مو فقیت په واسطه خوښي او خوشحالي ډیر یږي او له بل ارخه سره به ئې ور سره خوښي او رضا ستا په برخه وي پر ټولو به گران ئې .

دا به هیڅکله زړه ته نه در تېر وي چه بیا ن شوي حالت به د سهاره څخه ترماښامه پېښیږي ، یا به دا تغیر او بدلون په هغو مره اساني حاصیلږي کومه چه ته په هغې سره په کوم وخت کښې د سینما ماشین ته دور ور کوي او مختلف او قسم قسم اشکال وینې ، یه ! داسې اسان کار ندی کله د دې تغیر حصول لمړی دا غواړی چه ته خپلو نوا قصو ته ځیر شي او هغه په غور او د قت سره ځان ته معلوم کړی او هر یو بېل بېل درشر گندشي ، او بیا نو په ټینگ عزم او کلکه اراده بری پر ومو مې . مگر دلته نو یو شي دی چه کله کله ستا اراده در ټینگه وي هغه دا دې چه ته به په عین حال کښې خپل ځان ته په یوه سپېڅلي او مجرد ده

موضوعي کتنه ګوري او دځان سره به فکر کوي چه کوم کوم نواقص لا در پکښې او کومې کومې خطاګانې لا نه دي اصلاح شوي . خو هر څه چه وي وي دي مګر په ځان کښې تغیر راوستل ستا په امکان کښې شته او دلاسه دي پوره ده په دې شرط که فعلي او عملي اراده ورته وکړې ، او دا ممکنه ده چه یو شخصیت دې وده وکړي تطور دې وکړي تغیر دې وکړي مګر دا تغیر او تطور همیشه ځانته خپل حدود لري چه تر حدودو به تجاوز نه کېږي ، او هر سړي ته ضروري ده چه داسې شیان به قبلوي چه دهغو څخه به دده بدراځي ځکه بعضې بدني عیبونه شته چه دهغو اصلاح نه ده ممکنه ، او دمادي امکاناتو وضعف به موږ حتماً تحمل کوو او خواري به بالضرور ورګالوو . که څه هم خواري او مفلسي (په بل عبارت دعیبونو سر او لوی عیب) دضیق او تنګسه باعث او سبب ګرزي مګر کوم اثر او اغېزه چه ئې زموږ پر نفسي حالت پاته کېږي ی پخپله دخوارۍ خطرتر هغه لېږدي یعنې پخپله مفلسي او خواري دومره خطرنلري بلکه خطرئې هغه اغېزه لري چه زموږ پر زړه دخوارۍ څخه پاته کېږي نو کوم نظر چه ته خوارۍ ته لري او په کومه سترګه چه ته افلاس ته ګورې دوه حاله لري یا به ستاد پاره وي یا به پرتا باندې وي په بله معنی یا به ستا (له) یا به دې (علیه) وي . او داخو تا ته پوره معلومه او ښه علم پر لري چه کوم ملګري چه ستا ډېر خوښ دي هغه همېشه بډایان یا فوق العاده ښکلي او ښي مخي نه دي .

اوس نو د قبولیت راز او سر څه شی دی؟ دقبولیت راز او سر هغه طریقه ده چه په هغې سره انسان داښکاره کوي چه دې نوروته اهمیت ورکوي ، دا هغه یو ازینې او واحده لار ده چه پر هغې سړی خپل اخلاص ، مهرانه او حماست نوروته ورولي او سرایت پکښې کوي ، نو نور پخپل وار دده مخلصان او دده په باب کښې مهرونه او دحماسته څخه ډک وي ، دا یو معنوي او عالي روح او هغه ارتباط او علاقمندي ده چه فردي په سختو او قانو او دزحمت او تکلیف په روځو کښي

څرګند وی ، او داپر ځان اړولو (تکیف) اقتدار او قدرت دی یووار او څوځوواره دسختواوشدید وحوادثو په ترخ کښی ، او د دې قدرت په ذات کښی دریاضت اوزحمت ګاللو، اودژوندلوبی دمشق او تمرین روح په یوه شرافتمندانه اسلوب مضمر دی‌دادی هغه خو یونه کوم چه موږ ئې په نورو کښی‌وینواو ښه ئې ګڼو او جذاب‌اوزړه‌وړونکی راته ښکاری ، او همدغه‌دی‌هغه‌خویونه‌چه ته غواړې په ځان کښی ئې‌ووینې ، او کوم شی چه ددې خویونو تر شاپټ او په پرده کښی دی هغه وادی چه ته باید دو مره هڅه او شدید شوق ور ته و لرې چه د دوی حاصلولو او لاس ته راوستلوته دی ولمسوی اوترهغوڅو په موفق کیږی پرمخکه دی‌تیک‌نکیږی ، دې خوبونوته ستالاس نه وررسیږی او نه ئې ته ترلمن نیولای او نه ئې دځان خواته را کشولای شې ،مګر هغه وخت ته به موفق کېدلای شی چه په غوښتنه کښی ئې رښتنوړ هڅه ولرې بداسې نوګه اوداسی ډول چه‌داهڅه تاو دې ته ولمسوی چه د دوی‌دتمرین اومشق دپاره پروګرام او خط مشی‌ترتیب او ترسیم کړې .

او کوم وخت چه دخپل سلوك اووضعیت هغو نمونو ته چه په تا کښی وی ار ته په متصف ئې نظر و کړې او ورته ځیر شی نو که ځنی خوښ ئې که ناخوښ خوبه دواړو صورتو نو کښی د خوش طبعۍ (ساعت تیری او مزاح) له روحه هڅه خالی مه او سه بدې کیږی هیڅ شك نشته چه ژوند یو جدی کار دی ، مګر ددې معنی دانده چه خندادی نه وی پکښی ، او کله کله دی توقه ټقاله نه پکښی کیږی او ستاقدرت دځان پر خندولو باندی ستا د پاره خیر او ستا ښېګڼه ده ، رښتیا او واقعیت همدادی چه هروخت چه ستادلاسه وشوه چه و خاندی نو به په راحت یوه او د خوښۍ شعور او احساس به و کړې او دا به درته اسانه شی چه دژوند رنګارنګ او قسم قسم نمونی او بڼې په ځان واغوندې .

ستانن او نزدې صبا اولیری آینده :

(اوسنی لوبه ، او په اینده هڅه او په راتلونکی کال کښی)

نو که داسې پېښه شوه چه کوم تغیر چه تاز اوستلی ؤ مطلو به نتیجه ور نکړه نو ځان ته نا امیدی مه درو ه او مایوسیت ته لار مه ور کوه بلکه دتغیر بلې نوعې ته لاس ورواچوه اودا په یاد لره چه دسینما لوبه موږ ته رنګارنګ اوقسم‌قسم اشکال او ښې فقط دآلې په چور لو لو را ښکاره کوی ، همدغسې ژوندهم په‌دغسې نمونو او ښوونو ک دي صرف دغو مره غواړي چه سړی زیار وباسی او زحمت وکاږي یعنی دا سینما کو ښښ اوربړ ته ډیر احتیاج لري اوهغه سینماز یار نه غواړي اشکال په اسانی بد لوی . مګر داهم ضرو ری ده چه زموږ آرزوګانی او خوا هشات به مستحیل نه وی که فرضاً سینما فقط پنځه رنګه ولري ی ته نشي کو لای چه یوشپږ رنګه شکل پکښې و وینې که څه هم په څو څوواره ته هغه وچو ر لوی که څه هم لږ شا نته تغیر به پکښې ممکن شي زموږ دژ و ند مسئله هم دسینما غو ندی ده که څه هم شخصي موانع مو جو د وی خوستا وظیفه او واجب ستا څخه دهغه شي په اساس کښې دتغیر درا وستلو تقا ضا کوی کوم چه ستا او په ئې درخېنې او خو ښی ئی در خرا به کړې وی . یو مهم شی چه ته هیڅ چاره نه ځنی لرې دا دي چه خپل هدف به عملی کوې او بل داچه هدف به دې واقعی وی یعنی خیالی او تصوری به نه وی او دا به هم په ښه زړه قبلوې چه شوونی به وی او مستحیل به نه وی لکه دا چه هم د ښه تکیف څخه بلل کېږي چه کوم شی چه د هغه څخه چاره نه وی قبول کړې ، او به دې اقرار وکړې چه کوم کوم کار و نه چه تا ته ئې کول نه وی ممکن ومنی (او د دې څخه خو هیڅ انسان ندی خلاص

دانسان یو اجتماعی حاجت اوضرورت چه نه وی موړشوی یو له هغو مشکلاتو څخه بلل کېږي چه دډېر چټک او ژر حل تقاضا کوي ، اردحاجت دنه مړېدلو زما نه چه هر څومره وي

خو ته به په هغه لحظه او په هغه ګړۍ خپله توجه ور ګرزوي ، او پدې پوهشه چه پر ته پښېماني ګول ، غیر له افسوس څخه بله ګټه نه در رسوی لکه پریوه کار چه تر او سه نه وی شوی ستا پریشني او اضطراب ګول چه ستا حاضراو اوسني نشاط در ویجاړه وی او دد اسې شی دپاره ستا کوښښ چه هغه ستا تروس او طاقت پورته وی غیر لدې چه غم او غصه او خواپو تنګی وخفقان د پر ګړی بله ګټه نلری خپلی هیلی او آرزو ګانې په یوه ستوری پوری غوټه او مربوطی کړه مګر ستوری یو داسې ستوری وتا که چه وهغه ته رسېدل ګران نه وی ، خپل هدف او مرام معین او محدود کړه چه لو او مهمه خبره همدغه ده ، مګر تردې لادا پره مهمه ده چه مرام او هدف دلا س ته راوستلو قابل وی اوامکان ولری .

کله کله ستا پر له پسې هڅونه یو بل ته ور ته نه وې او د برسره لری یعنی دغره او وره فرق پې وی، نو ته فکر پکښې کوه از مستحیل پکښې و پېږنه وروسته نو ایښی را ووغړه او په کار شروع ورته وکړه ، او تر هغو مه در پېږه څو هغه چه په وس او قدرت دې وی لا س ته څنی را ولې ، ځکه دا هغه نظر یه ده چه وهغې پذریعه سم او سالم تکیف تهیه کېدای شی .

خپلو پخوانیو تجربوته مراجعه وکړه او په اوسني حالت کښې دهغو څخه مرسته وغواړه ، او اوسنی حالت دخپل راتلونکی او مستقبل دپاره یو مضبوط او ټینګ اساس مقرر کړه او دهمدغه اسا س په لار ښوونه مخ پر مستقبل ور روان شه .

دا ځکه چه دپخوانیو ازمو ینو او تجربو څخه کار اخستل او د هغو سره تما س درلودل ستا دننن روځی ، او دننن دی صبار وځی ، از دلیری آینده د کامیاب او مو فق ژوند د پر ښه ضمانت کوی او تر دغه معتبر او قابل اعتبار ضامن بـل ته نلرې

شخصیتو نه وده او نشو نما کوی، نو که دا نشو نما یو نها یت ولری او محدوده وی، او که داؤ خپل سر سره پر ښودل شی. او دا هم تروس او قدرت لاندې مسئله ده چه

دشخصیت دنشوونمادور کولود کار به ضمن کښې ورسره‌سره ته‌دشخصیت نمونو ته تغیر
ورکوي او بدلون ورکړي، نو اوس تاته‌دامسکنه‌ده چې ته دغه تطور او بدلون
دشخصیت‌هغې نمونې ته متوجه کاندې کومه چې ستاورته هغه او ستاخوښه دي.
خود استا په‌ربنتنې هڅه پورې اړه‌لري یعنې په‌هره اندازه چې ستاهڅه ربنتنې‌وه
هغو مره به هغه شخصیت ته کومه چې ته ئې‌غواړې اوخوښ دې‌وی ورنژدې او په
موفق به شې.   (ختم)



غلط نامه

مخ	لیکه	غلط	صحیح
۲	۱۵	دهلو کانو	غیردهلو کانو
۳	٤	نتجه	نتیجه
۱۰	۳	خپل	د خپل
۱۰	۹	خوا ند	خو ند
۱۱	۳	لوستنلی	لوستو نکي
۱۲	۲۱	ا و او	او
۱۳	۲	نه راځی	ر ا ځی
۱٤	۷	مو فت	معر فت
۱۵	٤	و نو ه.و	همزو لو
۱٦	٦	کمه	کوم
۱٦	۱۲	ډبره	ډ!ر ه
۱۷	٤	داده	دد غی
۱۹	٤	دي	د د ي
۱۹	٦	وه	یو ه
۱۹	۷	ستخدام	اسـتخد ام
۲۰	۹	هم در	ہم مہ در
۲۰	۱۲	ختلی	نا ـ ټالی
۲۰	۲۲	ئی	ئي
۲۱	۱۷	په کژ	اِکږ. ژوند
۲٤	۱۲	لکه هغو	لـ.که په هغو
۲٦	۲	ور بښان	وبښتا ن
		پکښی	به پکښی
۲٦	۳	بیابل لبزی وي	بیاداسی کسان لبزوي
۲۷	۲۳	مکلیف	مکیف
۲۸	۸	خصو ص	خصو صی
۲۹	۱۹	ونه وی	نه وی
»	»	پېکه	پېکڅه
»	۲۱	پېسې	پسې
۳۰	۱۸	شخص	شخصی
»	۲۳	مو د	مو ر
۳۱	۱۱	تردید	تر دید
۳۲	۳	تراته	تر اته
۳۳	۱	ژدند	ژو ند
»	٦	ډېر	ډ!ر ه
»	۸	عاِ	عمل
»	۱۳	گانه	گان
»	۱٦	ددی	ددو ی
»	۱۷	په	پر
۳۵	۷	دد نه	دودو نه
۳۵	۱۷	خصوص	خصوصی
»	۱۹	ننمه	تنمیه
»	۲۰	اوردو	افر ادو
»	۲۲	خصائیص	خصایص
»	۲٤	اغېبز ه	اغېزه
۳٦	۱٤	بال وربسی	بل نسال
»	۱۹	اقتضا	اقتفا

مخ	ليکه	غلط	صحيح
٣٦	٢٠	تاخپل	تاپه خپل
٣٧	٣	علامت	علامی
»	٧	ممکنه‌ته	ممکنه‌ده‌چه ته
»	١١	کهنه	کنه
٣٨	١١	افردو	افرادو
»	١٧	ځانونه‌چه‌ور	ځانونه‌ور
٣٩	»	هغو	هغه
٣٩	١٦	ټولنې	ټو لنې
٤٠	٦	حاجـات	حاجاتو
»	٨	مو ز	زموز
٤٣	٢٠	متأسره	متأثره
٤٤	٩	وز ئی	موز ئي
٤٧	٥	نشسته	نشته
٥٣	١٩	خبره‌چه	خبره‌ده‌چه
٥٤	١٩	شولا	شول
٥٥	١٣	آرای‌دنه	آرئي نه
»	١٤	دواړ؛	دواړه
»	١٩	وسعت‌او	وسعت‌وارو
»	٢٢	زيادتره	دزياتړو
٥٦	٤	که	بې
»	٥	دوی	ددې
»	١٥	معنی	منی
٥٧	٢٠	تحت‌به	تحت به
٥٨	١٣	تسا	ما
»	١٨	به	په
٥٩	١٠	بوې	بو ه
»	١٥	اضعا ف اومضاعف	اضعاف‌مضاعف
٦٠	٥	موز	زموز
»	٩	او کامیابی	اود کامیابی
»	١٨	وسا یلو	رسا یلو
»	٢٣	شې	سر
»	»	دادی	دادد ې
٦١	٣	خوزه	خوښه
٦٢	٢٠	هغه	هغو
٦٢	٢٤	غرض	دغر ض
٦٣	٩	ددود	درو
»	١٤	درفع	دا فع
٦٤	١١	علمی	اوعلمی
٦٥	٥	دری پلوی	در پلو ې
»	١١	به‌په‌خپله	به‌خپله
»	٢١	ساتنه	شـاتنه
»	٢٢	باعث	باحث
٦٦	١١	دروی	داوی
٦٧	٢	مطابعو	مطامعو
٦٨	٧	په‌دې‌ته	دې‌ته
٦٩	١٧	ماشخه	میانځه‌ځخه

مخ	ليکه	غلط	صحيح
٦٩	١٨	وبانړاو يا	يادنورواو
٧٠	٨	شوی‌ځان	شوي
»	٢٠	دوی‌په‌دوی	دوی‌په‌دې
٧٢	١٣	شخه	هڅه
»	١٥	مخالف	تخالف
٧٣	١	طرف	تطرف
»	١٦	ياده	يا دده
٧٤	٧	پر	په
٧٥	٤	تمايل	تماثل
»	١٥	خبری	خبرو
٧٦	٥	جبره	جبيره
٧٧	١	ورگرزاووو	وروگرزوو
٧٨	٧	ياسخی‌ښځه	يا ښځه
٧٨	١٠	تکليف	تکييف
٧٩	١٤	مدبرانو	مديرانو
٨١	١١	قواوی‌بل	قواوی دی‌بل
٨٤	١٠	اتجاته	اتجاه‌ته
»	١٥	اودده‌ځان	دده‌ځان
٨٥	١٧	تکليف	تکييف
»	٢٢	ديوې	د يوه
٨٦	٩	تو ترو	تو تر
»	»	اوخوند	اود خوند
٨٨	١٧	ضيعف‌الا عتقاده	ضعيف الا عتقاده

مخ	ليکه	غلط	صحيح
٨٩	٧	مشران د دا سی	مشران به ئې دداسی
٩٠	٦	دهغوورونهو	دهغودورونهو
»	١٧	جنسی‌مشکل	دجنسی‌مشکل
٩١	١٦	بالاسم	با لا ثم
٩٣	٢١	ممکنده	ممکنه ده
٩٦	١٤	شفا ی	آشنائی
»	»	استا	ستا
٩٨	٦	حرم	حزم
»	٩	ښبی	کښی
»	١٦	دوی	دزوی
٩٩	١	پد	پر
»	١٢	چه	په
١٠٠	١	ئی‌نرم	نرم
»	٤	دې ددی	دی چه‌دی ئې ذ دې
»	٥	سپين‌و	سپين‌او
١٠١	٣	د اند ډبنه	دااندډبنه
»	٥	و دې	د دې
١١٢	٩	پخپله	پخپلو
١١٢	١٣	يوسړی‌داسی لازم‌اومنلی	يوسړی‌ئې داسی‌لازم بولی اومنی ئې

مخ	لیکه	غلط	صحیح
۱۱۲	۱۹	پرہېز	پرہېز دی
»	۲۳	قبولود	قبولیږ اود
۱۱۳	٤	کړه	کړو
»	۱۵	زموز کوشش	زموز د کوښښ
۱۱۳	۲۱	ښهٔقدرت	ښهٔقدرت ارو
۱۱۳	۲٤	پهٔ دغهوخت	پهٔدغه وخت کښې
۱۱٤	۳	لارس	لاس
۱۱۵	۲	خبر	خبری
»	۱۷	ارطباط	ارتباط
۱۱٦	۵	نوکهبههغه	نوکه هغه
»	۸	خراب	خرابی
»	۱۲	دچارواو علاج ږی اړه	دچاري اوعلاج دپارهودي تهٔ اړه
»	۱٤	چفارو	په چفارو
»	۱۵	بدخلقیه	دبدخلقیه
۱۱۸	۵	او لاس	لاس
»	۱۵	پروگرامومونو	پروگرامونو
۱۱۹	۳	شوه	شو
»	۵	اسبابوخان	اسبابوشخهخان
۱۱۹	٦	دسړیدیوچا شخه	دیوچا شخه

مخ	لیکه	غلط	صحیح
۱۱۹	۷	شخه زموز	زموز
»	۱۱	پوهېږي	نه پوهېږی
»	۱۳	وجود واری	توپیروجود واری
۱۲۱	۱۸	دی ئی دغه	دی دغه
۱۲۳	۱۵	سېږی	رسېږی
»	۱٦	تر پخواڼو	تر پخوا
»	۱۹	مستشمو	مستشعر
»	۲۳	ایسلی	ایستلی
۱۲٤	٤	داهمدغی	دهمدغی
»	۱۱	ادراه	اراده
»	۲٤	چهٔپخپلهٔدد	چهٔپخپلهٔدرد
۱۲۵	۱۱	شي	نشي
»	۱۷	دي ماتوالی	دماتوالی
»	۹	وهېي	وهی
۱۲٦	»	موزپېږي	پېږي
»	۱٦	د زاقع	د وافع
۱۲۷	۲	دشخصیت	شخصیت
۱۲۸	۱۲	دواړو	دواړه و
		نیت	نیت
۱۲۹	۷۱	ودنګړی	ورنګړی
۱۲۹	۲۲	دچاغرم	سهودچا عزم
۲۳۲	۵	تواله	توله

مخ	ليکه	غلط	صحيح
۱۲۲	۷	دي ور	دي له ور
۱۳۷	۱۳	حالت د	حالت کښې د
۲۳۵	۲	حالت، ونيز	حالت چه موږ
»	۲۲	مشکله	د امشکله
۱۳۷	۱۳	واضع	واضح
»	»	چه دی ما	چه دی د
»	۱٤	ده مور	دده مور
»	۱۵	د خپلو	د خپل
»	۲۲	واخيښته	وا خيسته
۱۳۸	۷	قطعی	قطعیه
۱۳۸	۱۳	درولر بده	ورلو بده
»	۱۵	وولاړ	ور ولاړ
۱۳۹	۲۱	مشاهده	مشره
۱٤۰	۱۱	موورته	مور و رته
»	۱۵	خوشخه	خور شخه
»	۱۷	ددي	د ې
۱٤۱	٤	چه	چه د
»	۱۹	دي دي ته	دي ته
۱٤۲	۲	دخپل	پر خپل
۱٤۷	۲۳	يودماغی	يوه دماغی
۱٤۸	۱	شدی	شوی
»	۱	دي يو يه	دي ته
۱۵۲	۱	حلاصون راځی	خلاصون په راځی

مخ	ليکه	غلط	صحيح
۱۵۲	۸	ادامو	اودامو
۱۵٤	۵	لارری	لاراری
»	٦	خصوصه	مخصوصه
»	۹	اوشروع	شروع
۱۵۵	۷	ليکوالی	کليوالی
»	۸	او که	او به
۱۵۷	۲	قبو لو	قبلو لو
»	۲۰	کړی	وکړی
۱۵۸	۲	تېر ي	تېر يږ
۱۵۹	۱۰	نه دګډون	دنه ګډون
»	۱۵	دي دخپل	دي په دخپل
»	»	ته په ضرورت	ته ضرورت
۱۵۹	۱۵	اوتعليل	تعليل
۱٦۰	۲۵	و کو	کړو
۱٦۱	۹	مبنهوره	مشهوره
»	۱۰	پداورا	داور معلومه
»	۱٤	ژغيو ری	ژ غو ری
»	۱۷	درسی	دداسی
۱٦۲	۳	نه وه نه وه	نه وه
»	۵	په آراو	په آررا
»	۱٦	کړی ديو	کړی يو
»	۲۲	پهر	پهره
»	»	ددي پاره	ددي د پاره

مخ	لیکه	غط	صحیح
۱۶۹	۲	راشه‌راشه	راشه درشه
»	۲۰	افکار ورته	افکار و ته
۱۷۰	۱۲	دالند پښني	داند پښني
»	۱۸	ددد وی	ددوی
»	۲۲	ور کېږي	ورته کېږي
۱۷۲	۱۶	خورای	خواری
»	۲۳	سخجو لی	سنجو لی
۱۷۴	۳	نشست	نشئت
»	۲۳	اخلاقی	اختلاقی
۱۷۸	۷	نډ	نه
»	۱۶	کوم	هوس
»	۲۱	خلق	حلق
۱۷۹	۱۰	مثا	مثال
۱۸۰	۳	ځان‌ته‌الش	ځان الش
»	۶	شرایطر	شرایطو
»	۱۳	خواکړ کښې	خواکښې
۱۸۱	۱۱	ددپښب	در پښب
»	»	ستاد	ستا
۱۸۳	۱۲	تخی	تنخی
»		ترا و تحلیل	تر تحلیل
۱۸۴	۱۵	د غنو	د غو
»	۱۸	یادنیمګړی	یانمګړی
۱۸۵	۲۱	ستاعمل	ستا د عمل

مخ	لیکه	غلط	صحیح
۱۸۶	۳	په ابز	به ابز
۱۹۰	۵	چه‌پیغلی	چه دپیغلې
۱۹۳	۱۳	دګمان	دې ګمان
۱۹۵	»	اوداستنکاره	او استنکاره
۱۹۷	٤	مشکل	شکل
»	۱۰	افر دو	افر ادو
»	۱۵	نه‌ته	ته‌به
۱۹۸	۲	ګتچ	ګټ
»	٦	تبر بر	توتر
»	۹	موافقو	مواقفو
»	۱۰	کېدای	کېدای
۱۹۸	۱۹	هیچ	هیڅ
»	۱۱	لاروی	لار هواروی
۱۹۹	۱۰	نتجیه	نتیجه
۲۰۳	۲۰	امتحان نه	امتحانه‌څخه
۲۰٦	۱٦	پرشخه‌خیرتا	خر پر تیا
۲۰۷	»	خوراپریوه	پریوه‌خورا
۲۱۱	٤	طاق	اطاق
۲۱۲	۳	ذلت	ذات
۲۱۳	۱٤	وډوی	وچه دوی
۲۱٤	۱۰	توضیع	توضیح
»	۱٦	کښی‌سپور	کښی‌به‌سپور

مخ	لیکه	غلط	صحیح
۲۱٤	١٦	چه ده	چه دده
۲۱٤	۸	پرزلمی	پرزلمی‌دغه
		وضیعت	وضعیت
۲۱٥	۸	خوا قنا که	خوفنا که
»	١٧	زما دوام	زمانو دوام
۲١٦	١١	بهره	بیری
»	١٦	نه موز	موږ
۲١٧	١٦	ځکه‌عمرونه	ځکه‌چه‌عمرونه
۲١٨	٥	بخله تبره	بیخ له‌بره
»	٧	خواشنی	خواشینی
۲١٩	١٢	یعقین	یقین
۲۲۰	۲٤	اودماغ پر	اودماغ کښی
۲۲١	٣	چه‌هغي	چه‌په هغي
»	٤	ستا تو	سا تو
»	٦	پښوی	پښتوی
»	٩	بخ	بیخ
»	١٤	نسلی	تسلی
»	١٩	اصطلاع	اصطلاح
»	۲١	چه	په
۲۲۲	۲	درپه‌یبزی	درپښیبزی
»	٥	آرزوو	آرزو
۲۲٤	۲۰	یوار ځنی	یواز ینی
۲۲٤	۲٣	وژوند	ژوند
۲۲٥	۲۰	پری‌وایښی	پری‌ایښی‌و
۲۲٦	٩	اونه	اوږنه
۲۲٧	١٧	ندو	نه و
۲٣۲	٩	له	په
»	١٠	ښاسته	ښایسته
۲٣٣	١٠	مزاحی	مزاجی
»	١٧	داسی	درس
۲٣٤	٣	ژرند	ژوند
»	١٣	په‌ده	چه ده
۲٣٥	۲۲	زیارت	زیات
»	۲٤	اینښېدلو	ایښېدلو
۲٣٦	١٤	وسیارو	وسپارو
»	١٥	ونه اخلو	وانخلو
»	١٧	اوددگوښه	اودادگوښه
»	١٨	تقریباً	چه تقریباً
۲٣٧	١۲	دغو	دهغو
۲٣٨	١٠	وکړو	وکړ
۲٤١	١۲	دپخپل	دخپل
»	۲۰	دبه	د
۲٤۲	۲	هغي	هغه
۲٤٥	١١	سوالونو	سوالونه
»	١٣	غوړای	غـواړی

مخ	لیکه	غلط	صحیح	مخ	لیکه	غلط	صحیح
۲٤۷	۱۳	دغه	د دغه	۲۵۳	۹	خوبو نه	خو یو نه
۲٤۹	۳	شیریك	شریك	۲۵٤	۲۰	ار	او
۲۵۰	۲	ابزئي	ئي ابز	۲۵۵	۳	ریشنی	پر یشانی
۲۵۱	۸	دشعور	شعور	»	۱۲	ووغړه	وغړه



دا کتاب

دعربي ترجمې کوونکي له خوا

آیا په موږ کښې هر یو هغه مدار او مرکز ندی کوم چه شا وخوا خواهشونه او غوښتنې بر چورلي، او له تماوې او احتیاجاتو سره برابر غوندې کېږي؟ نو ولې موږ خپل شخصیتونه په یوه داسې ډول نه پېژنو کومه چه ددې موږ او اهل کاندي، چه دهغې لېږه سره موافقه وکړو کومه چه موږ ژوند پکښې کوو، نو به دهمدغه موافقې په اثر موږ مسعود واوسو.

دا کتاب - چه دعلم النفس یوې ستري پوهاندې هیلن شاکتر چه د (نور ویسترن) د پوهنتون پخوانۍ پوهاندې او دامریکا په یوه شمېر علمي ټولنو کښې غړې وه تألیف کړیدی، او د ترجمې او پاملرنې چارې ئې دهغو ټولنو تر لاس لاندې اجرا شویدي چه په مصر او عربي نړۍ کښې خپل نوم او شهرت لري. دا کتاب لوستونکي ته دهر عمر چه وي دده دشخصیت پر تکمیل او بشپړتیا مرسته ورکوي بلکه دهغو انسانانو اړیو په فهم او پېژندنه چه هم مرسته ورکوي کوم چه سلوک ئې (وضعیت او نصب العین) ته تکیه (نوې رنګ) ور کوي ددې کتاب ساده ژبه او قوي افاده او دهرې موضوع شننه او معالجه ددې کتاب څخه یوه موضوع جوړوي چه هر انسان ته ئې لوست او مطالعه ضروري ده.

«دا هغه کتاب چه هرومرو به لوستل کېږي»

HOW PERSONALITY GROW

BY

Helen Shacter

Translators in Arabic

A. ZAKEY MOHAMMAD AND DAOUD HILMI ALSSAID

Recommended By

Dr. A, AZIZ -UL- QOUSI

Translator in pashto

M. ABDUL KHALIQ WASIEE

Published By

Pashta Academy, Kabul, Afghanistan

19[illegible]

دولتي مطبعه